د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه ییز مطالعات

## فصلنامهٔ مرکز مطالعات منطقه‌یی افغانستان

افغانستان او سیمه؛ فرصتونه او ننګوني
(ځانګړې ګڼه)



۲

- دوره: اول
- سال:۱۴۰۴ هـ.ش
- ربع: دویمه
- شماره مسلسل:۷۷
- سال تأسیس:۱۳۸۵ هـ.ش
- کابل - افغانستان

**په دې ګڼه کې:**

- د افغان کډوالو اجباري را ایستل...
- د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان...
- د نشه يي توکو پر وړاندې د اسلامي امارت...
- د افغانستان له پولو د تېریدونکو اوبو...
- او...

سیمه ییز مطالعات
شماره: ۷۷ ، سال ۱۴۰۴ هـ.ش

# REGIONAL STUDIES
## Quarterly Journal

Establishment: 2006
Academic Publication
Afghanistan Science Academy
Serial No: 77

Address:
Afghanistan Science Academy
Sherpoor Square, Kabul-Afghanistan
Tel: 0202201279

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د علومو اکاډمي**

**معاونیت بخش علوم بشری**

**مرکز مطالعات منطقه‌یی**


# سیمه‌ییز مطالعات

**مجلهٔ علمی- تحقیقی**

مطالعات سیاسی، اقتصادی و فرهنگی منطقه‌یی، معرفی، بررسی و تحلیل سازمان‌ها، کنفرانس‌ها و نهادهای منطقه‌یی


د تأسیس کال: ۱۳۸۵

پرله پسې شمېره: ۷۷ (۱۴۰۴ ل، ۲ گڼه)

**يادونه:**

✓ مقاله دې له يوې رسمي پتې څخه چې په هغې کې د ليکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټېلېفون شمېره او برېښناليک وي؛ د علومو اکاډمۍ ادارې ته راولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله بايد پوهنيزه، څېړنيزه، بکره او له منل شوو علمي معيارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله بايد بل ځای نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرليک بايد لنډ او ل منځپانگې سره سمون ولري.

✓ مقاله بايد د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو تر منځ لنډيز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي؛ همدا راز لنډيز بايد د يونسکو په يوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله بايد د سريزې، اهميت، مبرميت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش يا مېتود، پايلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله بايد د ليکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املايي او انشايي تېروتنې و نه لري او له منطقي تسلسل سره په يوه A4 مخ په word کې تنظيم شوې وي.

✓ د مقالې حجم حد اقل ۷ مخه او حد اکثر يې ۱۵ معياري مخونه وي، د فونټ سايز ۱۳، د کرښو تر منځ فاصله بايد Single وي او ادارې ته دې سافټ او هارډ کاپي راولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لايحې له مخې د يوې مقالې د تاييد او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د ليکوالو فکري زېږنده ده، ليکوال ته بويه چې سپيناوی يې په خپله وکړي، اداره يې په سپيناوي کې کوم مسؤليت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته نه ورکول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی**: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسؤل مدیر**: څېړندوی بشرمل زرغون

**کتنپلاوي**:

څېړنپوه دوکتور رفیع‌الله نیازی

څېړنوال عبدالشکور سالنگی

څېړنوال عبدالصبور مبارز

څېړندوی عمران زکریا

څېړندوی احسان الله احسان

**پته**: د افغانستان د علومو اکاډمي، سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د شېرپور څلور لارې، شهر نو، کابل.

**مطبعه**: ستاره همت

د اړیکو شمېرې:

+۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹۹۳ - +۰۰۰۱۱٦٦۷۳۹۸

**د افغانستان د علومو اکاډمي برېښلیک**: Info@asa.gov.af

**د مجلې برېښلیک**: rsc@asa.gov.afg

**د کالنۍ ګډون بیې**:

په کابل کې: ۳۲۰ افغانۍ

په ولایتونو کې: ۳۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ۲۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمي د څېړونکو او استاذانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| سرلیک | ل/ ژ | مخ |
|---|---|---|
| ۱- د افغان کډوالو اجباري را ایستل... | دوکتور مصباح الله عبدالباقي | ۱ |
| ۲- د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان... | څېړنوال عبدالصبور مبارز | ۲۷ |
| ۳- د نشه يي توکو پر وړاندې د اسلامي امارت... | څېړنوال رحمت الله همت مظلومیار | ۵۳ |
| ۴- د افغانستان له پولو د تېرېدونکو اوبو... | څېړنوال ضیاالحق ضیا | ٦۹ |
| ۵- له ایران سره د افغانستان د اسلامي امارت... | څېړندوی عاشق الله اخلاصیار | ۹۵ |
| ٦- د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې... | څېړندوی معصوم جان معصومي | ۱۲۵ |
| ۷- په سیمه ییز ثبات کې د اسلامي امارت ونډه | څېړندوی محمداسماعیل امیري | ۱۴۵ |
| ۸- د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې د هند... | څېړندوی احسان الله احسان | ۱۷۳ |

دوکتور مصباح الله عبدالباقي*

# د افغان کډوالو اجباري را ایستل

## د پاکستان امنیت ته ګواښ؛ که د فشار وسیله؟


### لنډیز

دا مقاله د افغان کډوالو د مسئلې هغه سیاسي او امنیتي اړخ څېړي چې د پاکستان له لوري د دوی د اجباري راشړلو په لړ کې مطرح شوې ده، د څېړنې اساسي پوښتنه دا ده چې آیا افغان کډوال په ربښتیا د پاکستان امنیت لپاره ګواښ دي؟ یا دا مسئله د فشار د یوې سیاسي وسیلې په توګه امنیتي معرفي شوې ده؟ د مقالې د تیوریکي چوکاټ لپاره د کوپنهاګن د امنیتي څېړنو مکتب د "امنیتي کولو " (Securitization)تیوري کارول شوې چې په رڼا کې یې دا ثابته شوې چې امنیت یو عیني حقیقت نه؛ بلکې ټولنیز جوړښت دی.

د مقالې تحلیلي پایلې ښیي چې د پاکستان نظامي استخباراتي ادارو او سیاسي جوړښتونو، د دیني او رسنیزو شخصیتونو په مرسته د افغان کډوالو انساني ناورین د امنیتي ګواښ په توګه معرفي کړی چې له دې لارې د افغانستان اسلامي امارت باندې په یو لړ سیاسي او ستراتیژیکو موضوعاتو کې فشار راوړي.

د مقالې پایله دا جوتوي چې د افغان کډوالو د مسئلې امنیتي کول نه یوازې د بشري حقونو ښکاره نقض دی؛ بلکې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سیاسي بې‌باورۍ ژوروالی هم زیاتوي، لیکوال وړاندیز کوي چې د کډوالۍ د دې ناورین د حل یوازینۍ لاره د کډوالو بېرته په کور کول دي او د دې لپاره اړینه ده چې د اسلامي امارت له لوري د کډوالو مسئلې د حل لپاره یوه هر اړخیزه ستراتیژي جوړه


*· په کابل کې د سلام پوهنتون رئیس.

شي او هغه ټول عوامل له منځه یوړل شي چې د کډوالو د بېرته راستنېدو په مخ کې خنډ پېښېږي.

## کلیدي کلمې

امنیتي کول، افغان کډوال، اجباري را ایستل، بشري حقونه.

## سریزه

د کډوالۍ پدیده په معاصر نړیوال سیاست کې یوه له هغو ستونزمنو او پېچلو مسئلو څخه ده چې نه یواځې بشري اړخونه لري؛ بلکې له سیاسي، امنیتي، اقتصادي او فرهنګي اړخونو سره هم ژور تړاو لري، د افغانستان د وروستیو څو لسیزو جګړو، اشغالونو، کورنیو شخړو، بهرنیو لاسوهنو او سیاسي بې ثباتیو له امله میلیونونه افغانان د خپل هېواد پرېښودو ته اړ شوي دي، له دې ډلې ډېرى کډوال ګاونډي هېواد پاکستان ته کډه شوي چې د هغوی شتون د وخت په تېرېدو د سیاسي او امنیتي تحلیلونو یوه مهمه برخه ګرځېدلې ده، دا مقاله د افغان کډوالو د مسئلې په هغه اړخ تمرکز کوي چې د پاکستان له لوري د دوی د اجباري شړلو پر بنسټ رامنځ ته شوې او دا څېړي چې آیا دا عمل د یوه واقعي امنیتي ګواښ له امله ترسره شوی، که دا د فشار یوه سنجول شوې وسیله ده چې د پاکستان د نظامي استخباراتو او امنیتي ارګانونو له لوري کارېږي.

د څېړنې فرضیه دا ده چې له اوږدې مودې راهیسې د افغانستان په اړه د پاکستان بهرنی سیاست د سیاسي حکومتونو له لورې نه؛ بلکې د پوځي استخباراتي کړیو له لوري ټاکل او پر مخ وړل کېږي او د دوی له لوري د بهرني سیاست د اداره کولو معنا دا ده چې له افغانستان څخه یې تل دا غوښتنه وي چې د هغوی ټولې غوښتنې ومني، که افغانستان یې په خپله خوښه نه مني؛ نو باید د زور او فشار له لارې یې ومني چې د دې ډول تعامل په پایله کې حالات د عادي کېدو لور ته د تللو پر ځای اکثره د خرابېدو لور ته ځي چې دا تعامل یواځې له اسلامي امارت سره نه دی؛ بلکې د تېرو څو لسیزو راهیسې همدا لړۍ دوام لري.

د افغان کډوالو قضیه هم د همدې سیاست د لړۍ یوه کړۍ ده چې د پاکستان پوځ او پوځي استخبارات یې د ځینو نورو سیاسي موخو د لاسته راوړلو لپاره د وسیلې په توګه د اسلامي امارت پر وړاندې د فشار په توګه کاروي.

د موضوع څېړنه له څو اړخونو مهمه ده، تر هر څه دمخه دا موضوع د زرګونو هغو افغانانو انساني وضعیت ته اشاره لري چې د زور، بېوزلیو، جګړو او ناامنیو له امله یې خپل هېواد پرېښی او اوس د یوه باثباته او باعزته ژوند په هیله په ګاونډیو هېوادونو کې مېشت دي، کله چې دا خلک د امنیتي ګواښ په نوم معرفي کېږي او د سیاسي موخو لپاره کارېږي؛ دا نه یواځې د دوی بشري حقونه تر پښو لاندې کوي؛ بلکې د نړیوالو انساني اصولو، د کډوالۍ اړوند کنوانسیونونو او د ګاونډیتوب له اصولو څخه ښکاره سرغړونه هم کېږي؛ بل مهم اړخ یې دا دی چې دا امنیتي کول یواځې د کډوالو مسئله نه ده؛ بلکې د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړیکو یو پېچلی اړخ هم را برسېره کوي، دا اړیکې د تېرو لسیزو په اوږدو کې تل د بې باورۍ، لاسوهنو او متقابلو فشارونو تر سیوري لاندې پاتې شوي او د کډوالو مسئله د همدې اړیکو د سیاسي شطرنج یوه مهمه مهره ګرځېدلې ده.

په دې مقاله کې د کوپنهاګن د امنیتي مطالعاتو د مکتب له مفکورې څخه ګټه اخیستل شوې، په یو ډول به روښانه شي چې څنګه یو عادي، انساني یا مدني مسئله د امنیتي ګواښ په توګه معرفي کېږي او څرنګه د امنیتي معرفي کولو په پایله کې د ناعادي کړنو لپاره زمینه برابروي، د کوپنهاګن مکتب استدلال کوي چې امنیت یو عیني حقیقت نه؛ بلکې یو ټولنیز جوړښت دی چې د سیاسي، مذهبي او رسنیزو شخصیتونو له لوري رامنځ ته کېږي، د همدې تیورۍ پر بنسټ دا مقاله د افغان کډوالو د امنیتي کولو بهیر په درېو مرحلو کې څېړي:

**لومړی**: د امنیتي بیان رامنځ ته کول Speech Act چې پکې د پاکستان ځینې چارواکي، مذهبي مشران او رسنۍ د افغان کډوالو حضور د پاکستان د ملي امنیت لپاره خطر معرفي کوي.

**دویم**: د ټولنې له لوري د دې بیان منل چې رسنۍ او ټولنیز شخصیتونه یې د یوې خطرناکې فضا په جوړولو سره تاییدوي.

**درېیم**: د ناعادي او استثنايي کړنو پلي کول، لکه د افغان کډوالو ځورول، بندیانول، شړل او د هغوی د مالونو ضبطول.

د څېړنې تګلاره کیفي ده او پر اسنادي او تحلیلي مېتودونو ولاړه ده، په مقالې کې هڅه شوې چې د معتبرو اسنادو، سیاسي بیانیو، رسنیزو څرګندونو، د دیني شخصیتونو د خبرو او عملي کړنو پر بنسټ دا موضوع له مختلفو زاویو تحلیل شي؛ همدا راز د کډوالو د مسئلې د امنیتي کولو له لارې د پاکستان د نظامي استخباراتو اصلي موخې هم په روڼ ډول مطرح شوې دي چې پکې د افغانستان اسلامي امارت ته په سیاسي، جغرافیایي او امنیتي برخو کې فشارونه شامل دي.

په پایله کې دا مقاله نه یواځې د یوه مهم سیاسي، انساني ناورین علمي تحلیل وړاندې کوي؛ بلکې لوستونکو ته دا درک هم ورکوي چې څنګه یوه انساني مسئله د سیاسي موخو قرباني کېږي او دا ښیي چې د سیمې د ثبات او د بشري کرامت د ساتلو لپاره علمي، عادلانه او معقول چلند څومره اړین دی او دا وړاندیز هم کوي چې که افغانستان او پاکستان په خپلو کې اړیکې عادي کول غواړي چې د دواړو هېوادونو اړتیا هم ده؛ نو د دې لپاره اړین دي چې:

**لومړی**: پاکستان باید له افغانستان سره د برابرۍ پر بنسټ اړیکو ته ادامه ورکړي، د دې هڅه دې نه کوي چې افغانستان ته د یو کمزوري هېواد په سترګه وګوري او دا فکر وکړي چې د بېلابېلو فشارونو له لارې یې د خپلو غوښتنو په منلو مجبورولای شي.

**دویم**: دا تفکر په حقیقت کې له یوې بلې سترې تېروتنې په پایله کې رامنځ ته کېږي او هغه دا چې لکه مخکې مو چې ورته اشاره درلوده، د پاکستان د ډېرو سیاسي او ټولنیزو چارو په شمول د پاکستان بهرنی سیاست په ځانګړې توګه د افغانستان په ګډون له ځینو هېوادونو سره د پاکستان بهرنۍ اړیکې او بهرنی سیاست د پاکستان د پوځ او پوځي استخباراتو تر ولکې لاندې دی، د دې پایله دا ده چې د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکو او نورو ټولو مسئلو ته له امنیتي عینکو څخه وکتل شي او په دې اړیکو کې د ګډو ګټو د لټولو پر ځای دې دا اړیکې د زور او فشار تابع وګرځولای شي او د دواړو هېوادونو تر منځ مسئلې دې د فشارونو له لارې د حلولو کوښښ وکړای شي چې په طبیعي توګه دا ډول تګلاره سرچپه

پایلې لري، که پاکستان غواړي چې له افغانستان سره اړیکې عادي او ښې کړي؛ نو باید دا چارې په بشپړ ډول ملکي ادارې ته وسپارل شي او پوځ او پوځي استخبارات باید له دې نه لرې شي، همدا راز افغانستان هم باید دا اړیکې امنیتي نه کړي او دې اړیکو ته د ملکي ادارې له لوري رسېدنه وکړي.

د کډوالو مسئلې ته د جذري حل لټول پکار دي؛ ځکه که دا مسئله همداسې پاتې شي؛ نو د هېواد لپاره ترې زیاتې ستونزې رامنځ ته کېدلای شي او د دې مسئلې بنسټیز حل په دې کې نغښتی چې افغانستان خپل ټول اتباع بېرته په خپله خوښه افغانستان ته را ستانه کړي او دا هغه وخت ممکن دي چې په نورو هېوادونو کې د افغانانو لپاره د جذب عوامل او له افغانستانه د کډه کولو عوامل له منځه ولاړ شي، له دې پرته د دې ستونزې بنسټیز حل به ډېر ستونزمن وي.

## په پاکستان کې د افغان کډوالو د مسئلې امنیتي کول

افغان کډوال له څو لسیزو راهیسې په پاکستان کې ژوند کوي، کله چې د پاکستان وجود د پخواني شوروي اتحاد له پلوه له ګواښ سره مخ و؛ نو هغه مهال دا کډوال د دوی لپاره له ملي اتلانو څخه کم نه وو، دوی پر دې اعتراف کاوه چې په افغانستان کې د همدې خلکو قرباني د دې تر څنګ چې د شوروي اتحاد له ظالمانه تسلطه د افغانستان د ازادۍ لامل وګرځېدلې؛ د خپل وخت د همدې خونخوار نظام کمونېزم له تسلطه د پاکستان د ژغورنې لامل هم وګرځېدې، له هغه وخت راهیسې دا کډوال هلته ژوند کوي، بیا په نورو بېلابېلو تاریخي پړاوونو او حوادثو کې په خپله د همدې پاکستان د نظامي استخباراتو او پوځ له لوري د افغانستان په چارو کې د بېځایه لاسوهنو، داخلي جنګونو، اقتصادي ستونزو او نورو لاملونو په پایله کې نور افغانان دې هېواد ته په کډه کولو اړ شوي او هلته ژوند کوي، افغان کډوال کله هم په حقیقي توګه د پاکستان د امنیت لپاره ګواښ نه دي ګرځېدلي، یواځې په هغو وختونو کې د پاکستان د امنیت لپاره د پاکستان د نظامي استخباراتو له پلوه ګواښ ګڼل شوي چې دې استخباراتو غوښتي دي چې په افغانستان کې پر حاکم نظام او حکومت له دې لارې فشار راوړي او دوی د فشار د وسیلې په توګه وکاروي، د وسیلې په توګه د دې کډوالو کارونه همېشه د دوی د بشري حقونو د تر پښو لاندې کېدلو لامل هم

ګرځېدلي، اوس هم په حقیقت کې دا کډوال د چا د امنیت لپاره ګواښ نه دي؛ بلکې د افغان کډوالو مسئله د پاکستاني نظامي استخباراتو او د هغوی د همغږو سیاسي چارواکو له پلوه امنیتي (Securitize) شوې ده چې په افغانستان کې پر حاکم نظام فشار راوړي او خپلو ځینو موخو ته ورسېږي او د ځینو مسئلو په اړه هغه څه تر لاسه کړي چې دوی یې غواړي.

له پاکستانه د افغان کډوالو په اجباري توګه د را شړلو لپاره د زمینې جوړونې په پار پاکستاني چارواکو د «کوپنهاګن د امنیتي څېړنو د مکتب» (Copenhagen School of Security Studies) د امنیتي کولو (Securitization) له نظریې څخه استفاده وکړه، د دې معنا دا ده چې کله د یوه هېواد حکومت، سیاستوال او ادارې وغواړي د یوې مسئلې په اړه فوق العاده، ناروا او ناقانونه ګامونه پورته کړي او یا د کوم اړخ د ځپلو او په اړه یې له قانوني چوکاټونو پرته نظامي ګام پورته کول وغواړي؛ نو هغه مسئله او هغه اړخ د هېواد د وجود او امنیت لپاره یو حیاتي ګواښ معرفي کوي او کله چې ټول اړوند اړخونه په ځانګړي ډول ټولنه او په ټولنه کې اغېزمن شخصیتونه او اړخونه هغه د ګواښ د مصدر په توګه ومني؛ نو بیا ورته د ناقانونه کړنو فرصت برابرېږي او څوک پرې اعتراض هم کولای نه شي.

د دې نظریې اساسي اصول دا دي چې دوی دا نظر لري چې امنیت یو حقیقي مفهوم نه دی؛ بلکې دا Constructed Socially د ټولنې له لوري رامنځ ته شوی او جوړ شوی مفهوم دی، په دې معنا چې یوه عادي مسئله هغه وخت پر امنیتي ګواښ بدلېږي چې کله یې سیاستوال، د ټولنې اغېزمن شخصیتونه او رسنۍ د «ناورین» په توګه معرفي کړي.

## د امنیتي کولو درې پړاوونه

د کوپنهاګن د امنیتي کولو د نظریې له ډېر ساده لنډیز سره سم د یوې مسئلې امنیتي کول درې پړاونه لري:

**لومړی پړاو**: امنیتي بیان (Speech Act)، د چارواکو او مسؤلینو له لوري یوه مسئله باید د امنیتي ګواښ په توګه معرفي شي.

**دویم پړاو**: د ټولنې او عامو خلکو له لوري د دې ادعا منل Audience) (Acceptance او هغه مسئلې ته د امنیتي ګواښ په سترګه کتل.

**درېیم پړاو**: ناعادي کړنې (Extraordinary Measures) او د هغه ګواښ د له منځه وړلو لپاره ناعادي ګامونه اوچتول[1].

## د افغان کډوالو د مسئلې د امنیتي کولو درې پړاوونه

وړاندې مو وویل چې د یوې مسئلې امنیتي کول په درېو پړاوونو کې سرته رسېږي، په پاکستان کې د افغان کډوالو مسئله هم د امنیتي کولو لپاره له همدې درېو پړاوونو تېره شوې ده:

**لومړی پړاو:** امنیتي بیان (Speech Act): یو مسؤل اړخ/ اړخونه مسئله د حیاتي ګواښ په توګه معرفي کوي، د افغان کډوالو په مسئله کې دا کار د پاکستان مؤقت صدراعظم انوارالحق کاکړ وکړ، هغه په خپل وخت کې افغان کډوال په دې تورن کړل چې دوی د پاکستان لپاره امنیتي ګواښونه متوجه کوي او ویې ویل چې د ترهګرۍ په پېښو کې افغان ځوانان ښکېل دي[2] چې له دې وروسته په دې اړه نور پړاوونه پیل شول.

**دویم پړاو:** د ټولنې او عامو خلکو له لوري د دې ادعا منل Audience) (Acceptance: کله چې یوه مسئله د چارواکو او مسؤلینو له لوري د امنیتي ګواښ په توګه معرفي شي؛ نو دلته بیا رسنۍ او د ټولنې اغېزمن خلک چې په هر ډګر کې وي؛ په دې کې بنسټیز نقش لوبوي چې ټولنه د دې په منلو قانع کړي؛ ځکه دا څرګنده خبره ده چې په دې اړه د عامه نظر له جوړولو پرته د امنیتي کولو پروسه نه شي کامیابېدلای، د افغان کډوالو د مسئلې په امنیتي کولو کې پاکستاني رسنیو او د پاکستاني ټولنې زیاتو ګڼورو شخصیتونو نقش درلود چې د دوی له ډلې څخه یو هم د بېلګې په توګه مفتي عبدالرحیم دی چې د جامعة الرشید په څېر د یوې مهمې مدرسې مهتمم او مدیر هم دی چې یو لړ څرګندونې یې دلته را اخلو، یاد مفتي صاحب له شاګردانو سره په څو خپرو شوو مرکو کې ډېر په څرګندو کلماتو وایي چې د افغانستان اسلامي امارت د پاکستان لپاره د ګواښونو مرکز ګرځېدلی او په دې لړ کې په افغانستان کې حاکم نظام په پاکستان کې له موجودو افغان

کډوالو څخه استفاده کوي، د یوې مرکې عنوان یې دی: «افغانستان او ایران په پاکستان کې د ترهګریزو فعالیتونو په مرکزونو څرنګه بدل شول» د یوې بلې مرکې عنوان یې دی (د افغانستان او پاکستان سرحدي ستونزې: راتلونکې خطره هند نه؛ بلکې افغانستان دی)[۳].

همدا راز یې دا په تفصیل سره څېړلي دي چې په پاکستان کې د افغان کډوالو شتون څرنګه د پاکستان د امنیت لپاره د ګواښونو مصدر ګرځي، تصور دا وړاندې کوي چې په پاکستان کې ټولې موجودې ستونزې د افغانستان د پخوانیو حکومتونو له پلوه رامنځ ته شوي او د اسلامي امارت له راتګ سره دا ستونزې نورې هم زیاتې شوي او د اسلامي امارت په لاس کې د پاکستان لپاره د دې ستونزو د را ولاړولو تر ټولو مهمه وسیله په پاکستان کې د بې شمېره افغان کډوالو شتون دی، په یوه ځای کې وایي چې: «اوس (د اسلامي امارت په موجودیت کې) هم پر افغانستان د امریکایي او اروپایي او هندي استخباراتو دومره اثرات دي چې د له منځه وړلو لپاره یې یوه پېړۍ پکار ده، له همدې امله زموږ استخباراتي ادارو د دې سرحد د تړلو او د کډوالو د بېرته لېږلو پرېکړه وکړه»

بیا وایي: «د افغانستان سرحد د ډالرو د قاچاق، انساني قاچاق، د غلو د تګ راتګ او همدا راز د نشه یي توکو د قاچاق لپاره استعمالېږي».

بیا وایي: «له افغانستان څخه وسله هم پاکستان ته قاچاقېږي، امریکامتحده ایالات په افغانستان کې د اوو میلیاردو ډالرو وسله پرې ایښې ده او دا د همدې لپاره چې شا و خوا هېوادونو ته قاچاق شي او دا سیمه ناامنه کړي، له افغانستانه د سوداګریزو مالونو قاچاق هم کېږي، د افغانستان حکومت په قبایلي سیمو کې خانانو او علماو ته پیسې ورکوي او د پاکستان حکومت دا لاسوهنه بندول غواړي او کله چې په افغانستان کې د طالبانو حکومت رامنځ ته شو؛ یعنې موجوده اسلامي امارت واک ته ورسېده؛ نو پاکستان ته ډېر زیات اقتصادي او ټولنیز زیانونه ورسېدل، دومره زیانونه چې تاسې یې تصور هم نه شئ کولای، اوس چې څومره جنګونه په پاکستان کې روان دي؛ دا ټول له افغانستانه اداره کېږي، له افغانستانه جنګیالي دلته رالېږل کېږي، له پاکستانه خلک د نظامي زده کړو لپاره وړل کېږي او هلته

ورته زده کړه ورکول کېږي، له دې امله څومره سختي چې موږ د هند په سرحد کوو؛ باید د هغې لس چنده سختي له افغانستان سره پر سرحد هم وکړو؛ ځکه له افغانستانه چې کوم خطر پاکستان ته متوجې دی؛ هغه له هغه خطره لس چنده زیات دی چې له هنده پاکستان ته متوجې دی».

په دې منځ کې د پاکستان له اردو څخه ډېره کلکه دفاع کوي، بیا چې کله ترې د کډوالو د اجباري شړلو په اړه پوښتنه وشي؛ نو وايي: افغانستان له پاکستان سره په پروکسي او نیابتي جنګ کې ښکېل دی او د دوی له پلوه په هر ډول زموږ هېواد ته د زیان اړولو هڅې روانې کړې دي، د هغوی رسنۍ د پاکستان پر ضد دومره زهرجن تبلیغات کوي چې د هند رسنۍ یې هم نه کوي؛ نو په دې حالاتو کې چې افغانستان موږ سره د جنګ په حالت کې دی او بیا په دومره ګڼ شمېر کې افغانان دلته اوسېږي چې موږ ته یې پوره او کره معلومات هم نشته او د پاکستان پر ضد ډېر دښمنانه احساسات هم له ځان سره لري او د هغوی اصلي دښمنانه احساسات هغه وخت ډېر په ډاګه څرګندېږي چې کله د پاکستان او هند ترمنځ او یا د پاکستان او افغانستان ترمنځ د کرکټ لوبه وي؛ نو په داسې حال کې چې پاکستان له افغانستان سره د جنګ په حالت کې دی او د هغوی دومره خلک په پاکستان کې اوسېږي او ټول نظامي زده کړې هم لري او د وسلې له استعمال سره هم بلد دي؛ نو د دومره خلکو په موجودیت کې څنګه ممکن دی چې پاکستان خپله دفاع وکړای شي؛ لنډه خبره یې دا ده چې په پاکستان کې د افغان کډوالو موجودیت د پاکستان د اقتصادي، نظامي او ټولنیز امنیت لپاره جدي ګواښ دی[٤].

دا د کډوالو پر ضد د ناروا کړنو لپاره د ذهنیت جوړونې پیل و، په دې توګه د یو مفتي صاحب په خوله هغه څه وویل شول چې د پاکستان د نظامي استخباراتو خبره وه چې ټولنه پرې باور وکړي.

ځینو نورو مؤثرو شخصیتونو چې د دې حالت په سمولو کې یې نقش درلودلای شو؛ د سلبي دریځ په غوره کولو سره یې په دې ټولنیز ذهنیت جوړونه کې خپله ونډه درلوده، په دې معنا چې هغوی د امنیتي کولو دا کړنه نقد کولای شوه؛ خو هغوی پټه خوله پاتې شول، ټولنې ته د دې پټه خوله پاتې کېدلو دا پیغام درلود

چې که دا خبره غلطه وای؛ نو دا شخصیتونه به پټه خوله نه پاتې کېدل، پاکستاني رسنیو او د دې رسنیو له لارې ځینو اغېزمنو شخصیتونو داسې فضا را جوړه کړه چې له څلوېښت، پنځه څلوېښت کلونو راهیسې هلته پراته امن خوښوونکي افغان کډوال یو ناڅاپه د پاکستان د ټولنیز امنیت لپاره تر ټولو ستر ګواښ وګرځېدل.

**درېیم پړاو:** ناعادي کړنې (Extraordinary Measures): د کوپنهاګن د مکتب د امنیتي کولو د نظریې درېیم پړاو ناعادي کړنې او استثنايي تدابیر دي، د دې معنا دا ده چې کله یوه قضیه د امنیتي ګواښ په توګه وړاندې کړای شوه او ټولنې هغه مسئله د امنیتي ګواښ په توګه ومنله؛ نو بیا حکومت او نظام د هغې په اړه ناعادي تدابیر نیسي او په اړه یې استثنايي ګامونه پورته کوي، د افغان کډوالو په مسئله کې هم د درېیم پړاو په توګه د پاکستان حکومت داسې ګامونه واخیستل چې له هېڅ قانون سره برابر نه وو او نه د هغه ګاونډېتوب غوښتنه وه چې د پاکستان حکومت به یې ادعا کوله، پولیس د خلکو کورونو ته په زور ننوتل، کډوال یې بندیان کړل، د افغانانو تور سرې ووهل شوې، له افغان کډوالو څخه د هغوی مالونه او خپل ملکیتونه په زور ستانه کړای شول؛ بلکې چور کړای شول، پولیسو ترې هر څه واخیستل او په ډېر بد وضعیت یې را وشړل[5] چې دې کړنو د بشر د حقونو د نړیوالو سازمانونو غبرګونونه هم له ځان سره درلودل.

د پاکستان د حکومت له پلوه چې کله افغان کډوال د هغه هېواد د امنیت لپاره د ګواښ په توګه معرفي کېږي؛ نو دوی یواځې نظامي امنیت په نظر کې نه لري؛ بلکې دوی هم د کوپنهاګن د امنیتي مکتب له نظریې سره سم افغان کډوال د سیاسي امنیت، نظامي امنیت، اقتصادي امنیت، ټولنیز امنیت او چاپېریالي امنیت ته د ګواښ په توګه معرفي کړل، کله وايي چې د دوی په سیاسي چارو کې لاسوهنې کوي، د یو ګوند په تایید په مظاهرو کې برخه اخلي، کله وايي چې په قاچاق، غلا او نشه یې توکو په خپرولو او عاملو کې لاس لري او په دې توګه ټولنیز امنیت له ګواښ سره مخوي او کله وايي چې د ټي ټي پي او (BLA) (د بلوڅانو د ازادۍ پوځ) له پلوه په سرته رسېدلو بریدونو کې لاس لري او د دوی نظامي امنیت ته ګواښ متوجې کوي، دا په داسې حال

کې ده چې دې کډوالو هلته څلوېښت کاله تېر کړل؛ خو دا ګواښونه يې اوس د هغه هېواد امنيت ته متوجې کړل.

له دې څرګندېږي چې د افغان کډوالو مسئله په حقيقت کې د پاکستان د امنيت لپاره نه ګواښ وه او نه به په راتلونکې کې شي؛ بلکې په حقيقت کې د هغه هېواد د ادارو او په ځانګړې توګه د هغه هېواد د نظامي استخباراتو له پلوه دا مسئله امنيتي شوه، د دې څرګند دليل دا دی چې دا قضيه په لومړي ځل د هغه هېواد د لنډمهاله لومړي وزير انوار الحق کاکړ له لوري مطرح شوه چې د پاکستان ټول خلک يې په دې پېژني چې هغه د همدې نظامي استخباراتو او د تر شا حکومت (Establishment) سړی دی.

## د افغان کډوالو مسئله ولې امنيتي کړای شوه؟

اوس پوښتنه دا را ولاړېږي چې د پاکستان د نظامي استخباراتو او چارواکو له پلوه د افغان کډوالو مسئله چې يوه انساني مسئله ده؛ ولې په دې توګه امنيتي کړای شوه او په دې امنيتي کولو کې ولې داسې تعامل وشو چې د هغو افغانانو ټول انساني حقوق تر پښو لاندې شول چې يو وخت يې د هغه مشترک دښمن (شوروي اتحاد) په وړاندې خپله سينه سپر کړې وه چې د افغانستان د اشغال تر څنګ يې د پاکستان امنيت هم تر ګواښ لاندې راوړی و او پاکستان يې له وجودي خطر سره مخ کړی و؟

زما له نظره هغه توجيهات چې پاکستاني چارواکي او د هغوی پلوي علما او مفتي صاحبان يې د دې کار لپاره وړاندې کوي؛ درست او صحيح نه دي؛ بلکې د دې ټولې مسئلې تر شا د پاکستان د حکومت ځينې داسې غوښتنې دي چې د افغانستان د اسلامي امارت د چارواکو لپاره د منلو وړ نه دي، په زوره د دې مسئلو په اړه د خپلې خوښې د حل د مسلطولو لپاره يې د کډوالو له مسئلې څخه ناروا او ناوړه ګټه پورته کړه، دا يې امنيتي کړه او په دې توګه يې يوه انساني مسئله د خپلو سياسي موخو لپاره استعمال کړه، هغه بنسټيزې مسئلې چې د هغې له امله د پاکستان نظامي استخبارات او اردو په اسلامي امارت فشارونه راوړي چې د هغوی له غوښتنو سره يې سم حل کړي، بيا هم په اوسنيو شرايطو کې چې د حل لارې يې دي؛ په لاندې ډول ورته اشاره کېږي:

## لومړی: د پښتنو او بلوڅو د مظلومیت مسئله

لومړی مسئله چې د پاکستان اردو او نظامي استخبارات یې د افغانستان له اسلامي امارت څخه د حلولو غوښتنه لري؛ هغه د پښتنو او بلوڅو تر منځ د پاکستان پر ضد د وسله وال مقاومت خوځښتونه دي او له دې امله چې اسلامي امارت په دې ډول مسئلو کې ښکېل نه دی؛ نو له فشاره کار اخلي.

د بلوڅو او پښتنو مسئله په حقیقت کې څه ده؟ په دې اړه باید ووایو چې له مودو راهیسې بلکې له هغه مهال راهیسې چې پاکستان جوړ شوی؛ په پاکستان کې یو ناعاد لانه نظام حاکم دی چې تر شا یې په عامه توګه د پاکستان اردو، نظامي استخبارات او تر شا نظام (Establishment) ولاړ دی، په دې نظام کې له پنجاب ولایت پرته نور ټول ولایتونه او له پنجابي ملیت پرته نور ټول ملیتونه د دې احساس کوي چې هغوی مظلومان دي[٦]، د ملتونو په توګه د هغوی حقونه تر پښو لاندې کېږي او د هغوی له امکاناتو او اقتصادي زېرمو څخه پنجاب تغذیه کېږي او دوی ترې هېڅ ګټه نه اخلي او په وروستیو کلونو کې د دې تر څنګ یوه بله لویه مسئله هم ور زیاته شوه او هغه د بې شمېره ورک شوو بلوڅو او پښتنو مسئله ده، د پاکستان د نظامي استخباراتو له پلوه د امنیتي دلایلو پر بنسټ خلک په مرموز ډول نیول کېږي او وړل کېږي او بیا یې مړی او ژوندی ورکېږي، نه یې څوک پوښتنه کولای شي او نه یې په اړه څوک معلومات ترلاسه کولای شي، نه قضا د دې توان لري او نه هم پارلمان، دې ډول خلکو ته په پاکستاني رسنیو کې ورک شوي خلک، یا په زوره غایب کړای شوي خلک ویل کېږي چې دې مسئلې د مظلومیت دا حالت اوج ته رسولی دی[٧].

په دې دومره اوږدې موده کې د دې مسئلې د حل لپاره د هغه هېواد عقلمند خلک سره را ټول نه شول چې دې مسئلې لپاره یو حل ولټوي، مسئله یې اردو او نظامي استخباراتو ته پرېښوده چې د مظلومیت دا احساس نور هم تقویه شو، په دې ملیتونو کې دوه ملیتونه ډېر زیات د مظلومیت احساس کوي چې یو یې بلوڅان او بل یې پښتانه دي، د دې ملیتونو په زړونو کې د مظلومیت احساس ورځ تر بلې تقویه کېږي او د پاکستاني ادارو پر ضد په نفرت بدلېږي؛ بلکې د پاکستان په څه

سيمو کې دې نفرت د وسله وال مقاومت حالت غوره کړی دی او مجبوراً بلوڅ له خپلو حقونو څخه د دفاع په نوم وسله وال فعاليتونه کوي چې مخکې هم څو ځله داسې حالات رامنځ ته شوي دي؛ نو کله چې د بلوڅو او پښتنو د دې نظامي عملياتو په پايله کې د پاکستان پر نظامي استخباراتو او اردو فشار زيات شي، غواړي د دې حالاتو پړه د افغانستان پر اسلامي امارت واچوي او خلکو ته داسې احساس ورکړي چې د دې حالاتو تر شا افغانستان ولاړ دی.

د دې پر ځای چې پاکستان دې مسئلې ته له سياسي او حقوقي نظره وګوري او د مظلوميت د دې احساس د له منځه وړلو لپاره صحيح او سمه تګلاره غوره کړي، مليتونو ته د هغوی حقونه ورکړي او يا يې پر همدې فعلي حالت قانع کړي، خپلې داخلي ستونزې پخپله حل کړي، د خلکو روا غوښتنې ومني؛ د هغه هېواد نظامي استخبارات د دې تصور کوي چې د افغانستان اسلامي امارت د دې خلکو تر شا دی، دوی تقويه کوي او دوی ته امکانات برابروي[۸]؛ نو له دې امله غواړي چې پر اسلامي امارت فشار راوړي او داسې کړنې تر سره کوي چې د معقوليت له دايرې څخه بهر دي، کله يې چې اسلامي امارت داسې غوښتنې نه مني؛ نو د کډوالو له کارډ څخه ناوړه او ناروا استفاده کوي، د دې کډوالو ټول انساني حقونه تر پښو لاندې کوي او په ډېر تذليل سره يې په ډېره عجله کې را شړي.

## دويمه: د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحريک مسئله

دويمه مسئله چې د پاکستان اردو او نظامي استخبارات غواړي په اړه يې د افغانستان پر اسلامي امارت فشارونه راوړي؛ هغه د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحريک مسئله ده او کله يې چې هغه څه تر لاسه نه کړل چې دوی غوښتل؛ نو د افغان کډوالو د اجباري شړلو له لارې يې د فشار راوړلو کوښښ وکړ، د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحريک مسئله هم په حقيقت کې يوه سياسي مسئله ده؛ ځکه د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحريک دوه ډوله موخې لري:

**۱- نړيوالې موخې**: چې د دوی له وينا سره سم هغه په نړۍ کې د اسلامي نظام حاکميت دی، د دې لپاره دوی کوم ځانګړی ميکانيزم نه لري او تصور يې دا دی چې دا کار به د افغانستان د اسلامي امارت له پروګرام سره سم د افغانستان د اسلامي امارت تر

قیادت لاندې سرته رسوي، دا په دې معنا چې دوی دې قضیې ته ډېر په جدي سترګه نه ګوري او نه یې دا اصلي موخه ده.

**۲- سیمه ییزې موخې:** په سیمه ییزو موخو کې یې تر ټولو بنسټیزه موخه دا ده چې قبایلي سیمه چې له پېړیو راهیسې ازاده او مستقله سیمه وه او دلته ډېرو علماو او پوهانو د انګرېزانو پر ضد د همدې موخې لپاره جهادونه کړي چې دا سیمه ازاده پاتې شي، د همدې جهادونو په پایله کې دا سیمه له هنده د انګرېزانو د وتلو په وخت کې ازاده وه او کوم قبایلي نظام چې هلته حاکم و؛ هغه له لږ تعدیل او تصحیح سره له اسلام سره ډېر اړخ لګوي؛ خو انګرېزانو وغوښتل چې دلته د ذلت یو قانون مسلط کړي چې د (FCR) (Frontier Crimes Regulation) د سرحدي سیمې لپاره د جرایمو قانون په نوم یادېده او بیا په ۲۰۱۸ز. کې د پاکستان حکومت دا قبایلي سیمې په بشپړ ډول لاندې کړې او د خپل نظام تابع یې وګرځولې[۹].

د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحریک مشران په حقیقت کې د دې قبایلي سیمو په هغه حیثیت د پاتې کېدو لپاره هلې ځلې کوي چې سیمې ته د انګرېزانو له راتګه دمخه دې سیمو درلوده، دوی غواړي چې په دې سیمو دې نه د (FCR) (Frontier Crime Regulation) (د سرحدي سیمو لپاره د جرمونو نظامنامه) قانون پلی شي او نه د پاکستان د بندوبستي سیمو قانون چې دوی یې ظالمانه ګڼي[۱۰]؛ بلکې دلته باید له لږ تعدیل سره هماغه قبایلي نظام حاکم وي چې دې سیمې ته د انګرېزانو له راتګه دمخه حاکم و، د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحریک غوښتنه هم په حقیقت کې یوه سیاسي غوښتنه ده چې د قبایلي سیمو د اداري په نوعیت کې را لنډېزېږي، د پاکستان حکومت، اردو او نظامي استخبارات باید دې غوښتنې ته په همدې سیاق کې وګوري؛ خو د دې پر ځای چې دوی خپل مسایل په خپله حل کړي؛ توقع یې دا ده چې د افغانستان اسلامي امارت د دوی ستونزې په خپل سر واخلي، د دوی په نیابت د دوی له ناراضیانو سره جنګ کې ښکېل شي، غوښتنه یې دا ده چې د افغانستان اسلامي امارت دې د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحریک غړي او مشران د ټوپک په زور ونیسي او دوی ته دې یې وسپاري او دا کار باید په فوري توګه سرته ورسېږي.[۱۱]

په دې کې د دې انتظار هم کول نه غواړي چې دا مسئله د وخت په تېرېدو حل کړای شي، په دې لړ کې د افغانستان د حکومت مجبوریتونه هم په نظر کې نه نیسي او دا ډول نامعقولې غوښتنې ځکه کوي چې د هغوی اردو او نظامي استخباراتي ادارې په افغانستان کې هر حاکم نظام ته همېشه د لاسپوڅي په سترګه کتلي او متکبرانه تعامل یې ورسره کړی او همېشه یې تصور دا پاتې شوی چې د اسلام آباد له پلوه باید حکم صادر شي او په کابل کې حاکم نظام یې باید بې له کوم تعلله پلی کړي او که پلی یې نه کړي؛ نو باید د زور، فشار او دسیسو له لارې استبدال کړای شي او کله یې چې اوس د افغانستان اسلامي امارت دا ډول غوښتنې نه مني چې د منلو وړ هم نه دي؛ نو بیا یې پر ضد له نورو وسیلو تر څنګ د کډوالو له کارډ څخه د فشار په توګه استفاده کوي.

## درېیمه: له هند سره د افغانستان د اړیکو مسئله

درېیمه هغه مسئله چې پاکستان د هغې په اړه غواړي له پاکستانه د افغان کډوالو د اجباري ایستلو له لارې د افغانستان پر اسلامي امارت فشار راوړي؛ هغه له هند سره د افغانستان اړیکې دي، پاکستان همېشه د دې هڅه کړې چې د افغانستان بهرنۍ اړیکې د پاکستان او پاکستاني استخباراتي ادارو تر څار لاندې وي، په ځانګړې توګه له هند سره د افغانستان اړیکو ته همېشه پاکستان د شک په سترګه کتلي او یوه جدي غوښتنه یې دا ده چې افغانستان باید له هند سره غښتلې اړیکې و نه لري؛ بلکې همدا اړیکې یې په افغانستان کې له حکومتونو او ګوندونو سره د دوستۍ او دښمنۍ لپاره معیار ګڼلی دی، غوښتنه یې همېشه دا ده چې دا اړیکې باید د پاکستان له فلتره تېرې شي او د پاکستاني ادارو تر څار لاندې تر سره شي[12] او د دې غوښتنې تر شا یې د ځان د قناعت لپاره دا منطق تراشلی چې د هند او افغانستان له اړیکو څخه پاکستان ته زیان رسېږي.

دا ډول غوښتنه څومره له عقل او منطق سره برابره ده؟ په دې اړه باید ووایو چې افغانستان یو ازاد او خپلواک هېواد دی، له بین المللي قوانینو سره سم حق لري چې د خپلو ګټو د ساتلو لپاره د نړۍ له هر هېواد سره خپلې بهرنۍ اړیکې غښتلې کړي، د دې دوه اړخیزو اړیکو موخه له اړوند هېوادونو له پلوه د خپلو ګټو ساتل

وي، که په کومه مشخصه قضیه کې کوم بل هېواد ترې اغېزمنېږي؛ نو هغه حق لري چې د ډیپلوماټیکو کانالونو له لارې له اړوندو هېوادونو سره هغه مشخصه مسئله مطرح کړي او د حل لار ورته ولټول شي؛ خو هېڅ یو هېواد د دې حق نه لري چې له بل هېواد سره د هغه بهرنۍ اړیکې وګواښي او خلل په کې رامنځ ته کړي او یا د دې غوښتنه وکړي چې د یو خپلواک هېواد بهرنۍ اړیکې دې د هغه هېواد تر څار لاندې تر سره کېږي؛ ځکه دا د هېواد د خپلواکۍ نفې ده چې افغانستان هېڅکله هم دا نه شي زغملی، پاکستاني چارواکي له هند سره د اړیکو مسئله کله په صراحت او کله هم په کنایاتو کې مطرح کوي او په پاکستان کې چې هره پېښه وشي؛ د پاکستاني چارواکو لومړی رد عمل دا وي چې د افغانستان له خاورې څخه هندي استخباراتو سرته رسولې، د پاکستان نظامي ادارې همېشه د دې هڅه کړې چې د هند او افغانستان تر منځ اړیکې هېڅکله هم له ثباته برخمنې نه شي.

سره له دې چې پاکستان او د پاکستان اردو او نظامي استخبارات د دې غوښتنه کوي چې د افغانستان حکومت دې له هند سره خپلې اړیکې محدودې کړي؛ خو بیا په خپله ورسره هر ډول اړیکې ساتي؛ بلکې د پاکستان ځینې علما تر دې مخ ته ځي چې له هنده موږ ته خطر نه دی متوجې[۱۳].

پاکستان د افغانستان او هند تر منځ د سوداګرۍ په مخ کې خنډونه رامنځ ته کوي او په خپله بیا د پاکستان او هند ترمنځ سوداګرۍ ته وده ورکوي او هغه په داسې شکل چې له خپلو هېوادوالو څخه یې پټ هم ساتي، د بېلګې په توګه د پاکستان معتبرې ورځپاڼې په همدې ورځو کې داسې راپورونه ورکړي چې د پاکستان او هند تر منځ نارسمي سوداګري لس میلیارده ډالرو ته رسېږي[۱۴].

په داسې حالاتو کې چې په خپله ورسره دوستي لري، په پراخه کچه سوداګري ورسره کوي او له نورو هېوادونو څخه یې غوښتنه دا وي چې د دوی لپاره باید له هند سره دښمني وکړي، دا به څومره د منطق او عقل خبره وي او کله چې د اسلامي امارت له پلوه دا ډول غوښتنې نه منل کېږي؛ نو بیا د نورو وسایلو تر څنګ د کډوالو له اجباري را ستنولو څخه د فشار د وسیلې په توګه استفاده کېږي.

## څلورمه: څه نورې ستراتیژیکې مسئلې

د دې مسئلو تر څنګ څه نورې ستراتیژیکې مسئلې هم شته چې پاکستان له بېلابېلو لارو غواړي د هغوی په اړه پر افغانستان فشار وارد کړي، دا مسئلې ډېر زیات تفصیل ته اړتیا لري، له دې امله یې موږ دلته یواځې د سرلیکونو یادونه کوو:

- د ډیورنډ کرښه او د رسمي سرحداتو د ټاکنې مسئله.
- د اوبو مسئله، په افغانستان کې د کونړ او کابل او له نورو سیندونو څخه استفاده او په دې اړه د پاکستان غوښتنې.
- د سوداګرۍ مسئله، همېش لپاره پر افغان لوري د قاچاق تورونه لګول، د افغانانو د سودا ګریزو مالونو لپاره ستونزې رامنځ ته کول او په خپله د مرکزي آسیا مارکیټونو ته د لاسرسي غوښتنې.

## د کډوالو اجباري را ایستل د فشار د لړۍ یو کړۍ ده

په افغانستان کې د اسلامي امارت له راتګ سره سم د دې مسئلو د داسې هواري لپاره چې د دوی له غوښتنو سره سم وي؛ د پاکستان اردو او نظامي استخباراتو په یوې داسې ستراتېژۍ عمل وکړ چې د افغانستان له بېلابېلو حکومتونو سره د دوی د اړیکو د تاریخ تسلسل را په ګوته کوي، دې ستراتېژۍ ته په لاندې ټکو کې لنډه اشاره شوې:

**أ**- له استخباراتي لارو فشار واردول او داسې ښودل چې د افغانستان اسلامي امارت د دوی د استخباراتي سرپرستۍ لاندې دی، په دې لړ کې د پاکستان د هغه وخت د نظامي استخباراتو (ISI) مشر جنرال فیض حمید کابل ته د راتګ او نړۍ ته داسې څرګندول چې دوی افغانستان څاري[۱۵]، له دې نه د دوی موخه دا وه چې د افغانستان اسلامي امارت د تېر په څېر بیا پر دوی اعتماد وکړي او دوی چې څه ډول غواړي؛ اسلامي امارت د قضیو په اړه په هماغه څېر پرېکړې وکړي.

**ب**- د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت له لوري د افغانستان په ملاتړ کې څرګندونې او له نړیوالې ټولنې څخه د کنګل شوو پیسو او له اسلامی امارت سره د مثبتې ښکېلتیا غوښتنې[۱٦] چې په دې توګه ځان د افغانستان د اسلامي امارت خواخوږی معرفي کړي او پر اسلامي امارت اخلاقي فشار راوړلای شي.

**ج-** د بشري مرستو له لارې يې وغوښتل چې د پاکستان په اړه د اسلامي امارت خواخوږي جلب کړي، په همدې موخه يې د حبيب الله خټک تر رياست لاندې د پاکستان او افغانستان د ګډو همکاريو فورم ( **Pa**k-Afghan Cooperation Forum) رامنځ ته کړ، د لږ وخت لپاره يې فعاليت وکړ، کله يې چې وليدل چې زيات اغېزمن نقش نه لري؛ نو وتړل شو، اوس يې ويبپاڼه هم کار نه کوي چې په دې پته يې فعاله کړې وه: (pac. pk).

**د-** له دې وروسته يې د علماو ډلې را لېږل پيل کړل چې په دې لړ کې د پاکستان د علماو ډېرې ډلې افغانستان ته راغلې او دلته يې د اسلامي امارت له مشرانو او د پاکستان له مخالفانو سره خبرې اترې وکړې چې په دې پلاو کې د پاکستان د مشهور عالم مفتي تقي عثماني[۱۷] په مشرۍ د پاکستاني علماو د يو لوی پلاوي راتګ هم شامل و، همدا راز د جمعيت علمای پاکستان د مشر مولوي فضل الرحمن راتګ هم د همدې لړۍ يوه کړۍ وه، غوښتل يې له دې نه دوه موخې تر لاسه کړي؛ يوه موخه پر اسلامي امارت فشار اچول وو چې څه مسئلې د پاکستان د استخباراتو له غوښتنو سره سم حل کړي او که اسلامي امارت د دوی خبره و نه مني؛ نو د پاکستاني علماو په حلقو کې به د اسلامي امارت خوا خوږي راکمه کړای شي.

**هـ-** له دې وروسته يې سياسي او نظامي فشار واردولو ته مخه کړه چې په دې لړ کې يې مشرانو په مختلفو فورمونو د افغانستان د اسلامي امارت په اړه منفي ژبه استعمالول پيل کړه، لکه په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د استازي څرګندونې او بيا يې د نظامي فشار د واردولو لپاره د افغانستان په داخل کې په څو ځايونو هوايي بريدونه وکړل چې دا لړۍ هم تر ډېر وخت پورې جاري پاتې شوه.

**و-** د سرحدونو د تړلو وسيله يې هم وکاروله، په بېلابېلو وختونو کې يې سرحدونه وتړل، په ځانګړې توګه په داسې وختونو کې چې د افغانستان مېوې او نور توکي په کې بهر ته صادرېږي، د دې په پايله کې د افغانانو ډېر سوداګريز مالونه له منځه ولاړل، مخکې به کله چې د تورخم سرحد وتړل شو؛ ډېر ژر به د بنسټيزو اړتياو نرخونه لوړ شول؛ ځکه د افغانستان په بازار کې پاکستان تحکم کاوه؛ خو اوس يې پر نرخونو هېڅ ډول اغېز نه درلود؛ ځکه له ډېرې مودې راهيسې افغانستان له ګاونډيو هېوادونو سره خپلې اړيکې عادي کړي

او بشپړ اعتماد یې پر پاکستان نه دی؛ بلکې بالعکس د سوداګرۍ له پلوه پاکستان د سرحد له بندولو څخه ډېر زیات زیانمن شو.

اوس یې په اجباري ډول د افغان کډوالو د بیا راستنولو وسیله تر لاس لاندې نیولې او غواړي له دې لارې د افغانستان پر اسلامي امارت فشار واچوي چې په یو لړ یادو مسئلو کې د هغوی غوښتنې ومني، ښایي له دې وروسته د پاکستان نظامي استخبارات او اردو د یوې خطرناکې وسیلې په توګه په افغانستان کې د وسله والو ډلو له رامنځ ته کولو او په وسله سمبالولو څخه هم ډډه و نه کړي؛ ځکه د مسئلو د حل په اړه د نظامي تفکیر همدا طبیعي پایله ده؛ خو دا خطرناکه دسیسه موږ په افغانستان کې د ملت جوړونې د پروسې له لارې شنډولای شو، په دې توګه چې موږ هغه ټول کارونه وکړو چې زموږ ملت سره یو موټی کړي او د نورو هېوادونو لپاره زموږ له هېڅ هېوادوال څخه د ناوړه استفادې فرصت پاتې نه شي.

## یواځې د فشار واردول مقصود دي، نه ټول کډوال را ایستل

کله چې دا ثابته شوه چې دوی د کډوالو د اجباري را ایستلو دا لړۍ یواځې د فشار د وسیلې په توګه استفاده کوي؛ نو د دې طبیعي پایله دا ده چې دوی په پاکستان کې د افغان کډوالو موجودیت ته د یوې اغېزمنې یا ګټورې وسیلې په سترګه ګوري؛ نو غالب ګومان دا دی چې دوی به هېڅکله هم د فشار دا وسیله له لاسه ورکول و نه غواړي او ټول کډوال به هېڅکله هم په اجباري توګه له خپل هېواده را و نه شړي؛ ځکه له دې وسیلې څخه د پاکستان نظامي استخبارات له دې موجوده حالت په نسبت ډېرې ناوړه نورې استفادې هم کولای شي، لکه مخکې مو چې ورته اشاره وکړه چې دوی د وروستۍ حربې په توګه وسلوالې ډلې جوړولای او تقویه کولای شي، په ځانګړې توګه کله چې کوم شتمن ستر ځواک خپلې ګټې په دې جنګ کې وویني او د دې ډلو د تمویل قضیه حل شي؛ نو په دې صورت کې بیا دا کار ډېر په اسانۍ سره سرته رسولای شي.

## اسلامي امارت ته څه کول پکار دي؟

سره له دې چې ښایي ګاونډي هېوادونه و نه غواړي چې ټول افغانان بېرته خپل هېواد ته راستانه شي او ښایي زموږ کډوال هم دا په اوسنیو شرایطو کې و نه غواړي چې هېواد ته را ستانه شي او دلته په آرام زړه خپل ژوند پیل کړي؛ ځکه چې د ډېرو دې کډوالو له نظره په افغانستان کې تر اوسه هغه شرایط نه دي برابر چې د یوه ډاډمن ژوند لپاره اړین دي او دا ټول خلک په دې هم متهمول ګران کار دی چې دوی نه غواړي د اسلام تر سیوري لاندې ژوند

وکړي؛ نو له دې نه جوتېږي چې په هېواد کې یو لړ داسې شرایطو جوړولو ته اړتیا ده چې په پایله کې یې کډوال بېرته را ستنېدو ته زړه ښه کړي، د کډوالو د راستنېدو لپاره دا شرایط برابرول ځکه اړین دي چې اسلامي امارت باید د نورو هېوادونو په ځانګړې توګه د ګاونډیو هېوادونو له لاسه هغه وسیله واخلي چې دا هېوادونه یې له دې نه هم په ډېره ناوړه توګه د افغانستان پر ضد کارولای شي، دا شرایط موږ د لاندې اصلاحاتو له لارې برابرولی شو:

۱. د اسلامي شریعت په رڼا کې د یو رسمي سیاسي نظام رامنځ ته کول چې د سرپرستۍ اوسنۍ ډول پای ته ورسېږي، د ملت او نظام تر منځ واټن نور هم را کم شي چې په پایله کې به رسمیت پېژندنې ته لاره هواره شي.

۲. د ټولنیز عدالت لا پیاوړي کول، د قومي، ژبني، سمتي او قشري توازناتو د رعایت او شفاف ناسیاسي، امنیتي، پولیسي او استخباراتي نظام له لارې د داخلي امنیت ښه والی.

۳. د اقتصادي پرمختګونو او عامو وګړو ته د اقتصادي فرصتونو د رامنځ ته کولو له لارې ټولنیزه سوکالي رامنځ ته کول، اقتصادي فرصتونه باید د یوه ځانګړي پوړ پورې خاص نه وي او دولتي مناصب نه باید د یوه ټاکلي سیاسي تنظیم د افرادو لپاره ځانګړي وي.

۴. د تعلیم، لوړو او مسلکي زده کړو اړوندو چارو لا ښه والی.

۵. د اسلامي شریعت په رڼا کې د بیان ازادي او مدني حقونو رعایتول.

٦. د خدماتي سکټور سمونه، پرمختګ او ښه ټولنیز خدمات وړاندې کول.

۷. په بهرنیو هېوادونو کې د موجودو افغان کډوالو د را ستنولو لپاره یوه هر اړخیزه ستراتیژي جوړول.

۸. په افغانستان کې د بېرته راستنېدونکو کډوالو د بیا ادغام او په ټولنه کې د منسجم ژوند د پیلولو لپاره اړین پروګرامونه جوړول.

## پایلې او وړاندیزونه

دا د کډوالۍ د عمومي مسئلې د حل لپاره بنسټیز وړاندیزونه دي چې په هېواد کې سیاسي ارادې ته اړتیا لري؛ خو د دې تر څنګ له پاکستانه د کډوالو د اجباري را ستنولو د پېښې د څېړلو په پایله کې باید ووایو چې:

۱- په پاکستان کې د افغان کډوالو دا وروستنۍ مسئله په پاکستان کې د نورو ډېرو مسئلو په څېر د دې زېرنده ده چې له افغانستان سره د پاکستان اړیکې د دې پر ځای چې د ملکي ادارې له لوري اداره شي؛ د هغه هېواد د پوځ او پوځي استخباراتو له لوري اداره

کېږي او طبيعي خبره ده چې پوځي ادارې د زور او فشار په ژبه خبرې کوي او مسئلې هم د زور او فشار له لوري حلول غواړي.

۲- د افغان کډوالو د اجباري را ستنولو لپاره چې د پاکستان استخباراتي ادارو کوم توجيهات وړاندې کوي چې دوی د پاکستان د امنيت لپاره ګواښ متوجې کړی؛ دا توجيهات درست نه دي.

۳- دا امنيتي قضيه نه ده؛ بلکې امنيتي شوې قضيه ده، د پاکستان اردو او نظامي استخباراتو دا قضيه امنيتي کړې ده.

۴- له امنيتي کولو څخه يې بنسټيزه موخه دا ده چې د يو لړ مسئلو په اړه له دې نه د اسلامي امارت پر وړاندې د فشار د يوې وسيلې په توګه کار واخلي.

۵- د دې مسئلې د امنيتي کولو په پايله کې يوه انساني قضيه د سياسي موخو لپاره استعمال کړای شوه چې په پايله کې د ډېرو کډوالو بنسټيز حقونه تر پښو لاندې شول.

٦- د پاکستان او افغانستان تر منځ د اړيکو تېر تاريخ ته په کتو ښايي پاکستان د کډوالو قضيه له دې نه هم په خطرناکه توګه د افغانستان پر ضد وکارولای شي.

۷- له همدې امله داسې ښکاري چې د پاکستان مقتدرې ادارې به ټول کډوال هېڅکله هم بېرته را ستانه نه کړي؛ بلکې په راتلونکې کې به هم له دې نه د افغانستان پر ضد د يوې اغېزمنې وسيلې په توګه د کار اخيستلو هڅه کوي.

۸- اسلامي امارت ته پکار دي چې د ملت جوړونې په لور د حرکت له لارې دا کډوال بېرته را ستانه کړي او پاکستان او نور ګاونډي هېوادونه له دې وسيلې څخه بې برخې کړي چې د تل لپاره د افغانستان پر ضد استفاده نه کړای شي، د دې لپاره هغه شرايط برابرول اړين دي چې په پايله کې يې کډوال په خپله خوښه هېواد ته را ستانه شي، همدا راز هغه خنډونه به لرې کول غواړي چې نه پرېږدي خلک په خپله خوښه هېواد ته را ستانه شي.

۹- د دې تر څنګ به دې ته اړتيا وي چې د کډوالو او بېرته را ستانه شوو د مسئلې د دايمي او جذري حل لپاره يوه هر اړخيزه ستراتيژي جوړه شي چې د مسئلې ټول اړخونه په کې ښکېل وي، همدا راز د بيا ادغام لپاره هم بايد اغېزمن پروګرامونه په لاره واچول شي.

۱۰- له پاکستانه په اجباري ډول د افغان کډوالو د را شړلو پېښه موږ ته له نړۍ سره د اسلامي امارت د سياسي او ډيپلوماټيکو اړيکو اهميت نور هم جوتوي؛ نو اسلامي امارت

ته پکار ده چې له نړۍ او اسلامي هېوادونو سره فعاله ډيپلوماسي او اړيکې ولري چې هېڅ هېواد و نه شي کولای چې افغان مظلوم ملت ته سپکاوی وکړي.

۱۱- د سيمې نور هېوادونه هم زموږ پر ضد د کډوالو د اجباري را ستنولو کارډ له دې څخه په ناوړه توګه استعمالولای شي، له دې امله پکار دا دي چې مخکې له دې چې موږ له داسې حالت سره مخ شو؛ د دې ستونزې د حل لپاره موږ په خپله ګامونه پورته کړو او اړين اصلاحات رامنځ ته کړو چې دې مسئلې ته بنسټيز حل ولټوو.

۱۲- د ځينو داخلي ستونزو د حل له لارې د افغانستان اسلامي امارت بايد هڅه وکړي چې د ګاونډيو له لوري د فشار د راوړلو هر ډول وسايل له منځه يوسي چې په دې کې د کډوالو مسئله يوه مهمه وسيله ده او دا تصور بايد پرېږدي چې د اړتيا په وخت کې به ګاونډيان له ناوړه وسايلو څخه کار نه اخلي.

۱۳- سره له دې چې د کډوالو په را شړلو او په اجباري توګه په را ايستلو کې د پاکستان پوليسو او ځينو نورو عامو وګړو او په رسنيو کې فعالينو د ډېر ناروا او ناوړه تعامل مظاهره وکړه؛ خو دا بايد د ملتونو ترمنځ د دښمنۍ لامل نه شي؛ ځکه چې دا هر عاقل درک کوي چې دا د نوموړي هېواد د پوځ او پوځي استخباراتي ادارو پرېکړه ده، عاقل ملتونه د خپلو چارو واګې د پوځ او استخباراتو په لاس کې نه ورکوي.

۱۴- د سيمې د هېوادونو اړتيا ده چې بايد اړيکې د تاو تريخوالي لور ته يو نه سي؛ ځکه يو بل ته اړتيا لري، له دې امله اسلامي امارت بايد له ګاونډيو هېوادونو سره د اړيکو د کانالونو د فعال ساتلو نهايي هڅه وکړي؛ خو دا اړيکې بايد د استخباراتي او عسکري اړيکو پر ځای ملکي اړيکې وي او بايد چې د هېوادونو د بهرنيو چارو وزارتونو په چوکاټ کې تأمين شي.

۱۵- پاکستان که غواړي چې له افغانستان سره اړيکې ښه کړي؛ نو بايد چې دا اړيکې د پوځ او پوځي استخباراتو له اغېزه لرې وساتي؛ ځکه تر څو چې پوځ او پوځي استخبارات په مسئلو کې دخيل وي؛ هغوی به همېشه هڅه کوي چې مسئلې د زور او فشار له لارې حل کړي چې د دې په پايله کې به مسئلې د حلېدو پر ځای نورې هم پېچلې کېږي.

١٦- اسلامي امارت بايد د يو دقيق پلان له مخې په پاکستان کې مېشتو هغو هېوادوالو ته د بېرته راتګ زمينه برابره کړي چې د هنر خاوندان دي، کسبګر دي او زياته سرمايه

لري چې د هغوی په بېرته راتګ د هېواد اقتصادي حالت هم تقویه شي او په پاکستاني ادارو کې د دې ډول ګامونو پورته کوونکي هم توبیخ شي.

۱۷- دا باید بیا په تکرار سره ووایو چې اسلامي امارت باید د کډوالو قضیه په بنسټیز ډول د حلولو هڅې وکړي؛ ځکه که اسلامي امارت دا ستونزه هواره نه کړي؛ همېش لپاره به د یوې زوړندې تورې په توګه له دې لارې له ګواښ سره مخ وي؛ خو دا ستونزه باید داسې هواره شي چې مونږ د خپلو هېوادوالو حیثیت او رواني حالت هم ساتلی وي او په داسې توګه مو را ستانه کړي وي چې هغه ټولې اسانتیاوې ورته په هېواد کې دننه تر لاسه وي چې په نورو هېوادونو کې یې لټوي او که دا کار اوس ممکن نه وي؛ نو د ځینو عملي، سیاسي او ټولنیزو ستونزو د حلولو له لارې خپلو هېوادوالو ته د دې ډاډ ورکړو چې دا هېواد د ژوند لپاره یو ډاډمن ځای دی.

۱۸- همدارنګه د دې هوډ باید وکړو چې په راتلونکې کې له بل هر داسې اقدام څخه ډډه وکړو چې زمونږ نور هېوادوال کډوالۍ ته مجبوروي.

## مأخذونه

[۱] - نګاه کپنهاګی به امنیتی سازی: مبانی و چالشها لیکوال: زارع زاده، رسول. (۱۳۹۷). فصلنامه آفاق امنیت ۱۰ (۳٦). ۹۱- ۱۲۰. همدا راز (بررسی و نقد نظریه امنیتی‌ساختن) لیکوال: عبداله خانی، علی. (۱۳۸۵). فصلنامه مطالعات راهبردی.۹ (۳۳) ۴۹۱-۵۱۲.

[۲] - افتخار خان. (۱۵ اپریل ۲۰۲۵م). د مقالې عنوان دی: (لاکهوں افغان پناه گزینوں کو پاکستان بدر کرنے کی چار ممکنه وجوہات کیا ہیں) په دې کې راغلي: «موقتي صدراعظم انوارالحق کاکړ افغان کډوال د پاکستان د امنیت لپاره خطر وبلل» «بي بي سي پښتو» اخیستل شوی له: (https://short-link.me/YFIK ) په ۲۰۲۵/۵/۵.

Shannon Redstall (۱۸ اپریل ۲۰۲۵م) ( Pakistan's deportations of Afghan refugees reaches 1 million) د امریکا غږ – انګلیسي وېب‌پاڼه، اخیستل شوی له: (https://short-link.me/11DXi) په ۲۰۲۵/۵/۸م.

بډاني، ډاکټر غلام مصطفی. (۱ فبروري ۲۰۲۵م). «افغان کډوال د پاکستان د امنیت لپاره خطر» باغي ټلوېزیون – اردو وېب‌پاڼه .اخیستل شوی له: (https://short-link.me/11DW9) په ۲۰۲۵/۵/۷م.

[۳] - مفتی عبد الرحیم، (د جامعة الرشید مهتمم او د الرشید ټرسټ مدیر) (د۲۰۲۵/۵/۲۰م څخه یوه میاشت مخکې) د خپلو شاګردانو سره مرکه، د مرکې عنوان (پاک افغان بارڈر کے مسائل: اګلا خطره انڈیا نہیں بلکہ افغانستان ہے) د دې مرکې مختصر لینک لاندې دی: (https://shorturl.at/iVeQT). په ۵/۹/ ۲۰۲۵م کتل شوی.

[٤] - مفتی عبد الرحیم، (د جامعة الرشید مهتمم او د الرشید ټرسټ مدیر) (د۲۰۲۵/۵/۲۰م څخه یوه میاشت مخکې) د خپلو شاګردانو سره مرکه، د مرکې عنوان (پاک افغان بارڈر کے مسائل: اګلا خطره انڈیا نہیں بلکہ افغانستان ہے) د دې مرکې مختصر لینک لاندې دی: (https://shorturl.at/iVeQT). په ۲۰۲۵/۵/۹م کتل شوی. دا مفتی صاحب او دا اداره د اسلامي امارت په تېر دور کې په افغانستان کې ډېر مهم شخص وه، دوی د الرشید ټرسټ له لورې ډېر زیات کارونه کول، دا چې د دومره زیاتو فعالیتونو لپاره یې فنډ له کوم ځای څخه تر لاسه کاوه څرګنده نه ده.

[٥] - کبیري، خجسته. (۱۴۰۳/۱۱/۱۳هـ ش). «روایت‌های زندگی مهاجرین افغان در پاکستان؛ "از آزار و اذیت به ستوه آمده‌ایم ."«ازادي راډیو .اخیستل شوی له: (https://short-link.me/11E4W) په ۲۰۲۵/۵/۱٦م کتل شوی، ازادي راډیو. (۱۴۰۴/۰۲/۰۱هـ ش). (پاکستان می‌گوید که برای جلوگیری از آزار و اذیت مهاجران افغان هنگام روند اخراج از آن کشور، یک اداره ویژه ایجاد کرده است) «پاکستان وایي چې د افغان کډوالو د ایستلو پر مهال د ځورونې د مخنیوي لپاره یې یوه ځانګړې اداره جوړه کړې .«ازادی راډیو .اخیستل شوی له(https://short-link.me/11E5g) په ۲۰۲۵/۵/۱٦م کتل شوی.

[٦] - زه اوس د دې قضاوت نه کوم چې د دوی دا احساس پر ځای دی او که بېځایه؛ خو په هر حال، دا یوه ستونزه ده چې باید حل شي.

[٧] - علي، عرفان، په پاکستان کې د ایمنسټي انټرنیشنل نماینده، (۲۱ جنوري ۲۰۲۵م) د مقالې عنوان: (Forced Disappearances in Pakistan: The Case of Mahrang Baloch) د (Amnesty International) پاکستان په ویبپاڼه، اخیستل شوی له (https://shorturl.at/SV8HQ) په ۲۰۲۵/۵/۱۵م باندې مراجعه شوې، جنجوعه، ډاکټر راشد، (۲٦ فبروري ۲۰۲۴م) د مقالې عنوان: (Missing persons — the reality) د ( The Express Tribune) په ویبپاڼه، اخیستل شوی له: (https://shorturl.at/jF3ZK) په ۲۰۲۵/۵/۱۵م باندې مراجعه شوې، په دې لیکنه کې د دې ډول خلکو شمېر له لس زرو څخه زیات ښودل شوی دی.

[8] - حسان علي خان. (۲۸ اگست ۲۰۲۴م) د مقالې عنوان دی: ( Pakistani top officials say Afghanistan, India’s RAW spy agency behind Balochistan assault) د ( Arab News) په ویبپاڼه کې خپور شوی، اخیستل شوی له: (https://arab.news/mps9a) په ۲۰۲۵/۵/۱۴ ورته مراجعه شوې، عابد حسین. (۱۴ مارچ ۲۰۲۵م) د مقالې عنوان دی: ( Pakistan links train hijacking to ‘Afghan handlers’ and Indian mastermind) د (Al Jazeera English) په ویبپاڼه کې خپور شوی، اخیستل شوی له: ( https://goo.su/vVmXYy) په ۲۰۲۵/۵/۱۵م ورته مراجعه شوی، احمد عزیزي. (۱۱ مارچ ۲۰۲۵م) د لیکنې عنوان دی: ( Pakistan accuses Taliban of enabling cross-border attacks) چې د (Amu TV.) په ویبپاڼه خپور شوی، اخیستل شوی له: (https://goo.su/BAStl5). په ۲۰۲۵/۵/۱۲م ورته مراجعه شوې، د امو تلویزون له دې راپور سره سم په ملګرو ملتونو کې د پاکستان سفیر منیر اکرم د سرحد اخوا په حملو د افغانستان طالبان متهم کړل، کومې حملې چې د بلوڅانو او پښتنو له لوري په پاکستان کې سرته رسېږي.

[9] - بي بي سي اردو، (۲۵ مې ۲۰۱۸م) په اردو د خبر عنوان دی: (فاٹا کے خیبرپختونخوا میں انضمام کی قومی اسمبلی سے منظوری) د «بي بي سي اردو» وېبپاڼه، اخیستل شوی له: (-https://short link.me/11ITA) د مراجعې نېټه ۲۰۲۵/۵/۱۳م. د خلکو د نظر له اخیستلو پرته دا سیمې د پاکستان د پارلمان له لوري د هغه هېواد د خیبر پښتونخوا برخه وګرځول شوې او د افغانستان د هغه وخت له حکومت سره خو هېڅ ډول مشوره هم نه ده شوې، سره له دې چې د پاکستان له جوړېدو سره سم د افغانستان د هغه حکومت د ډیورنډ تړون ملغیٰ اعلان کړی و؛ ځکه هغه تړون له انګرېزانو سره شوی و او کله چې هغوی له سیمې وتل؛ نو بیا د تړون کوم مفهوم نه پاتې کېده.

[10] - محسود، مفتي نورولي (ابو منصور عاصم)، (۲۰۱۷م)، (انقلابِ محسود: ساوتھ وزیرستان، فرنګي راج سے امریکی سامراج تک) د کتاب د چاپ مهتمم: خالد محسود (د طالبانو د اسلامي تحریک نائب امیر). لومړی چاپ. ماسید کمپیوټر سنټر، برمل، پکتیکا، افغانستان: د الشهاب د نشر او اشاعت څانګه، ۹۳– ۹۵ مخونه، مفتي نورولي محسود صاحب په اوس وخت کې د پاکستان د طالبانو د تحریک امیر دی.

[11] - مولانا فضل‌الرحمن، (۲۱ جولای ۲۰۲۴م) مرکه، د مرکې عنوان دی: «مولانا فضل الرحمن د امنیت، سیاست، افغانستان او پوځ په اړه خبرې کوي» [مرکه له طاهر خان سره] .مشال راډیو – یوټیوب کانال، اخیستل شوی له: (https://shorturl.at/fQ1kF) د استفادې نېټه ۲۰۲۵/۵/۱۵م.

[۱۲] - احسان الله احسان، د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحریک پخوانی ویاند، (۱۰ مارچ ۲۰۲۵م)، مرکه، د مرکې عنوان دی: ( Pakistan Concerned Over India-Taliban Ties, Says Former TTP Spokesperson) (د پاکستان د طالبانو پخوانی ویاند: پاکستان د هند او طالبانو ترمنځ د اړیکو په اړه تشویش لري) د ( Afghanistan International– English Edition) اخیستل شوی له: (https://n9.cl/2d70p) د اخیستو نېټه ۲۰۲۵/۵/۱۳م.

خان، رضا محمد. (۱ مې ۲۰۲۵م). «د پاکستان متقاعد جنرال رضا محمد خان څرګندونې د پوځ د ویاند د خبرو په تأیید کې» [ویډیویي څرګندونې] .د پاکستان رسمي تلویزون پروګرام – انسټاګرام پاڼه .اخیستل شوی له: (https://goo.su/fmhQvnH) د مراجعې نېټه ۲۰۲۵/۵/۱۸م.

[۱۳] - لکه مخکې مو چې د جامعة الرشید او الرشید ټرسټ د سرپرست اعلی مفتي صاحب عبد الرحیم په مرکه کې ولوستل.

[۱۴] - شامي، مجیب‌الرحمن، (۲ مې ۲۰۲۵م) د مضمون عنوان: (پاکستان اور بھارت کے درمیان ۱۰ ارب ڈالر کی خفیہ تجارت کیسے ہو رہی ہے؟) د( پاکستان ورځپاڼې) په ویب پاڼه، اخیستل شوی له(https://goo.su/FuBEdzf) د مراجعې نېټه ۲۰۲۵/۵/۱۵م.

[۱۵] - د جنرال فیض حمید څرګندونې، (۴ سپتمبر ۲۰۲۱م) د خبر عنوان دی: ( Don't worry, everything will be okay': ISI chief during Kabul visit)، پاکستانی ډان ورځپاڼه، اخیستل شوی له: (https://shorturl.at/9AHz3) د مراجعې نېټه ۲۰۲۵/۵/۱٦م.

[۱٦] - بلاول بټو زرداري، د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر (۲۸ سپتمبر ۲۰۲۲م) بیان ( Pakistan foreign minister warns against isolating Taliban) (د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر د طالبانو د منزوی کولو پر ضد خبرداری ورکړ) د ( الجزیره انګلیسي) وېبپاڼه، اخیستل شوی له: (https://shorturl.at/6kJO6) د مراجعې نېټه ۲۰۲۵/۵/۱۸م.

[۱۷]- عزیز الله خان، (۲۷ جون ۲۰۲۲م). د مضمون عنوان: (پاکستانی علما کا وفد کابل میں: جنگ بندی کے لیے ٹی ٹی پی کو قائل کرنے میں علما کا کردار کتنا اہم؟) (د پاکستاني علماو هیئت په کابل کې: د جنګ بندۍ لپاره د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحریک د قانع کولو په لړ کې د علماو نقش څومره مهم دی؟) د (بي بي سي اردو) وېبپاڼه، اخیستل شوی له: (https://shorturl.at/9oE0x). د اخیستلو نېټه، ۲۰۲۵/۵/۱۲م.

څېړنوال عبدالصبور مبارز

# د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي

## اړیکو پر وړاندې ننګونې او فرصتونه

### لنډیز

د دې څېړنې له لارې په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته پاکستان سره د دغه هېواد په سیاسي اړیکو کې شته ننګونې او فرصتونه تحلیل شوې دي، افغانستان او پاکستان د جنوبي اسیا دوه هغه هېوادونه دي چې سیاستونه یې یو پر بل اغېزې کوي، له همدې امله اړتیا ده چې د دواړو دولتونو په دوه اړخیزو اړیکو کې شته ننګونې او فرصتونه وپېژندل شي چې په راتلونکې کې له فرصتونو څخه په ګټې اخیستنې ننګونې له منځه یوړل شي او سیاسي اړیکې پیاوړې شي.

په دې څېړنه کې له تشریحي- تحلیلي مېتود څخه کار اخیستل شوی او په پایله کې موندل شوې چې د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان دوه اړخیزې سیاسي اړیکې د امنیتي ننګونو، د پاکستان له لوري د افغان کډوالو اجباري اخراج او د ډیورنډ پر کرښه د رامنځ ته شوو ستونزو له امله خرابې شوې دي؛ خو د دواړو دولتونو په څو اړخیزو اقتصادي پروژو کې ګډه همکاري، د افغانستان اسلامي امارت متوازن بهرنۍ سیاست او د چین په څېر ستر قدرت سره د دواړو ښې اړیکې او ګډې اقتصادي پروژې هغه فرصتونه دي چې کولای شي په راتلونکي کې د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان سیاسي اړیکې سره نږدې کړي.

### سریزه

له تاریخي پلوه د افغانستان او پاکستان سیاسي اړیکې په دوه لویو پړاوونو وېشلای شو: لومړی، د پاکستان له رامنځ ته کېدو وروسته تر ۱۹۷۹ز. پورې. دویم، له ۱۹۷۹ز. نه تر اوسه پورې. په لومړي پړاو کې د ډیورنډ کرښې او دواړو غاړو ته د پرتو پښتنو د حقونو پر سر د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې ښې نه وې؛ البته په ۱۹۵۰ز. کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانزیټي سوداګرۍ هوکړه (Afghan-Pakistan Transit Trade Agreement) لاسلیک شوه او چې د دواړو هېوادونو د سیاسي اړیکو په رغولو کې یې مهمه ونډه لرله.[۱]

په دویم پړاو کې د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې ځینې وخت ښې شوي او ځینې وخت له ننګونو سره مخامخ شوې دي، له ۱۹۷۹ز. نه تر ۱۹۹۲ز. پورې د دواړو هېوادونو اړیکې خرابې وې او لامل یې په سیمه کې د دوو لویو قدرتونو، د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد سیالي وه، پاکستان په دغه سیالۍ کې د امریکا متحده ایالاتو او د وخت افغان حکومت د شوروي اتحاد پلوی و، د افغانستان اسلامي دولت په اوایلو او د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې د دواړو هېوادونو اړیکې ښې وې.[۲]

د تېر شل کلن جمهوریت پر مهال د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې اکثره وخت له ستونزو سره مخامخ وې او لاملونه یې د دواړو هېوادونو پر یو او بل بې باوري، د پاکستان دوه مخی سیاست، پاکستان ته له افغانستان څخه د نشه یي توکو قاچاق[۳]، د تېر شل کلن جمهوریت او هند نږدې اړیکې او داسې نور وو.

که په ځانګړي ډول د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو مخینې ته وګورو؛ نو معلومېږي چې د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې دواړو هېوادونو نږدې اړیکې درلودې، د متحده عربي اماراتو او سعودي عربستان په ګډون، پاکستان د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت پېژندلی و،[٤] همدارنګه پاکستان له اسلامي امارت سره اقتصادي همکاري کولې او په نظامي برخه کې د اسلامي امارت مجاهدینو ته د تعلیم زمینه هم برابروله.[٥]

کله چې په ۲۰۰۱ز. کې د سپټمبر یوولسمه پېښه وشوه او امریکا متحده ایالاتو د مشروع دفاع په نوم جګړه اعلان کړه؛ په دې جګړه کې پاکستان د متحده ایالاتو د لومړۍ کرښې متحد شو، پاکستان د افغانستان اسلامي امارت په ړنګولو کې له امریکا متحده ایالاتو سره لاس یو کړ او د اقتصادي مرستو او بندیزونو لرې کولو په بدل کې یې امریکایانو ته پوځي اډې او لاره ورکړه[٦] چې له امله یې د افغانستان اسلامي امارت ړنګ شو، پاکستان یواځې په دې بسنه و نه کړه؛ بلکې له امریکا متحده ایالاتو څخه یې د امتیازاتو د ترلاسه کولو لپاره ځینې وخت په پاکستان کې مېشت د اسلامي امارت مشران نیول او په زندان کې یې ربړول چې د ملا عبدالسلام ضعیف او د ۲۰۱۰ز. په فبرورۍ کې په کراچۍ کې د معتصم اغا جان، په فیصل اباد کې د مولوي عبدالسلام حنفي او په نورو بېلابېلو ښارونو کې د ملا عبدالغني برادر، مولوي عبدالکبیر، مولوي محمد یونس او مولوي محمد میر نیول یې څرګندې بېلګې دي.[۷]

په ۲۰۲۱ز. کې د اسلامي امارت بیا واکمنی ته پاکستان خوښ و چې د نورو لاملونو تر څنګ یې یو ستر لامل په افغانستان کې د هند د نفوذ پای ته رسېدل وو، پاکستان په اسلام

اباد کې افغان سفارت اسلامي امارت ته وسپاره او په کابل کې يې هم خپل سفارت پرانېستی پرېښود، په لوړه کچه د دواړو هېوادونو استازو د يو او بل هېواد ته سفرونه وکړل او تمه کېده چې د دواړو هېوادونو اړيکې به ښه راتلونکی ولري؛ خو په وروستيو کې د کډوالو د اجباري اخراج، د بېلابېلو موضوعاتو پر سر د تورخم او سپين بولدک دروازو تړل کېدو او امنيتي موضوعاتو پر سر د دواړو حکومتونو اړيکې خرابې او له ننګونو سره مخامخ شوي دي.[۸]

په دې مقاله کې به پر همدغو ننګونو او هغو فرصتونو بحث وکړو چې د دواړو هېوادونو سياسي اړيکې سره نږدې کوي؛ ځکه په نړيوالو اړيکو کې يوه معقوله ده چې وايي يو دولت کولای شي خپل دوست او دښمن بدل کړي؛ خو خپل ګاونډی نه شي بدلولی.[۹]

پر همدې بنسټ له پاکستان سره ښې اړيکې د افغانستان په ګټه دي او په دې مقاله کې يادو شوو فرصتونو څخه بايد دواړه هېوادونو د اړيکو د ښو کولو لپاره ګټه واخلي، پاکستان د افغانستان د اسلامي امارت بيا واکمنۍ ته خوشحاله و او هېله يې درلوده چې د اسلامي امارت له واکمنۍ سره به د پاکستان او افغانستان دوه اړخيزې سياسي اړيکې نږدې او په دغو اړيکو کې شته ستونزې حل شي، د اسلامي امارت د تېرې دورې پرمهال د دواړو هېوادونو نږدې اړيکو ته په کتو داسې معلومېده چې په سيمه کې به د اسلامي امارت تر ټولو نږدې دوست پاکستان وي؛ خو دا تحليل سم ثابت نه شو او په وروستيو دوو کلونو کې د دواړو هېوادونو سياسي اړيکې خرابې شوي؛ نو مسئله دا ده چې دا دوه اړخيزې سياسي اړيکې ولې د تمې خلاف خرابې شوې او هغه کومې ننګونې دي چې په دغو اړيکو کې يې بې باوري رامنځ ته کړې ده؟.

له پاکستان سره د يو مهم ګاونډي په توګه د افغانستان اسلامي امارت د سياسي اړيکو د ننګونو او فرصتونو څېړل د اهميت وړ موضوع ده؛ ځکه دواړه هېوادونه د جنوبي اسيا د سيمه ييز نظم غړي دي او د پاکستان سياستونو تل پر افغانستان اغېزې کړې دي، په دې وروستيو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په دوه اړخيزو سياسي اړيکو کې ځينې ستونزې او ننګونې رامنځ ته شوې دي؛ نو پر دغو ننګونو پوهېدل او د دوه اړخيزو سياسي اړيکو د پياوړتيا او پراختيا په موخه د فرصتونو د پېژندلو لپاره اړتيا ده چې د دوه اړخيزو سياسي اړيکو ننګونې او فرصتونه وڅېړل شي.

د دې څېړنې موخه د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو پر وړاندې د پرتو ننګونو او فرصتونو څېړل او د دغو اړیکو د پیاوړتیا او پراختیا په موخه له شته فرصتونو د ګټې اخیستنې لارې چارې وړاندې کول دي.

د څېړنې بنسټیزه پوښتنه دا ده چې د افغاستان اسلامي امارت او پاکستان سیاسي اړیکې له کومو ننګونو سره مخامخ دي او هغه کوم فرصتونه دي چې دغه اړیکې رغولی شي؟

په دې څېړنه کې له تحلیلي- تشریحي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې او ډول یې کتابتوني دی.

## د څېړنې تیوریکي چوکاټ

په دې څېړنه کې د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو د ښه تحلیل او د نظریاتو د تایید او ملاتړ لپاره له امنیتي معما تیورۍ ( Security Dilemma Theory) څخه ګټه اخیستل شوې ده، دا تیوري د ساختاري ریالیزم تیورۍ (Structural Realism) برخه او د نړیوالو اړیکو ځینو پوهانو د ساختاري ریالیزم زړه ګڼلې دی. ساختاري ریالیزم تیوري کېنت والټز* وړاندې کړې او دې ته څکه ساختاري ریالیزم وایي چې د دې تیورۍ پر بنسټ نړیوال ساختار یا نظام کې انارشي ده؛ یعنې په نړیواله سطحه داسې یو واحد دولت یا قدرت نشته چې هغه پر ټولو دولتونو حاکم وي او دولتونه پر یو او بل له تېرې څخه وژغوري؛ نو په داسې یو نړیوال نظام کې هر دولت له خپل ځانه د دفاع مسؤلیت لري او د همدغې دفاع لپاره دولتونه د قدرت د زیاتولو او قدرتمند کېدلو لپاره له هر ډول وسایلو څخه کار اخلي چې خپل دښمن او سیال یا وځپي او یا هم له هغه څخه د ځان دفاع وکړي.[10]

د امنیتي معما تیوري د لومړي ځل لپاره په ۱۹۵۱ز. کې هربرټ بټرفیلډ** په خپل کتاب (History and Human Relations) او جون هرز*** په خپل کتاب ( Realism and Political Idealism: A Study in Theories and Realities) کې وړاندې کړه او وروسته

* Kenneth Waltz

** Herbert Butterfield

*** John Herz

په ۱۹۷٦ز. کې روبرټ جاروېس**** په خپل کتاب ( Perception and Misperception in International Politics ) کې دې ته نوره هم پراختیا ورکړه.

د دې تیورۍ اصلي مفهوم دا دی چې، یو دولت د خپل امنیت د ټېنګښت او پیاوړتیا لپاره داسې کړنې ترسره کوي چې له امله یې د بل دولت امنیت له ننګونو سره مخامخ کېږي او په پایله کې دغه دوه دولتونه یا سره مخامخ جګړه کوي او یا یې هم ترمنځ اړیکې خرابېږي. د لا ښه پوهېدو لپاره د دې تیورۍ ځینې مهم ټکي دلته روښانه کوو:

۱- د دې تیورۍ اصلي سرچینه د نړیوال نظام انارشي بڼه ده، یعنې که په نړیوال نظام کې داسې یو قوي قدرت موجود وی چې د نړۍ د ټولو دولتونو امنیت یې خوندي کولای شوی، نو هېڅ دولت به د خپل امنیت د ټینګښت لپاره اقدام نه کاوه.

۲- په نړیوال نظام کې د انارشۍ له امله تل یو دولت له خپل مخالف دولت څخه په وېره کې وي، چې له امله یې لومړی دولت له امنیتي اړخه داسې اقدامات ترسره کوي چې د دویم دولت امنیت له ننګونو سره مخامخ کوي او په پایله کې د دواړو دولتونو اړیکې خرابېږي.

۳- دا تیوري اکثریت وخت په هغو دولتونو د تطبیق وړ ده چې هغوی په دفاعي حالت کې وي، یعنې یو دولت له خپل ځان څخه د دفاع په موخه د امنیتي تدابیرو نیولو ته مخه کوي، که یو دولت د تعارضي موخو لپاره امنیتي اقدامات ترسره کوي یاد دولت د دې تیورۍ لاندې نه مطالعه کېږي.[11]

که دا تیوري د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو پر ننګونو عملي کړو، معلومیږي چې په وروستیو کالونو کې د دواړو هېوادونو د اړیکو د خرابېدو اصلي لامل امنیتي اندېښنې دي. له ۱۴۰۱هـ.ل. کال راهیسې په پاکستان کې امنیتي پېښې ډېرې شوي دي چې د اکثره پېښو مسؤولیت یې د پاکستاني طالبانو اسلامي تحریک پر غاړه اخیستی دی. پاکستان د افغانستان اسلامي امارت تورنوي چې دوی د پاکستاني طالبانو اسلامي تحریک څخه ملاتړ کوي او په افغانستان کې پټنځایونه ورته برابروي، خو د افغانستان اسلامي امارت دا ټول تورونه ردوي. لنډه دا چې که دې امنیتي ننګونو ته د امنیتي معما تیورۍ په چوکاټ کې وګورو، معلومیږي چې پاکستان د خپل امنیت د ټینګښت په موخه داسې کړنې ترسره کړي دي چې له امله یې د افغانستان امنیت له ګواښ سره مخامخ شوی دی، د بېلګې په توګه: د

**** Robert Jervis

۲۰۲۴ز. د مارچ میاشتې پر ۱۸مه نېټه د پاکستان جېټ الوتکو د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ پر لمنه سیمه او د خوست ولایت د سپېرې ولسوالۍ پر افغان دوبۍ سیمه بمبار وکړ[۱۲] او دې ته ورته بریدونه یې پر کونړ او د ننګرهار په ځینو ولسوالیو هم کړي دي؛ یعنې پاکستان د خپل امنیت د ټینګښت په موخه د افغانستان امنیت خراب کړی او همدا د دواړو هېوادونو د سیاسي اړیکو د خرابېدو اصلي لامل ګڼل کېږي.

## د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو پر وړاندې ننګونې

پاکستان د افغانستان پر وړاندې د ستراتیژیکې ژورتیا له پالیسۍ( Strategic Depth Policy) څخه ګټه اخلي. د دې پالیسۍ له لارې پاکستان غواړي پر افغانستان سیاسي کنټرول ولري، په دغه هېواد کې د هند د نفوذ مخنیوی وکړي، د ډیورنډ کرښه د رسمي پولې په توګه پر افغان حکومت ومني او مرکزي اسیا ته په اسانۍ لاسرسی پیداکړي.[۱۳]

په دې وروستیو کې د اسلامي امارت او پاکستان سیاسي اړیکې ښې نه برېښي او لامل یې ښايي د ستراتیژیکي ژورتیا په پالیسۍ کې د پاکستان ناکامي ده. د موډرن ډیپلوماسۍ مرکز پاکستاني څېړونکي محمد عماد عباس «له ستراتیژیکي ژورتیا څخه تر ستراتیژیک ګواښ پورې (From Strategic depth to Strategic Threat) تر سرلیک لاندې یوې مقالې کې لیکلي: د پاکستان حکومت باید د اسلامي امارت پر وړاندې په ستراتیژیکي ژورتیا پالیسۍ کې بدلون راولي ځکه اسلامي امارت د خپلې تېرې دورې په پرتله په بشپړ ډول بدلون موندلی، دوی په خپلو پالیسیو کې خپلواک دي او له اقتصادي پلوه په داخلي عوایدو تکیه کوي او خپلو ګټو ته په کتو له هېوادونو سره اړیکې ټېنګوي، نو د دوی پر وړاندې باید نوې پالیسي ترتیب شي او هڅه دې وشي چې د ښو اړیکو له لارې دوی قانع کړای شي.[۱۴]

کله چې د ۲۰۲۱ز. په اګست کې اسلامي امارت بیاځلي پر افغانستان واکمن شو، ځینو پاکستاني پالیسي جوړوونکو فکر کاوه چې په افغانستان کې د اسلامي امارت بریا په دغه هېواد کې د پاکستان د بریا په معنا ده، د پاکستان لومړي وزیر عمران خان وویل: د افغانستان خلکو د غلامۍ زولنې ماتې کړې[۱۵]؛ همدارنګه په افغانستان کې د اسلامي امارت راتګ یې بریا وګڼله[۱۶]؛ خو پر دې سربېره لا هم د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان سیاسي اړیکې ښې نه دي او د یو او بل د تورنولو سیاست ته یې مخه کړې ده، دا

چې ولې د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې ښې نه دي او له کومو ننګونو سره مخامخ دي؛ په لاندې ډول پرې بحث کوو:

## ۱- د ډیورنډ قضیه او د کرښې پر سر شخړې

د ډیورنډ فرضي کرښه د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت نه پېژني؛ خو دا قضیه د پاکستان د ستراتیژیکې ژورتیا پالیسۍ تر ټولو مهمه برخه ده؛ ځکه دا قضیه پاکستان د خپلې ځمکنۍ بشپړتیا لپاره ګواښ ګڼي. د همدې لپاره د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې د پاکستان د بهرني سیاست یوه برخه دا ده چې د ډیورنډ کرښه پر اسلامي امارت په رسمیت وپېژني، خو اسلامي امارت په څرګندو ټکو دغه کرښه د رسمي پولې په توګه رد کړې ده.[۱۷]

پاکستانی لیکوال او څېړونکی احمد رشید وایي: پاکستان فکر کاوه چې له سیاسي او پوځي اړخه د طالبانو ملاتړ به دې ته لاره هواره کړي چې د ډیورنډ کرښه ورسره د رسمي پولې په توګه ومني، خو نه یواځې دا چې د پاکستان دا فکر غلط ثابت شو؛ بلکې برعکس طالبانو په جدي ډول د ډیورنډ کرښې د رسمي کېدو مخالفت وکړ.[۱۸]

د اسلامي امارت د دفاع وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد له طلوع نیوز سره په مرکه کې په څرګندو ټکو وویل: «د ډیورنډ کرښه یوه فرضي کرښه ده او کله هم چې افغانانو غوښتنه وکړه موږ به دا موضوع له اسلام اباد سره راپورته کړو، خو تر هغې وړاندې باید خپلې داخلي ستونزې حل کړو.»[۱۹] همدارنګه د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال شېرمحمد عباس ستانکزي په لوګر کې له افغانستان څخه د شوروي اتحاد پوځیانو د وتلو د ۳۵مې کلیزې د نمانځلو په مراسمو کې وویل: «موږ به هېڅکله د ډیورنډ کرښه د رسمي پولې په توګه ونه منو. د افغانستان د خاورې یوه برخه اوس هم د دغې کرښې اخوا پرته ده.» همدارنګه نوموړي زیاته کړه: «په دغه کرښه پر پاسپورټ او ویزو تګ او راتګ هېڅکله د منلو وړ نه دی.»[۲۰]

د دې ترڅنګ د روان ۲۰۲۴ز. د فبرورۍ په میاشت کې د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ویاند میتیو مېلر* له رسنیو سره په خبرو کې د ډیورنډ کرښه د رسمي پولې په توګه یاده کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد یې پر وړاندې غبرګون وښود او زیاته یې کړه: «امریکا متحده ایالات د دې حق نه لري چې زموږ

* Mathew Miller

په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي او د ډیورنډ کرښه په دوی پورې اړه نه لري، د دې کرښې په اړه به دواړو لوریو ته پراته ولسونه پرېکړه کوي.»[۲۱]

د ډیورنډ کرښې په اړه د اسلامي امارت د لوړ پوړو چارواکو دا ډول څرګندونې د دواړو هېوادونو پر سیاسي اړیکو منفي اغېزې کړې او داسې معلومېږي چې د دواړو هېوادونو په سیاسي اړیکو کې د ډیورنډ قضیه یوه ننګونه ده. د ډیورنډ په اړه ځینې پاکستاني څېړونکي وایي: دا چې د طالبانو په ګډون هېڅ افغان حکومت د ډیورنډ کرښه په رسمیت نه ده پېژندلې، حقیقت دا دی چې پاکستان هڅکله یو باثباته افغانستان او په دغه هېواد کې باثباته حکومت نه غواړي؛ ځکه پاکستان وېره لري که افغانستان ثبات ته ورسېږي؛ نو دوی به له پاکستان سره د ډیورنډ قضیه راپورته کړي چې دا د پاکستان د ملي ګټو په زیان ده.[۲۲]

همدارنګه د افغاني پوځیانو له لوري د ۲۰۲۱ ز. په ډسمبر او د ۲۰۲۲ ز. په جنوری کې د پاکستان له لوري د ډیورنډ پر فرضي کرښه د اغزن تار د تېرولو مخنیوی وشو چې له امله یې د دواړو لوریو ترمنځ نښتې رامنځ ته شوې،[۲۳] د دې ترڅنګ څو ځله د سپین بولدک او تورخم دروازه د افغاني او پاکستاني پوځیانو ترمنځ د ځینو اختلافاتو له امله تړل شوې چې له امله یې دواړو لوریو ته اقتصادي زیانونه اوښتي دي. د ۲۰۲۲ز. په ډسمبر کې، پر کرښه د سپین بولدک دروازه د اسلامي امارت او پاکستاني پوځیانو ترمنځ د ستونزو او د ډزو د تبادلې له امله د پاکستان له لورې وتړل شوه.[۲۴] د ۲۰۲۳ز. په سپتمبر کې په تورخم کې د دواړو لوریو پوځیانو پر یو او بل ډزې وکړې چې له امله یې د تورخم دروازه بنده شوه.[۲۵] د ۲۰۲۴ز. په مارچ کې هم د ځینو اختلافاتو له امله د تورخم دروازه وتړل شوه[۲۶] او د ۲۰۲۴ز. په اګست کې پاکستاني پوځیانو پر افغاني پوځیانو ډزې وکړې چې له امله یې درې افغان ملکیان ووژل شول او په مقابل کې یې افغاني پوځیانو هم ځوابي ډزې وکړې او یو ځل بیا د تورخم دروازه وتړل شوه.[۲۷]

لنډه دا چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ په سپین بولدک، تورخم او خوست کې نښتې او ستونزې رامنځ ته شوي چې له امله یې دروازې تړل شوي، پر ډیورنډ کرښه دغه ډول شخړې د دواړو هېوادونو د سیاسي اړیکو پر وړاندې ستره ننګونه ده.

## ۲- امنیتي ننګونې

د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د خرابو سیاسي اړیکو بنسټ امنیتي اندېښنې دي. دا اندېښنې دواړو خواو ته متوجې دي، پاکستان دعوه کوي چې د افغانستان اسلامي امارت د پاکستاني طالبانو له اسلامي تحریک څخه ملاتړ کوي او دوی ته په افغانستان کې پټنځایونه برابروي. د افغانستان اسلامي امارت بیا دعوه کوي چې پاکستان د افغانستان پر

خاوره بریدونه کوي او د ډیورنډ پر کرښه امنیتي ستونزې جوړوي. له دې دوه اړخیزو تورونو داسې معلومېږي چې د امنیتي ننګونې بنسټ د پاکستاني طالبانو اسلامي تحریک یا TTP دی، څکه کله چې پاکستان د افغانستان پر خاوره بریدونه کړي، نو پاکستان وايي چې دغه بریدونه یې د TTP پر مرکزونو کړي. د پاکستاني طالبانو اسلامي تحریک په ۲۰۰۷ز. کال په پاکستان کې رامنځته شو، په ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ز. کلونو کې د داخلي ګډوډیو او نورو بېلابېلو ستونزو له امله له ننګونو سره مخامخ شو، خو په ۲۰۱۸ز. کې یې بیا سر راپورته کړ او د پاکستان پر نظامي ځایونو یې بریدونه پیل کړل. د ۲۰۲۳ز. د پاکستان د کورنیو چارو وزارت د راپور پر بنسټ، په پاکستان کې د طالبانو د اسلامي تحریک د غړو شمېر له اوو زرو (۷۰۰۰) څخه تر لس زرو (۱۰۰۰۰) پورې رسېدلی دی.[۲۸]

پاکستاني څېړونکي په دې اند دي چې په افغانستان کې د اسلامي امارت بریا د پاکستاني طالبانو د اسلامي تحریک په هڅونه او تحریک کې مهم رول اداء کړی او له دوی سره هم هیله پیدا شوې چې په پاکستان کې ورته اسلامي نظام رامنځته کړي،[۲۹] له همدې امله یې بریدونه زیات کړي دي. د رسمي شمېرو له مخې، په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ څخه د ۲۰۲۳ز. کال تر اګست میاشتې پورې د پاکستاني طالبانو د اسلامي تحریک په بریدونو کې ٦٠ سلنه زیاتوالی راغلی، چې له امله یې ۲۳۰۰ پاکستاني نظامیان او ملکیان وژل شوي دي،[۳۰] یوازې په خیبرپښتونخواه کې ۳۰۰ بریدونه شوي، چې د اکثرو مسؤولیت د پاکستاني طالبانو اسلامي تحریک پر غاړه اخیستی دی[۳۱]، همدارنګه د جنوبي اسیا د ترهګرۍ بنسټ* وايي: پر ۲۰۲۳ز. په پاکستان کې ۴۱۸ بریدونه شوي چې دا شمېره په ۲۰۲۲ز. کې ۳٦٥ وه.[۳۲] الجزیرې بیا په ۲۰۲۳ز. کې په ټول پاکستان کې د بریدونو شمېر ٦٥٠ ښودلی دی.[۳۳]

د ۲۰۲۳ز. په جولای کې په باجوړ کې پر یوه غونډه برید وشو چې له امله یې له ۵۴ څخه زیات کسان مړه شول. پاکستاني حکومت، په ځانګړي ډول د پوځ مشر جنرال عاصم منیر دعوه وکړه چې په دې پېښه کې افغاني تابعیت لرونکو لاس درلود او دوی له افغانستان څخه راغلي وو. د پاکستان لوړ پوړو چارواکو د دې پېښې پړه د اسلامي امارت پر حکومت واچوله او دغه حکومت یې تورن کړ چې دوی نشي کولای وسلوال کنټرول کړي چې د ډیورنډ له فرضي

* South Asian Terrorism Portal

کرښې راتېر نشي.[٣٤] له دې ډول بریدونو وروسته پاکستان له اسلامي امارت څخه غوښتنه وکړه چې په افغانستان کې د پاکستاني طالبانو د اسلامي تحریک یا TTP په مقابل کې په افغانستان کې پراخ عملیات وکړي[٣٥] او که اسلامي امارت دا کار ونه کړي دوی اړ دي چې د نړیوالو حقوقو پر بنسټ له ځان څخه دفاع وکړي او د افغانستان په خاوره کې عملیات وکړي.[٣٦]

د افغانستان اسلامي امارت د پاکستاني لوري دغه ټول تورونه ردوي، د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي دا د اسلامي امارت خلاف تبلیغات ګڼي او وایي چې په افغانستان کې هېڅ داسې ډلې نشته چې هغه د سیمې هېوادونو امنیت ته ګواښ پېښ کړي.[٣٧] د افغانستان اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د پاکستان د تورونو په رد کې وایي: «پاکستان د دې پرځای چې خپل امنیت ټېنګ کړي یو ځل بیا یې افغانستان تورن کړ. اسلامي امارت تاکید کوي چې دوی د دې ډول پېښو حمایت نه کوي، بلکې غندي یې، خو دا د اسلامي امارت مسؤلیت نه دی چې په پاکستان کې د بریدونو مخنیوی وکړي، بلکې پاکستان باید خپل امنیت پخپله ټینګ کړي.»[٣٨]

د افغانستان اسلامي امارت له پاکستاني لوري سره د ښو سیاسي اړیکو د رامنځته کېدو په موخه دې ته حاضر شو چې د پاکستان حکومت او د پاکستاني طالبانو د اسلامي تحریک ترمنځ سوله وکړي او د افغانستان اسلامي امارت دا منځګړتوب بریالی هم شو، څکه د ۲۰۲۲ز. د جون په میاشت کې د پاکستاني طالبانو اسلامي تحریک او د پاکستان حکومت ترمنځ د اوربند هوکړه لاسلیک شوه.[٣٩] سره له دې چې دغه هوکړه د ۲۰۲۲ز. په نومبر میاشت کې ماته شوه،[٤٠] خو د افغانستان اسلامي امارت منځګړتوب دا ثابته کړه چې دوی په پاکستان کې سوله او ثبات غواړي او دا خپله د پاکستان د تورونو د رد یو عملي ځواب و، خو پاکستان پر دې سربېره بیا هم د خپلو جېټ الوتکو پرمټ د ۲۰۲۲ز. په اپریل میاشت کې پر خوست او کونړ بمبارۍ وکړې، چې له امله یې ۴۷ کسان مړه او ۲۲ ټپیان شول چې اکثریت یې کوچنیان او ښځې وې.[٤١] همدارنګه د ۲۰۲۴ز. د مارچ میاشتې پر ۱۸مه نېټه هم پاکستاني جېټ الوتکو په پکتیکا او خوست ولایتونو کې بمبارۍ وکړې چې له امله یې پنځه ښځې او درې کوچنیان ووژل شول. [٤٢] د دې ترڅنګ د ۲۰۲۵ز. د جنورۍ پر لسمه مه هم پاکستاني جېټ الوتکو د کونړ پر سرکانو ولسوالۍ بمبارۍ وکړې. پاکستاني حکومت دعوه کړې چې دوی دغه بریدونه د پاکستاني طالبانو د اسلامي تحریک پر مرکزونو کړي دي.[٤٣] د پاکستاني لوري دغه بریدونه د افغانستان پر خاوره مستقیم تېری ګڼل کېږي او له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت هم تونډ غبرګون ښوده. په پیل کې چې موږ د امنیتي

معما (Security Dilemma Theory) د تيوري په اړه يادونه وکړه د هغې پر بنسټ ويلی شو چې پاکستان د خپل امنيت د ټينګښت په موخه د افغانستان امنيت ته ګواښ پېښ کړی او دا چاره د دې لامل شوې چې د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخيزې سياسي اړيکې خرابې شي، له همدې امله ويلی شو چې د امنيت موضوع د دواړو هېوادونو په سياسي اړيکو کې ستره او بنسټيزه ننګونه ده.

## ۳- د افغان کډوالو موضوع

د پاکستان حکومت د معلوماتو پر بنسټ په دغه هېواد کې ۴ ميليونه افغان کډوال اوسېږي چې له ډلې يې ۲.۳ ميليونه کډوال د حکومت له خوا تاييد شوي اسناد (پي. او. ار*. او. ای. سي. سي** کارډونه او ويزې) لري او پاتې ۱.۷ ميليونه کډوال اسناد نه لري او ناقانونه اوسېږي. د ۲۰۲۳ز. د اکتوبر پر دريېمه نېټه پاکستان اعلان وکړ چې ټول ناقانونه افغان کډوال به د اکتوبر مياشتې تر پای خپل هېواد ته ستنوي.[٤٤] د ۲۰۲۳ز. د جولای په مياشت کې د کډوالو نړيوالې کمېټې د راپور پر بنسټ، په ۲۰۲۱ز. کې د اسلامي امارت له بيا واکمنۍ راهيسې له شپږ سوه زرو زيات افغانان پاکستان ته کډوال شوي، چې ټول يې بې اسنادو دي.[٤٥] د اسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد په وينا په نږدې يوه نيمه مياشت کې يعنې د ۲۰۲۳ز. د اکتوبر مياشت له پيله د نومبر مياشتې تر شلمې څلور سوه زره افغان کډوال د تورخم او سپين بولدک له لارې بېرته هېواد ته راستانه شوي دي.[٤٦]

پاکستان وايي چې د دغه هېواد په ناامنۍ کې افغان کډوال لاس لري او په څو بريدونو کې د افغان کډوالو لاس لرل ثابت شوي دي؛ نو د دې لپاره چې په پاکستان کې امنيت راشي، د کډوالو ايستل اړين دي[٤٧]، پاکستان اکثره وخت د افغان کډوالو له موضوع څخه پر افغانستان د فشار د وسيلې په توګه ګټه اخلي او تل هڅه کوي چې له دې لارې خپلې غوښتنې پر افغان حکومت ومني، په ۲۰۲۳ز. کې د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان سياسي اړيکې د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحريک له امله خرابې شوې.

د دې ډول کړنو په غبرګون کې د اسلامي امارت رئيس الوزراء په يو ويډيويي پيغام کې د پاکستان د حکومت دا کړنې په سختو ټکو وغندلې. همدارنګه د بهرنيو چارو وزارت

* POR (Proof of Registration)

** ACC (Afghan Citizens Card)

سیاسي معین شېر محمد عباس ستانکزي هم د پاکستان حکومت له لوري د مهاجرینو د ویستلو پر پالیسی سختې نیوکې وکړې او په دې اړه يې د پاکستان حکومت ته گوتڅنډنه وکړه چې له دې ډول پالیسیو څخه دې لاس واخلي.[48] د افغان کډوالو په زوره د ایستلو له امله د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان سیاسي اړیکې نورې هم خرابې شوې او ویلای شو چې د کډوالو موضوع د دواړو هېوادونو د سیاسي اړیکو پر وړاندې یوه ننگونه ده. د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو پر وړاندې بې باوري، د اوبو قضیه او ځینې نورې ننگونې هم شته؛ خو دلته موږ له هغو سترو ننگونو څخه یادونه وکړه چې د دواړو هېوادونو د سیاسي اړیکو د خرابوالي بنسټ گڼل کېږي.

**د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو د ښه کېدو په اړه شته فرصتونه**

د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د دوه اړخیزو سیاسي اړیکو پر وړاندې د شته ننگونو ترڅنگ ځینې داسې فرصتونه هم شته چې کولای شي د سیاسي اړیکو ښه کولو ته لار پرانېزي. د دغو فرصتونو له ډلې څخه پر درېیو بنسټیزو فرصتونو دلته بحث کوو:

**۱- څو اړخیزه اقتصادي ډیپلوماسي**

دوه اړخیزې اقتصادي اړیکې اکثره وخت د سیاسي اړیکو د خرابېدو له امله له ننگونو سره مخامخ کېږي او دوه اړخیزه سوداگري ځینې وخت د فشار د یوې وسیلې په توگه کارېږي. د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان دوه اړخیزې اقتصادي اړیکې هم د سیاسي اړیکو د خرابېدو له امله اغېزمنې شوي دي. دواړو لوریو تل د یو او بل پر وړاندې دروازې تړلي دي او پاکستان اکثره وخت هڅه کړې چې د سوداگریزو توکو او دروازو د تړلو له لارې پر افغان حکومت فشار راوړي. د افغانستان اسلامي امارت هم هڅه کوي چې په اقتصادي برخه کې پر پاکستان تکیه راکمه او پر بدیلو لارو فکر وکړي.

لنډه دا چې دوه اړخیزې اقتصادي اړیکې د سیاسي اړیکو د خرابېدو له امله تل اغېزمنې شوي دي؛ خو خرابې سیاسي اړیکې بیا پر څو اړخیزو اقتصادي او سوداگریزو اړیکو، همکاریو او پروژو ډېر اغېز نه کوي؛ بلکې ویلای شو چې څو اړخیزه اقتصادي ډیپلوماسي د سیاسي اړیکو د ښه کېدو لپاره په څو دلایلو یو فرصت دی.

**لومړی**- په څو اړخیزو اقتصادي پروژو او اړیکو کې څو دولتونه دخیل وي، چې هلته بیا دوه مخالف دولتونه اړ دي چې خپلې سیاسي ستونزې غاړې ته کړي او له نورو دولتونو سره په گډه اقتصادي پروژې عملي کړي.

**دویم**- په څو اړخیزو اقتصادي اړیکو کې د پروژو او همکاریو د پیاوړتیا او بریالي کېدو په موخه نور دولتونه هڅه کوي چې د مخالفو دولتونو ترمنځ منځګړتوب وکړي او دا منځګړتوب د دوو دولتونو ترمنځ د سیاسي اړیکو د نږدې کېدو لپاره یو فرصت دی.

**درېیم**- په دوه اړخیزو اقتصادي اړیکو کې یو دولت کولای شي چې د فشار د وسیلې په توګه په دغو اړیکو کې ستونزې رامنځته کړي، خو په څو اړخیزو اقتصادي اړیکو کې د نورو دولتونو د شتون له امله په مستقیم ډول دغه کار نه شي کولای.

**څلورم**- د څو اړخیزو اقتصادي پروژو د پلي کېدو پرمهال دوه مخالف دولتونه په ګډه کار کوي او دا ګډ کار د دواړو دولتونو ترمنځ د باور فضاء رامنځته کوي[٤٩] او د باور فضاء بیا په تدریجي ډول د سیاسي اړیکو د پیاوړتیا لامل ګرځي.

پاکستان او افغانستان هم په ځینو څو اړخیزو اقتصادي پروژو کې ګډون لري، چې په لاندې ډول له دریو پروژو څخه د بېلګې په توګه یادونه کولای شو:

**أ- تاپي (TAPI) د ګازو نللیکې پروژه:** دغه پروژه په ۲۰۱۵ز. کې د ډسمبر میاشتې پر ۱۳مه نېټه د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ترمنځ لاسلیک شوه.[٥٠] د دغې پروژې له لارې به ۳۳ میلیارده کیوبیک متره ګاز هر کال غړو هېوادونو ته انتقالېږي.[٥١] د دې پروژې پر بنسټ، ګاز به د ترکمنستان له دولت اباد څخه پیلېږي او د ۱۸۰۰ کیلو متره اوږدوالي په لرلو سره به د افغانستان د هرات - کندهار له لارې د پاکستان کویټې او ملتان ته او له هغه ځایه د هند فېضلکه * ته رسېږي.[٥٢]

**ب- کاسا- ۱۰۰۰ (CASA- 1000) د برېښنا پروژه:** د برېښنا دغه پروژه په ۲۰۱٦ز. کې د قرغزستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان ترمنځ لاسلیک شوه.[٥٣] د دې پروژې ټوله بودیجه ۱.۲ میلیارده ډالر اټکل شوې او تمه وه چې د ۲۰۱۹ز. تر پایه د برېښنا انتقال پیل شي. د دې پروژې له لارې به برېښنا له قرغزستان څخه تاجکستان، افغانستان او پاکستان ته انتقالیږي. د دې پروژې له لارې به افغانستان ۳۰۰ میګا واټه او پاکستان ۱۰۰۰ میګاواټه برېښنا ترلاسه کړي.

**ج- د ټاپ- ۵۰۰ (TAP- 500) برېښنا پروژه:** د ۲۰۱۵ز. په ډسمبر میاشت کې ترکمنستان، افغانستان او پاکستان د برېښنا دغه پروژه لاسلیک کړه، چې له دې لارې به

* Fazilka

۲۰۰۰ میگا واټه برېښنا له ترکمنستان څخه افغانستان او پاکستان ته انتقال شي. پر دې پروژه ۱۵۰ میلیونه ډالره لګښت راځي چې د اسیا پراختیایي بانک یې د پور په ډول د ورکړې ژمنه کړې ده.[٥٤]

پورتنیو درې واړو پروژو کې پاکستان او افغانستان غړي دي او د دې ګډو پروژو د عملي کولو له لارې د دواړو هېوادونو ترمنځ ګډې همکارۍ او د باور فضاء رامنځته کېږي، دا یو فرصت دی چې له لارې یې د دواړو هېوادونو ترمنځ سیاسي اړیکې ورغېږي.

**۲- د افغانستان اسلامي امارت متوازن بهرنی سیاست**

په تېرېوالو اړیکو کې د متوازن بهرني سیاست په اړه کوم ځانګړی تعریف نه دی شوی. د نړیوالو اړیکو ځینې پوهان یې بېطرفي ته نږدې بولي، ځینې یې انزوایي بهرني سیاست ته نږدې ګڼي او ځینې یې بیا د دواړو ترمنځ ګڼي. لنډه دا چې متوازن بهرنی سیاست د لویو او سیمه ییزو قدرتونو ترمنځ په سیالیو کې برخه نه اخیستل، د دوی په شخړو کې طرف نه واقع کېدل او د سیالیو پرمهال د دواړو یا ټولو لوریو ترمنځ په اړیکو او تعاملاتو کې توازن ساتل، یعنې یو طرف ته هم باید په داسې ډول نږدې نشي چې بل طرف له پامه وغورځول شي او یا هم ننګونې ورته وزېږوي.

تېر شل کلن جمهوري نظام په سیمه کې نه یواځې دا چې د هند او پاکستان پر وړاندې متوازن بهرنی سیاست نه درلود، بلکې د پاکستان په پرتله یې هند ته ترجیح ورکوله او د دې ستر لامل له پاکستان سره په اړیکو کې د ستونزو موجودیت و، ځکه تېر افغان حکومت پاکستان په دې تورنوو چې دوی د حکومت له مخالفینو څخه ملاتړ کوي او هغوی ته پټنځایونه برابروي او بل لامل یې د افغانستان په بیارغونه کې د پاکستان په پرتله د هند پراخې همکارۍ او مرستې وې. د افغانستان جمهوري دولت او هند ترمنځ په ۲۰۱۱ز. د اکتوبر پر څلورمه د ستراتیژیکو همکاریو تړون ( Agreement on Strategic Partnership between Islamic Republic of Afghanistan and the Republic of India) لاسلیک شو چې له مخې یې دواړو لوریو له یو او بل سره د نورو همکاریو ترڅنګ په سیاسي او امنیتي همکاریو هوکړه وکړه.[٥٥] دغه تړون په سیمه کې د هند او افغانستان د سیاسي اتحاد بېلګه ګڼل کېږي؛ همدارنګه په جمهوریت کې هند په روزنیزه، مالي او تخنیکي برخه کې د افغانستان نږدې همکار و او د همدغو همکاریو په لړ کې یې د افغانستان په بیا رغونه او د زېربنا په جوړولو کې ونډه اخیستې ده.[٥٦]

په جمهوریت کې د هند او پاکستان ترمنځ د دې ډول نامتوازن بهرني سیاست له امله افغانستان د دغو دواړو هېوادونو د سیالۍ په ډګر بدل شوی و او همدا لامل و چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ په سیاسي اړیکو کې د بې باورۍ فضاء رامنځته شوې وه، پخوانی فرانسوي ډیپلومات فردریک ګراري* چې د جنوبي اسیا د هېوادونو متخصص هم دی، وایي: د پاکستان له نظره، هند چې په افغانستان کې هر څه کوي، دا د پاکستان پر وړاندې یو چل او تکتیک دی، که هغه په اقتصادي برخه کې وي، که په پوځي، فرهنګي او یا هم سیاسي برخه کې؛ نو په هر قیمت چې کېدلی شي پاکستان باید په افغانستان کې د هند د نفوذ مخنیوی وکړي.[٥٧]

د افغانستان اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره خپل بهرنی سیاست متوازن اعلان کړ[٥٨] او زما له نظره دغه ډول بهرنی سیاست په څو دلایلو د اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو د ښه کېدو لپاره یو فرصت دی:

**أ**- اسلامي امارت غواړي د هند او پاکستان ترمنځ په اړیکو کې توازن وساتي او هېڅ یو لوري ته هم په داسې ډول نږدې نشي چې بل لوري ته اندېښنې پېداکړي.

**ب**- اسلامي امارت لا تراوسه د هند او پاکستان ترمنځ د کشمیر په جیوپولیټیکي شخړه کې طرف نه دی نیولی او په دې اړه یې کومې داسې څرګندونې هم نه دي کړي چې له امله یې د دې دواړو هېوادونو ترمنځ په اړیکو کې توازن خراب شي.

**ج**- د هند او اسلامي امارت اړیکې لا هم نږدې شوي نه دي او لامل یې د هند د انتظار او کتنې پالیسي* ده؛ ځکه هند لا تر اوسه هم دا اندېښنه لري چې اسلامي امارت د پاکستان په ګټه کار کوي او بله اندېښنه یې له امنیتي پلوه ده، ځکه دوی فکر کوي چې که د دواړو هېوادونو ترمنځ په لوړه کچه سفارتي اړیکې پرانېستل شي او د دواړو هېوادونو د خلکو ترمنځ تګ او راتګ پیل شي؛ نو داسې نه شي چې هند ته داسې خلک داخل شي چې هغوی ناامني رامنځ ته کړي؛ نو د هند او اسلامي امارت د اړیکو نه نږدېوالی هم د اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو د نږدې کېدو لپاره یو فرصت دی.

* Frédéric Grare
* Waite and Watch Policy

لنډه دا چې د افغانستان اسلامي امارت متوازن بهرنی سیاست د اسلامي امارت او پاکستان د دوه اړخیزو سیاسي اړیکو د ښه کېدو لپاره یو فرصت دی او باید له دغه فرصت څخه دواړه لوري ګټه پورته کړي.

**۳- د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو په ښه کېدو کې د چین فکتور**

د افغانستان اسلامي امارت او چین نږدې سیاسي او اقتصادي اړیکې لري. په سیاسي برخه کې په ۱۴۰۲ هـ.ل. کې چین په رسمي ډول (Zhao Xing) د سفیر په توګه افغانستان ته معرفي کړ او اسلامي امارت هم بلال کریمي په رسمي ډول په چین کې د افغان سفیر په توګه معرفي کړ[٥٩] چې دا د ډیپلوماتیکو اړیکو په برخه کې یو پرمختګ او چین لومړنی هېواد شو چې د اسلامي امارت د سفیر باور لیک یې په رسمي ډول ومانه.[٦٠]

له افغانستانه د امریکایي پوځیانو وتل د چین لپاره یو فرصت رامنځ ته کړ چې د افغانستان اسلامي امارت سره پراخې اقتصادي اړیکې رامنځ ته کړي او د دغه هېواد په بېلابېلو طبیعي سرچینو کې پانګونه وکړي. لیتیم یو له هغو طبیعي سرچینو څخه دی چې چین ورته د برقي موټرو د تولید په برخه کې اړتیا لري[٦١]، افغانستان نږدې د یو ټریلیون ډالرو په ارزښت لیتیم لري او د چین ګوچېن (Gochin) شرکت غواړي په دې برخه کې ۱۰ میلیارده ډالره پانګونه وکړي چې له دې لارې به یې په مستقیم ډول یو لک او شل زره او په نامستقیم ډول نږدې یو میلیون دندې پیدا شي.[٦٢]

همدارنګه د ۲۰۲۳ز. په جنورۍ کې یوه چینایي شرکت ( China Petroleum Economics and Information Research Center (CPEIC).) له افغانستان اسلامي امارت سره د امو په حوزه کې د ۴۵۰ میلیونه ډالرو په ارزښت[٦٣]، د تېلو د استخراج ۲۵ کلن قرارداد لاسلیک کړ. په دغه قرارداد کې افغانستان ۲۰ سلنه برخه لري چې په راتلونکي کې به ۷۵ سلنې ته ورسېږي[٦٤]؛ البته یادونه باید وکړو چې دغه تړون د اسلامي امارت له لوري د ۲۰۲۵ز. په جون کې فسخه شوی او دلیل یې د تړون له موادو څخه د چینایي شرکت سرغړونه ښودل شوې ده.[٦٥]

د دې ترڅنګ چین غواړي د افغانستان د زېربناء په جوړولو کې هم همکاري وکړي چې تر اوسه یې د سالنګ، کونړ او لغمان د سړکونو د جوړولو وعده کړې او راتلونکې کې پلان لري چې ازبکستان، ترکمنستان او تاجکستان د رېل پټلېو او پراخو سړکونو د جوړولو له لارې له پاکستان سره ونښلوي.[٦٦]

لنډه دا چې د افغانستان اسلامي امارت له چین سره نږدې سیاسي او اقتصادي اړیکې لري؛ همدارنګه د پاکستان او چین ترمنځ هم نږدې او پخوانۍ ملګرتیا ده. د دواړو هېوادونو ترمنځ لومړنۍ رسمي اړیکې هغه مهال رامنځته شوې کله چې پاکستان په ۱۹۵۰ز. کې چین په رسمیت وپېژانده. د دې ترڅنګ په ۲۰۰۵ز. کې دواړو دولتونو د ملګرتیا، همکارۍ او ښه ګاونډیتوب تړون لاسلیک کړ چې دا تړون د ستراتیژیکې ملګرتیا تړون ګڼل کېږي.[٦٧]

د چین او پاکستان اړیکې هغه مهال لا پیاوړې شوې کله چې په ۲۰۱۳ز. کې د دوی ترمنځ د سیپېک (China-Pakistan Economic Corridor (C- PEC)) پروژه لاسلیک شوه، د دې پروژې له لارې چین په پاکستان کې د رېل پټلۍ، لویې لارې، د ګوادر بندر، د انرژۍ پروژې، صنعتي پارکونه، ټکنالوژیکي همکارۍ او د اوبو رسونې بېلابېلې پروژې عملي کړي دي،[٦٨] چې دا د دوه اړخیزو اړیکو پر نږدیوالي دلالت کوي.

لنډه دا چې د لاندې دلایلو پر بنسټ چین کولای شي د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو په ښه کولو کې ونډه واخلي:

**أ**: چین یو ستر سیمه ییز او نړیوال قدرت دی او کولای شي له خپل دغه قدرت څخه په ګټه اخیستنه پر پاکستان او افغانستان اسلامي امارت فشار راوړي او د دوی ترمنځ په اړیکو کې د شته ننګونو په له منځه وړلو او همغږۍ په رامنځته کولو کې همکاري وکړي، ځکه د دواړو هېوادونو ترمنځ د همغږۍ په رامنځته کېدو سره د چین اقتصادي ګټې خوندي کېدلی شي؛ ځکه چین غواړي چې افغانستان له سیپېک سره ونښلوي او د دې کار لپاره د پاکستان او افغانستان اسلامي امارت همغږي اړینه ده.

**ب**- چین د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان سره نږدې اړیکي لري چې مخکې مو پرې بحث وکړ، له همدغو ښو اړیکو څخه په ګټه اخیستنه چین کولای شي د دغو دواړو اړخونو ترمنځ په ځینو مسایلو کې منځګړتوب وکړي او په دې وروستیو کې چین په دې برخه کې بریالی هم دی، چې د ایران او سعودي عربستان ترمنځ منځګړتوب یې د بېلګې په ډول یادولای شو. دلته کېدای شي پوښتنه پیدا شي چې چین په تېر شل کلن جمهوریت کې ولې د پاکستان او افغانستان تر منځ د اړیکو د جوړېدو په برخه کې منځګړتوب و نه کړ؟ ستر لامل یې په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو شتون او د دغه هېواد پر بهرني سیاست د متحده ایالاتو اغېز و؛ یعنې متحده ایالاتو نه غوښتل چې چین دې د افغانستان په سیاسي مسایلو کې

په دومره لوړه کچه دخیل شي چې له پاکستان سره د افغانستان اړیکې ښې کړي او دغه کریډیټ تر لاسه کړي.

**ج**- چین غواړي افغانستان له سیپېک China-Pakistan Economic Corridor (C-PEC) سره ونښلوي او دغه دوه اړخیز اقتصادي دهلیز (CPEC) په څو اړخیز اقتصادي دهلیز (China, Afghanistan, Iran, Central Asia and Pakistan) CAICAP بدل کړي[٦٩] او د دغه کار د عملي کولو لپاره د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان ترمنځ همغږۍ او نږدې اړیکو ته اړتیا ده او چین د خپلې دغې موخې د ترلاسه کولو لپاره هڅه کوي چې د دواړو لوریو تر منځ دوه اړخیزې سیاسي اړیکې ښې کړي. لنډه دا چې په افغانستان او پاکستان کې د چین اقتصادي ګټې او په ځانګړي ډول د سیپېک عملي کول هغه فرصت دی چې د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان سیاسي اړیکې ښې کولای شي؛ البته یادونه باید وکړو چې په سیپېک کې د افغانستان له ګډون سره هند مخالف دی او ستر لامل یې دا ښایي چې دغه پروژه د پاکستان تر واکمنۍ لاندې کشمیر څخه تېرېږي او پر دغه سیمه زموږ دعوه ده چې لا حل شوې نه ده[٧٠]؛ نو افغانستان ته په کار دي چې په دې برخه کې د ډیپلوماټیکو چینلونو له لارې هند ته قناعت ورکړي او دا موضوع په داسې ډول حل کړي چې افغانستان یو ځل بیا د هند او پاکستان د سیالۍ ډګر نه شي.

**پایله**

د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان سیاسي اړیکې د اسلامي امارت د لومړنۍ دورې په پرتله خرابې دي. د افغانستان او پاکستان په سیاسي اړیکو کې د ډیورنډ قضیه هغه بنسټیزه ننګونه ده چې هر افغان حکومت ترې اغېزمن شوی دی. په تېریو څو کالونو کې افغان پوځیانو څو ځله له پاکستاني پوځیانو سره له دې امله نښتې کړې چې پاکستاني پوځیانو به د ډیورنډ پر کرښه اغزن تار تېراوه او افغان پوځیانو ته دا د منلو وړ نه وه.

همدارنګه د امنیتي معما تیورۍ په چوکاټ کې مو د خپلې څېړنې فرضیه ثابته کړه چې د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان په سیاسي اړیکو کې ستره ننګونه چې د اوسنیو سیاسي اړیکو د خرابېدو بنسټیز لامل ګڼل کېږي، هغه امنیتي اندېښنې او ننګونې دي. د پاکستان داخلي امنیت خراب دی او پاکستان یې پړه پر اسلامي امارت اچوي او د همدغه تور پر بنسټ یې د افغانستان پر خاوره څو ځله برید کړی، چې د اسلامي امارت له سخت غبرګون سره مخامخ شوی او له امله یې د دواړو هېوادونو دوه اړخیزې سیاسي اړیکې خرابې شوي دي.

پاکستان افغان کډوال په اجباري توګه اخراج کړل او پر اسلامي امارت یې فشار راوړ، خو اسلامي امارت د کډوالو اجباري اخراج د پاکستان تېروتنه ګڼي او له امله یې د پاکستان پر دغه سیاست سختې نیوکې وکړې او دا بله هغه ننګونه ده چې د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې یې اغېزمنې کړې دي.

د دې څېړنې موندنې ښیي چې د پورته ننګونو ترڅنګ ځینې داسې فرصتونه هم شته چې کولای شي د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې نږدې کړي چې له هغې ډلې په ګډه د څو اړخیزو اقتصادي پروژو په ځانګړي ډول د ټاپي، کاسا-۱۰۰۰ او ټاپ- ۵۰۰ عملي کول دي؛ ځکه د ګډ کار له لارې همغږي او همکاري رامنځته کېږي او بې باوري ورسره له منځه ځي. د اسلامي امارت د متوازن بهرني سیاست په پایله کې په افغانستان کې د پاکستان او هند د نفوذ لپاره د سیالۍ موضوع تر ډېره له منځه تللې او دا هم د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو د نږدې کېدو لپاره فرصت دی. د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د چین په څېر یو ستر قدرت سره نږدې اړیکې لري چې دواړه دولتونه کولای شي د خپلو ستونزو د حل په موخه له چینه د منځګړي په توګه ګټه واخلي او چین هم د خپلو اقتصادي موخو لپاره د دواړو هېوادونو تر منځ ښې اړیکې غواړي چې دا هم یو فرصت دی.

## وړاندیزونه

۱- له پاکستان سره ښې سیاسي اړیکې د افغانستان په ګټه دي، نو د سیاسي اړیکو د ښه کېدو په موخه اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي چې د خبرو اترو لپاره څو ډیپلوماتیک چېنلونه پرانېزي او پاکستاني لورو ته د مذاکراتو بلنه ورکړي.

۲- اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي چې له پاکستان سره د شخړو د حل یوه پروسه پرانېزي چې په هغې کې ځینې کمېسیونونه جوړ شي او له چین او روسیې څخه په کې د منځګړي په توګه ګټه واخیستل شي.

۳- دواړو حکومتونو ته وړاندیز کېږي چې په سیمه کې له یوې خوا لاسلیک شوو اقتصادي پروژو د تطبیق لپاره اسانتیاوې برابرې کړي او له بلې خوا ځینې داسې نورې څو اړخیزې اقتصادي پروژې رامنځ ته کړي چې د دواړو دولتونو خلکو ته ګټه ورسېږي او همدارنګه د ګډو اقتصادي پروژو د عملي کولو له لارې د دواړو دولتونو ترمنځ همغږي او د باور فضا رامنځ ته شي.

۴- اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي چې د هند او پاکستان تر منځ په اړیکو کې توازن وساتي چې افغانستان یو ځل بیا د دې هېوادونو د سیالۍ ډګر نه شي.

**مأخذونه**

[1]- Syed Muhammad Abbas, "Afghanistan-Pakistan in a security Puzzle (Past, Present and Future)", Vienna International Institute for Middle East Studies, Nov 20, 2023, P. 11, Access link: https://viimes.org/wp-content/ uploads/ 2024/02/Final-Paper-on-Afghanistan-Pakistan-Security-Puzzle-16.01.2024.pdf

[2]- L.A. Times Archives. "2 Slain in Attack on Pakistani Embassy", Los Angeles Times, Sep 7, 1995, Access link: https://www.latimes.com/archives/la-xpm-1995-09-07-mn-43249-story.html

[3]- Shehryar Fazli. "The Impact of Afghanistan's Drug Trade on its Neighbors", The Global Initiative against Transnational Organized Crime, November 2023, P. 7, Access link: https://globalinitiative.net/wp-content/ uploads/ 2023/11/SOCACE-RP25-AfganDrugTradeImpact-20Nov23.pdf

[4]- Vito Morisco, "From Rebel Governance to Institutionalization? Prospects for the Taliban and Afghanistan", Austrian Institute for International Affairs, July 2023, P. 21, Access link: https:// www .ssoar .info/ ssoar /bitstream /handle/document/90184/ssoar-2023-morisco-From_Rebel_Governance_to_Institutionalization.pdf?sequence=1&isAllowed=y&lnkname=ssoar-2023-morisco-From_Rebel_Governance_to_Institutionalization.pdf and Amanullah Zarawar, Naveedullah Alokozay and Hamad Shoukat, "Pakistan and the 2.0 Taliban (Islamic Emirate of Afghanistan) Regime New Scene", Cognizance Journal of Multidisciplinary Studies, Vol.4, Issue.8, August 2024, P. 252, Access link: https://www.researchgate.net/profile/Amanullah-Zarawar /publication/383816752_Media_Freedom_and_Censorship_A_Comparative_Study_of_Media_Freedom_under_First_and_Second_20_Taliban_Regime/links/66e84c680463442fa851d75d/Media-Freedom-and-Censorship-A-Comparative-Study-of-Media-Freedom-under-First-and-Second-20-Taliban-Regime.pdf

[5]- Hamida Bibi, Muhammad Daniyal Khan and sana Saeed, "Regional Dynamics in Afghanistan: Unraveling the Roles of India, Pakistan, and China and Charting a Path Ahead", Guman Publications, VOL. 7 NO. 1 (2024), P. 2, Access link: http:// www .guman .com.pk /index .php/ GUMAN /article /view/707/679

[6]- Ghulam Muhammad Chaudhry. "Historical Perspective of Pakistan-Us Relations and the USA's Afghanistan and South Asia Strategy: Implications for National Security of Pakistan with Policy Options to Maintain Strategic Balance in South Asia", Journal of the Research Society of Pakistan, Volume No. 55, Issue

No. 2, July - December, 2018, P. 43, Access link: https:// pu .edu .pk/ images/ journal/history/PDF-FILES/3_55_2_18.pdf

[7]- Amin Khan. “Top Taliban Leader arrested in Pakistan”, CNN Website, March 2010, Access link: https:// edition .cnn.com/ 2010/ WORLD/ asiapcf/ 03/05/pakistan.taliban.arrest/index.html

[8]- Amanullah Zarawar, Naveedullah Alokozay and Muhammad Numan, “A Comparative Analysis of Pakistan Relations with Afghan Taliban and with the Previous Afghan Government (2014 - 2021): Security Dilemma Perspectives, Research Journal of Social Sciences & Economics Review, Vol. 5, Issue 3, 2024 (July – September), P. 17, Access link: https:// rjsser .org .pk/ojs/ index.php/ rjsser/article/view/696/387

[9]- Asma, Nasreen Akhtar and Barkat Ullah, “Nexus between TTP and Afghan Taliban: Impacts on Pakistan Afghanistan Relations”, Pakistan Social Sciences Review, Vol. 8, No. 2, April-June 2024, P. 275, Access link: https://ojs.pssr.org.pk/journal/article/view/542/399

[10]- MEARSHEIMER, JOHN J.,” International Relations Theories: Discipline and Diversity”, Commack Schools, 2007, P. 72- 73, Access link: https ://www .commackschools.org/Downloads/8_mearsheimer-_structural_realism.pdf

[11]- Shiping Tang, “The Security Dilemma: A Conceptual Analysis”, Security Studies, 2009, P. 594-595, Access link: https:// www .tandfonline .com/doi/epdf/10.1080/09636410903133050?needAccess=true

[12]- Abid Hussain, “Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan”, Aljazeera, 18 Mar 2024, Access link: https:// www .aljazeera.com/news/2024/3/18/pakistan-launch-retaliatory-strikes-inside-afghanistan-raising-tensions?_gl=1*1nsvqv1*_ga*UFJCS2ZNTmk5NDYzZC1aNHhjbDlqcVZXckdDQTZETFBOSTRHX0hsZk9yUkluTG1pcFRRQnBfc2hfdGc4MlM0Rg..*_ga_XN9JB9Q0M1*MTcyODM5MjY3NS4xLjEuMTcyODM5MjY3Ni4wLjAuMA

[13]- Brigadier MS Chowdhury, “Pakistan’s Strategic Depth, Journal of United Service Institution of India”, July- September 2009, Access link: https://www.usiofindia.org/publication-journal/pakistans-strategic-depth-2.html and Larry Hanauer and Peter Chalk, “India’s and Pakistan’s Strategies in Afghanistan: Implications for the United States and the Region”, RAND Corporation, 2012, Access link: https:// www .jstor .org/ stable/ 10 .7249 /j.ctt1q6105.10

[14]- Muhammad Imad Abbas, “From Strategic depth to Strategic Threat”, Modern Diplomacy, May 25, 2023, Access link: https:// moderndiplomacy .eu/2023/05/25/from-strategic-depth-to-strategic-threat/

[15]- Ido Gadi Raz, "Against all Expectations: Afghanistan-Pakistan Relations after the American Withdrawal", Electronic Journal of Social and Strategic Studies, 31 May, 2023, P. 8, Access link: https:// www .ejsss .net .in/ uploads/ 172/ 14621_pdf.pdf

[16]- Stephanie Findlay, "A win for Pakistan': Imran Khan gambles on Taliban ties", Financial Times, Sep 30 2021, Access link: https:// www .ft.com/ content/ 257853d9-acb6-432b-92d4-a1b45335a388

[17]- TOLOnews YouTube Channel, Special Interview with Mala Yaqoob Mujahid, 57th Minute, Jun 15, 2023, Access link: https:// youtu.be/ uwgBK0Uc7hs? si=qanPh-CHj3f_4i6t

[18]- Larry Hanauer and Peter Chalk, Op. Cit., P. 27.

[19]- TOLOnews YouTube Channel, Special Interview with Mala Yaqoob Mujahid, Op. Cit.

[20]- TOLOnews, "Afghanistan Will Never Recognize Durand Line as Border: Stanikzai", 16 FEBRUARY 2024, Access link: https:// tolonews .com /afghanistan-187446

[21]- TOLOnews, "Islamic Emirate Reacts to Miller's Statements about Durand Line", 22 FEBRUARY 2024, Access link: https://tolonews.com/afghanistan-187531

[22]- Amanullah Zarawar, Naveedullah Alokozay and Muhammad Numan, "A Comparative Analysis of Pakistan Relations with Afghan Taliban and with the Previous Afghan Government (2014 - 2021): Security Dilemma Perspectives", Op. Cit. P. 18.

[23]- Asfandyar Mir, Richard Olson and Andrew Watkins, Afghanistan-Pakistan Border Dispute Heats Up, United States Institute of Peace, 2022, Access link: https://www.usip.org/publications/2022/01/afghanistan-pakistan-border-dispute-heats

[24]- Ido Gadi Raz, "Against all Expectations: Afghanistan-Pakistan Relations after the American Withdrawal", Op. Cit. P. 15.

[25]- Aljazeera, "Main Afghanistan-Pakistan border crossing closed after guards exchange fire", 6 Sep 2023, Access link: https:// www .aljazeera .com /news /2023/9/6/main-afghanistan-pakistan-border-crossing-closed-after-guards-exchange-fire

[26]- CRISIS24, "Afghanistan, Pakistan: Officials close Torkham border crossing as of March 24", 24 MAR 2024, Access link: https:// crisis 24 .garda .com/ alerts/2024/03/afghanistan-pakistan-officials-close-torkham-border-crossing-as-of-march-24

[27]- RAHIM FAIEZ, "Pakistani, Afghan Taliban forces trade fire at Torkham border crossing, killing 3 Afghan civilians", The Associated Press, August 13, 2024,

Access link: https://apnews.com/article/pakistan-afghanistan-torkham-border-shootout-153a235135b94712eb3e7baed47f3e95

[28]- Ido Gadi Raz, "Against all Expectations: Afghanistan-Pakistan Relations after the American Withdrawal", Op. Cit. P. 14-15.

[29]- Muhammad Bilal Iftikhar Khan, Syed Waqas Haider Bukhari and Marriyam Siddique, "Pakistan IEA Relations, A Game Theory Perspective", journal of Social & Organizational Matters, Vol 1 No 1, 2022, P. 31, Access link: https:// www.researchgate.net/profile/Syed-Waqas-Bukhari/ publication/373713256_Pakistan_IEA_Relations_A_Game_Theory_Perspective/ links/66a100ab8be3067b4b154ce6/Pakistan-IEA-Relations-A-Game-Theory-Perspective.pdf

[30]- Syed Muhammad Abbas, "Afghanistan-Pakistan in a security Puzzle (Past, Present and Future)", Vienna International Institute for Middle East Studies, Nov 20, 2023, P. 19, Access link: https://viimes.org/wp-content/ uploads/ 2024/02/Final-Paper-on-Afghanistan-Pakistan-Security-Puzzle-16.01.2024.pdf

[31]- Abid Hussain, "Taliban's ties with Pakistan fraying amid mounting security concerns", ALJAZEERA, 17 Aug 2023, Access link: https:// www. Aljazeera .com/news/2023/8/17/talibans-ties-with-pakistan-fraying-amid-mounting-security-concerns

[32]- Sneha Swaminathan, Explained | Why is Pakistan asking 1.7 million Afghan nationals to leave its territory?, WIONEWS, 2 NOV, 2023, Access link: https://www.wionews.com/south-asia/explained-why-is-pakistan-asking-17-million-afghan-nationals-to-leave-its-territory-654025

[33]- Abid Hussain, "Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan", Op. Cit.

[34]- Ibid.

[35]- Arsalan Bilal, Pakistan and the Afghan Taliban: Friends Becoming Foes, THE DIPLOMAT, April 28, 2023, Access link: https:// thediplomat .com/ 2023/04/pakistan-and-the-afghan-taliban-friends-becoming-foes/

[36]- Abid Hussain, Taliban's ties with Pakistan fraying amid mounting security concerns, Op. Cit.

[37]- Vito Morisco, "From Rebel Governance to Institutionalization? Prospects for the Taliban and Afghanistan", Op. Cit. P. 25.

[38]- Ibid.

[39]- Aljazeera, "Pakistan Taliban says ceasefire with gov't in Islamabad extended", 3 June, 2023, Access link: https :// www .aljazeera .com/ news/ 2022/6/3/pakistan-taliban-says-ceasefire-with-govt-in-islamabad-extended

[40] Abid Hussain, "Pakistan Taliban ends ceasefire with gov't, threatens new attacks" , Aljazeera, 28 NOV, 2022, Access link: https:// www .aljazeera .com/news/2022/11/28/pakistan-taliban-ends-ceasefire-with-govt-threatens-new-attacks

[41] Aljazeera," At least 47 dead in Afghanistan after Pakistan attacks: Officials", 17 April, 2022, Access link: https: //www .aljazeera .com/ news/ 2022/4/17/afghanistan-death-toll-in-pakistan-strikes-rises-to-47-official

[42] Abid Hussain, "Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan", Op. Cit.

[43]- Abid Hussain, "Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan", Op. Cit.

[44]- Abid Hussain, "'Why am I being sent back?' Hurt, anger for Afghans pushed out by Pakistan", Aljazeera, 3 Nov, 2023, Access link: https:// www. Aljazeera.com/features/2023/11/3/why-am-i-being-sent-back-hurt-anger-for-afghans-pushed-out-by-pakistan

[45]- Abid Hussain, "why is Pakistan planning to deport undocumented Afghans?", Aljazeera, 6 OCT, 2023, Access link: https:// www. Aljazeera .com/news/2023/10/6/why-is-pakistan-deporting-undocumented-afghans

[46]- MUNIR AHMED, "More than 400,000 Afghans have returned home from Pakistan following crackdown on migrants", The Associated Press, 20 NOV, 2023, Access link: https://apnews.com/article/pakistan-afghanistan-migrat-crackdown-df89dc612fcf8ee9aa138414ff2034ec

[47]- Sneha Swaminathan, "Explained | Why is Pakistan asking 1.7 million Afghan nationals to leave its territory?" Op. Cit.

[48]- Bibi Amina Hakimi, "Stanikzai Warns Pakistan Not to 'Force Afghans to React'", TOLO News, 06 NOVEMBER 2023, Access link: https:// tolonews. com/afghanistan-185907

[49]- Safiullah Taye and Zahid Shahab Ahmed, "Dynamics of Trust and Mistrust in the Afghanistan–Pakistan Relationship", Asian Studies Review, 2021, P. 564, Access link: https://doi.org/10.1080/10357823.2021.1910798

[50]- Amina khan, "AFGHANISTAN AND REGIONAL CONNECTIVITY", INSTITUTE OF STRATEGIC STUDIES ISLAMABAD, Aug 6, 2019, P. 3, Access link: https:// issi.org .pk/wp-content/uploads/2019/08/IB_Amina_and_Awais_Ali_and_Mohib-Afridi_Aug_6_2019.pdf

[51]- Roman Muzalevsky, "REGIONAL CONNECTIVITY FRAMEWORK AND PERFORMANCE OF LOCAL ECONOMIES", Strategic Studies Institute, US Army War College, 2014, P. 71, Access link: http:// www .jstor .com/ stable/ resrep11955.7

[52]- Amina khan, Op. Cit., p. 4.

[53]- Ibid. p. 3.
[54]- Economist Intelligence, “Work on TAP-500 to start in Q1 2018”, 2017, Access link: Work on TAP-500 to start in Q1 2018 (eiu.com)
[55]- Agreement on Strategic Partnership between the Islamic Republic of Afghanistan and the Republic of India, 2011, Oct 4. Access link: https:// eoi .gov .in/kabul/?pdf4644?000
[56]- Mohammad Khalid Khawrin, “THE BLIND SPOT OF THE ISLAMIC EMIRATE OF AFGHANISTAN RELATION WITH INDIA: THE SECOND REIGN SINCE AUGUST 2021”, Austral: Brazilian Journal of Strategy & International Relations, v.12, n.23, Jan./Jun. 2023, P. 209, Access link: https:// seer.ufrgs .br/ index .php/ austral/article/view/129124/89844
[57]- Frédéric Grare, “Pakistan,” in Ashley J. Tellis and Aroop Mukharji, eds., *Is a Regional Strategy Viable in Afghanistan?* Washington, D.C.: Carnegie Endowment for International Peace, 2010, p. 21, Access link: https://ciaotest.cc.columbia.edu/wps/ceip/0031300/f_0031300_25338.pdf
[58]- Islamic Emirate of Afghanistan, Ministry of Foreign Affairs, “EU-Representative Calls on FM Muttaqi”, 21/October/2024, Access link: https:// mfa.gov.af/en/17028
[59]- Charlotte Greenfield, “Afghanistan's Taliban sends new ambassador to Beijing”, Reuters, 2023, Access link: https://www.reuters.com/world/asia-pacific/afghanistans-taliban-sends-new-ambassador-beijing-2023-12-01/
[60]- Aljazeera, “Taliban gives a warm welcome to China’s new ambassador to Afghanistan”, 2023, Access link: https:// www .aljazeera .com/ news/ 2023/9/13/taliban-gives-a-warm-welcome-to-chinas-new-ambassador-to-afghanistan
[61]- Nilofar Sakhi, “Regional Security Complexity and Multilateral Diplomacy: A Case Study of Afghanistan and its Regional Neighbors”, International Journal of Security Studies & Practice, 2023, P. 8, Access link: https:// ijssp .ungjournals .org/articles/24/files/6453ee74944f9.pdf
[62]- The Economic Times, “China eyes Afghanistan's lithium reserves, offers to invest USD 10 billion”, 2023, Access link: https://e conomictimes .indiatimes.com/news/international/world-news/china-eyes-afghanistans-lithium-reserves-offers-to-invest-usd-10%20billion/articleshow/99521732.cms?utm_source=contentofinterest&utm_medium=text&utm_campaign=cppst
[63]- Ahmed S. Cheema, “China’s Gamble in Afghanistan”, The Diplomat, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/05/chinas-gamble-in-afghanistan/#:~:text=China%E2%80%99s%20investments%20in%20Afghanistan%20have%2

0been%20growing%20in,explore%20and%20develop%20oil%20reserves%20in %20northern%20Afghanistan

[64]- The Economic Times, "China eyes Afghanistan's lithium reserves, offers to invest USD 10 billion", Op. Cit.

[65]- KabulNow. "Taliban Terminates Major Oil Extraction Deal with Chinese Firm", 2025, Access link: https://kabulnow.com/2025/06/taliban-terminates-major-oil-extraction-deal-with-chinese-firm/

[66] Ahmed S. Cheema, "China's Gamble in Afghanistan", Op. Cit.

[67]- Umbreen Javaid and Asifa Jahangir, "Pakistan-China Strategic Relationship: A Glorious Journey of 55 Years", Journal of the Research Society of Pakistan, Vol. 52, No. 1, January-June, 2015, P. 157, Access link: https:// www .researchgate.net/profile/Umbreen-Javaid/publication/309462578_Pakistan-China_Strategic_Relationship_A_Glorious_Journey_of_55_Years/links/58118ddb08ae009606be829c/Pakistan-China-Strategic-Relationship-A-Glorious-Journey-of-55-Years.pdf

[68]- Muhammad Ahmed Farooqui and Syed Mobasher Aftab, "China-Pakistan Economic Corridor; Prospects and Challenges for Balochistan, Pakistan", IOP Conf. Series: Materials Science and Engineering, 2018, P. 2-3, Access link: https://iopscience.iop.org/article/10.1088/1757-899X/414/1/012046/pdf

[69]- Ashraf Jehangir Qazi, "Pakistan's Afghanistan policy", DAWAN News, August 17, 2023, Access link: https:// www .dawn .com/ news/ 1770589/ pakistans-afghanistan-policy

[70]- Neha Manhas, Neeraj Singh Manhas and Hari Yadav G. "Shifting Power Dynamics in South Asia: The Geopolitical Impact of China's CPEC on Regional Rivalries", Discover Global Society, 2025, P. 10, Access link: https:// link .springer.com/content/pdf/10.1007/s44282-025-00227-z.pdf

څېړنوال رحمت الله همت مظلوم یار

# د نشه یي توکو پر وړاندې د اسلامي امارت مبارزه

## پر افغانستان او مرکزي آسیا یې اغېزې

### لنډیز

د اسلامي امارت بیاځلي واک ته رسېدو سره د نشه یي توکو کښت، تولید او کاروبار منع شو، اسلامي امارت وکولای شول، د کوکنارو کروندې له منځه یوسي، د نشه یي توکو قاچاقبران ونیسي، ډېر شمېر په نشه یي توکو روږدي کسان راټول او درملنه یې وکړي، د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه د اسلامي امارت لویه بریا ده چې نړیوالو معتبرو سرچینو یې هم تایید کړې، د نشه یي توکو د کښت تر منع کېدو وروسته افغان بزګرانو پر خپلو ځمکو غنم وکرل چې ورسره د افغانستان وارداتي غنمو اړتیا راکمه شوه؛ خو له مثبتو پایلو سربېره د کوکنارو کښت منع کېدو وروسته بزګران له اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي؛ ځکه د غنمو په نسبت له کوکنارو کښت څخه بزګرانو زیات عایدات ترلاسه کول.

د نشه یي توکو کښت، تولید او قاچاق له ترهګرۍ، سازمان شوو جرمونو، اقتصادي مافیا او د انسان او وسلو له قاچاق سره نږدې اړیکه لري، د اسلامي امارت له خوا د نشه یي توکو پر وړاندې د جدي مبارزې له امله د افغانستان او سیمې امنیت او ثبات باندې هم مثبتې اغېزې درلودلې، د اسلامي امارت له لوري جرمي سازمان شوې کړۍ او قاچاقبران ونیول شول، له بل لوري د مرکزي آسیا پر امنیت او ثبات یې هم مثبت اغېز لري؛ ځکه د تریاکو کښت منع کېدو سره د تولید کچه نږدې صفر ته راښکته شوې او د نشه یي توکو قاچاق کمېدو لامل کېږي.

### سریزه

نشه یي توکي چې بېلابېل ډولونه لري، ځینې یې د بوټو له کرلو څخه تولیدېږي او ځینې نور په مصنوعي ډول جوړېږي؛ خو په ټوله کې هر ډول نشه یي توکو کارول د انسان روغتیا ته زیان رسوي او حتی د مړینې لامل یې کېږي، افغانستان چې کرنیز هېواد دی، د نشه یي توکو کرکېله له پخوا څخه په افغانستان کې د درملو په موخه کېدله او په لویه کچه د نشه یي توکو کرلو مخینه نه لري.

په ۱۹۲۰ز لسیزه کې د افغانستان استازي د ملتونو ټولنې د ترياکو راکابو کول خبرو اترو کې ګډون وکړ، که څه هم هغه مهال افغانستان د چین او هند په پرتله د نشه يي توکو کښت برخه کې کمه ونډه درلوده، افغانستان چارواکو په ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ ز لسيزو کې د ترياکو توليد کمولو لپاره هڅې وکړې؛ خو تر ډېره بريالی نه وې او د ۱۹۷۰ ز لسيزې په بهير کې د نورو هېوادونو له خوا د نشه يي توکو توليد باندې د شديدو بنديزونو لګولو سره افغانستان کې د ترياکو کښت وغوړېده او زيات شو[1]، د ۱۹۷۰ز لسيزې په وروستيو کې افغانستان د نشه يي توکو کښت کې ۲۰ سلنه برخه درلوده او ۱۹۸۰ ز لسيزه کې په افغانستان کې د ترياکو کښت زيات شو؛ همدارنګه پر افغانستان د شوروي اتحاد يرغل پر مهال د ترياکو کښت کچه لوړه شوه، مجاهدينو د ترياکو له پيسو څخه مالي لګښتونه تر ډېره برابرول.[2]

په ۱۹۹۴ز په افغانستان کې ۷۱ زره هکټاره ځمکه باندې کوکنار کرل شوي وو؛ خو په ۱۹۹٦ز د اسلامي امارت واک ته د لومړي ځل رسېدو دغه شمېرې ۵۷ زره هکټاره ته راښکته شوې او د اسلامي امارت لومړۍ دورې په وروستيو کې په ۲۰۰۱ز يواځې ۸ زره هکټاره ځمکه باندې کوکنار کرل شوي وو[3]، د ملګرو ملتونو سازمان له جرمونو او نشه يی توکو سره مبارزې دفتر د ۲۰۰۳ز راپور له مخې په ۱۹۹ز لسيزه کې د نړۍ د ناقانوني ترياکو او هيروينو اصلي سرچينه افغانستان ښودلی و، په ۲۰۰۰ز د نړۍ ۷۰ سلنه ترياک او هيروين په افغانستان کې توليدېدل؛ خو په ۲۰۰۰ز د طالبانو له لوري د کوکنارو کرل منع شول چې ورسره ۹۹ سلنه د نشه يي توکو کښت او توليد کم شو.[4]

د سپتمبر له ۱۱پېښې وروسته د امريکا متحده ايالات او نورو هېوادونو له خوا د افغانستان له اشغال وروسته د نشه يي توکو کښت او توليد زيات شو، سربېره پر دې چې د مخنيوي په نوم يې ميليونونه ډالر لګول، په افغانستان کې د نشه يي توکو کښت، توليد او کاروبار ډېرېدو سره په کور دننه د نشه يي توکو روږدي کسان ډېر شول او بل لوری نورو هېوادونو ته د نشه يي توکو د قاچاق کچه هم لوړه شوه چې د افغانستان او سيمې په ځانګړې توګه مرکزي آسيا هېوادونو امنيت او ثبات لپاره لويه اندېښنه او ګواښ و، د اسلامي امارت بياځلي واک ته رسېدو سره د نشه يي توکو کښت، توليد، پېر او پلور منع اعلان شو او د عامیلينو پر وړاندې يې عمليات وشول چې مثبتې پايلې يې درلودې، دا چې له نشه يي توکو سره مبارزې برخه کې اسلامي امارت کوم اقدامات ترسره کړي؟ او پر افغانستان او مرکزي آسيا يې کومې اغېزې درلودلې؟، په دې مقاله کې څېړل شوې دي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

دا چې نشه يي توکي د نړيوالې ټولنې لپاره لويه ستونزه ده او د جمهوريت په شل کلنه دوره کې افغانستان د نړۍ په کچه د نشه يي توکو په توليد کې لويه برخه درلوده چې جمهوريت يې په مخنيوي کې پاتې راغلی و، د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه د اسلامي امارت لويه لاسته راوړنه ده چې پر افغانستان او د سيمې پر هېوادونو په ځانګړې توګه په مرکزي آسيا يې ډېرې اغېزې درلودې؛ نو اړينه ده چې دغه موضوع وڅېړل شي.

## د څېړنې موخه

د نشه يي توکو پر وړاندې د اسلامي امارت مبارزې او اقداماتو څېړل، پر افغانستان او مرکزي آسيا يې د اغېزو روښانه کول د دې څېړنې اصلي موخه ده.

## د څېړنې مېتود

د دې مقالې په ليکلو کې له توصيفي ـ تحليلي مېتود څخه ګټه اخيستل شوې او ډول يې کتابتوني دی.

### د نشه يي توکو د مخنيوي په برخه کې د اسلامي امارت دريځ او عملي اقدامات

نشه يي توکي هغه ناوړه پديده ده چې بشريت لپاره جدي ګواښ ګڼل کېږي او د انسان ژوند ګواښي، افغانستان هم له دغې ناوړې پديدې څخه اغېزمن شوی، پر افغانستان د امريکا متحده ايالاتو نظامي يرغل وروسته د نشه يي توکو کرکيله او کاروبار ډېر شو او له ډېرو لګښتونو سربېره د نشه يي توکو کښت او سوداګرۍ مخه و نه نيوله، د اسلامي امارت بياځلي واک ته رسېدو سره د نشه يي توکو کښت، پېر او پلور منع کولو برخه کې لوی بدلون رامنځ ته شو.

د ۲۰۲۲ز، د اپريل پر ۳ مه د اميرالمؤمنين هيبت الله اخندزاده له خوا د نشه يي توکو منع کولو په اړه فرمان صادر شو چې په کې راغلي وو: «ټولو هېوادوالو ته خبر ورکول کېږي چې د دې فرمان د صدور له نېټې وروسته د کوکنارو کرکيله په ټول هېواد کې په مطلق ډول منع ده او هېڅوک دې له دې وروسته په خپلو ځمکو کې د دغه ناوړه بوټي د کرلو هڅه نه کوي، که خدای مه کړه څوک تخلف وکړي؛ نو کښت به يې له منځه وړل کېږي او له متخلف سره به د اسلامي شريعت له مخې چلند کېږي؛ همدارنګه په ټول هېواد کې د نشه يي توکو د ټولو ډولونو لکه شراب، هيروين، شيشه، ټابليټکا، چرس او نورو ټولو نشه والو توکو استعمال، لېږد، پېر، پلور، واردات، صادرات او د نشه يي توکو د توليد کارخونې په

جدي توګه منع دي، د دې فرمان تعمیل لازمي دی، که هر څوک تخلف وکړي؛ نو د عدلي او قضایي ادارو له لوري به تعقیبېږي او مجازات کېږي به[5]».

د نشه یي توکو کښت مخنیوي فرمانونو سربېره اسلامي امارت د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون رامنځ ته کړ، همدارنګه د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې عالي کمیسیون طرزالعمل مسوده ترتیب شوه، له بل لوري د افغانستان د اسلامي امارت مشر عالیقدر امیرالمؤمنین له خوا د نشه یي توکو د له منځه وړلو په موخه د فرمان صدور وروسته د کورنیو چارو وزارت د نشه یي توکو د له منځه وړلو عملي اقدامات پیل کړل، په هېواد کې د نشه یي توکو د کښت، قاچاق، تولید، اکمالاتو او زېرمو له منځه وړلو پر وړاندې کوټلي ګامونه واخیستل.

د ۱۴۰۳ل په سرطان میاشت کې ملت ته د دولت حساب ورکولو برنامه کې د کورنیو چارو وزارت وویل چې د نشه یي توکو کښت، تولید او قاچاق صفر ته نږدې شوی او د اسلامي امارت له واک ته رسېدو څخه تر اوسمهاله ۴۷۸۷۹ عملیاتونه په ټول هېواد کې ترسره شوي دي او نږدې ۱۷۲۴۰تنه نیول شوي، ۱۱۹ ټنه بېلابېل نشه یي توکي او الکولي مشروبات او ۵۳۹۰ ټنه کېمیاوي مواد کشف شوي، د نشه یي توکو ۱۳۱۵ کارخونې او لابراتوارونه له منځه وړل شوي او نږدې ۲۱۷۴۲هکتاره ځمکه له کوکنارو څخه پاکه شوه.(٦)

د کوکنارو کښت په اړه د کورنیو چارو وزارت د سروې شمېرو له مخې په ۱۴۰۲هـ ش په ټول افغانستان کې ۱۴۷۱۲هکتاره ځمکه باندې کوکنارو کرل شوي وو، په ۱۴۰۲هـ ش کې کوکنار د ۱۴۰۱هـ ش په پرتله ۹۴ سلنه کموالی راغلی[۷]؛ خو په ۱۴۰۳هـ ش د کوکنارو کښت او نشه یي توکو تولید کچه ۹۷ سلنه راکمه شوه، د افغانستان اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد په وینا د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه په موثره توګه ترسره شوې ده او ۳ سلنه د کوکنارو کښت د خلکو له خوا په پټه په چاردېوالیو، د بېونو په منځ یا په غرنیو لرو سیمو کې ترسره کېږي.[۸]

**په افغانستان کې د نشه يي توکو کښت کمېدو په اړه د بهرنيو بنسټونو راپورونه**

د اسلامي امارت له لوري د نشه يي توکو کښت، توليد او کاروبار منع کېدو او پر وړاندې يې جدي مبارزه لويه بريا ده چې د ملګرو ملتونو سازمان، د ديويد منسفيلد او آلسيس بنسټ او بي بي سي له خوا يې تاييد هم شوی، اسلامي امارت وکولای شول چې د ترياکو کښت مخه ونيسي او د توليد کچه يې راکمه کړي.

د ملګرو ملتونو سازمان د جرمونو او نشه يي توکو سره مبارزې دفتر (UNODC)[1] د راپور له مخې د اسلامي امارت د ۲۰۲۲ز د نشه يي توکو منع کېدو فرمان عملي کېدو وروسته په ۲۰۲۳ز د کوکنارو کښت ۹۵ سلنه کم شوی، په ترياکو کرل شوې ځمکې له ۲۰۲۲ز ۲۳۳زره هکټاره څخه په ۲۰۲۳ز ۱۰ زره ۸۰۰ هکټارو ته راښکته شوې چې ورسره د ترياکو محصول د ۲۰۲۲ز کې ۶۲۰۰ ټنو څخه په ۲۰۲۳ز. ۳۳۳ ټنو ته راښکته شو.[۹]

د ديويد منسفيلد او آلسيس بنسټ د راپور له مخې په ۲۰۲۳ز افغانستان کې د نشه يي توکو توليد لپاره د کوکنارو کښت ۸۶ سلنه کم شوی، د آلسيس سپوږمکۍ له خوا په افغانستان کې عکسونه اخيستل شوي چې د منسفيلد بنسټ له خوا تحليل شوي دي، د يادونې وړ ده چې په تېرو کلونو کې د افغانستان په نيمه ډېره برخه ترياک په هلمند کې کرل کېدل، د منسفيلد د تحليل پر اساس د افغانستان په هغه سيمو کې چې پخوا ترياک کرل کېدل؛ اوس غنم کرل شوي، همدارنګه په افغانستان کې د کوکنارو کښت منع کېدو سره د نشه يي توکو قيمتونه هم لوړ شوي، د منسفيلد راپور له مخې د افغانستان په سوېل ولايتونو کې في کيلو ګرام ترياکو قېمت ۳۶۰ ډالرو ته لوړ شوی و[۱۰]؛ همدارنګه د بي بي سي څېړنيز ټيم د هوايي عکسونو او شمېرو له مخې په ۲۰۲۳ز په افغانستان کې د کوکنارو کښت د تېر کال په پرتله ۸۰ سلنه کم شوی، د بي بي سي راپور له مخې ۲۰۲۳ز سپوږمکۍ عکسونه د پخوا په پرتله توپير لري او له واقعيت سره همغږي لري چې د کوکنارو کښت کم شوی دی.[۱۱]

د ۲۰۲۴ز په نومبر کې د ملګرو ملتونو سازمان له جرايمو او نشه يي توکو سره مبارزې دفتر راپور له مخې په افغانستان کې د ترياکو توليد کچه ۹۳ سلنه کمه شوې ده؛ خو د ۲۰۲۳ز په پرتله په افغانستان کې د ترياکو توليد ۳۰ سلنه زيات شوی، د ملګرو ملتونو راپور له مخې په ۲۰۲۴ز ۴۳۳ټنه ترياک په افغانستان کې توليد شوي دي، همدارنګه

1 United Nations Office on Drugs and Crime

۱۲۸۰۰هکټاره ځمکه باندې کوکنار کرل شوي وو، په ۲۰۲۴ز د تولید شوو ترياکو ارزښت ۲٦۰ میلیون ډالر ښودل شوی چې د تېر کال په پرتله ۱۳۰ سلنه ډېروالی راغلی دی.[۱۲]

د ملګرو ملتونو دغه راپور په اړه اسلامي امارت غبرګون ښوده، په افغانستان کې د نشه يي توکو کښت او تولید ډېرېدل يې رد کړل، اسلامي امارت د نشه يي توکو پر وړاندې جدي مبارزه کوي؛ خو پر وړاندې يې ننګونې شتون لري، بزګران له اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي او د کوکنارو بدیل نشته، نړیواله ټولنه هم په دې برخه کې همکاري نه کوي، د یادونې وړ ده چې د جمهوریت پر مهال د نشه يي توکو کښت او کاروبار مخنیوي په برخه کې هڅې ترسره شوي؛ خو د قناعت وړ پایلې يې نه درلودې، امریکا تر ۲۰۱۴ز پورې له نشه يي توکو سره مبارزې لپاره په افغانستان کې کابو ۷ میلیارده ډالره لګولي وو؛ خو له دومره ډېر لګښت سربېره د کوکنارو د کښت مخنیوي، د ترياکو د تولید مخنیوي، له نشه يي توکو کاروبار سره مبارزې، پر نشه يي توکو روږدې کېدو مخنیوي او د روږدو د درملنې په برخه کې بریالي نه وو، حال دا چې اسلامي امارت وکولای شول له کلک هوډ سره د دې ناوړه پدیدې مخه ونیسي.

**پر افغانستان او مرکزي آسیا له نشه يي توکو سره د اسلامي امارت د مبارزې اغېزې**

د نشه يي توکو کښت، تولید او کاروبار منع کېدل پر افغانستان او مرکزي آسیا هم اغېزې درلودې، په افغانستان کې د غنمو حاصلات ډېر شول، پر نشه يي توکو د روږدو کسانو درملنه وشوه، د جرمي باندونو فعالیتونو مخه ونیول شوه، بل لوری مرکزي آسیا ته د نشه يي توکو قاچاق کچه راټیټه شوه چې ورسره د افغانستان او مرکزي آسیا پولو ته څېرمه د جرمي کړیو فعالیت مخه ونیول شوه، په دې برخه کې پر افغانستان او مرکزي آسیا د نشه يي توکو پر وړاندې د اسلامي امارت د اقداماتو اغېزې څېړل شوې دي.

## پر افغانستان يې اغېزې

د اسلامي امارت له لوري د نشه يي توکو منع کېدو سره پر کوکنارو کرل شوې کروندې له منځه یوړې، تر څنګ يې په کابل او ولایتونو کې د روږدو کسانو درملنه وکړه او روغتیایي مرکزونه يې ورته جوړ کړل، د کوکنارو پر ځای بزګرانو غنم او نورې غلې وکرلې؛ خو له دې سره هم بزګران له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، دا چې د نشه يي توکو منع کېدو په کور دننه کومې اغېزې درلودې؛ دلته پرې بحث شوی دی:

## ۱ـ پر نشه يي توکو د روږدو کسانو راټولول او درملنه

په افغانستان کې نږدې ۳،۵ مليونه خلک په نشه يي توکو روږدي دي چې دغه شمېرې د افغانستان نفوس ۱۰ سلنه جوړوي، افغانستان په تېرو شلو کلونو کې په نړۍ کې د نشه يي توکو لومړۍ درجه توليدونکی هېواد و، د افغانستان اسلامي امارت بياځلي واک ته رسېدو سره د نشه يي توکو کښت، توليد، پېر او پلور منع شو.

د ۱۴۰۱ هـ ش په وروستيو مياشتو کې نږدې ۱۷زره په نشه يي توکو روږدي کسان په ټول افغانستان کې د حکومت له خوا راټول او روغتونونو ته درملنې لپاره ولېږدول چې ٦۰ تنه په کې ښځينه وې، د کابل پل سوخته سيمه د نشه يي توکو د پېر او پلور او همدارنګه د روږدو کسانو استوګن ځای و؛ خو د اسلامي امارت بياځلي واک ته رسېدو سره د نشه يي توکو کښت منع او په نشه يي توکو روږدي کسان يې راټول او درملنه يې وکړه، همدارنګه د کابل پل سوخته سيمه يې له روږدو کسانو پاکه کړه، يواځې د پل سوختې پل لاندې د روږدو کسانو ٦۰ جسدونه راو ايستل شول، د روږدو کسانو درملنې سربېره د کار او ټولنيزو چارو وزارت له خوا نږدې ٦۰۰ روږدو کسانو ته فني او حرفوي زده کړو امکانات هم برابر شول.[۱۳]

له کابل سربېره په ولايتونو کې هم پر نشه يي توکو روږدي راټول او درملنه يې وشوه، د روغتيا وزارت د روغتيايي خدموتونو وړاندې کولو مرستيال عبدالولي حقاني په وينا په ټول افغانستان کې د روږدو کسانو درملنې لپاره ٦١ روغتيايي مرکزونه شتون لري چې ۲٦۰۰ روغتيايي کارمندان په کې په خدمت بوخت دي او په دې روغتيايي مرکزونو کې زيات شمېر د روږدو کسانو درملنه شوې چې ځوانان، سپين ږيري، ماشومان او ښځينه په کې شامل دي او دغه لړۍ لا ادامه لري، نوموړي د روږدو کسانو درملنه اړينه وبلله او په دې برخه کې د نړيوالو بنسټونو همکارۍ غوښتونکی شو.[۱٤]

د اسلامي امارت له لوري په کابل ښار کې د روږدو کسانو درملنې لپاره ۵۰۰۰ بستريزه روغتون هم جوړ شو او له ټول هېواد څخه ۱۱۵۲۲۰ تنه روږدي کسان راټول او درملنه يې وشوه[۱۵]، له بل لوري د ملګرو ملتونو سازمان له جرمونو او نشه يي توکو سره مبارزې دفتر په ملاتړ افغانستان کې پر نشه يي توکو روږدو کسانو روغتيايي ۲۴ مرکزونو کې غذايي توکي، ژمنۍ جامې، روغتيايي او صحي توکي ووېشل.[۱٦]

د ۲۰۲۴ز اپريل مياشت کې د ناورين ډلې ( Crisis Group) له اسلامي امارت څخه ترلاسه کړو شمېرو پر اساس نږدې ۱۱۰۴۵۰ په نشه يي روږدي کسان تداوي کړي دي، د روږدو کسانو په درملنه کې اروپايي ټولنې هم مرسته کړې ده، په کندهار کې ۱۰۰ کسيزه

د روږدو کسانو روغتون د اروپايي ټولنې له خوا مالي تمويلېږي، همدارنګه اروپايي ټولنې ۱۰ میلیونه یورو WHO او UNODC سره مرسته کړې چې په افغانستان کې د نشه يي توکو روږدو کسانو درملنې لپاره يې ولګوي.[۱۷]

## ۲: د بزګرانو اقتصادي ستونزې زياتېدل

د کوکنارو د کښت له کمېدو سره په افغانستان کې ډېر شمېر بزګران له اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي؛ ځکه کرنه د دوی یواځنۍ عایداتي سرچينه ده، د غنمو او نورو کرنیزو محصولاتو کرلو لپاره ډېرو اوبو ته اړتیا ده، حال دا چې کوکنار کمو اوبو ته اړتيا لري، همدارنګه د کوکنارو کښت منع کېدو سره زيات شمېر خلک بې روزګاره شوي او عايد يې کم شوې دي، د کوکنارو کښت منع کېدو د خلکو پر اقتصادي وضعيت اغېزې کړي او فوري مرستو ته اړتیا لري، په افغانستان کې ۸۰ سلنه خلکو ژوند کرنې پورې تړلی او اوسمهال د اوبو له شديد کموالي سره مخامخ دي، د نشه يي توکو کښت منع کېدو وروسته په فراه، هلمند، کندهار او ننګرهار کې پر غنمو کرل شوې ځمکې ډېرې شوې، د غنمو له کرلو سره تر یوې کچې غذايي امنیت خوندي کېږي؛ خو له ترياکو څخه ترلاسه کېدونکي عایدات نسبت د غنمو عايداتو ته زيات دي.

د نشه يي توکو کښت منع کېدو سره بزګران له اقتصادي ستونزو سره مخ دي، د ملګرو ملتونو سازمان له جرمونو او نشه يي توکو سره مبارزې دفتر اجرايي مدير په ۲۰۲۳ز بيانه کې ويلي وو: نن د افغانستان خلک بشردوستانه فوري مرستې ته اړتیا لري، بزګران د پنبې او غنمو کرلو لپاره اوبو ته اړتیا لري، په داسې حال کې چې درې کاله پرله پسې افغانستان کې وچکالي وه.[۱۸]

په افغانستان کې د کوکنارو کښت او توليد منع کېدو وروسته د ۷ میلیونه وګړو پر ژوند اغېز کړې دي[۱۹]، د ملګرو ملتونو سازمان له جرمونو او نشه يي توکو سره مبارزې دفتر د راپور له مخې د ترياکو له پېرلو څخه د بزګرانو عايد په ۲۰۲۳ز د تېر کال په پرتله ۹۲ سلنه کم شوی، د ۲۰۲۱ز له یو میلیارد ۳٦۰ میلیون ډالرو څخه په ۲۰۲۳ز کې ۱۱۰میلیون ډالرو ته راښکته شوي[۲۰]؛ همدارنګه د منسفيلد او آلسيس بنسټ راپور له مخې ٦،۹ کسان د کوکنارو د کښت له منع کولو څخه اغېزمن شوي دي، د کوکنارو کښت منع کېدو وروسته بزګرانو غلو او دانو په ځانګړې توګه غنمو کرلو ته مخه کړې، هر بزګر له يو هکټار ځمکې څخه د غنمو له کښته ۷۷۰ ډالره ترلاسه کوي؛ خو په يو هکټار ځمکه کې د کوکنارو له کښته ۱۰ زره ډالره ترلاسه کول.[۲۱]

## ۳: د غنمو توليد کچې لوړېدل

د بل لوري د کوکنارو کښت له منع کېدو سره افغانستان ته د وارداتي غنمو کچه راکمه شوې ده، د احصايې او معلوماتو ملي ادارې په وينا په ۱۴۰۳هـ ش په ټول هېواد کې شاوخوا ۴.۸۳ ميليونه مټريک ټنه غنم راټول شوي چې د تېرکال په پرتله ۱۰ سلنه زياتوالی ښيي، د يادې ادارې په وينا ۱۴۰۳هـ ش په هېواد کې پر ۲,۱۲ ميليونه هکتاره ځمکه غنم کرل شوي چې ۱.۳۸ ميليونه هکتاره اوبيېزه او ۷۳٦ زره هکتاره يې للمي ده، د احصايې او معلوماتو ادارې د معلوماتو له مخې تر ټولو زيات اوبيېزو غنم هلمند، کندهار، فراه او کندوز ولايتونو کې او تر ټولو زيات للمي غنم په تخار، هرات، بادغيس او فارياب ولايتونو کې کرل شوي دي، د نفوسو اټکل ته په پام په هېواد کې شاوخوا ٦.۸۲ ميليونه مټريک ټنو غنمو ته اړتيا ده چې په ۱۴۰۳ل کې د غنمو توليد ته په پام شاوخوا ۲ ميليونه مټريک ټنه کموالی ښيي.[۲۲]

## ۴: په سياسي ثبات يې اغېزې

نشه يي توکي او ترهګري د هېوادونو د ثبات لپاره لوی ګواښونه دي، ترهګری او ناقانوني ډلې د نشه يي توکو قاچاق او کاروبار له لارې پيسې ترلاسه کوي او د حکومتونو لپاره ننګونې رامنځ ته کوي چې ورسره ناامني ډېرېږي او د هېواد په سياسي ثبات منفي اغېزې لري، همدارنګه مجرمينو او ناقانوني ډلو ته د فعاليت زمينه برابرېږي، د نشه يي توکو پر وړاندې د افغانستان اسلامي امارت مبارزه د افغانستان سياسي او اقتصادي ثبات لپاره ښه فرصت دی، له يو لوري کور دننه مافيايي ډلو او ناقانوني اقتصادي کړيو مخه نيول کېږي او له بل لوري د سيمې او لويو هېوادونو ته له نشه يي توکو څخه متوجه ګواښونو کمېدو لاملېږي، په افغانستان کې د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزې په صورت کې مرستندويه هېوادونه انګېزه پيدا کوي چې د افغانستان له سياسي او اقتصادي ثبات څخه ملاتړ وکړي.

## پر مرکزی آسيا يې اغېزې

په ۱۹۹۰ز لسيزه کې مرکزي آسيا سيمه له افغانستان نه روسيې ته د ترياکو ترانزيت په مسير بدله شوه، جغرافيايي، سياسي او اقتصادي عوامل د دې لامل شوي وو چې دغه سيمه د نشه يي توکو فعاليتونو لپاره مناسب بستر وګرځي[۲۳]، له ۲۰۰۱ز وروسته په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو حضور پر مهال د نشه يي توکو کښت ډېر شو، له افغانستان څخه د مرکزي آسيا هېوادونو له لارې روسيې ته نشه يي توکي قاچاق کېدل او ورسره په روسيه کې پر هيروينو ډېر شمېر کسان روږدي شول، د مرکزي آسيا سيمه له افغانستان څخه روسيې او اروپا ته د نشه يي

توکو قاچاق مهم مسیر و، همدارنگه په مرکزي آسیا هېوادونو کې هم اقتصادي مافیا د نشه یي توکو قاچاق کې ښکېله وه او د دې توکو ترانزیټ کې یې ونډه درلوده.

د ځینو څېړنو له مخې تاجکستان کې دولتي چارواکي هم د نشه یي توکو په قاچاق کې لاس لري، د تاجکستان دولتي لوړپوړي چارواکي له خپلو فاسدو سرحدي ځواکونو ملاتړ کوي او جنایي ډلو ته یې اجازه ورکړې ده چې په افغانستان کې له قاچاقچیانو او مافیایي ډلو سره اړیکې ټینګې کړي.[٢٤]

په مرکزي آسیا کې د نشه یي توکو قاچاق ډېرېدو سره د فرامرزي جرمونو ترسره کېدو، انساني قاچاق او پیسو وینځلو سره مرسته کوي، په مرکزي آسیا کې جدایي غوښتونکي او افراطي ډلې د نشه یي توکو له قاچاق څخه تغذیه کېږي چې ورسره د مرکزي آسیا هېوادونو امنیت لپاره لوی ګواښ دی، ترهګري، سازمان شوي جرمونه[٢]، اقتصادي مافیا، جرمي اقتصاد[٣]، د انسان او وسلو قاچاق له نشه یي توکو سره نږدې اړیکه لري.

د پورتنیو جرمونو له منځه وړلو لپاره باید د نشه یي توکو کښت، تولید او کاروبار مخه ونیول شي، جرمي اقتصاد کې ټولې ډلې سره تړلې دي، ځینې کور دننه د نشه یي توکو کښت او تولید لپاره کار کوي، ځینې د عتیقه آثارو او کانونو برخه کې ناقانوني کار کوي، بله ډله له هېواده بهر ورته مناسب مارکېټ پیدا کوي او دغه توکي له هېواده بهر قاچاق کوي، د ناقانوني توکو له کاروباره ترلاسه شوي عواید د مالي بنسټونو او موسسو په مرسته لېږدوي، د پیسو وینځلو له لارې په ناقانوني توګه ترلاسه شوي عاید په اقتصادي جریان کې اچوي.

هر کال د افغانستان له شمالي مسیره نږدې ٩٠ ټنه تریاک د مرکزي آسیا له لارې قاچاق کېدل، د تریاکو قاچاق شمالي ګڼ مسیرونه درلودل، لومړی له افغانستانه تاجکستان، قرغزستان او قزاقستان بیا روسیې او اروپا ته لېږدېدل، دویم مسیر د ازبکستان، قزاقستان او روسیې مسیر و، همدارنګه د ترکمنستان له مسیره بالکان هېوادونو ته نشه یي توکي قاچاق کېدل، تاجکستان د نشه یي توکو پر وړاندې د دفاع لومړۍ کرښه کې وه.

[٢]. سازمان شوي جرمونه هغه فعالیتونو ته وایي، چې د یو ډلې یا سازمان له لورې په مستمر ډول ناقانوني کړنې ترسره کېږي چې په لویه کچه په ناقانوني ډول عواید ترلاسه کړي او د فعالیتونو ساحه یو هېواد پورې محدوده نه وي.

[٣]. جرمي اقتصاد د تولیدي، توزیعي او مصرفي واحدونو هغو فعالیتونو ته وایي چې د ځانګړو کسانو او ډلو لپاره له حکومتي مالیې ورکولو او څارنې پرته ګټه رسوي، د نشه یي توکو قاچاق، د انسان قاچاق، پیسو وینځل، اختطاف، منع شوو توکو پېر او پلور هغه موارد دي چې د جرمي اقتصاد نظام پرې ولاړ دی.

د ملګرو ملتونو سازمان د نشه يي توکو او جرمونو سره د مبارزې ادارې د شمېرو له مخې په افغانستان کې د ټولو قاچاق شوو هيروينو ۲۰ سلنه په روسيه کې لګېږي، روسيه کې نږدې ۱،۵ ميليونه کسان په هيروينو روږدي دي، له ۲۰۰۱ز وروسته افغانستان ته امريکا له راتګ سره د نشه يي توکو توليد کچه لوړه شوه، د روسيې له نشه يي توکو سره مبارزې مسؤل ويکټور ايوانف خبرو له مخې په افغانستان کې د لوېديځو هېوادونو له راتګ سره د نشه يي توکو توليد کچه ۴۴ برابره لوړه شوه.[۲۵]

د ملګرو ملتونو سازمان د ۲۰۲۱ز راپور له مخې په افغانستان کې د ۳۰۰ ټنه له توليد شوو ترياکو څخه ۹۰ ټنه ترياک د مرکزي آسيا هېوادونو له لارې قاچاق کېدل[۲٦]، په ۲۰۲۲ز د نړۍ ۸۰ سلنه ترياک په افغانستان کې توليدېدل؛ خو د نشه يي توکو لګښت کې د نړۍ په کچه ۱۷۰ رتبه کې قرار لري، په نړيواله کچه د نشه يي توکو لګښت درجه بندۍ کې د مرکزي آسيا له هېوادونو څخه قزاقستان په ۸ رتبه، قرغزستان ۲۳ رتبه، ترکمنستان ۴۱ رتبه، تاجکستان ۷٦ رتبه او ازبکستان ۹۵ رتبه کې قرار لري، د دې رتبه بندۍ له مخې ښکاري چې له افغانستانه قاچاق شوي نشه يي توکو يوه برخه مرکزي آسيا کې مصرفېږي او پاتې نور يې روسيې او اروپا ته لېږدول کېږي.[۲۷]

د مرکزي آسيا هېوادونه د نارکوتروريزم* له پديدې څخه اندېښنه درلوده، د جمهوريت پر مهال له افغانستانه نشه يي توکي په ځانګړې توګه ترياک د شمالي مسير؛ يعنې تاجکستان، قرغزستان يا ازبکستان او ترکمنستان له لارې قزاقستان، روسيې او اروپا ته قاچاق کېدل او مرکزي آسيا د ترياکو په لېږد کې په څلورلارې بدله شوې وه، د افغانستان اسلامي امارت له بياځلي واک ته رسېدو سره د نشه يي توکو کرکېلې منع کېدو سره د ترياکو کښت کچه راټيټه شوه چې ورسره يې د قاچاق په کچې هم اغېز درلوده؛ خو له بل لوري په افغانستان کې د اسلامي امارت له لوري د نشه يي توکو کښت منع کېدو وروسته «د مصنوعي نشه يي توکو او مت آمفتامين قاچاق کچه لوړه شوې ده چې په تاجکستان کې ۴ برابره او قرغزستان کې ۱۱ برابره لوړه شوه».[۲۸]

له افغانستانه د نشه يي توکو قاچاق په اړه په ۲۰۲۳ز د مشترک المنافع خپلواکه هېوادونو مشترکه بيانيه خپره کړه، روسيې، بلاروس، قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان او ازبکستان له خوا په

*. د نارکو تروريزم کلمه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۸۳ز. د پيرو ولسمشر فرناندو بلئونده له خوا وکارول شوه چې له نشه يي توکو سره مبارزې پوليسو پر وړاندې د ترهګرو ډلو بريدونو لپاره د نارکو تروريزم کلمه استفاده شوه؛ يعنې ترهګرې ډلې د نشه يي توکو کاروبار له لارې پيسې ترلاسه کوي او د حکومتونو پر وړاندې ننګونې رامنځ ته کوي.

دغه مشترکه بیانیه کې له افغانستانه د نشه يي توکو قاچاق د سیمې لپاره ګواښ بللی دی، په دې بیانیه کې راغلي دي: «موږ له افغانستانه د نشه يي توکو متامفتامین، کوکاین، چرس او نورو صنعتي نشه يي توکو اړوند ننګونو په اړه اندېښنه څرګندوو».[۲۹]

د مرکزي آسیا هېوادونو له افغانستان سره سرحدي پولو کې د نشه يي توکو قاچاق او نورو جرمي فعالیتونو له شتونه وخت ناوخت اندېښنه څرګنده کړې ده، له افغانستانه مرکزي آسیا ته د نشه يي توکو قاچاق په اړه د مرکزي آسیا هېوادونو اندېښنې بې ځایه دي، اسلامي امارت له نشه يي توکو سره مبارزې په برخه کې جدي هڅې پیل کړې، کور دننه یې د نشه يي توکو کښت، پېر او پلور منع او یو شمېر قاچاقبران نیول شوي دي، له افغانستانه مرکزي آسیا، روسیې او حتی اروپا ته د نشه يي توکو قاچاق کچه کمه شوې ده چې لامل يې په افغانستان کې د کوکنارو کښت پر وړاندې جدي مبارزه او عملي اقدامات دي، د افغانستان او مرکزي آسیا پولو ته څېرمه د نشه يي توکو کابوکول او قاچاق برخه کې څو اړخیزه مشترکو همکاریو ته اړتیا ده، یو لوری په یواځې ډول نه شي کولای په ټولیزه توګه د دې ناوړه پدیدې مخه ونیسي.

## پایله

نشه يي توکي ناوړه پدیده ده چې بشریت ترې کړېږي، د جمهوریت پر مهال د نشه يي توکو کښت په افغانستان کې ډېر شو چې ورسره نور ناقانوني فعالیتونو ترسره کولو ته هم زمینه برابره شوه، د نشه يي توکو مخنیوي لپاره په میلیاردونو ډالر مصرف شول؛ خو د جدي ارادې او روښتیا نه شتون له امله یې مثبتې پایلې نه درلودې او ورځ تر بلې د نشه يي توکو کښت، تولید او قاچاق کچه لوړېده.

د افغانستان اسلامي امارت بیاځلي واک ته رسېدو سره د نشه يي توکو کښت، سوداګري او ټول اړوند فعالیتونه منع اعلان شول او وېې کولای شول چې د دغې ناوړه پدیدې مخه ونیسي او کښتونه يې له منځه یووړل، د اسلامي امارت له خوا له نشه يي توکو سره مبارزه د نړیوالو معتبرو سرچینو له خوا هم تایید شوې ده، د ملګرو ملتونو سازمان له جرمونو او نشه يي توکو سره مبارزې دفتر، د بي بي سي څېړنیز راپور او همدرانګه د دیوید منسفیلد او آلسیس بنسټ د راپورونو له مخې په افغانستان کې د نشه يي توکو کښت کم شوی او پر ځای یې غنم او نورې غلې دانې کرل شوې دي.

د اسلامي امارت له لوري د نشه يي توکو کښت منع کېدل په کور دننه هم اغېزې درلودې، د نشه يي توکو کښت منع کېدو سره بزګرانو د غنمو او نورو غلو دانو کرلو ته مخه کړه چې ورسره له بهره وارداتي غنمو کچه راکمه شوه، بل لوري ته بزګران له اقتصادي

ستونزو سره لاس او ګرېوان دي؛ ځکه د نشه يي توکو له کښته ترلاسه کېدونکی عايد نسبت غنمو ته ډېر وي.

د افغانستان اسلامي امارت له خوا د نشه يي توکو کښت منع کېدل په سيمې او په ځانګړې توګه د مرکزي آسيا پر هېوادونو هم اغېزې لرلې، دا چې نشه يي توکو توليد او قاچاق له ترهګرۍ، سازمان شوو جرمونو او اقتصادي مافيا سره اړيکه لري؛ نو د نشه يي توکو کښت منع کېدل پر قاچاق هم اغېزه درلوده؛ ځکه د کوکنارو کښت کمېدو سره د دې ناوړه بوټي محصول کم شوی او تر څنګ يې اسلامي امارت پر ټول هېواد حاکميت لري، له مرکزي آسيا هېوادونو سره ګډو پولو امنيت يې نيولی او تر يوې کچې مرکزي آسيا ته د نشه يي توکو قاچاق مخنيوی کړی دی.

## وړانديزونه

۱: د نشه يي توکو کښت منع کېدو سره بزګران له اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي، دولت بايد پر بديل معيشت کار وکړي، د اوبو لګولو لپاره کانالونه جوړ او اصلاح شوي تخمونه بزګرانو ته توزيع کړي، بزګران هم بايد په مناسبو ځايونو کې د انارو، بادامو او پسته باغونه جوړکړي؛ همدارنګه د هينګ بوټي نهال کړي چې ښه ګټه لري.

۲: د نشه يي توکو توليد، سوداګرۍ، قاچاق مخنيوي لپاره اسلامي امارت په يواځې ځان نه شي کولای د دې پديدې مخه ونيسي؛ بلکې د هېوادونو تر منځ څو اړخيزه همکاريو ته اړتيا شته، د مرکزي آسيا هېوادونه چې له افغانستان سره سرحدي ګډه پوله لري او د نشه يي توکو قاچاق او نور ناقانوني فعاليتونو ترسره کوونکي په يادو هېوادونو کې سازمان شوې اړيکې لري؛ نو د مرکزي آسيا هېوادونه په ځانګړې توګه تاجکستان او ازبکستان بايد د افغانستان له اسلامي امارت سره په امنيتي برخو کې همکاري او همغږي ولري چې د نشه يي توکو سوداګر او قاچاقبران ونيول شي او د فعاليتونو مخه يې ونيسي.

۳: په افغانستان کې د افغانستان اسلامي امارت له خوا د نشه يي توکو کښت او کاروبار منع کېدو سره د بزګرانو اقتصادي وضعيت خراب شوی، دا چې د نشه يي توکو توليد او قاچاق يوه نړيواله ستونزه ده؛ نو نړيوال دي هم خپل مسؤليت ادا کړي او نړيواله ټولنه دې له افغانستان سره اقتصادي مرسته وکړي.

## مأخذونه

[1]- Crisis group.(Trouble In Afghanistan's Opium Fields: The Taliban War On Drugs), 12 sep 2024, available at: https:// www .crisisgroup .org/asia/south-asia/afghanistan/340-trouble-afghanistans-opium-fields-taliban-war-drugs[accessed:2/9/2025]

2 Azizi ,Hamid. (The nature and extent of the Taliban's involvement in the drug trade before and after the regime change 1994-2022: insights form experts), small wars& insurgencies, p 4.

۳ بی بی سی. «رهبر طالبان کشت خشخاش و تولید و مصرف مواد مخدر را در افغانستان ممنوع کرد»،۱۴ حمل ۱۴۰۱، دسترسی:-https://www.bbc.com/persian/afghanistan-60972994 [مراجعه: ۱۴۰۳/۷/۱۳]

٤ بیات،محمد. «اقتصاد تریاک و مقایسه دو طالبان»، ۲۴حمل ۱۴۰۲،خبرگزاري ایرنا، دسترسی: https://www.irna.ir/news/85081268/ [مراجعه: ۱۴۰۳/۷/۱۲]

5 باختر اجانس.«دکوکنارو د کښت او هر نوع نشه يي توکو د ممنوعیت په اړه د عالیقدر امیر المؤمنین فرمان»، ۳/۴/۲۰۲۲، لاسرسی:www.bakhtarnews.af/?p=574219 [مراجعه:۴۱۰۳/۷/۱۱ ]

٦ دولتي ورځپاڼې.«وزارت داخله: کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر در افغانستان نزدیک به صفر رسیده است»،(٦ سرطان ۱۴۰۳)، دسترسی:https://dailies.gov.af/ [مراجعه: ۱۴۰۳/٦/۱۸]

۷ وزارت امور داخله.«گزارش سروی قریه جات از کشت کوکنار سال ۱۴۰۲ه ش»، معینیت مبارزه علیه مواد مخدر معاونیت ملکی ریاست سروی و تحلیل مواد مخدر، سال ۱۴۰۲، ص۷.

۸ عزیزی. «مجاهد: مبارزه موثر در برابر مواد مخدر انجام شده است»،طلوع نیوز، ۲۹ ثور ۱۴۰۳، دسترسی: https://tolonews.com/index.php/fa/afghanistan-188852[مراجعه: ۱۴۰۳/۷/۱۴]

9 UNODC. « Afghanistan opium cultivation in 2023 declined 95 per cent following drug ban: new UNODC survey »,5 November 2023, available at: https://www.unodc.org/unodc/en/press/releases/2023/November/afghanistan-opium-cultivation-in-2023-declined-95-per-cent-following-drug-ban_-new-unodc-survey.html [accessed: 19/7/2024]

۱۰ بلیتسا، الینا ، فوسکیني، فابریزیو.«ممنوعیت مواد مخدر توسط طالبان: دستور کار امارت در مبارزه با مواد مخدر چیست؟» ۱۳ /۱۴۰۲/۴،دسترسی:-https://www.afghanistan

analysts.org/dari-pashto/reports/enviroment-socio-economic-development [مراجعه: ۱۴۰۳/۷/۱۵]

[11] لیمای، یوگیتا.«طالبان و ممنوعیت کشت خشخاش؛ مشاهدات از کاهش ۸۰ درصدی تولید تریاک خبر می‌دهد»، ۱۷جوزا ۱۴۰۲، دسترسی:

https://www.bbc.com/persian/articles/c729kl6r5peo [مراجعه: ۱۴۰۳/۷/۱۷]

[12] Fidel, Rahmati.« Opium production in Afghanistan sees 30% increase in 2024: UN Report», November 27, 2024, available at: https:// www .khaama.com/opium-production-in-afghanistan-sees-30-increase-in-2024-un-report/ [accessed: 10/12/2024]

[13] ضیائی، هدیه.« گردآوری و درمان معتادان مواد مخدر»، ٦ حوت ۱۴۰۱، دسترسی:

https://tolonews.com/fa/afghanistan-182237 [مراجعه: ۱۴۰۳/٦/۱۷]

[14] وزارت صحت‌عامه. «وزارت صحت‌عامه امارت اسلامی افغانستان از روز جهانی مبارزه با مواد مخدر گرامی داشت به عمل آورد»، ۱۴۰۳/۴/٦، دسترسی:

https://www.moph.gov.af/index.php/dr [مراجعه: ۱۴۰۳/٦/۲۲]

[15] وزارت داخله: کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر در افغانستان نزدیک به صفر رسیده است»،(٦ سرطان ۱۴۰۳)، دسترسی:/https://dailies.gov.af [مراجعه: ۱۴۰۳/٦/۱۸]

[16] UNODC, «Supporting drug users in Afghanistan», available at: https://www.unodc.org/coafg/en/supporting-drug-users-in afghanistan.html [accessed:7/10/2024]

[17] Crisis Grooup. «Trouble In Afghanistan's Opium Fields: The Taliban War On Drugs», (.), available at: https:// www .crisisgroup .org/asia/south-asia/afghanistan/340-trouble-afghanistans-opium-fields-taliban-war-drugs[accessed:11/12/2024]

[18] france24 ,Poppy growth down 95% in Afghanistan since Taliban ban: UN, 05/11/2023, available at: https://www.france24.com/en/live-news/20231105-poppy-growth-down-95-in-afghanistan-since-taliban-ban-un[accessed:10/10/2024]

[19] Aidar Borangaziyev.« Navigating Challenges: The ICG Reports on Taliban Drug Ban and Its Global Implications»,24 sep 2024 , available at: https://timesca.com/navigating-challenges-the-icg-reports-on-the-taliban-drug-ban-and-its-global-implications/

[20] (.).«دلایل کاهش تولید تریاک در افغانستان/ برنامه طالبان چیست؟» ۵ دلو ۱۴۰۲، دسترسی:

https://www.khabaronline.ir/news/1864723 [مراجعه: ۱۴۰۳/۷/۱۸]

[۲۱] آژند، فریدون.«کاهش درآمد ملی افغانستان به‌علت کاهش کشت خشخاش برای تولید تریاک»، ایندیپندنت فارسی، ۲۷ عقرب ۱۴۰۲، دسترسی:
https://www.independentpersian.com/node/371011/ [مراجعه: ۱۴۰۳/۷/۱۱]

[۲۲] افغانستان ملي راديو تلويزون.«په ۱۴۰۳ کال کې ۴.۸۳ میلیونه متریک ټنه غنم تولید شوي»، اکتوبر ۲۲, ۲۰۲۴، لاسرسی:https://rta.af/article5731 / [مراجعه: ۲/عقرب/۱۴۰۳]

[23] Filippo De Danieli .«Beyond the drug-terror nexus: Drug trafficking and state-crime relations in Central Asia»,(.) , available at: https:// www .sciencedirect.com/science/article/abs/pii/S0955395914000164 [accessed:11/12/2024]

[24] Shehryar fazli.(the impact of Afghanistan's drug trade on its neighbors, the case of Pakistan, Iran and Tajikistan),serious organized crime &anti – corruption evidence , November 2023, p 24.

[۲۵] جی بلانک، استفان. آسیای مرکزی بعد از ۲۰۱۴، ترجمه: سید حسن میر فخرائي، دانشگاه علامه طباطبايي: تهران، ۱۳۹۵، ص ۱۷.

[26] Erica Marat, Gulzat Botoeva. Drug Trafficking, Violence and Corruption in Central Asia, May 2022, available :https:// www .birmingham .ac.uk/documents/college-social-sciences/government-society/publications/drug-trafficking-violence-and-corruption-in-central-asia-research-paper.pdf [accessed:10/12/2024]

[27] Syed Fazl-e-Haider. «Central Asia Cracks Down on Drug Trafficking», Eurasia Daily Monitor Volume: 21 Issue: 58,April 16/ 2024, available at: https://jamestown.org/program/central-asia-cracks-down-on-drug-trafficking/[accessed:10/12/2024]

[28] Unodc.org,(A knowledge-based approach to tackling Afghanistan's drug abuse crisis), available: https:// www .unodc .org/ roca/ Multimedia/a-knowledge-based-approach-to-tackling-afghanistans-drug-abuse-crisis.html[accessed:3/9/2025]

[۲۹] خبرگزاری افق. «نگرانی کشورهای مشترک‌المنافع از ادامه قاچاق مواد مخدر افغانستان»، ۴ قوس ۱۴۰۲، دسترسی:https://ufuqnews.com/archives/221049 [مراجعه: ۱۴۰۳/۷/۱۱]

څېړنوال ضياالحق ضيا

# د افغانستان له پولو تېرېدونکو اوبو حقوقي وضعيت څېړنه


## لنډيز

له پولې تېرېدونکې اوبه د خوړو اوبو له سترو منابعو څخه بلل کېږي، دا اوبه دوو يا څو هېوادونو له سياسي سرحدونو تېرېږي او يا د دوی ترمنځ سياسي سرحدونه جوړوي چې د ډنډونو او سيندونو د حوزو په شکل شتون لري، له سرحده اوښتونکې اوبه په نړیواله کچه د هېوادونو ترمنځ د شخړو او ستونزو لاملېږي، د دې ډول شخړو د مخنيوي او له سرحده د اوښتونکو سيندونو د مديريت لپاره په بين المللي کچه يو شمېر حقوقي قواعد رامنځ ته شوي دي؛ خو دا چې ډېری يې الزامي بڼه نه لري؛ دا مسئله د هېوادونو ترمنځ خپلمنځې هوکړو ته پرېښودل شوې چې حقوقي وضعيت يې هم په دې هوکړو پورې اړه لري.

افغانستان هم د آسيا په کچه ستر سيندونه لري؛ خو له کم شمېر پرته يې ټول ګاونډيو هېوادونو ته بهېږي چې يواځې د هلمند سيند د اوبو د وېش په اړه له ايران سره هوکړه لري او د نورو سيندونو د اوبو د وېش او اندازې په اړه له ګاونډيو هېوادونو سره هوکړې نه لري او نه يې هم په دې اړه د کوم بين المللي کنوانسيون غړيتوب اخيستی؛ نو دې ډول حالاتو ته په کتو دا پوښتنه راپيدا کېږي چې د افغانستان له سرحده اوښتونکو سيندونو حقوقي وضعيت څه ډول دی؟ او د کوم ډول حقوقي رژيم تابع دي؟ په دې مقاله کې دغو پوښتنو ته د ځواب لپاره هڅه شوې، په څېړنه کې له توصيفي ـ تحليلي مېتوده استفاده شوې ده او ډول يې کتابتوني دی.



## کليدي کلمې

له سرحده تېرېدونکي سيندونه، هليسنګي قواعد، برلين قواعد، ملګري ملتونه، افغانستان.


## سريزه

د ۲۱ پېړۍ يو له سترو ننګونو څخه د هېوادونو ترمنځ له سرحده د تېرېدونکو اوبو د ګټه اخيستنې ډول او مديريت دی، دغه اوبه چې په ۲٦۳حوزو کې بهېږي؛ د نړۍ د ټولو سيندونو ٦۰ سلنه جوړوي او په خپلو حوزو کې يې د نړۍ ۴۰ سلنه نفوس ته ځای ورکړی

دی، له سرحده تېرېدونکو سیندونو څخه ګټه اخیستنه د دوه اړخیزو او څو اړخیزو هوکړو او تړولو دولتونو له خوا د یوه بین المللي منل شوي حقوقي رژیم د نه شتون له امله له سترو ننګونو سره مخ شوې ده چې له امله یې د هېوادونو ترمنځ د ټکرونو د زیاتېدو لامل شوې ده؛ له بلې خوا پر دغو ننګونو سربېره د نفوس ډېرېدلو، صنعتي کېدلو، ښاري کېدلو، د ژوند چاپېریال د تخریب او اقلیمي او هیډرولوژیکي بدلونونو ته ورته ننګونو له امله د نړۍ په ګوټ ګوټ کې وګړي په انفرادي او ډله ییز ډول له سترو ستونزو سره مخ شوي دي.

د خوړو او روانو اوبو د کموالي او نه مدیریت په دا ډول سختو نړیوالو شرایطو کې افغانستان د خپلو غرونو له برکته د آسیا په کچه د سیندونو سترې ځانګې لري؛ خو د دې سترو سیندونه له پنځو اوبییزو حوزو څخه یې یواځې یوه حوزه په بشپړ ډول د هېواد په داخل کې بهېږي او د پاتې څلورو حوزو اوبه یې له سرحدونو بهر وځي او ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي چې په اړه یې د ملي ګټو په پام کې نیولو سره، دوه اړخیزو هوکړو او بین المللي قواعدو په چوکاټ کې د حقوقي وضعیت څېړل یوه اهمیت لرونکې څېړنیزه موضوع او مبرمه اړتیا بلل کېږي.

همدې اړتیا ته په کتو دا موضوع د یوې مقالې په چوکاټ کې د څېړنې لپاره غوره شوې ده چې په لومړي سر کې به له سرحده د اوښتونکو اوبو په اړه په بین المللي کچه پر رامنځ ته شوي حقوقي قواعدو رڼا واچول شي او بیا به د افغانستان له سرحدونو اوښتونکو اوبو حقوقي وضعیت تر جلا جلا عنوانو لاندې تر بحث او څېړنې لاندې ونیول شي.

## د موضوع اهمیت

د افغانستان یو له ډېرو ارزښتناکو طبیعي منابعو څخه خوږې او روانې اوبه دي، دا چې د افغانستان د روانو اوبه ډېره برخه له هېواده بهر وځي او کله ناکله له ګاونډیو هېوادونو سره د ستونزو د رامنځ ته کېدو سبب کېږي؛ نو په اړه یې د څېړنې ترسره کول او د حقوقي وضعیت روښانه کول یو له اهمیت لرونکو څېړنیزو موضوعاتو څخه بلل کېږي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه د افغانستان له سرحده د تېرېدونکو اوبو د حقوقي وضعیت څېړل او په دې اړه پر شته بین المللي قواعدو رڼا اچول دي.

## د څېړنې پوښتنه

د افغانستان له سرحده تېرېدونکې اوبه د څه ډول حقوقي وضعيت لرونکې دي او ايا دا اوبه د کوم حقوقي رژيم تابع دي؟

## فرضيه

ويلای شو چې د هلمند له سيند پرته چې حقوقي وضعيت يې د ۱۹۷۳ز. د تړون تابع دی، د افغانستان له سرحده تېرېدونکي نور سيندونه د کوم حقوقي رژيم تابع نه دي؛ بلکې هر يو يې د جلا حقوقي وضعيت لرونکی دی.

## له سرحده اوښتونکي سيندونه او شريکې اوبه

د ځمکې کره له څلورو يې درې برخې اوبو نيولې چې ۰،۰۰۰۰۰٦ سلنه يې خوږې او پاتې اوبه يې تروشې او مالګينې دي. د ځمکې خوږې اوبه ۰،۲٦ سلنه د انسانانو د ګټې اخيستنې وړ دي[۱]، د خوږو اوبو يو له ډېرو سترو منابعو څخه له سياسي سرحدونو تېرېدونکې يا د دوو يا څو هېوادونو ترمنځ شريکې او بين المللي اوبه دي. دا اوبه هغو اوبو ته ويل کېږي چې د دوو يا زياتو هېوادونو ترمنځ د ځمکې لاندې، ډنډونو او د سيندونو د حوزو په شکل شريکې وي[۲]، له سرحده د اوښتونکو ډنډونو او سيندونو ۲٦۳حوزو(په ځينو منابع کې ۲۷٦ښودل شوې) څه ناڅه د ځمکې نيمه سطح نيولې[۳]؛ په دغو حوزو کې په ۱۴۵هېوادونو کې تر ۳ ميلياړده خلک ژوند کوي[۴]؛ دا حوزې د نړۍ د خوږو اوبو ۴۵ او د ټولو سيندونو ٦۰ سلنه اوبه جوړوي[۵]، دا سيندونه له يوه هېواده بل ته بهېږي يا د دوو هېوادونو ترمنځ ګډ سرحد جوړوي، يو له دغو هېوادونو افغانستان دی چې خپل ټول ستر سيندونه يې له هېواده بهر وځي او ګاونډيو هېوادونو ته بهېږي.

دا ډول سيندونه د اوبو بهېدو ته په کتو په دايمي، موسمي او موقتي سيندونو وېشل کېږي، دايمي سيندونه ټول کال يا لږ تر لږه په کال کې ۹۰ سلنه اوبه لري، موسمي سيندونه د بارانونو په موسم يا د واورو د ويلېکېدو په وخت کې اوبه لري او بهېږي او د کال په نورو برخو کې وچ وي، موقتي سيندونه له هر باران سره څو ساعته يا څو ورځې اوبه لري او بيا وچېږي، د سيندونو په يوې سترې شبکې کې معمولاً دا درېواړه سيندونه شتون لري، وړې څانګې عموماً موقتي، فرعي څانګې موسمي او سترې او اصلي څانګې دايمي وي[٦].

پر دغه وېش سربېره، د بين المللي حقوقو له نظره سيندونه په داخلي او بين المللي وېشل کېږي. داخلي يا ملي سيندونه چې د يوه هېواد له داخله سرچينه اخلي او په هماغه

هېواد کې بهېږي او له سرحدونو څخه یې بهر نه وځي. دا ډول سیندونه له حقوقي پلوه د همدې هېواد د قوانینو تابع دي او په بشپړ حاکمیت کې یې راځي. بین المللي یا له سرحدونو اوښتونکي سیندونه هغه سیندونه دي چې له دوو یا څو هېوادونو تېرېږي او یا دوه یا څو هېوادونه له یو او بل څخه جلا کوي او سرحد یې جوړوي. دا ډول سیندونه هم په دوه ډوله وېشل کېږي: سرحدي سیندونه او متوالي سیندونه. سرحدي هغه دي چې د دوو یا څو هېوادونو ترمنځ ټول سرحد یا د سرحد یوه برخه جوړوي، لکه د افغانستان، ایران او ترکمنستان ترمنځ هریرود سیند. متوالي سیندونه له څو هېوادونو سرچینه اخلي او له یو او بل سره له یو ځای کېدو وروسته د دوو یا څو هېوادونو له خاورې تېرېږي[۷].

له دغه ډول اوبو څخه د ګټې اخیستنې لپاره بېلابېل حقوقي قواعدو او نظریات رامنځ ته شوي دي، په لومړیو کې له دې ډول سیندونو څخه د کښتۍ چلولو په اړه قواعدو او معاهدو ته زیات پام کېده؛ خو د وخت په تېرېدو د کښتۍ چلولو قواعدو و نه شو کړای چې له سرحدونو تېرېدونکو سیندونو څخه د ګټې اخیستنې ټولو اړخونو ته رسېدنه وکړي، همدا و چې په دې اړه بېل نظریات او قواعد رامنځ ته شول چې په لاندې توګه یې تر بحث لاندې نیسو:

## له سرحده د اوښتونکو سیندونو په اړه بین المللي حقوقي قواعد

که څه هم چې د شریکو اوبو په اړه معاهدې ډېرې پخوانۍ دي، خو د اوبو اوسنی مقررات تېرو دوو پېړیو ته ورګرځي، هغه داچې د اوبو د بین المللي قوانینو پراختیا له ۱۸۷۰لسیزې نه چې د بین المللي حقوقو دوه بنسټونه (د بین المللي حقوقو ټولنه International Law Association (ILA) او د بین المللي حقوقو مؤسسه Institute of International Law (IIL)) په کې جوړ شول، پیل شوه او تر نن ورځې پورې روانه ده[۸]. دغو دواړو حقوقي سازمانونو له سرحده د اوښتونکو اوبو د ګډې کارونې او مدیریت لپاره ګڼې هڅې وکړې او داسې قواعد یې رامنځ ته کړل چې په دې برخه کې د اوسني بین المللي حقوقي رژیم له منابعو څخه بلل کېږي او د ملګرملتونو په اړوند کنوانسیون او دوه اړخیزو او څو اړخیزو معاهدو کې استناد پرې کېږي.

که څه هم چې په شریکو سیندونو کې د کښتۍ چلولو د حقوقي مسائلو بیانول له ۱۰ مې میلادي پېړۍ پیل شوي، هغه وخت په سیندونو کې د کښتۍ چلولو ډېر اهمیت لاره او په دې اړه د هېوادونو ترمنځ هوکړې آسانه ترسره کېدې، خو د علم او تکنالوژۍ په پرمختګ سره له سیندونو نورې کارونې هم زیاتې شوې (د برېښنا تولید، د کرنیزې کارونې پراختیا...) چې په اړه یې د نویو قواعدو رامنځ ته کېدو ته اړتیا پیدا شوه، د ګټې اخیستنې

زياتېدو ته په پام سره له شريکو سيندونو څخه د ګټې اخيستنې په اړه بين المللي قوانين په دوو ډولونوووېشل شول: په بين المللي سيندونو کې د کښتۍ چلولو بين المللي قوانين او په بين المللي سيندونو کې له کښتۍ چلولو پرته د نورې ګټې اخيستنې بين المللي قوانين. د بين المللي ټولنو، مؤسيسو او سازمانونو پر هڅو سربېره، له بين المللي سيندونو څخه د ناکښتۍ چلولو استفادې په اړه تر اوسه يو داسې قانون چې د نړۍ ټولو هېوادونو ته د منل وړ وي؛ نه دی رامنځ ته شوی، که څه هم چې د ملګروملتونو کنوانسيون له بين المللي سيندونو د ناکښتۍ چلولو د ګټې اخيستنې لپاره د قانون په توګه اجرا ته وړاندې شوی، خو تر دې مهاله کم شمېر هېوادونو لاسليک کړی دی.

لکه څرنګه چې پورته يادونه وشوه، له سرحده اوښتونکو اوبو څخه د ناکښتۍ چلولو په اړه قواعدو له تېرو دوو پېړيو څخه پراختيا موندلې ده چې په دې کې دوو سازمانونو ډېره برخه لرله (د بين المللي حقوقو ټولنه او د بين المللي حقوقو مؤسسه)، له دوی سره په څنګ کې ملګروملتونو هم خپلې هڅې کړي او په دې اړه يې يو کنوانسيون جوړ کړی، د دوی د هڅو په پايله کې له سرحده د اوښتونکو يا شريکو اوبو د حقوقي وضعيت په اړه څلور معتبر بين المللي قواعد رامنځ ته شوي دي:

۱) د هيلسنکي قواعد ۱۹٦٦ز. او له بين المللي سيندونو څخه د ناکښتۍ چلولو په اړه د بين المللي حقوقو د مؤسسې (IIL) او د بين المللي حقوقو د انجمن (ILA) نور پرېکړه ليکونه.

۲) له سرحده د اوښتونکو سيندونو او بين المللي سمندرګيو څخه د استفادې په اړه د ۱۹۹۲ز د اروپا د اوبو کنوا نسيون.

۳) له بين المللي سيندونو څخه د ناکښتۍ چلولو په اړه د ملګرو ملتونو کنوانسيون، ۱۹۹۷ز.

۴) د اوبو د منابعو په اړه د برلين قواعد ۲۰۰۴ز.

## د ۱۹٦٦ز. هيلسنکي قواعد

د بين المللي حقوقو مؤسسه (IIL) او د بين المللي حقوقو ټولنه (ILA) دوه نادولتي علمي سازمانونه دي چې په ۱۸۷۳ز. کې جوړ شوي او د بين المللي حقوقو په بېلابېلو برخو کې فعاليت کوي. د دې دواړو بنسټونو له خوا صادر شوي پرېکړه ليکونه او قواعد د بين المللي حقوقو فرعي منابع جوړوي او د حقوقي قواعدو په رامنځ ته کولو کې کارېږي، دا قواعد په خپل ځان کې له قانوني پلوه الزامي نه دي؛ خو هغه کنوانسيونونه او معاهدې

چې له دوی راوتلې د هېوادونو په لاسلیک او تصویب سره لازم الاجرا کېږي، د بین المللي حقوقو د مؤسسې (IIL) د پرېکړه لیکونو محوریت، له سرحده د اوښتونکو اوبو د حوزې نورو هېوادونو ته د پام وړ زیان نه رسولو ته ژمنتیا ده چې لومړی پرېکړه لیک یې د مادرید اعلامیې په نوم یادېږي او په ۱۹۱۱ز. کې تصویب شوی دی، دا پرېکړه لیک هغه فعالیتونه چې د حوزې نورو هېوادونو ته زیان رسوي په بشپړ ډول منع کوي. دا اعلامیه د هارمون (۱۸۹۵ز) له اصولو سره په بشپړه توګه په ټکر کې ده. دا چلند د همدې موسسې IIL د سالزبورګ د پرېکړه لیک پر اساس چې په ۱۹٦۱ز کې تصویب شو؛ محدود شو، دې پرېکړه لیک هم نورو هېوادونو ته د زیان نه رسولو پر ژمنتیا ټینګار کاوه؛ خو د هغه هېواد د ګټې اخیستنې حق یې د شریکو سیندونو له اوبو څخه د حوزې نورو هېوادونو د ګټې اخیستنې حق ته په پام محدوداوه، پر دې اساس د مادرید د اعلامیې بشپړ منعوالی تر یوه حده د سالزبورګ په پرېکړه لیک سره اسانه شو. دا په داسې حال کې ده چې د ILA له خوا تصویب شوي قواعد او پرېکړه لیکونه د IIL له خوا له تصویب شوو قواعدو سره توپیر لري، د ILA له خوا په بین المللي سیندونو کې د منصفانه او معقولې ګټې اخیستنې پر اصل ټینګار شوی، لومړنی پرېکړه لیک چې د دوبرونیک بیانیه بلل کېږي؛ د ILA له خوا په ۱۹٥٦ز. صادر شو. د دې پرېکړه لیک پر اساس هر هېواد په خپله خاوره کې د بین المللي سیند له اوبو څخه د استفادې حق لري؛ خو د دې استفادې څرنګوالی به د حوزې پر نورو هېوادونو د اغېزو په پام کې نیولو سره وي.

هغه چلند چې د دوبرونیک په پرېکړه لیک پیل شو، د نیویارک په پرېکړه لیک سره چې د ILA له خوا په ۱۹٥۸ز. کې خپور شو، اصلاح شو. دا پرېکړه لیک څرګندوي چې د حوزې هر دولت د یوې بین المللي اوبوییزې حوزې له اوبو څخه د منصفانه او معقولې ګټې لپاره کار اخیستلای شي. په همدې لړ کې، د ۱۹٦٦ز. په اګست کې ILA په خپله ٥۲ ناسته کې چې د فینلنډ په هیلسنکي ښار کې جوړه شوه، د بین المللي سیندونو د اوبو د کارولو په اړه د خپلو څېړنو پایلې وړاندې کړې چې د هیلسنکي د قواعدو په نوم یادې شوې، د هیلسنکي قواعد په چټکۍ سره په شریکو یا له سرحده په اوښتونکو اوبو کې په عرفي بین المللي حقوقو کې د معتبرې منبع په توګه د استناد وړ وګرځېدل چې ٦ فصله او ۳۷ مادې یې لرلې[۹].

دغو قواعدو په ۱۹٦٦ز. کې د ځمکنې محدود حاکمیت د نظریې بشپړه بڼه وړاندې کړه. سره له دې چې دا قواعد له قانوني پلوه د هېوادونو لپاره الزامي نه وو؛ خو د اوبو د

بین المللي حقوقو په پرمختګ کې یې ډېر اغېز لاره او له سرحده د اوښتونکو اوبو په بین المللي عرفي حقوقو کې د معتبرې منبع په توګه استناد پرې کېده. دا قواعد پر دوو مهمو اصلونو ولاړ وو: د یوې بین المللي حوزې له اوبو د ټولو هېوادونو د استفادې د حق اصل او د بین المللي حوزې له اوبو د معقولې او منصفانه کارولو اصل. د نامستقیم زیان نه رسولو د الزاموالي اصل یې د معقولې او منصفانه کارونې په ۱۱ عاملو کې راوستلی و. د دې قواعدو له څلورمې مادې سره سم د یوې شریکې یا له سرحده د اوښتونکو حوزې له اوبو معقول او منصفانه برخه باید په ګټوره توګه وکارول شي او د دې لپاره دا کارول باید له اقتصادي او ټولنیز پلوه ګټور وي.

## د ۱۹۹۲ز. اروپا د اوبو کنوانسیون

اروپا لپاره د ملګروملتونو اقتصادي کمېسیون (UNECE) د دې سازمان یوه له پنځو سیمه ییزو کمیسیونونو څخه دی چې د اروپا، شمالي امریکا، مرکزي آسیا او فلسطین د اقتصادي، چاپېریالي او صنعتي ستونزو او مسایلو د حل او څېړلو لپاره فعالیت کوي. له ۱۵۰ زیات ستر سیندونه د دې کمیسیون د فعالیت په سیمه کې راځي. د کمېسیون د فعالیت په ساحه کې له سرحده د اوښتونکو اوبو ډېروالي او په اړوندو سیندونو کې د اوبو د کیفیت لویو ستونزو ته په پام سره، دې کمیسیون له سرحده د اوښتونکو سیندونو او بین المللي سمندرګیو د ساتنې او ګټې اخیستنې کنوانسیون د هیلسنکي د قواعدو پر اساس تنظیم او د ۱۹۹۲ز. د مارچ پر ۱۷ مه یې په هیلسنکي کې تصویب کړ. دا کنوانسیون په ۱۹۹٦ز. کې لازم الاجرا شو او په ۲۰۰۳ز. کې په اصلاح شوي شکل د UNECE له محدودې بهر او د نورو هېوادونو د غړیتوب لپاره هم پرانېستل شو چې تر دې مهاله یې ۳۹ هېوادونو غړیتوب اخیستی دی[۱۰].

د اروپا د اوبو د ۱۹۹۲ز. کنوانسیون که څه هم د هیلسنکي د قواعدو پر اساس تنظیم شوی، خو پر هغه حاکم چلند د هیلسنکي د اصلي قواعدو له غوښتنو لرې او په بین المللي سیندونو کې د هېوادونو پر مشارکت راڅرخېږي چې د سرحدي اوبو له منابعو پایداره ګټه اخیستنه، چاپېریال ساتنې موارد په پام کې نیول، د سېلابونو کابو کول او خبرتیا په کې راځي، که څه هم چې د منصفانه او معقولې ګټې اخیستنې موضوع یې یواځې په دویمه ماده کې راغلې؛ خو په اروپایي هېوادونو کې د اوبو د کیفیت موضوع، د ژوند چاپېریال او سېلابونه یې د شریکو یا له سرحده د اوښتونکو اوبو د بحث سترې برخې جوړوي.

## د ملګروملتونو د ۱۹۹۷ز. کنوانسیون

په ۱۹۵۹ز. کې بولیویا د ملګرملتونو عمومي اسمبلۍ ته وړاندیز وکړ چې له بین المللي سیندونو څخه د ګټې اخیستلو قانوني ستونزې وڅېړي. په ۱۹۶۳ز. د عمومي منشي له راپور وروسته، عمومي اسمبلۍ توصیه وکړه چې د بین المللي حقوقو کمیسیون (ای ایل سي) دې په بین المللي سیندونو کې د ناکښتۍ چلولو استفادې حقوق وڅېړي، په ۱۹۷۰ز. کې عمومي اسمبلۍ د بین المللي سیندونو اړوند د بین المللي حقوقو د قواعدو د لیکلو او تدریجي پرمختګ تر عنوان لاندې یو پرېکړه لیک تصویب کړ، د دې پرېکړه لیک پر اساس د بین المللي حقوقو کمیسیون د بین المللي سیندونو د څېړلو پر موضوع پیل وکړ. د کمېسیون فعالیتونه په ۲۰ کلونو کې د پنځو ځانګړو راپور ورکوونکو له خوا مدیریت شول او دوو نادولتي حقوقي بنسټونو (د بین المللي حقوقو ټولنې او بین المللي حقوقو مؤسسې) په دې څېړنو کې اغېزناک نقش ترسره کړ، دغه کمیسیون په ۱۹۹۱ز. کې په بین المللي سیندونو کې د ناکښتۍ چلولو استفادې د حقوقو تر عنوان لاندې د دوو اصلونو پر اساس [له شریکو اوبو معقوله او منصفانه استفاده او د سیندونو په څنګ کې نورو هېوادونو ته د جدي زیان نه اړولو التزام] خپله لومړنۍ مسوده برابره کړه، دا مسوده په ۱۹۹۴ز. کې عمومي اسمبلۍ ته وړاندې شوه او په ۱۹۹۷ز. کې د اصلاحاتو له راوستلو وروسته له بین المللي سیندونو څخه د ناکښتۍ چلولو استفادې کنوانسیون تر عنوان لاندې د ملګروملتونو غړو هېوادونو ته د لاسلیک لپاره وړاندې شوه چې بلاخره په ۲۰۱۴ز. کې د موافقو هېوادونو د نصاب په پوره کېدلو سره لازم الاجرا شوه[۱۱] او د ۲۰۱۷ز. تر فبروري ۱٦ هېوادونو لاسلیک او ۳٦ هېوادونو یې غړیتوب ترلاسه کړ[۱۲].

په دې کنوانسیون کې په دغو کلي اصولو ټینګار شوی: د شریکو سیندونو له اوبو څخه د معقولې او منصفانه ګټې اخیستنې اصل، د سیندونو ښکته خوا هېوادونو ته د پام وړ زیان نه رسولو اصل ته ژمنتیا؛ د شریک سیند ساحلي هېوادونو سره پر هغه باندې د نویو پروژو د جوړولو پر مهال د مشورې او اطلاع رسولو د اصل په پام کې نیول؛ د سیمې د چاپېریال ساتنې اړوندو مسایلو په پام کې نیولو اصل؛ له نښتو څخه د مخنیوي او خپلمنځني اختلافونو په سوله ییز حل کې د همکارۍ اصل[۱۳]، دې کنوانسیون د ځمکني محدود حاکمیت نظریې په خپلولو او د هیلسنکي د قواعدو پر بنسټ د بین المللي سیندونو لپاره قوانین وضع کړل او په قواعدو کې یې د منصفانه او معقولې استفادې له اصله ملاتړ وکړ. په ورته مهال غړي هېوادونه د پام وړ زیان نه اړولو د التزام په برخه کې د حوزې ټولو هېوادونو ته ژمن شول. په واقعیت کې ۱۹۹۷ز.

کنوانسيون د روښانه لومړيتوب له ټاکلو پرته دوه جلا مادې د دوو متضادو اصلونو په پام کې نيولو سره تصويب کړې او همدا موضوع د حقوقپوهانو ترمنځ د نظر د اختلاف سبب شوه.

د وتلي نړيوال حقوقپوه تن زي په خبره، د کنوانسيون په اړه د ترسره شويو بحثونو لويه برخه، د دې موضوع په اړه وه چې د منصفانه او معقولې استفادې اصل ته يا د زيان نه رسولو اصل ته لومړيتوب ورکړل شي. د بين المللي حقوقو د کمېسيون د دويم راپور ورکوونکي له نظره منصفانه استفاده په لومړيتوب کې راتله، خو درېيم راپور ورکوونکی د جدي زيان نه رسولو پر لومړيتوب ټينګار کاوه، بل حقوقپوه خصاونه په دې نظر و چې د زيان نه رسول بايد په لومړيتوب کې راشي، په داسې حال کې چې دلاپنا د منصفانه استفادې پر لومړيتوب ټينګار کاوه، نړيوال بانک چې پر بين المللي حقوقو حاکم اصول بايد په خپلو هغو پروژو کې چې مالي ملاتړ يې کوي؛ تعقيب کړي، د منصفانه استفادې اهميت په تيوري کې په رسميت پېژني؛ خو په عمل کې د پلي کېدو اسانتيا ته په کتو زيان نه رسولو اصل په پام کې نيسي او هغه پروژې چې د زيان رسولو لاملېږي؛ د حوزې د ټولو هېوادونو له تصويب پرته له مالي اړخه نه تأمينوي.(۱۴)

په لومړي نظر کې داسې ښکاري چې د کنوانسيون مادې د ښکته خوا هېوادونو په ګټه تنظيم شوې دي؛ په داسې توګه چې پورته خوا هېوادونو لکه ترکيې له دې کنوانسيون سره ښکاره مخالفت کاوه او سوريې ته ورته ښکته خوا هېوادونو يې هرکلی کاوه، ولې وروسته د سيند پورته خوا هېوادونو په کنوانسيون کې پر منصفانه کارولو ټينګار کاوه؛ دا چې دا اصل اوسنيو اړتياو ته داسې ارزښت ورکوي لکه پخوانيو اړتياو چې لاره او که څه هم چې د پام وړ زيان نه رسولو اصل چې عموماً په ښکته خوا هېوادونو کې د مخکښنی ګټې اخيستنې د لومړيتوب په معنا و؛ د دې لامل کېده چې د پورته خوا هېوادونو د معقولې ګټې اخيستنې پر وړاندې خنډونه جوړ کړي، په داسې حال کې چې د پخوانی ګټې اخيستنې بشپړ لومړيتوب د منصفانه او معقولې ګټې اخيستنې له اصل سره په ټکر کې و او د انصاف اصل ضرور نه دی چې تل دې مخکښنی ګټې اخيستنې ته لومړيتوب ورکوي، شته ګټه اخيستنه يو له داسې عواملو ده چې بلاخره به د ګټې اخيستنې منصفانوالی او معقوليت ټاکي.

که څه هم چې د ۱۹۹۷ز. پر کنوانسيون ترسره شوې څېړنې تر ډېره حده د دې دوو اصلونو ترمنځ پر اړيکو متمرکزې شوې دي؛ خو مک کافري د ای ايل سي د ځانګړي راپور ورکوونکي په توګه د ملګروملتونو د ۱۹۹۷ز. د کنوانسيون په ليکلو کې څرګنده کړې چې

که څه هم د زیان نه رسولو اصل د یوه مستقلې قاعدې او معیار په توګه ارزښت لري؛ خو د یوه بشپړ معیار بیانوونکی نه دی او نه شي کولای چې د منصفانه استفادې د اصل ځای ونیسي، که څه هم چې داسې ښکاري چې دا دوه له یو او بل سره په ټکر کې دي؛ خو په واقعیت کې د زیان نه رسولو اصل د منصفانه استفادې د اصل لپاره د بشپړوونکي نقش ترسره کوي او د شریکو ګټو هېوادونو ترمنځ د بحث لامل ګرځي او شاید هم په اغېزناکه توګه وکولای شي د جدي زیانونو ځانګړي ډولونه تحریم او منع کړي[۱۵].

باید ووینو چې د دې کنوانسیون احکام په ځانګړې توګه پنځمه ماده چې د معقولې او منصفانه استفادې په اړه، اوومه ماده د زیان نه رسولو د مکلفیت په اړه او اتمه ماده د همکاریو لپاره د هېوادونو د عمومي مکلفیت په اړه او دولسمه ماده د هغو پلان شویو تدابیرو په اړه خبر ورکول دي چې بدې احتمالي اغېزې لري، څه ډول افغانستان ته ورته د پورته خوا هېوادونو له خپلو اوبو څخه د ګټې اخیستنې لارې پرانېستلی شي.

## د ۲۰۰۴ز. برلین قواعد

د بین المللي حقوقو ټولنې (ILA) د اوبو د منابعو کمېټې پر نویو قواعدو د یو شمېر غونډو او کار په بهیر کې، د ۲۰۰۴ز. په اګست کې په برلین کې د ILA په ۷۱ کنفرانس کې د قواعدو یوه نوې ټولګه تصویب کړه چې د برلین د قواعدو په نوم یاده شوه[۱۶]، د برلین قواعد ډېر جامع او مفصل دي چې ۷۳ مادې او ۱۴ فصلونه لري او د اوبو د منابعو اړوند ډېرو داسې مسایلو ته پوښښ ورکوي چې د هیلسنکي قوعدو او د ۱۹۹۷ز. کنوانسیون په پام کې نه دي نیولي[۱۷]، دا قوانین د اوبو د مسائلو د مدیریت (د ملي او بین المللي) لپاره د استناد او استفادې وړ دي، پر دې سربېره دا قوانین د منصفانه او معقولانه استفادې د اصل او د نورو هېوادونو خاورې ته د زیان اړولو منعوالي اصل ترمنځ اړیکه څېړي[۱۸].

د برلین قواعد چې د هیلسنکي د قواعدو په بشپړولو کې د بین المللي حقوقو د ټولنې د کار پایله وه، د هیلسنکي د قواعدو پرخلاف د سرحدي اوبو له ځانګړي حالت څخه بهر شوي او د اوبو ټولې منابع (که سرحدي وي یا نا سرحدي، سطحي وي یا ځمکې لاندې) تر پوښښ لاندې رانیسي. د برلین په قواعدو کې، پر دې سربېره چې په ۱۶مه ماده کې د زیان نه رسولو اصل په جلا ډول راغلی دی، په ۱۲مه ماده کې نورو هېوادونو ته د پام وړ زیان نه رسولو التزام، د منصفانه او معقولې استفادې لپاره د هېوادونو حق ته په پام سره، محدود شوی دی. د دې هر یوه اصل محدودول په بل اصل سره، د برلین په قواعدو کې د دې دوو اصلونو د برابري بیانوونکی دی او د هلیسنګي له قواعدو سره ستر بدلون رانښیي

چې معقوله او منصفانه استفاده د اصلي قاعدې په توګه بولي او د ملګروملتونو د کنوانسیون په پرتله هم چې د پام وړ زیان نه رسولو ته ژمنتیا د معقولې او منصفانه استفادې د اصل لاندې بولي، ډېر توپیر لري. یو شمېر کارپوهان په دې نظر دي چې د برلین قوانینو په دوو جلا مادو کې د ذکر شوي اصل په بیان سره د منصفانه استفادې اصل د زیان نه رسولو د اصل تابع بولي او د هیلسنکي د قواعدو پر خلاف یې عمل کړی دی. پر دې اساس، د برلین قواعدو د دې دوو اصلونو ترمنځ د اړیکو د روښانه کولو پر ځای شته پېچلتیا لا ډېره کړې ده[۱۹].

## د افغانستان له سرحده اوښتونکو سیندونو حقوقي وضعیت

افغانستان د اوبو له پلوه په پنځو حوزو وېشل شوی، له دغو پنځو حوزو څخه یې یواځې د شمال حوزه په بشپړ ډول داخلي ده او اوبه یې له هېواده بهر نه بهېږي او د پاتې څلورو حوزو سیندونه (د پنج ـ امو حوزه، هریرود حوزه، د هلمند حوزه او د کابل حوزه) یې ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي او یو شمېر یې له ګاونډیو هېوادونو سره ټول یا د سرحد یوه برخه جوړوي(لکه د امو سیند، هریرود سیند او د هلمند سیند) چې د سرحدي سیندونو په نوم هم یادېدلای شي.


د افغانستان یاد شوي ټول سیندونه هوکړو، تړونونو او حاکمو قواعدو ته په کتلو سره یو ډول حقوقي وضعیت نه لري، امو سیند تر ډېره پورې د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د شویو هوکړو پر اساس جلا حقوقي وضعیت لري، سره له دې چې د اوبو د اندازې په اړه یې تر دې مهاله هوکړه نه ده شوې، شمال حوزه له دې ټولو جلا حقوقي رژیم لري او په بشپړ ډول د داخلي قوانینو تابع ده، د هریردو او کابل سیندونو حوزې څه ناڅه سره ورته حقوقي رژیمونه لري، ځکه د دواړو په اړه له ګاونډیو هېوادونو سره هیڅ ډول هوکړې نه دي شوې او هلمند بیا له حقوقي پلوه د افغانستان له ټولو توپیریزه سیندي حوزه ده چې په اړه یې له ایران سره یو داسې تړون لاسلیک شوی چې تر ډېره پورې یې بېلابېل اړخونه د همدې تړون له لارې حل او فصل شوي او د همدې تړون د مادو په چوکاټ کې دا حوزه د یوه حقوقي رژیم تابع ګرځېدلې ده.

## د کابل سیند اوبیزې حوزې حقوقي وضعیت

د کابل سیند د اوبو حوزه ۹ سیندونه لري چې ټول یې د ډیورنډ کرښې ختیځ لوري ته بهېږي. په دغو ۹ سیندونو کې یې درې سیندونه چې د نورو په پرتله ستر دي خیبرپختونخوا او شپږ چې کوچني دي بلوچستان ته بهېږي، په دې حوزه کې په دواړو هېوادونو کې ۴۳ میلیونه

خلک ژوند کوي او په کلنۍ توګه ۲٦ بیلیونه متره مکعب اوبه لېږدوي، د کابل د اوبو په حوزه کې تر ټولو ستر سیند د کابل سیند دی چې هر کال زیاتې اوبه پکې بهېږي، ۳۴ میلیونه خلکو ته یې ګټه رسېږي او څه ناڅه ۹۲۰۰۰۰ کیلومتره مربع ځمکه تر خپل اوبیز پوښښ لاندې راولي[۲۰]، دې سیند د افغانستان ۱۲ سلنه خاوره تر خپل پوښښ لاندې راوستلې او په کلنۍ توګه د دې هېواد د ځمکې د مخ ۲٦ سلنه اوبه تولیدوي. د کابل سیند ۷۰۰کیلومتره اوږدوالی لري چې ٥٦۰ کیلومتره یې په افغانستان کې بهېږي، د دې هېواد ۳۵سلنه نفوس او ۲۰ سلنه زراعتي ځمکه جوړوي[۲۱].

د کرمې سیند اوبو حوزه له پکتیا پیلېږي، له ډیورنډ کرښې اوړي او کرمې ولسوالۍ ته بهېږي. په دې حوزه کې ۵ اعشاریه ۵ میلیونه خلک اوسي چې ۷۰ سلنه ساحه او ۸۷ سلنه خلک یې له ډیورنډ پورې غاړه پراته دي. د زراعت ټوله ساحه یې ۱۸ سلنه په افغانستان او پاتې یې د ډیورنډ پورې غاړه کې پرته ده، د ګومل سیند اوبیزه حوزه د غزني له جنوب ختیځ څخه پیلېږي او د جنوبي وزیرستان ولسوالۍ ته دننه کېږي او هلته د خیبرپښتونخوا او بلوچستان ترمنځ سرحد جوړوي. جغرافیا ته په کتو سره وړکې حوزه ده او یواځې یې د نفوس ۱ سلنه په افغانستان او پاتې د ډیورنډ کرښې پورې غاړه اوسي او زراعتي ساحه یې هم ۹۸سلنه له ډیورنډ کرښې پورې غاړې ته پرته ده[۲۲]، پاتې شپږ سیندونه چې بلوچستان ته بهېږي د نورو په پرتله په کلنۍ توګه کمې اوبه لري او د سترو سیندونو په ډله کې نه راځي.




د کابل سیند اوبیزه حوزه

Source: Jonathan Lautze, Co-operation in the Afghanistan–Pakistan River Basins,2023,
https://www.cabidigitallibrary.org/doi/full/10.1079/9781800622371.0009

افغانستان او پاکستان د پورته نهو سیندونو د مدیریت په اړه تر اوسه کوم رسمي تړون یا چوکاټ نه دی رامنځ ته کړی؛ خو پاکستان وخت ناوخت په دې اړه خپلې اندېښنې څرګندې کړې دي، د ۲۰۰۳ ز په اګسټ کې د پاکستان د اوبو او انرژۍ وزارت چارواکو ویلي وو چې افغانستان د کابل پر سیند ډیمونه جوړوي چې په پاکستان کې به د اوبو شتون اغېزمن کړي، ناصر راجپوت د پاکستان د اندوس سیند د سیستم د ادارې مشر هم په دې اړه څرګنده کړې وه چې که د کابل پر سیند ستر ډیمونه جوړ شي، موږ به د نویو ډیمونو د جوړولو لپاره هېڅ اوبه و نه لرو، په همدې کال د پاکستان د اوبو او انرژۍ فدرالي وزیر څرګنده کړې وه چې پاکستان تیار دی له سرحده د اوښتونکو اوبو د ښه استعمال لپاره له افغانستان سره د اوبو یوه معاهده وکړي، په ۲۰۰۴ز. کې د پاکستان د اوبو د منابعو د تخنیکي کمېټې مشر له افغانستان سره د اوبو د تړون خبره تکرار کړې وه، نوموړي زیاته کړې وه چې باید د دواړو هېوادونو تر منځ یو تړون وي چې پاکستان وکولای شي د اوبو د ګټې اخیستنې ور اوږدمهالې پروژې پلې کړي[۲۳].

د پاکستان نیشن ورځپاڼې د ۲۰۰۴ز. د مارچ میاشتې پر ۲۴مه راپور ورکړی و چې د کابل، کونړ او د افغانستان نور سیندونه په کلنۍ توګه تقریباً د پاکستان ۲۲ میلیونه متره مکعب اوبه تأمینوي، نو ځکه پاکستان د اړتیا وړ اوبو د تأمین لپاره اړ دی د کابل د اوبو په حوزه کې د هغه په لګښت کې سپما وکړي او د اوبو سترې زیرمې جوړې کړي چې د پاکستان لپاره یې جوړول سخت دي، ځکه له یوې خوا له افغانستان سره رسمي او لیکل شوی حقوقي رژیم نلري او له بلې خوا کافي پانګه نه لري[۲۴]، په ۲۰۱۱ز. اندوس سیند د سیستم ادارې زیاته کړې وه چې دوی پر دې اړتیا ټینګار کوي چې افغانستان او پاکستان باید په دې مسئله کې ښکېل شي، دوی خپل حکومت ته د کابل پر سیند د افغانستان له لوري د ۱۲ ډیمونو د جوړولو د طرحې په اړه اخطار ورکړی و او وړاندیز یې کړی و چې د پاکستان د اوبو د حق په اړه له افغانستان سره د یوه قرارداد د ډېر ژر بشپړېدو لپاره خبرې اترې وکړي، د ۲۰۱۱ز. په نومبر کې د پاکستان د اوبو او انرژۍ فدرالي وزیر اشفاق محمود راپور ورکړی و چې دا د اسلام اباد لپاره سم وخت دی چې له کابل سره کېني او د اوبو یو تړون ورسره لاسلیک کړي، که داسې و نه شي؛ بیا به ډېر ناوخته وي[۲۵].

له دغو هڅو څخه څرګندېږي چې پاکستان کوشش کاوه چې له افغانستان سره د اوبو د مسالې په اړه دوه اړخیزې هوکړې ته ورسېږي؛ خو له مسلسلو غوښتونو سره سره د افغان لوري د مثبت ځواب د نه شتون له امله یې پایله نه لرله.

په ورته مهال نړیوال بانک او د بین المللي پراختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې هم په دې برخه کې د منځګړیتوب وړاندیز کړی و، خو افغان چارواکو ډېره لېوالتیا نه ښودله او څرګنده کړې یې وه چې دوی پوره ډاډمنتیا نلري او ډېر وخت او ظرفیت ته اړتیا لري چې دې ډول خبرواترو ته تیار شي. د امریکا متحده ایالاتو هم خپلې هڅې کړې وې چې افغانستان او پاکستان په دې اړه خبرو اترو ته کېنوي او یوه معاهده رامنځ ته کړي، ترڅو په راتلونکي کې د دوی ترمنځ د شخړو د پېښېدو مخه ونیسي او که د کابل پر سیند بندونه جوړېږي، نو د اوبو پر مسلې د شخړو مخنیوی وکړي[26].

د پاکستاني چارواکو پر مسلسلو هڅو سربېره، افغان لوری هیڅ ډول هوکړې ته حاضر نه شو. له پاکستان سره یې په دې اړه هیڅ ډول حقوقي رژیم یا کوم رسمي سند لاسلیک نه کړ. د دا ډول حقوقي رژیم په نه شتون کې که د کابل سیند ته وکتل شي تر هغه ځای چې کونړ سیند ورسره یوځای کېږي په بشپړ ډول یې مرستندویان او سرچینې د افغانستان دي او د بین المللي حقوقو د منل شوي اصل منصفانه او معقولې ګټې اخیستنې په پام کې نیولو سره افغانان کولای شي د زارعت، د ژوند کچې د لوړوالي او پرمختګ لپاره له دې اوبو ګټه واخلي، زیربناوې پرې جوړې کړي او کومې چې د دوی له اړتیا زیاتې وي د ورورګلوۍ له مخې د ډیورنډ پورې غاړې ولسونو ته ور پرېږدي چې له یوې خوا د بین المللي حقوقي قواعدو د جدي نه زیان رسونې اصل په پام کې نیول شوی وي او له بلې خوا یې خپلې اړتیاوې د منصفانه او معقولې استفادې اصل ته په پام سره پوره کړې وي.

## د امو سیند اوبییزې حوزې حقوقي وضعیت

امو سیند حوزه چې په یوناني کې اکسوس او په عربي کې جیحون ورته ویل کېږي د مرکزي آسیا له اوږدو سیندونو څخه بلل کېږي چې له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د افغانستان سرحدونه او له ازبکستان سره د ترکمنستان سرحدونه جوړوي. په دې حوزه کې د افغانستان ۱۴سلنه خلک اوسېږي او ۲۳سلنه زراعتي ځمکه یې خړوبوي[27]، دا سیند ۲۵۴۰ کیلومتره اوږدوالی لري، د حوزې پراخوالی یې ۳۰۹۰۰۰کیلومتره مربع او د اوبو کلنی اندازه یې ۷۳ اعشاریه ٦ کیلومتره مربع ته رسېږي[28]، د دې سیند اصلي سرچینه د واخان او پامیر اوبه دي. کله چې د واخان اوبه د پامیر له اوبو سره چې له زرکول

نه سرچينه اخلي يوځای شي د پنج سيند جوړوي او کله چې د پنج سيند له کوکچه سيند سره يو ځای شي؛ نو د امو سيند ترې جوړېږي چې لوېديځ لوري ته د خم آب پر لوري حرکت کوي او بيا وروسته د شمال لوري ته د آرال سمندرگي پر لوري بهېږي، دا سيند له ښي لوري له تاجکستان او له کيڼ لوري له افغانستانه سرچينې اخلي(۲۹).




د امو سيند اوبيزه حوزه

Source: Frank A. Ward, Reducing conflict in development and allocation of transboundary Rivers, February 2013, https: //www .tandfonline .com /doi/full/10.1080/15387216.2013.788873

له تاريخي پلوه د امو سيند حقوقي وضعيت د افغانستان د شمالي سرحدونو په ټاکلو پورې اړوند کېږي چې د بريتانوي هند او تزاري روسيې له خوا ښکل شوي دي. تزاري روسيې او بريتانوي هند په ۱۸۷۲ز. کې د ۱۲۰۰کيلومتره په اوږدوالي له زرکول جهيل څخه تر خماب پورې د افغانستان او روسيې ترمنځ سرحد وټاکه. کله چې په ۱۹۱۷ز. کې شوروي اتحاد جوړ شو د افغانستان ځمکنۍ بشپړتيا يې په رسميت وپېژندله او په ۱۹۲۱ز. کې يې له افغانستان سره د دوستي معاهده لاسليک کړه، په دې معاهدې کې شوروي اتحاد ومنله هغه ځمکې چې په سرحدي سيمو کې پرتې دي او په ۱۹پېړۍ کې د افغانستان اړوند وې، بيرته افغانستان ته ورکړي. په ۱۹۴۶ز. د لومړي ځل لپاره د دواړو هېوادونو تر منځ له امو سينده د ګډې گټې اخيستنې په اړه هوکړه وشوه، د دې هوکړې پراساس د سيند منځنۍ کرښه د سرحد په توګه ومنل شوه، دا سرحد له زرکول نه تر خماب پورې په رسميت وپېژندل شو او درقد جزيره د افغانستان شوه. د ۱۹۴۶ز. د قرارداد

په دویمه برخه کې د امو سیند له اوبو څخه د ګټې اخیستنې په اړه راغلي وو: سرحدي اوبه به له داخلي اوبو بېلېږي چې د دې قرارداد تابع نه دي؛ سرحدي اوبه او هغه اوبه چې د امو سیند تر سرحده رسېږي د دې قرارداد تابع دي؛ د سرحدي اوبو استعمال د سرحد تر کرښې پورې د قرارداد د هر لوري لپاره له قید او شرط پرته مجاز دي[۳۰]، د دې پنځه مادیي هوکړې ډېره برخه د جزیرو د مالکیت او سرحد په تړاکلو متمرکزه وه او د سرحد د تړاکلو کار یې کمیسیون ته سپارلی و. له دې هوکړې وروسته په ۱۹۵۸ز. د دواړو هېوادونو ترمنځ یوه بله معاهده لاسلیک شوه. کولای شو دا معاهده د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د امو سیند د حقوقي رژیم د تړاکلو لپاره ډېر مهم سند وبولو. په دې ۵۱ ماده یي معاهدې کې ۴۰ مادې د پنج ـ آمو د حوزې د اوبو د حقوقي رژیم د تړاکلو په اړه وې. دا معاهده په تفصیل سره د دواړو خواوو له لوري له دې سیند نه د ګټې اخیستنې د څرنګوالي په اړه وه، خو پر تفصیل سربېره یې بیا هم د دواړو خواوو د اوبو د کچې د حق په اړه هیڅ اشاره نه وه کړې[۳۱].

په بله معاهده کې چې په ۱۹٦۴ز. کې شوې؛ راغلي وو د افغانستان د پادشاهي حکومت او د شوروي اتحاد حکومت به د ګډ سرحد په اوږدو کې د پنج امو سیند له اوبو او انرژۍ څخه د استفادې د مطالعې په موخه د اوبو لګول، د برېښنایي انرژۍ په تولید، د سیند د حقوقي رژیم په تنظیم او کښتۍ چلولو کې همکاري کوي[۳۲].

پر یادو معاهدو او هوکړو سربېره هغه څه چې د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ په ګوته نه شول او تر نن ورځې پورې و نه تړاکل شول؛ په پنج ـ آمو سیند حوزه کې د افغانستان د اوبو د کچې معلومول دي، که څه هم چې په ۱۹۷۷ز. کې افغانستان د امو له سینده د ۹ کیلومتره مکعب اوبو غوښتونکی شو؛ خو شوروي اتحاد افغانستان ته یواځې د ٦ کیلومتره مکعب اوبو ورکولو ته حاضر شو چې د افغان پلاوي له لوري و نه منل شو او خبرې اترې له کومې پایلې پرته ختمې شوې، که له یوې خوا د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د اوبو د حق اندازه ناحله پاتې شوه؛ نو له بلې خوا په ۱۹۹۱ز. کې د شوروي اتحاد په له منځه تلو او د افغانستان په شمال کې د درېو خپلواکه هېوادونو په جوړېدو سره دا مسئله لا پېچلې شوه، که څه هم چې په دې اړه شوې هوکړې اوس هم د پلي کېدو وړ دي، خو افغانستان اوسمهال باید د امو سیند د حقوقي رژیم د تړاکلو ستونزه او د اوبو وېش له درېو هېوادونو سره ترسره کړي؛ خو له تېرو ۳۰ کلونو څخه په دې اړه کوم ګام نه دی اخیستل شوی. اوسمهال یواځې د افغانستان او تاجکستان ترمنځ د پنج اوبو په اړه چې د


امو پورته برخه ده د اروپا لپاره د ملګروملتونو د اقتصادي کمېسيون، روسيې او فنلانډ تر ملاتړ لاندې د همکاريو تعامل وجود لري. دا همکاری د دواړو هېوادونو ترمنځ د ژوند چاپېريال او د اوبو د منابعو د وضعيت په اړه او له اوبو څخه د ګټې اخيستنې لپاره شتون لري[۳۳]، دا په داسې حال کې چې له شوروي اتحاد وروسته، د ويانا د ۱۹۷۸ز. کنوانسيون پر اساس خپلواکه شوي دولتونه د شوروي ځايناستي شول او له ۱۹۹۱ز. وروسته د امو سيند له اوبو د ګټې اخيستنې حقوقي رژيم د ټاکلو په برخه کې دوی د افغانستان سره د معاملې يو لوری وګرځېدل[۳۴].

په هر حال، افغانستان هم د مرکزي آسيا د ډېرى هېوادونو په شان، په خپلو قوانينو کې اوبه ملي موضوع بللې او له همدې مخې بشپړ واک لري چې د هغه د مديريت او مصرف ځانته خوندي وساتي او د امو حوزې په اړه د افغانستان په قانوني اسنادو کې له شوروي سره معاهدې او هوکړې اساس نيولې شوې دي[۳۵].

د دې بحث په پای کې ويلای شو چې د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د معاهدو له مطالعې دا څرګندېږي چې دوی تر اخيره پورې پر دې نه دي توانېدلي چې د امو سيند له اوبو څخه د اړخونو د ګټې اخيستنې کچه معلومه کړي؛ خو هغه څه چې په دې اړه روښانه دي، د دغو معاهدو له لارې د امو سيند منځنی کرښه د دواړو هېوادونو د سرحد په توګه منل او له اوبو څخه د دواړو هېوادونو د ګټې اخيستنې په رسميت پېژندل دي، اوسمهال افغانستان کولای شي چې د هغو معاهدو په رڼا کې له دغو اوبو د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره ګټه واخلي او همدارنګه په دې اړه د ملګروملتونو د ۱۹۹۷ز. د کنوانسيون او نورو بين المللي حقوقي قواعدو ته په کتو سره د منصفانه او معقولې ګټې اخيستنې اصل په پام کې نيولو سره ګټه واخلي؛ دغو قواعدو د دې ګټې اخيستنې بنسټ ټولنيزې او اقتصادي اړتياوې بللې دي؛ نو افغانستان کولای شي چې له يوې خوا له شوروي اتحاد سره د ۱۹۴۶ز. د معاهدې د دويمې مادې پر اساس له کوم قيد او شرط پرته له دغو اوبو څخه ګټه واخلي او له بلې خوا د منصفانه او معقولې استفادې د اصل په پام کې نيولو سره د کرهنې او ټولنيزو او اقتصادي پرمختياو په برخه کې له دغو اوبو خپلې اړتياوې پوره کړي چې د دا ډول اړتياوو پوره کول يې هم د دوه اړخيزو هوکړو پر اساس او هم د بين المللي قواعدو په چوکاټ کې مجاز بلل کېږي.

## د هلمند سیند اوبییزه حوزې حقوقي وضعیت

هلمند سیند د نړۍ پنځه پنځوسم اوږد سیند دی او د آسیا په کچه نولسم له اوبو ډک بهېدونکی سیند بلل کېږي چې په مرکزي افغانستان کې د کابل د شمال لوېدیځ په ۴۰ کیلومترۍ کې د بابا غره له لړیو سرچینه اخلي؛ دا سیند د ۱۱۵۰ کیلومتره اوږد واټن له وهلو وروسته له ایران سره ۲۷ کیلومتره ګډ سرحد جوړوي او د سیستان په ډنډونو کې تویېږي. په بېلابېلو برخو کې مرستندویه سیندونه ورسره یوځای کېږي چې مهم یې د تېرین، موسی کلا او ارغنداب سیندونه دي[۳٦]، دا سیند د آسیا د لویې وچې په لسو مهمو سیندونو کې راځي او د اوبو د حوزې پراخوالی یې له ۱۵۰زره کیلومتره مربع څخه ډېر دی[۳۷]، دا سیند د افغانستان د اوبییزو حوزو ۴۱ سلنه جوړوي او د زراعتي ځمکو ۳۱ سلنه تر خپل اوبییز پوښښ لاندې راولي[۳۸].




د هلمند سیند اوبییزه حوزه

د هلمند سیند په اړه د ایران او افغانستان ترمنځ نږدې لس حقوقي سندونه د معاهدو، هوکړو او پروتکلونو په چوکاټ کې لاسلیک شوي[۳۹] چې مهم یې د ۱۹۷۳ز. تړون دی چې تر نن ورځې پورې پلی او د دواړو هېوادونو له خوا د منلو وړ دی، نو پر دې اساس، د هلمند سیند اوبه له حقوقي پلوه د ۱۹۷۳ز. معاهدې تابع دي او ټول حقوقي مسایل یې د دې معاهدې له احکامو سره سم حل کېږي.


دا معاهده په ۱۹۷۳ز. د ایران د لومړي وزیر امیر عباس هویدا او د افغانستان د لومړي وزیر محمدموسی شفیق له خوا لاسلیک شوه، د دې معاهدې د دویمې مادې پر اساس د اوبو هغه ټوله اندازه چې په نورمال یا فوق نورمال کال کې د افغانستان له خوا

ایران ته ورکول کېږي، په یوه ثانیه کې په اوسط ډول ۲۲ متره مکعبه او د ورورګلوۍ او ښه نیت له مخې ۴ متره مکعب نورې اوبه هم ایران ته ورکول کېږي چې ټولې ۲٦ متره مکعب کېږي. د دې معاهدې په شپږمه ماده کې راغلي چې افغانستان به داسې ګام نه اخلي چې د اوبو حق په بشپړ ډول نامناسب کړي، یا اوبه داسې ککړې کړي چې په فني او معمولي لارو چارو د پاکېدو وړ نه وي او د مدني اړتیاو لپاره مضرې شي. د پنځمې مادې پر اساس به افغانستان د ایران د اوبو حق نه کموي، خو د پاتې اوبو د استعمال په اړه له ټولو حقوقو برخمن دی، هر ډول چې وغواړي ګټه ترې اخیستی شي[۴۰].

د هلمند د سیند د حقوقي وضعیت په اړه ویلای شو چې دا سیند د یوه بشپړ حقوقي رژیم تابع دی چې د ۱۹۷۳ز. د معاهدې پر اساس رامنځ ته شوی دی او تر نن ورځې د دواړو خواو لپاره د منلو وړ دی، د دې معاهدې پر اساس د کال په دولسو میاشتو کې د اوبو اندازه ټاکل شوې او د همدې اندازې پر اساس ایران ته اوبو ورپرېښودل کېږي، هغه هم په نارمل کال کې که چېرې وچکالي وي او اوبه کمې شي؛ نو بیا ایران د دومره اوبو مستحق نه شي کېدلای؛ بلکې د وچکالي له امله د کمو شوو اوبو له اندازې سره سم به ایران ته اوبه ور پرېښودل کېږي، دا چې د دواړو هېوادونو له خوا دا معاهده تر نن ورځې د تطبیق وړ ګرځېدلې او دواړه خواوې پرې رضایت لري؛ نو موږ ویلای شو چې د هلمند سیند د یوه بین المللي سیند په توګه د ۱۹۷۳ز. د معاهدې د مادو په چوکاټ کې د یوه حقوقي رژیم لرونکی دی او ټول مسایل به یې د دې معاهدې پر اساس حلېږي.

## د هریرود سیند اوبیزې حوزې حقوقي وضعیت

هریرود سیند د ۱۱۲۴ کیلومتره اوږدوالي په لرلو سره[۴۱]، د افغانستان له مرکزي سیمو پیلېږي، د افغانستان او ایران تر منځ د ۱٦۰ کیلومتره سرحد له جوړولو وروسته د ایران او ترکمنستان تر منځ ۱۷۰ کیلومتره سرحد جوړوي[۴۲] او د ترکمنستان په کرکوم دښته کې جذبېږي، دا سیند د افغانستان د روانو اوبو څه ناڅه ۱۲سلنه برابروي، په دې حوزه کې د افغانستان ۸ سلنه خلک ژوند کوي او ۱۱ سلنه زراعتي ځمکه یې خړوبوي[۴۳]، د هریرود سیند د حوزې ساحه ۱۱۲۰۰۰ کیلومتره مربع ته رسېږي او له ۹۰ سلنې زیاتې اوبه یې له افغانستانه برابرېږي چې په افغانستان کې ۳۹۳۰۰ کیلومتره، په ایران کې ۴۹۲٦۴ او په ترکمنستان کې ۲۳٦۴۰ کیلومتره مربع ساحې ته پوښښ ورکوي او د نفوسو په حساب په دې حوزه کې د افغانستان ۱۲۹۰۰۰۰، د ایران ۳۴۱۰۰۰۰ او د ترکمنستان ۱٦۸۰۰۰ خلک ژوند کوي چې ټول شمېر یې څلور میلیونه اته لکه او ٦۸ زرو ته رسېږي[۴۴].




د هریرود سیند اوبیېزه حوزه

د هریرود د حوزې دولتونو په خپلو خاورو کې د دې سیند پر مرستندویانو بندونه جوړ کړي دي، ایران او ترکمنستان په ګډه په ۲۰۰۴ز. پر دې سیند کې د دوستي بند جوړ کړ، پرته له دې چې په اړه یې له افغانستان سره درې اړخیزې همکارۍ رامنځ ته کړي[۴۵]. افغانستان هم پر دې سیند د سلما بند جوړ کړ چې کار یې د داودخان د ولسمشرۍ په وخت کې پیل شوی و، خو بلاخره افغانستان په رسمي توګه په ۲۰۱٦ز. د هند په مرسته جوړ او پرانیست[۴٦].

سلما بند د یو شمېر ایراني لیکوالانو او څېړونکو اعتراضونه راپورته کړل د مثال په توګه، علي مشهدي په دې اړه وايي له هغه ځایه چې د ځمکني بشپړ حاکمیت نظریه د بین المللي سیندونو د پورته خوا دولت څخه په ملاتړ کې اغېزمنه ده، نو افغانستان د دې سیند په اړه دا نظریه پلې کړې ده. د بین المللي حقوقو د مقرراتو له نظره، دا نظریه د منلو وړ نه ده، پر دې اساس د دې سیند په حاکمیت کې د هریرود د حوزې دولتونه باید د محدودې ځمکنۍ بشپړتیا د نظریې تابع شي چې په بین المللي حقوقو کې منل شوې ده، دا نظریه پر دې فرضیې ولاړه ده چې د هریرود د حوزې دولتونه په خپل هېواد کې له دې سینده د ګټې حق لري، په دې شرط چې دا ګټه اخیستنه یې د نورو دولتونو ځمکو ته زیان و نه رسوي، پر دې اساس د هریرود پر سیند حاکمیت نسبي او مشروط دی؛ نو ځکه د هریرود په اړه ټول ساحلي دولتونه متقابل حقوق او مکلفیتونه لري[۴۷].

په دې اړه د افغانستان د علومو اکاډمي د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز علمي غړي عبدالشکور سالنګي په خپل کتاب (وضعیت آب در آسیای مرکزی و ارتباط آن با افغانستان)

لیکي چې د هریرود له اوبو د شریکې ګټې اخیستنې په اړه هیڅ سند، تفاهم‌لیک او هوکړه لیک نه دی لاسلیک شوی؛ نو ځکه افغانستان د هریرود سیند د پورته خوا هېواد په توګه چې ټولې اوبه یې له خپلو غرونو او چینو سرچینه اخلي؛ د دې سیند اصلي مالک دی، په ورته توګه د هریرود د ښکته خوا اوبو په اړه چې د ایران له لوري منابع او سیندونه یې ښکته هریرود ته ور بهېږي، افغانستان په هغه اړه کومه ادعا نه لري، که څه هم چې د دې سیند په اړه یوازې د شوروي اتحاد په وخت کې د مرغاب په حوزه کې د بند جوړولو د استفادې په اړه د دواړو دولتونو د چارواکو تر منځ لیکونه تبادله شوي وو؛ خو دې لیکونو د کوم قرارداد یا هوکړې لاسلیک له ځان سره نه لاره[۴۸].

نو پر دې اساس موږ ویلای شو چې د ایران تر څنګ له ترکمنستان سره هم افغانستان په دې اړه کومه هوکړه نه لري، له بلې خوا کله چې پر دې سیند د افغانستان له لوري د سلما بند جوړېده؛ نو دا چې په دې اړه ۴۰ کاله مخکې ایران په جریان کې شوی و، همدا و چې ایران یې په اړه رسمي اعتراض و نه کړ او دلته د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۷ز. کنوانسیون قاعده چې بل ته به جدي زیان نه رسوي او معقوله او عادلانه به وي؛ هغه وخت د بحث وړ کېدلای شوای چې د ایران د دولت له لوري رضایت نه وای موجود؛ خو له سوابقو داسې ښکاري چې په دې اړه دواړو خواو له مخکې رضایت لاره.

پر همدې اساس، د ۲۰۱۳ز. په جولای کې افغان حکومت ویلي وو چې دلته له ایران سره خبرواترو ته اړتیا نشته، له بلې خوا د بین المللي حقوقو په ډېری کنوانسیونو کې دا په ښکاره راغلي چې که چېرې د اوبو په اړه د ښکېلو خواو تر منځ بل ډول هوکړه شوې وي لومړیتوب دې هوکړې ته ورکړل شي، همدا و چې د سلما بند په اړه ایران کوم اعتراض و نه کړ او دا خبره یې په رسمي توګه راپورته نه کړه[۴۹].

نو موږ په ډاډ ویلای شو چې د هریرود حوزه د افغانستان د داخلي قوانینو تابع ده او د ښه ګاونډیتوب په موخه او ملګروملتونو د سازمان او د نورو معتبرو بین المللي قواعدو ته په پام موږ ته هم پکار ده چې د دې حوزې له اوبو څخه د انصاف او معقولیت په پام کې نیولو د خپلو اړتیا په رفع کولو کې کار واخلو او د اوبو د اصراف مخه ونیسو او په دې اړه اړینو تخنیکي چارو پلي کولو ته زمینه برابره کړو.

## پایله

د دې څېړنې د پایلې په توګه ویلای شو چې له سرحده د تېربدونکو اوبو په اړه په بین المللي حقوقي قواعدو کې دوو مهمو اصلونو (منصفانه او معقوله ګټه اخیستنه او د زیان نه رسولو التزام) ته ډېر پام شوی دی؛ خو ډېری یې د شریکو اوبو د منصفانه او معقولې کارونې په اړه جزیات وړاندې کوي او د زیان نه اړولو التزام د دې اصل یو عامل او برخه بولي او په ځرګنده توګه د هېوادونو تر منځ قراردادونه او هوکړې پر خپلو قواعدو لومړی بولي، له همدې امله یو بین المللي تړون یا الزامي قانون نه شتون ته په پام د دې ستونزو حل او د راتلونکو شخړو مخنیوی د شریکو یا ښکېلو هېوادونو تر منځ هوکړو او تړونونو ته پاتې شوی دی.

افغانستان له سرحده د تېربدونکو سیندونو په برخه کې په استثنایي هېوادونو کې راځي هغه دا چې له پنځو حوزو څخه یې څلور له سرحدونو تېرېږي او یا له ګاونډیو هېوادونو سره سرحدونه جوړوي چې یواځې یې د هلمند حوزې په اړه له ایران سره د تړون له لارې حقوقي رژیم رامنځ ته کړی او دا حوزه د همدې تړون پر اساس د رامنځ ته شوي حقوقي رژیم تابع دی. که څه هم، د امو سیند په اړه له شوروي اتحاد سره یو شمېر تړونونه شوي او په ډېرو برخو کې هغه تړونونه اساس ګرځولی شو، خو د اوبو د وېش د اندازې په اړه کومه هوکړه نه ده شوې، د مرکزي آسیا د هېوادونو په خپلواکه کېدو سره هم په دې اړه کوم پرمختګ نه دی شوی، نو ویلای شو چې د امو سیند په اړه یو جامع حقوقي رژیم شتون نه لري؛ بلکې کولای شو د بین المللي قواعدو په رڼا کې انصاف او معقولې کارونې اصل ته په کتو مخ ته لاړ شو.

پاتې د هریرود سیند او کابل سیند حوزې شوې، په دې اړه موږ له ګاونډیو هېوادونو سره هېڅ ډول هوکړه  او سند نه لرو او د دې دواړو حوزو سرچینې زموږ داخلي دي او کولای شو چې د ښه ګاونډیتوب او ورورګلوي له مخې دوی ته د ژوند چارو د مخ بیولو لپاره اوبو ور پرېږدو چې دا پنځه یا لس سلنه کېږي او له خپلو سرچینو مو چې څومره اړتیا وه کار ترې واخلو، کابل سیند سره چې د کونړ مرستندویه سیند یوځای کېږي او د کونړ سیند له چترال نه هم مرستندویان لري؛ نو د کونړ د سیند د اوبو په اړه له چترال نه د اوبو اندازې ته په کتو موږ باید له ګاونډي هېواد سره د ښه ګاونډیتوب په موخه له دې سیندې د پراخې کارونې په برخه کې یوه هوکړه وکړو او تر کومه ځایه چې له کابل سره د کونړ سیند نه وي یوځای شوی؛ له دغو اوبو د ګټې اخیستنې په برخه کې موږ خلاص لاس لرو او کولای شو چې د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره ترې کار واخلو، لکه څرنګه مو چې د هریرود له سینده د سلما بند په برخه کې کار اخیستی دی.

پورته پايلې ته په کتلو سره زموږ وړاندې شوې فرضيه تاييدېږي، هغه دا چې د افغانستان سيندونه د يوه حقوقي رژيم تابع نه دي؛ بلکې هر يو سيند او د اوبو حوزه يې د جلا حقوقي وضعيت لرونکې ده چې ملي ګټو، کورنيو اړتياو او قوانينو او د نړيوالو معتبرو سازمانونو حقوقي قواعدو ته په کتو حقوقي وضعيت خپلولی او افغانان ترې د خپلو اړتيا د رفع کولو لپاره ځومره يې چې اړتيا وي؛ ګټه اخيستلای شي.

## وړانديزونه

۱ـ د هېواد د وګړو د شمېر له زياتېدلو سره هممهاله کال په کال د وچکالۍ زياتېدل د خلکو پر وژند او اقتصاد سترې منفي اغېزې لرلای شي، نو د دا ډول بدو اغېزو د مخنيوي په موخه افغانستان کولای شي د اوسنيو تخنيکي او تکنالوژيکي پرمختګونو څخه په ګټې اخيستنې سره خپلې هغه اوبه چې سرچينې او مرستندويان يې په بشپړ ډول په هېواد کې دننه دي په اغېزناکه توګه کنټرول او ځومره يې چې اړتيا وي ګټه ترې واخلي.

۲ـ افغانستان سمندري بندرونو ته د رسېدو لپاره په يوه اړخيزه توګه په ګاونډيو پورې تړلی او له دې يو اړخيز تړل کېدو نه ډېر زيانمن شوی دی، نو په راتلونکي کې د خپلو اوبو د مديريت له لارې کولای شي له ګاونډيو سره تړاو له يوه اړخيز نه څو اړخيز ته بدل کړي او له ګاونډيانو سره په اړيکو کې د يو اړخيزو ګامونو د اخيستلو مخ ونيسي.

۳ـ د افغانستان سطحي او له ځمکې لاندې اوبه د اغېزناکې نه کارونې، اقليمي بدلون، د نفوس د زياتېدو، د چاپېريال د ککړتيا، د کافي او نويو زيربناوو د نه شتون او په ټوله کې د مناسب نه مديريت له امله له ګڼو ننګونو سره مخ شوي دي، په داسې حال کې افغان حکومت ته په کار دي چې د دې ننګونو د کابو کولو او په ټوله کې د هېواد د پرمختګ او د وګړو د ژوند د هوساينې لپاره د خپلو امکاناتو ترڅنګ پر سيندونو د زيربناوو د جوړولو لپاره د نړيوالو ادارو ملاتړ هم ترلاسه کړي.

۴ـ افغانستان دې په کور دننه ګاونډيو هېوادونو ته د بهېدونکو سيندونو د اوبو د اصراف او ضايع کېدو مخه ونيسي، ځومره اوبه ته يې چې اړتيا وي هغه دې استعمال او له اړتيا زياتې اوبه دې د ښه ګاونډيتوب او ورورګلوي له مخې ګاونډيو ته ورپرېږدي، ترڅو له يوې خوا په دغو اوبو پورې تړلي ولسونه ډېر اغېزمن نه شي او له بلې خوا د ښه ګاونډيتوب او ورورګلوۍ په فضا کې د سياسي او اقتصادي اړيکو پراختيا ته ښې زمينې برابرې شي.

## مأخذونه


١. باری پور، میلاد ، محمدصادق صادقیان و دیگران، روش شناسی سیاست پردازی آب در رودخانه های فرامرزی، فصلنامه سیاست های راهبردی و کلان، دورهٔ ١٠ . شمارهٔ ٢، تابستان ١٤٠١، ص.

2. Capacity for Disaster Reduction Initiative (CaDRi) Partnership, Good Practices on Transboundary Water Resources Management and Cooperation Capacity for Disaster Reduction Initiative, 2020, P 2.
3. United Nations, Transboundary Waters, 2016, P 2.
4. Capacity for Disaster Reduction Initiative (CaDRi) Partnership, Good Practices on Transboundary Water Resources Management and Cooperation Capacity for Disaster Reduction Initiative, Op. cit, P 1.
5. Lautze, Jonathan, Others, Afghanistan–Pakistan Shared Waters, State of the Basins, International Water Management Institute, Pakistan, International Water Management Institute, South Africa, 2023, P 16.

٦. جداری عیوضی، جمشید، جغرافیای آبها، چاپ سیزدهم، تهران: دانشگاه تهران، ١٣٨٣، ص ١٣٠.

٧. مشهدی، علی، نرگس اکبری، تعهدات دولتهای حوضچه هریرود در احداث تأسیسات آبی، ٢٠٢٠، مجله حقوقی بین‌المللی/ شماره ٦٣ / پاییز زمستان ١١ ٩٣١ / صفحات ٣٤٣ ٣٠١، ص ۴.

٨. باری پور، میلاد ، محمدصادق صادقیان، و دیگران، روش شناسی سیاست پردازی آب در رودخانه های فرامرزی، فصلنامه سیاست های راهبردی و کلان، دورهٔ ١٠ . شمارهٔ ٢، تابستان ١٤٠١، ص ١١.

٩. عطاري، جلال، فريبا آوريده، محسن عبداللهی، مطالعه تطبیقی اصول و قواعد بین المللی حاکم بر تقسیم آب در رودخانه های فرامرزی، فصلنامه علوم محیطی، دوره چهاردهم، شماره ٢، تابستان ١٣٩۵، ص ۵.

١٠. همان اثر، ص ٨.

١١. همان اثر، ص ١٠.

١٢. آرام، محمد علم، آب های فرامرزی افغانستان در پرتو کنوانسیون های بین المللی، د افغانستان د اوبو مدیریت او د اوبو سیمه ییزه دیپلوماسي د سیمینار د مقالو ټولګه، د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، ١۴٠٢، ص ۵٣.

١٣. اعزامی، سید عمر، هایدروپولیتیک افغانستان، ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اکادمی علوم افغانستان، ٢٠٢٠، ص ٢٠٣.

١۴. همان اثر، ص ٢٠٣.

١۵. عطاري، جلال، فريبا آوريده، محسن عبداللهی، مطالعه تطبیقی اصول و قواعد بین المللی حاکم بر تقسیم آب در رودخانه های فرامرزی، فصلنامه علوم محیطی، دوره چهاردهم، شماره ٢، تابستان ١٣٩۵، ص ١٢.

١٦. همان اثر، ص ١٢.

۱۷. محمودی، زینب، امیر سعدالدین، بررسی چاچوب های مقرراتی و سازمانی به منظور مدیریت یکپارچه منابع آب در حوضه های رودخانه ای مشترک با تاکید بر رودخانه های مرزی ایران،۱۳۹٦، انجمن ابخیزداری ایران، نشریه ترویج و توسعه آبخیزداری، سال پنجم- شماره ۱۹ – زمستان، ص ۳.
۱۸. مریم دهکردی، کارآمد یا ناکارآمد: نگاهی به قوانین بین‌المللی آب، دسترسي: https://iranhr.net/fa/articles/3254/
۱۹. عطاري، جلال، فریبا آوریده، محسن عبداللهی، مطالعه تطبیقی اصول و قواعد بین المللی حاکم بر تقسیم آب در رودخانه های فرامرزی، فصلنامه علوم محیطی، دوره چهاردهم، شماره ۲، تابستان ۱۳۹۵، ص ۱۲.
20. Lautze, Jonathan, Others, Afghanistan–Pakistan Shared Waters, State of the Basins, Op. cit, P 19.
21. Nori, Saiyed Momin, Challenges of transboundary water governance in Afghanistan, Central Asian Journal of Water Research, 6(1): 18-38, April 2020, P 3.
22. Lautze, Jonathan, Others, Afghanistan–Pakistan Shared Waters, State of the Basins, Op. cit, P 20.
23. Thomas, Vincent, Mujib Ahmad Azizi and Khalid Behzad, Developing transboundary water resources: What perspectives for cooperation between Afghanistan, Iran and Pakistan?, Afghanistan Research and Evaluation Unit, European Commission, May 2016, P 35.
۲۴. اعزامی، سید عمر، هایدروپولیتیک افغانستان، ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اکادمی علوم افغانستان، ۲۰۲۰، ص ۱۸۹.
25. Thomas, Vincent, Mujib Ahmad Azizi and Khalid Behzad, Developing transboundary water resources: What perspectives for cooperation between Afghanistan, Iran and Pakistan?, Op. cit, P 35-36.
26. Ibid, P 36.
27. Nori, Saiyed Momin, Challenges of transboundary water governance in Afghanistan, Op. cit, P 5.
28. Geographical Settings, Available at: http://amudaryabasin.net/content/amu-darya-river-basin
۲۹. سالنگي، عبدالشکور، وضعیت آب در آسیای مرکزی و ارتباط آن با افغانستان، ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اکادمی علوم افغانستان، کابل، ۱۳۹۹، ص ۴-۵.
۳۰. اعزامی، سید عمر، همان اثر، ص ۱۷۸.
۳۱. سالنگي، عبدالشکور، همان اثر، ص ۵۸.
۳۲. اعزامی، سید عمر، همان اثر، ص ۱۷۹.
۳۳. سالنگي، عبدالشکور، همان اثر، ص ۵۹.

۳۴. اعزامی، سید عمر، همان اثر، ص ۱۸۱.
۳۵. سالنگي، عبدالشکور،همان اثر، ص ۵۷.
۳٦. اعظم، غلام فاروق، ژباړن: عبدالله خوشحال رحماني، اوبه د تېلو او سمندري بندر په بدل کې، د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، ۲۰۱۹، ص ۱-۲.
۳۷. کامل، عبدالرحیم ، بررسی معاهده رودخانه هیرمند از منظر حقوقی، ۱۴۰۲، دسترسي:
https://www.iess.ir/fa/analysis/3482/
38. Nori, Saiyed Momin, Challenges of transboundary water governance in Afghanistan, Op. cit, P 5.
۳۹. کامل، عبدالرحیم ، بررسی معاهده رودخانه هیرمند از منظر حقوقی، ۱۴۰۲، دسترسي: https://www.iess.ir/fa/analysis/3482/
۴۰. اعظم، غلام فاروق، ژباړن عبدالاله خوشحال رحماني، اوبه د تېلو او سمندري بندر په بدل کې، د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، ۲۰۱۹، ص ۲۷۴-۲۷٦.
41. Thomas, Vincent, Mujib Ahmad Azizi and Khalid Behzad, Developing transboundary water resources: What perspectives for cooperation between Afghanistan, Iran and Pakistan?, Op. cit, P 49.
42. Nagheeby, Mohsen, Mehdi Piri D and Michael Faure, The Legitimacy of Dam Development in International Watercourses: A Case Study of the Harirud River Basin, Cambridge University Press, 2019, P 5.
43. Nori, Saiyed Momin, Challenges of transboundary water governance in Afghanistan, Op. cit, P 5.
44. Nagheeby, Mohsen, Mehdi Piri D and Michael Faure, The Legitimacy of Dam Development in International Watercourses: A Case Study of the Harirud River Basin, Op. cit, p. 7.
45. Ibid, P 8.
46. Ibid, P 25.
۴۷. مشهدي، علی، نرگس اکبری، تعهدات دولت های حوضچه هریرود در احداث تأسیسات آبی، مجله حقوقی بین المللی/ شماره ٦٣ / پاییز ـ زمستان۱۳۹۹، ص ۱۰.
۴۸. سالنگي، عبدالشکور، وضعیت آب در آسیای مرکزی و ارتباط آن با افغانستان، ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اکادمی علوم افغانستان، کابل، ۱۳۹۹، ص ٦۰.
49. Thomas, Vincent, Mujib Ahmad Azizi and Khalid Behzad, Developing transboundary water resources: What perspectives for cooperation between Afghanistan, Iran and Pakistan?, Op. cit, P 56.

څېړندوی عاشق الله اخلاصیار

# له ایران سره د افغانستان اسلامي امارت اړیکې

## فرصتونه او ننګونې

**لنډیز**

د افغانستان اسلامي امارت او ایران تر منځ اړیکې له ۲۰۰۱ ز. وړاندې ترینګلې وې؛ خو کله چې امریکا په همدې کال په افغانستان یرغل کاوه، د سعودي عربستان او پاکستان په ګډون ایران هم د امریکا پلوي کوله، ایران په ۲۰۰۱ ز. کې د اسلامي امارت پر ضد په لومړنیو عملیاتو کې امریکایي ځواکونو ته پوځي او استخباراتي ملاتړ ورکړی و، ایران غوښتل چې ځان د امریکا په متحدینو کې راولي او له شته فرصتونو ګټې ترلاسه کړي؛ خو وروسته په افغانستان کې د ایران لپاره امریکا په یوه ګواښ بدله شوه چې بیا ایران د امریکایانو پر وړاندې د طالبانو ملاتړ ته را ودانګل، د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وړاندې دا اړیکې ډېرې ګرمې ښکارېدې؛ خو کله چې اسلامي امارت د دویم ځل لپاره د ۲۰۲۱ز. د اګست په ۱۵مه په افغانستان واکمن شو؛ نو ایران اندېښمن شو او هڅې یې پیل کړې چې په افغانستان کې خپلې ګټې خوندي کړي.

اسلامي امارت په بیا ځل واکمنېدو نړۍ ته اقتصادمحوره پالیسي اعلان کړه او غوښتنه یې وکړه چې له دې لارې د اسلامي امارت او د سیمې د نورو هېوادونو تر منځ تعامل او په دوه اړخیزو اړیکو کې پراختیا د امکان وړ ده، دې او دوه اړخیزو اړتیاو ته په کتو د ایران او اسلامي امارت اړیکې هم تودې شوې چې د ایران لوړپوړي چارواکي څو ځله د اسلامي امارت له چارواکو سره د لیدنو لپاره کابل ته راغلل او د اسلامي امارت ځینو لوړ پوړو هم ایران ته رسمي سفرونه وکړل، دا د دې ښکارندویي کوي چې دواړه خواوې ستونزو ته د حل لازمې لارې مومي او له ګډو فرصتونو ګټه اخلي.

په دې مقاله کې د ایران او افغانستان په اړیکو کې فرصتونه او ننګونې څېړل شوي، په لنډه سریزه سربېره دواړو خواو ته وړاندیزونه او د موضوع اړوند پایله لیکل شوې ده.

## سریزه

په افغانستان کې د شوروي اتحاد له ماتې وروسته مجاهدین واک ته ورسېدل چې کورنۍ جګړې ورسره رامنځ ته شوې، دې جګړو ډېر دوام وکړ چې له امله یې په دې هېواد کې ستونزې ډېرې شوې، همدې جګړو، نا امنیو او ناسم وضعیت دې ته لاره جوړه کړه چې په وړاندې یې یو غبرګ پورته شي، دا غبرګ له کندهاره د طالبانو د اسلامي غورځنګ تر نوم لاندې راپورته شو چې د مدرسو او جوماتونو امامانو، علماو، طالبانو او د دې فکر نورو لارویانو یې ملاتړ وکړ او په ۱۹۹٦ز کې یې دا غورځنګ په افغانستان کې په لومړي ځل واک ته ورساوه، طالبانو په دې دوره کې د افغانستان په ۸۵ سلنه خاوره حاکمیت وموند او د شته نا امنیو پر وړاندې یې شریعت نافذ کړ چې له امله یې چور، چپاول، غلا، وژنه او په ځینو نورو کړنو کې کموالی رامنځ ته شو.

اسلامي امارت غوښتل چې باید حکومت یې نړیوال په رسمیت وپېژني او د سیمې له هېوادونو سره ښې اړیکې ولري او له امله یې پرمختګ وکړي، د طالبانو دا غورځنګ چې وروسته په اسلامي امارت بدل شو؛ یوازې درېو هېوادونو: سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو او پاکستان په رسمیت پېژندلی و، طالبانو هیله لرله چې د نړۍ او سیمې له هېوادونو سره به نږدې او ښې اړیکې ولري او تر نورو وړاندې به یې ګاونډي په رسمیت وپېژني؛ خو ځینې ستونزې وې چې دوی ته په رسمیت پېژندنه کې خنډ وګرځېدې، د دې له ډلې یو هم له ایران سره د دوی اړیکې وې چې له امله یې دا دوه لوري تر اخره مخالف سره پاتې شول، لکه د ۱۹۹۸ز. په ترخ کې د مزارشریف په ښار کې د ۹ ایراني ډیپلوماټانو وژل[1] په دې سره د دې دوه خواو اړیکې دومره خرابې شوې چې ایران خپل اویازره پوځ د افغانستان سرحدونو ته ولېږه او د یوې جګړې لپاره یې چمتوالی وښوده[2]، پر دې سربېره یې طالبان د نشه یي توکو د یوې تروریستي ډلې په توګه تورن کړل چې نورو تروریستي سازمانونو ته یې د نړیوالې ناامنۍ لپاره زمینه برابره کړې[3]، ایران دې ته ورته نور تورونه هم پر طالبانو لګول او په نړیوالو سټېجونو کې یې دغه حکومت کمزوری او منزوی کاوه چې په رسمیت و نه پېژندل شي[4].

په هر صورت، د افغانستان اسلامي امارت یواځې پنځه کاله دوام وکړ چې په ۲۰۰۱ز. کې د امریکا د متحده ایالاتو په مشرۍ نړیوال ایتلاف د دوی پر ضد پر افغانستان یرغل وکړ او د دوی رژیم یې ړنګ کړ چې د امریکا په ملاتړ په افغانستان کې یو بل مؤقت حکومت رامنځ ته شو؛ خو کله چې په ۲۰۰۱ز. امریکا پر افغانستان یرغل ته زړه ښه کړ، د

نورو هېوادونو لکه سعودي عربستان او پاکستان تر څنګ ایران هم خپله علاقه ښکاره کړه چې د اسلامي امارت پر وړاندې د امریکا تر څنګ ودرېږي.

دوی امریکایانو ته په افغانستان د یرغل پر مهال په ځینو برخو کې معلومات ورکړل او اړینې مرستې یې ورسره وکړې؛ خو کله چې د امریکا جمهور رئیس بوش په خپلو څرګندونو کې ایران د شرارت محور په توګه یاد کړ، په دې سره ایران جیټکه وخوړه او په افغانستان کې د امریکا د شتون په اړه اندېښمن شو او په نورو لارو یې فکر وکړ چې خپلې ګټې خوندي کړي، په افغانستان کې د امریکا د شتون په اړه ایران ته ډېر تشویشونه پیدا شول او فکر یې کاوه چې ایران ته د یوه ګواښ لپاره په افغانستان کې مېشته دی، تر دې پورې چې د ۲۰۱۱ز. په لړ کې په ایران کې د امریکا یوه بې پیلوټه الوتکه هم رانسکوره شوه.

د اسلامي امارت له لومړنۍ واکمنۍ وروسته د حامد کرزي له حکومت سره هم ایران ښې اړیکې لرلې او د نوموړي په دوره کې یې د افغانستان په ډېرو سیمو کې د ابادۍ ځینې کارونه هم وکړل، په کابل کې یې خاتم النبیین مدرسه او په یو شمېر نورو ولایتونو کې یې مدرسې او فرهنګي مرکزونه جوړ کړل چې دا دوی د خپلې ایډیولوژۍ لپاره مهم ګڼل، همدا ډول یې د خپل نفوذ د ساتنې لپاره په ایډیولوژیکو برخو کې دوی ته د نږدې اشخاصو او ډلو مالي ملاتړ هم کاوه؛ خو سیاست او جیوپولیټیکل بدلونونو دا هر څه په خپل حال پرې نه ښودل؛ ځکه ایران مجبور شو چې د امریکا پر وړاندې ودرېږي چې د نورو هڅو تر څنګ یې د پرځېدلي اسلامي امارت ملاتړ ته هم ور ودانګل، که څه هم ایران غوښتل چې له دوی سره به مرستې کوي او خپل دښمن به پرې کمزوری کوي؛ خو دا یې نه غوښتل چې د امریکا له وتلو وروسته دې په بشپړه توګه د افغانستان په سیاسي جوړښت واکمن شي، لکه څنګه چې د ۲۰۲۱ز. د اګست له ۱۵ مې وروسته وشول.

ایران تل هڅې کوي چې په افغانستان کې ستراتیژیک نفوذ ولري چې د خپلې دې موخې لپاره له اسلامي امارت سره هم اړیکو ته اړتیا لري او فکر کوي چې په دې سیمه کې له شته حکومتونو سره اړیکې ورته ګټورې دي چې د ایران په امنیت کې ورسره مرسته کولای شي، موږ په دې څېړنه کې د ایران او افغانستان اسلامي امارت په اړیکو کې په فرصتونو او ننګونو خبرې کړې دي، کوم فرصتونه او کومې ستونزې چې دي؛ هغه په دې څېړنه کې تر مطالعې لاندې نیول شوې دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

افغانستان له تاریخي، فرهنګي، مذهبي او ځمکني پلوه له ایران سره ډېر مشترکات لري؛ خو له دغو ډېرو مشترکاتو سره سره د دغو دوو هېوادونو د یووالي په لاره کې بېلابېلې ننګونې هم شتون لري، د دغو دوو ګاونډیو هېوادونو په دوه اړخیزو اړیکو کې د ننګونو درک کول او د دوه اړخیزو جیوپولیټیکل ظرفیتونو، فرصتونو او اړتیاو پر بنسټ د اړیکو د پراختیا په لور حرکت، د افغانستان د وضعیت د ښه کولو او له بې ثباتۍ څخه د وتلو یوه وسیله ده چې دا د دې څېړنې مبرمیت په ګوته کوي.

## د څېړنې موخې

په دې څېړنه کې به د افغانستان اسلامي امارت او ایران اړیکې روښانه شي او دا څېړنه به د اسلامي امارت او ایران په اړیکو کې شته فرصتونه او ننګونې په ګوته کړي.

## د څېړنې پوښتنه

له ایران سره د افغانستان اسلامي امارت اړیکې څرنګه دي او د دواړو خواو تر منځ د اړیکو د پراختیا لپاره کوم فرصتونه او ننګونې شتون لري؟

## د څېړنې مېتود

په یاده څېړنه کې له تشریحي- تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې او ډول یې کتابتوني دی.

## د اسلامي امارت په بیاځلي راتګ سره د افغانستان په اړه د ایران پالیسي

د ۲۰۲۱ ز. د اګست په ۱۵مه د افغانستان اسلامي امارت، د امریکا په مشرۍ د ناټو ځواکونو پر وړاندې له شل کلنې جګړې وروسته کابل ونیو، د کابل سقوط د امریکا په ملاتړ د افغان حکومت د سیاسي ثبات او امنیتي جوړښت په اړه ډېرې پوښتنې را ولاړې کړې چې ولې د اسلامي امارت د زیاتېدونکي ځواک په وړاندې مقاومت نه شي کولای، په افغانستان کې د طالبانو واک ته له رسېدو سره د ناټو دوه لسیزې اوږد ماموریت پای ته ورسېد چې د ۲۰۰۱ ز. د سپټمبر د ۱۱مې له بریدونو وروسته پیل شوی و، د متحده ایالاتو ناڅاپي وتلو تړوله نړۍ په وېره او ګډوډۍ کې واچوله؛ ځکه اټکل کېده چې دوی په سیمه کې د واک خلا رامنځ ته کوي، داعش او نورو ډلو ته فرصت برابروي چې افغانستان د سیمه ییز امنیت د ګډوډولو لپاره د یوې لانجې په توګه وکاروي؛ خو د دې با وجود د امریکا وتلو سیمه ییزو هېوادونو ته دا توان ورکړ چې د خپلو ګټو لپاره د افغانستان د ثبات

مسؤلیت په غاړه واخلي، د بېلګې په توګه چین او روسیه اوس یو ښه فرصت لري چې نه یواځې د افغانستان له لارې خپل متقابل عملیات پراخ کړي؛ بلکې د خپلو جیو- اقتصادي او جیوپولیټیکو موخو ساتنه هم وکړي، په افغانستان کې د پاکستان په مهمو لومړیتوبونو کې د افغانستان له خاورې د پاکستان پر ضد د کار اخیستلو مخنیوی، د افغانستان د داخلي امنیت ښه کول، په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه، د خلکو تر منځ د اړیکو ټینګول، د سوداګریزو او ټرانزیټي اړیکو ژورتیا او په افغانستان کې د ټرانزیټي اړیکو ټینګول او د پیاوړي اقتصادي اتصال لپاره د انرژۍ د ګډو پانګونو پیلول شامل دي[۵] چې د سیمې هېوادونو لپاره د ګډو ګټو فکټورونه کېدای شي؛ خو چین هم د پاکستان په څېر په افغانستان کې امنیتي اندېښنې لري.

بل پلو روسیه نه غواړي چې په افغانستان کې بې ثباتي رامنځ ته شي؛ ځکه هغوی فکر کوي چې دا ناامني کېدای شي چې د منځنۍ آسیا په هېوادونو کې د مهاجرتونو لامل شي چې د روسیې لپاره ښې پایلې نه لري، همدارنګه ایران په افغانستان کې د طالبانو د مخ په زیاتېدونکي نفوذ په اړه اندېښنه لري او د دوی لپاره بیا دا یو لومړیتوب دی؛ سربېره پر دې هغه ستراتیژي چې د ایران له خوا په ښکاره او یا پټه توګه د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو لپاره پلې کېږي؛ دلته به یادونې ترې وشي، په هرصورت لوی تمرکز به د افغانستان په اړه د ایران په پالیسیو او د هغې په سیمه ییزو امکاناتو او پایلو وي.

ایران له افغانستان سره بې ثباته پوله لري او له همدې امله د افغانستان په ثبات کې ونډه لري، په تېرو او هم معاصرو وختونو کې د مهاجرینو لویه برخه د پاکستان تر څنګ د ایران له خوا رامنځ ته شوې ده، په همدې ډول د متعصبو ډلو شتون او د منځنۍ آسیا بازارونو ته لاسرسی هم د ایران لپاره ځینې اصلي اندېښنې دي، که څه هم ایران د اسلامي امارت په لومړۍ دوره د (۱۹۹۶- ۲۰۰۱ز) کلونو کې په افغانستان کې دننه د دوی د مخالفو ډلو ملاتړ کاوه؛ خو اوسمهال پر سیمه ییز، اقتصادي اتصال، د ترهګرۍ ضد مبارزې او سیمه ییز امنیت تمرکز کوي، پر دې سربېره کله چې د ۲۰۲۱ز. په اګست کې اسلامي امارت په افغانستان واکمن شو؛ نو ایران یو له هغو هېوادونو څخه و چې خپل سفارت یې په کابل کې خلاص پرېښود، د دوی د مسؤلینو په خبره چې دلته نفوذ لري او دا کار یې د خپل نفوذ د سهولتونو لپاره وکړ؛ خو په ورته مهال یې دریځ د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر دی چې تر اوسه یې اسلامي امارت په رسمیت نه دی پېژندلی، په داسې حال کې چې د شانګهای، مسکو فارمټ او په نورو سیمه ییزو غونډو کې فعال حضور لري؛

خو د دې با وجود يې خپلې د اوبو او په ايران کې د افغان مهاجرينو ستونزې اسلامي امارت ته وړاندې کړي او د حل غوښتنې يې کړې دي.

افغانستان له ايران سره ځينې مشترکې اقتصادي پروژې هم لاسليک کړې دي، لکه د ټاپي ۵۰۰، کاسا۱۰۰۰ او دا ډول نورې چې د اسلامي امارت له راتګ وړاندې يې پلي کېدل ستونزمن وو او اوس ټولې خواوې په دې فکر کې دي چې د دوی په شتون کې به پلي شي چې خورا ډېر اقتصادي ارزښت لري.

دا چې ايران ته په سياست کې نفوذ ډېر اړين دی او هر وخت په دې لټه کې وي چې په سيمه کې په کوم ډول خپل نفوذ ساتلای شي؛ نو د دې لپاره هم په ډېرو برخو کې مجبور وي چې د سيمې له هېوادونو سره ښې اړيکې ولري، په همدې اساس هم له اسلامي امارت سره د ښو اړيکو پلوي ښکاري، ايران دا اړيکې د څو دلايلو له مخې پالي چې له يوې خوا په ايران او افغانستان دواړو اقتصادي بنديزونه دي او له بلې خوا ايران تر يوه بريده په ځان بسيا او افغانستان بيا په ډېرو برخو کې اړتياوې لري؛ نو د دوی دواړو لپاره ځينې ګډ فرصتونه شتون لري چې يو له بل ګټه واخلي، ايران ته افغانستان يو نږدې او ښه مارکيټ دی چې خپل توليدات په کمه موده او کمه بيه ورسوي، په داسې حال کې چې ايران خپل توليدات اروپا ته د بنديزونو له امله نه شي صادرولی، ايران هڅه کوي چې خپلو ستونزو ته په کتو له اسلامي امارت سره مستقيم تعامل هم وکړي او د نامستقيم تعامل له لارې هم ځينې چارې ترسره کړي، ايران ځکه دا کارونه کوي چې افغانستان په ډېرو برخو کې ورته خورا اړين دی.

همدارنګه د طالبانو د اسلامي امارت پر وړاندې د ايران د بهرنۍ تګلارې موخې دا هم دي چې په افغانستان کې ټولګډونه حکومت غواړي چې ټولو ډلو، اقليتونو او توکمونو ته پکې ځای ورکړل شوی وي، له دې نه د دوی موخه شيعه وګړي په حکومت کې داخلول دي او هم په افغانستان کې د رايو په اساس د حکومت رامنځ ته کول، په سرحدونو کې امنيت او ثبات تضمينول او په دې سربېره له امريکا سره د مقابلې لپاره د چين او روسيې سره همغږي زياتول غواړي چې په دې کې افغانستان هم غواړي ښکېل کړي چې ترڅو په راتلونکې کې په يو بلاک بدل شي؛ همدارنګه ايرانيان ټينګار کوي چې د اوبو په برخه کې خپلو اړتياو ته په کتو پاليسۍ تعقيب کړي، د وسلو او نشه يي توکو د مخنيوي په برخو کې هم خپل کار ته لومړيتوب ورکوي چې د اوبو ستونزو په اړه يې څو ځله د اسلامي امارت له چارواکو سره خبرې اترې هم کړې دي.

ایران د خپلې بهرنۍ تګلارې په لړ کې د اسلامي امارت اړیکې له سعودي عربستان، امریکا، پاکستان او نورو سره څاري او هڅه کوي چې په افغانستان کې د واک خلا یې باید پر وړاندې و نه کارول شي؛ همدارنګه ایران غواړي چې د افغانستان اسلامي امارت باید د پاکستان، ایران او سعودي عربستان په اړیکو کې توازن وساتي؛ ځکه داسې نه چې دا کړنې د ایران او اسلامي امارت اړیکې کمزورې کړي[٦]، ایران هڅه کوي چې د سیمې د نورو هېوادونو په څېر له افغانستان سره په سیاسي، فرهنګي او سوداګریزو برخو کې متوازنې اړیکې ولري او باید چې په افغانستان کې حاکم رژیمونه له دوی بل څوک نېه و نه ګڼي.

له شلو کلونو وروسته د اسلامي امارت په اړه د نړیوالې ټولنې غبرګون داسې هم و چې ځینو هېوادونو لکه چین، روسیې، ایران، ترکیې او ځینو نورو آسیایي هېوادونو اعلان وکړ چې په افغانستان کې له نوي حکومت سره سوداګري غواړي او له امله یې له اسلامي امارت سره اقتصادمحوره پالیسي تعقیبوي.[٧]

## د اسلامي امارت په بیاځلي واک ته رسېدو سره د افغانستان او ایران په اړیکو کې فرصتونه او ننګونې

### أ- فرصتونه

له کله چې اسلامي امارت د دویم ځل لپاه واک ته رسېدلی، هڅې یې پیل کړي چې د خپلې اقتصادي ودې او پراختیا لپاره باید دوستان ولري او له هغوی سره سیاسي، فرهنګي او سوداګریزي اړیکې د ځان په ګټه بولي، اسلامي امارت په دا ځل واکمنۍ کې غواړي چې د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره په بېلا بېلو برخو کې اړیکې ولري چې د دې لپاره یې اقتصادمحوره پالیسي اعلان کړې او د سیمې ټولو هېوادونو ته یې په افغانستان کې د کار او له اسلامي امارت سره تعامل ته بلنه ورکړې، ایرانیان چې د افغانستان جغرافیه ورته خورا ارزښتمنه ده؛ هم له دې فرصته ګټه اخلي او په دې ماډل کې د اسلامي امارت له چارواکو سره اړیکې ټینګوي.

د شا وخوا درېو کلونو په ترڅ کې څو ځله د اسلامي امارت چارواکو ایران ته رسمي سفرونه وکړل او هم د ایران لوړ رتبه پلاوي د اسلامي امارت له چارواکو سره د لیدنو لپاره کابل ته راغلل چې هر ځل یې د دوه اړخیزو اړیکو په ټینګولو ټینګار کړی، په داسې حال کې چې افغانستان هم اړتیاوې لري او هم د نورو هېوادونو په پرتله ایران د دې هېواد لپاره یو نږدې بازار دی چې په کم لګښت ترې ځینې اړتیاوې پوره کېدای شي.

موږ په دې مقاله کې هغو فرصتونو ته نغوته کوو چې افغانستان او ایران دواړه ترې ګټې اخیستلای شي.

## ۱- له افغانستان څخه د امریکا وتل د یوه فرصت په توګه

له افغانستانه د امریکا وتلو د سیمې هېوادونو په ځانګړې توګه د ایران لپاره په داخلي او جیوپولیټیک ډګر کې فرصتونه برابر کړل، په ایډیالوژیک اړخ کې له افغانستانه د امریکا د تېښتې له امله د ایران دریځ  د امریکا پر وړاندې خورا پیاوړی شو؛ ځکه ایران په وېره کې و چې امریکا به زیان ور ورسوي، ایران د امریکا د ماتې انځورولو لپاره د خپلو سیاسي داستانونو د چلولو لپاره په ایډیولوژیکو او نورو برخو کې د طالبانو له واکه ګټه پورته کړه، ایران له امریکا سره دښمني پالي او پر وړاندې یې ښلا ښېلې پالیسۍ کاروي؛ ځکه خو دوی په شل کلن جمهوریت کې د پرځېدلي اسلامي امارت ملاتړ هم کړی و.

په عین حال کې کله چې د اسلامي امارت شتون د ایران لپاره په جیو- سیاسي او جیو-ستراتیژیکو لاسته راوړنو کې ونډه درلوده، دا د ایران لپاره د امنیتي اندېښنې سبب هم و، له همدې امله ایران واک ته د اسلامي امارت په هرکلي کې خورا محتاط و، ایراني چارواکو په ښلاښلو وختونو کې ویلي چې په افغانستان کې د نوې واکمنۍ په اړه به د ایران تګلاره د اسلامي امارت او ایران اسلامي جمهوریت پر وړاندې د چلند پر بنسټ وي[۸]، په همدې اساس په افغانستان کې د امریکا له وتلو وروسته ایران په سیمه کې ستراتیژیکې ګټې لري چې کولای شي د خپلو ګټو د تعقیب لپاره له جیواقتصاد او جیوپولیټیک سره یوځای کړي.

د دواړو هېوادونو ترمنځ په دوه اړخیزه کچه تجارت په ۲۰۲۰ز. کې نږدې ۱،۷۵ ملیارد ډالره و، ایران د افغانستان بازار ته د خوراکي توکو، درملو او نورو محصولاتو یو له سترو صادرونکو هېوادو څخه و، د امریکا له وتلو وروسته د سوداګرۍ دا حجم زیات شو او اقتصادي اړیکي له ایران سره د دې لامل شوې چې د دې دوه هېوادونو د سوداګرۍ کچه زیاته کړي، اسلامي امارت د ایران لپاره د وارداتو تعرفه یو پر اتمه راټیټه کړه چې دا پروسه د ایران د اقتصادي فعالیتونو لپاره خورا اسانه او چټکه شوه[۹]، کله چې په ایران بندیزونه ولګیدل، افغانستان په دې وخت کې ایران ته بدیل بازار برابر کړ، د دې تر څنګ ایران هم په افغانستان کې د پانګونې لپاره لېوالتیا لري، په افغانستان کې د ایران د پانګونې اصلي برخه کوچني او منځوي صنعتونه دي چې د کانونو استخراج، د برېښنا تولید، زیربنا، کرنه او د تعلیم په څېر سکټورونه پکې شامل دي[۱۰].

سربېره پر دې افغانستان د لسیزو راهیسې د یوه جګړه ځپلي هېواد په توګه د انرژۍ د تولید یواځې څو اسانتیاوې لري، له همدې امله د انرژۍ ۸۰ سلنه اړتیاوې د وارداتو له لارې پوره کېږي چې ایران د ۲۱ سلنه ونډې سره د انرژۍ دربېیمه لویه سرچینه ده[۱۱]، دې کار ایران ته په افغانستان کې دننه اقتصادي وزن ورکړ چې کولای شي د خپلو ګټو لپاره یې و کاروي، له افغانستان سره د ایران ښکېلتیا ډېر اړخونه درلودل چې د ۲۰۲۱ز. له اګست وروسته نور هم روښانه شول، ایران لېواله و چې له افغانستانه د سوداګرۍ د لارې په توګه په استفادې د سیمې له نورو هېوادونو سره څو اړخیزو اړیکو ته پراختیا ورکړي چې د هند په همکارۍ د ایران د چابهار بندر پروژه یې یوه ښه بېلګه ده چې ایران له افغانستان او د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره د دوه اړخیزو سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره هند ته اسانتیا برابره کړه، له افغانستانه د امریکا له وتلو وروسته رامنځ ته شوی کړکېچ هم د څو اړخیزو سیمه ییزو همکاریو لپاره لاره هواره کړه چې ایران یې له چین، روسیې او پاکستان سره هیله درلوده، چین هم په افغانستان کې د اسلامي امارت د بیا راڅرګندېدو هرکلی کړی چې ایران د سیمه ییزو همکاریو د پیاوړتیا لپاره یو فرصت ګڼي، د ایران ولسمشر ابراهیم رئیسي د خپلې دندې له پیلولو وروسته د چین له ولسمشر شیجین پینګ سره په ټیلیفوني خبرو کې د افغانستان د امنیت، ثبات او سولې په برخه کې له چین سره همکارۍ ته د ایران لېوالتیا څرګنده کړه.[۱۲]

د امریکا له خوا رامنځ ته شوې خلا د سیمې د قدرتونو لکه چین، روسیې او ایران لپاره اړینه فضا برابره کړه چې د افغانستان په مسئله کې خپله ملګرتیا جوړه کړي، له افغانستانه د امریکا وتلو ایران ته فوق العاده فرصت برابر کړ چې په افغانستان کې پانګونه وکړي او خپلو توکو ته دا مارکیټ خورا ښه او پیاوړی کړي، کله چې په افغانستان کې امریکایانو شتون درلود؛ ایران په ډاډه زړه نه شول کولای چې د ځان لپاره سوداګریزه لابي وکړي، امریکا په یو ډول نه یو ډول په افغانستان کې د ایران د پرمختګونو مخه نیوله؛ خو اوس وخت را رسېدلی چې دواړه لوري له شته فرصتونو ګټه واخلي؛ ځکه له یوې خوا د امنیت شتون او له بلې خوا د امریکا وتل هغه څه دي چې یوه بله فضا یې رامنځ ته کړه او له افغانستانه د امریکا وتل د ټولې سیمې په ځانګړې توګه د افغانستان په امنیتي وضعیت یې خورا ښه اغېز کړی دی.

## ۲- د افغانستان او ایران په اړیکو کې چابهار (سمندري بندر)

افغانستان هغه هېواد دی چې په وچه کې را ګیر دی، دغه هېواد اړتیا لري چې سمندري اوبو ته د رسېدو لپاره د سیمې له هېوادونو سره ښې اړیکې رامنځ ته کړي، په دې سره کولای شي چې له یوه لوري سمندري اوبو ته لاره ومومي او له بل پلوه خپل توکي نورې نړۍ ته صادر کړي او هم خپلې اړتیاوې په ارزانه بیه را پوره کړي، د دې تر څنګ چې افغانستان سمندر ته لار نه لري؛ څو کلونو سختو جګړو ځپلی چې د خپلو وګړو د اړتیا لپاره په ځان نه دی بسیا شوی او نه په دومره شمېر کارخونې لري چې د دې هېواد د وګړو ټولې اړتیاوې پوره کړي، بیا هم د دې ضرورت دی چې د نورې نړۍ له تولیداتو ګټه واخلي، د دې لپاره هم پکار دي چې افغانستان باید سمندر ته لار پیدا کړي او د ځینو هوکړه لیکونو په اساس د نورو هېوادونو له بندرونو ګټه واخلي، دغه هېواد له دوه ګاونډیو سره نږدې پروت هېواد دی چې پاکستان او ایران دي، کله کله پاکستان د کراچۍ په بندر کې افغان سوداګرو ته ستونزې جوړوي چې په مالونو یې ډېر لګښت راځي او کله کله داسې هم کېږي چې پاکستان په افغان سوداګرو لار بندوي چې مالونه یې په میاشتو میاشتو په کراچۍ او یا د پاکستان په نورو سیمو کې پراته وي، د پاکستان د دې کړنو لپاره هم افغانستان ته بدیلې لارې پکار دي چې له دې ډلې یو هم د ایران د چابهار بندر دی چې د کراچۍ په پرتله افغانستان ته نږدې موقعیت لري او افغان سوداګر کولای شي چې په کم وخت او کم لګښت خپل توکي له چین او هنده وارد کړي او یا خپل محصولات همدې هېوادونو ته په وخت او کم لګښت صادر کړي.

دا چې وخت نا وخت افغان سوداګر له دې ستونزو کړېږي؛ اسلامي امارت کولای شي چې په دې اړه له هندوستان او ایران سره نورې خبرې هم وکړي او د چابهار په اړه پخوانې سندونه او موافقې لا پیاوړې کړي، اسلامي امارت کولای شي چې د دې لارې د پیاوړتیا له امله افغانستان ته په اقتصادي او سوداګریزه برخه کې ډېره پرمختیا ور په برخه کړي؛ ځکه امکان لري چې د افغانستان تولیدات د دې لارې هندوستان، منځنۍ آسیا، مرکزي آسیا او په راتلونکې کې اروپایي هېوادونو ته ولېږدول شي او له هغو هېوادونو افغانستان ته اکمالات وشي چې دا د پاکستان پر وړاندې د افغانستان یوه بهترینه لار او بدیل دی.

دا چې د نړۍ هېوادونه اتصال او همپالنې ته اړتیا لري؛ نو پکار ده چې یو د بل مرسته وکړي؛ خو ډېرې هېوادونه د مرستو پر ځای بیا یو بل ته ستونزې جوړوي چې ښه بېلګه یې پاکستان دی، کله چې هم افغان سوداګرو غوښتې، خپل اموال هندوستان ته یا له هندوستانه افغانستان ته ولېږدوي؛ پاکستان یې په وړاندې ستونزې جوړوي، د هندوستان او افغانستان د اتصال لپاره لنډه

لار پاکستان دی؛ خو د دوی نخرو افغانان وهڅول چې په بدیلو لارو چارو فکر وکړي چې یو له هغو څخه د چابهار لار ده چې له کراچۍ څخه افغانانو او هند دواړو ته ارزانه پرېوځي، هند هم په دې خوښ دی چې د چابهار له لارې ګټه واخلي؛ ځکه پاکستان له هندوستان سره ستونزې لري، هندوستان ته هم اجازه نه ورکوي چې له افغانستان سره په ښه ډول وصل شي او سوداګریزي اړیکې یې په خپلو کې سره ښې وي.

په دې دوه لسیزو کې هند څو ځله له افغانستان سره د غنمو مرسته کړې چې د پاکستان له لارې به افغانستان ته د انتقال اجازه نه ورکول کېده، په وړاندې یې یو ښه بدیل د چابهار پر لار بحثونه وشول چې د هند مرستې یې په ښه ډول تر افغانستانه را ورسولې، چابهار د افغانستان او ایران د ګټو لپاره یو تر ټولو ښه فرصت ګڼل کېدای شي، په دې سره د دواړو هېوادونو اړیکې ښې کېدلای او لا پیاوړتیا موندلای شي، د افغانستان اسلامي امارت او ایران دواړو لپاره یو ښه فرصت دی چې له دې لارې اړیکې ټینګې او لا ډېر سهولتونه رامنځ ته کړي، چابهار د پاکستان لپاره د خطر زنګ بلل کېږي؛ ځکه پاکستانیان افغانستان په وچه کې راګیر هېواد بولي او سوداګریزه راکړه ورکړه یې په کراچۍ بندر پورې تړلې بولي؛ نو اوس وخت را رسېدلی چې چابهار لا اباد او لا فعال شي چې دا زموږ لپاره یوه بدیله لاره موندل دي.

چابهار بندر د افغانستان، ایران او هندوستان د سوداګرۍ لپاره ګټوره ټرانزیټي لار ده چې د سیمې پر ثبات ژور اغېز لري، افغانستان او ایران دوه دوست هېوادونه دي چې له پخوا راهیسې یې ښې اړیکې درلودې او چابهار بندر به د دواړو هېوادونو د اړیکو پر ټینګېدو نور اغېز هم وکړي، د چابهار بندر د ایران په سیستان بلوچستان کې موقعیت لري چې د جوړولو تړون یې د افغانستان، ایران او هندوستان ترمنځ لاسلیک شوی، د چابهار بندر د هندوستان له لوري د سلګونو میلیونه ډالرو په پانګونې جوړ شوی، هند له افغانستان او منځنیو اسیایي هېوادونو سره خپلې سوداګریزې اړیکې پیاوړې کړي؛ ځکه خو یې په چابهار پانګونې ته زړه ښه کړ او دا کار یې له چین سره د یوه رقابت له امله هم وکړ، هند غواړي چې په نړۍ او سیمه کې د سوداګریزې راکړې ورکړې په برخه کې پراختیا رامنځ ته کړي او خپل توکي له دې لارې افغانستان، مرکزي او منځنۍ اسیا ته ورسوي؛ نو د دې لپاره یې ښه او غوره لار چابهار غوره کړې ده.

په دې وروستیو کې چې د امریکا له خوا پر ایران سوداګریز بندیزونه ولګول شول، نو د چابهار بندر هم له ځینو ننګونو سره مخ شوی دی، هیله کېږي چې اسلامي امارت له ایراني چارواکو سره په دې تړاو خبرې اترې وکړي چې تر څو د چابهار اړوند ستونزې اوارې

او د افغانستان اړتیاوو ته په کتو د منظمو صادراتو او وارداتو لړۍ پیل شي او دا بندر د یوه ښه اقتصادي ارزښت څخه برخمن شي او همدا ډول ایران او اسلامي امارت دواړه د یوه عالي فرصت په توګه ترې ګټه واخلي.

د ریاست‌الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر ایران ته د خپل یوه رسمي سفر په ترڅ کې د روان ۱۴۰۲ ل. د عقرب په ۱۸مه له چابهار بندر څخه لیدنه وکړه او له ایراني لوري یې وغوښتل، چې چابهار بندر ته د افغانستان لاسرسی اسانه کړي، تر څو له دې لارې خپل صادرات د نړۍ بازارونو ته ورسوي. ایراني لوري په چابهار بندر کې د افغانستان لپاره د اړینو اسانتیاوو د رامنځته کولو ژمنه وکړه او د دواړو هېوادونو د تخنیکي ټیمونو په ګډه کار یې ټېنګار وکړ. چابهار بندر د افغانستان لپاره د کراچۍ بندر په پرتله څه کم درې سوه کیلومتره لنډ دی، چې له دې لارې به د صادراتو په لګښت او وخت کې په بې ساري ډول کموالی راشي. چابهار بندر افغانستان ته نوي سوداګریز او ترانزیټي ملګري پیدا کولای شي او په لږ وخت او لږو مصارفو سره به له نړیوالو سوداګریزو بازارونو سره ونښلول شي. له دغې لارې سره افغانان کولای چې له هند او چین سره اقتصادي اړیکې پیاوړې کړي او د ایران په شمول ورسره یو ګډ سوداګریز دهلیز رامنځته کړي چې له مخې به یې د درې واړو هېوادونو په اقتصادي چاپیریال کې اغېزناک تمام شي او همدارنګه به د ځینو نازدانه او بهانه پرورو هېوادونو له نازونو او بې ځایه بهانو هم خلاصون ومومو.

## ۳- د افغانستان او ایران په اړیکو کې ګډه سوداګري

په تېرو وختونو کې افغانستان د سیمې د اقتصادي ودې او سوکالۍ لپاره یوه حیاتي لار وه. له همدې امله په دغه هېواد کې د څو لسیزو جګړو له امله له یوې خوا اقتصادي بنسټونه له منځه تللي او له بلې خوا د توکو د تبادلې او ټرانسپورټ په برخه کې اقتصادي وده له ګڼو ستونزو سره مخامخ شوې ده. په افغانستان کې کورنیو جګړو یوه لویه اقتصادي او کلتوري خلا رامنځته کړه او دا هېواد یې یو له بې وزلو هېوادونو څخه کړ او د افغانستان یو پر دریمه برخه نفوذ یې په هېواد کې دننه او بهر بې ځایه کړ چې لویه برخه یې لوستی کهول و. افغانستان د درې لسیزو جګړو د تخنیکي او تخصصي کارګرانو مهاجرت، د پانګې وتل، د حکومت کمزوري او د مرکزي واک کمښت، د ټرانسپورټ او سوداګرۍ د ضایع کېدو او داسې نور تر بل هر کار ډېر اړین بریښي، خو له کله چې اسلامي امارت واکمن شوی دې ستونزې ته یې پام شوی چې د سیمې د نورو هېوادونو ترڅنګ یې له ایران سره هم سوداګریزې اړیکې ټینګې کړې چې غوښتل یې خپلې اړتیاوې له نږدې بازاره پوره او د

خپلو توکو لپاره هم یو مناسب مارکیټ و مومي. افغانستان چې د طبیعي زیرمو له پلوه خورا غني دی، خو څو ګلنو جګړو پکې دا فرصت پیدا نه کړ چې ماهر کاریګر پکې کار او وده وکړي او د دې هېواد زیرمې په سمه او تخنیکي توګه و کاروي. د دې لپاره د سیمې بېلا بېلو هېوادونو لکه چین، هند او ایران خپله علاقه ښکاره کړې او د اسلامي امارت د مسولو چارواکو سره پرې په خبرو بوخت دي، په همدې لړ کې د اسلامي امارت پلاوي د ایران له پلاوو سره په کابل کې یوه غونډه هم کړې وه چې تمه کېده چې له ډېرو لاسته راوړنو به ډکه وي. کېدای شي چې د ایران او اسلامي امارت د چارواکو غونډې موثرې او ګټورې تمامې شي چې تر څو د دواړو هېوادونو په سوداګری کې نوښتونه رامنځته شي او د یوه فکتور په توګه ستر نوښتونه رامنځته کړي.

ایران د خپلې سوداګرۍ لپاره افغانستان مهم هېواد ګڼي او غواړي چې له دې لارې د ځینو نورو هېوادونو سره سیاسي او سوداګریزي اړیکی ولري، هند او افغانستان د ایران چابهار بندر د خپلمنځي سوداګرۍ لپاره کاروي. د ایران بله اقتصادي موخه افغانستان او نورو ختیځو هېوادونو ته د تیلو او غازو صادرات او د دغو هېوادونو بازارونو ته لاسرسی دی. ایران په کور دننه سیاسي خوځښتونو او د امریکا د بندیزونو له امله د اقتصادي ستونزو سره مخ دی او داسې ښکاري چی د امریکا لخوا به فشار نور هم پرې زیات شي. د ایران او افغانستان د ګډې سوداګری د پیاوړتیا لپاره ځیني اړین اقدامات هم ترسره شوي چې یو له دې څخه د افغان او ایراني سوداګرو د ګډې ټولنې رامنځته کول دي چې ښایي د دې دوه لورو د سوداګری په برخه کې به موثر ګام وي. همدارنګه وروستي ارقام ښیي چې د افغانستان او ایران کلنۍ سوداګري کابو یو میلیارد ډالرو ته رسېدلې چې د نور پورته تللو امکاتات هم لري، خو په دې کې د افغانستان د صادراتو کچه کمه ښودل شوې. بل خوا افغان سوداګر وایي چې له ایران سره سوداګري تر ۱۰ میلیادو رسوو، خو غوښتنه کوي چې د چابهار بندر ټرانزېټ باید عملي شي. اسلامي امارت د ایران او افغانستان د خپلمنځي سوداګرۍ او د چابهار بندر له لارې د ټرانزېټ د پراختیا لپاره له سیستان بلوچستان سره ګډه کمېټه هم جوړوي. د افغانستان او ایران ترمنځ ګډه سوداګري یو له هغو کړنو څخه دی چې د دې دوه هېوادونو اړیکې یې پیاوړې کړې او دا په یو فرصت بدله شوې چې دواړه خواوې ترې ګټه پورته کوي او هڅې کوي چې پخپلو دوه اړخیزو اړیکو کې د سوداګری کچه ډېره چې له امله یې په سیمه کې ثبات او ټولنیزه وده رامنځته کېږي.

ګډه سوداګري هغه فرصت دی چې نورو فرصتونو ته لار اواروي او د سیمو د سوداګرو ترمنځ اړیکې بیاوړې کوي. افغانستان او ایران هغه دوه ګاونډي هېوادونه دي چې پخپلو کې اوږده پوله لري او نږدې یو بل ته پراته دي، دغه هېوادونه کولای شي چې په سوداګریزو برخو کې یو پر بل تکیه وکړي او خپلې اړتیاوې هم له یو او بل پوره کړي چې په دې سره د دواړو هېوادونو اقتصادي وضعیت ښه کیدای شي.

همدارنګه د ایران او افغانستان د پراخې ګډې پولې د درلودلو له امله، افغانستان او ایران لوی سوداګریز شریکان ګڼل کېږي. د افغانستان صادرات ایران ته له منځنۍ آسیا سره د سوداګریز دهلیز د یوې برخې په توګه، په ۲۰۱۳ ز.کال کې له ۴۰ میلیونو ډالرو نه لوړ شول (چې ډېری یې د کرنیزو محصولاتو په بڼه کې وو)، خو په ۲۰۱۹ ز. کې بېرته تر ۲۰ میلیونو ډالرو پورې راټیټ شول. په ۲۰۱۸ ز.کال کې افغانستان ته د ایران صادرات چې زیاتره یې د نفتي توکو په بڼه کې دي، په پرله پسې ډول له ۲.۸ میلیاردو ډالرو نه زیات شول. په ۲۰۲۱ ز. کې له افغانستان نه د امریکا له وتلو وروسته، طالبانو اعلان وکړ چې له ایران نه به د تیلو واردات بېرته پیل کړي. ایران د خپل سوداګریز ځواک او معدنی شتمنیو په درلودلو سره د افغانستان د اقتصادی بیا رغونی په برخه کې د یو ستر عامل په توګه انګېرل کېږي.

## ۴- د افغانستان او ایران په اړیکو کې ایډیالوژیکي فرصتونه

افغانان او ایرانیان د دین له پلوه د یوه فکر مسلمانان دي، کیدای شي چې دا فکتور د دواړو خواوو په اړیکو کې ښه والی رامنځته کړي او په دې سره یو د بل مرستې وکړي. که نړۍ ته پام وشي د نورو فکتورونو د ویشلو ترڅنګ په اسلامي او غېر اسلامي هم وېشل شوې، اړینه ده چې اسلامي هېوادونه دا کلتور سره وپالي، تر نورو ډېر همدا کار اړین بریښي چې ترسره شي، که زمونږ دید له اسلام سره تړلی وي او د همدې زاویې څخه سیمې، هېوادونو او موضوعاتو ته وګورو فکر کووم ګټوره به تمامه شي، ځکه پدې سره د اسلامي نړۍ او مسلمانانو اخوت، یووالی، زور، خبره او مال قوت پیدا کوي. که په نړۍ کې مسلمانانو خپل ایډیالوژیک کار مخې ته بیولی وای او دا یې د یوه فرصت په توګه کارولی وای، ښایي په نړۍ کې یې د اړیکو او پرمختګونو په برخو کې ډېره وده کړې وای. د دې پر ځای چې له دې څخه د یوه فرصت په توګه ګټه واخیستل شي، دا ډول موضوعات بد تعبیروو او د ځان لپاره یې په ګټه نشو تمامولی. مونږ بیا اسلام په څو برخو ویشو، ډلې، ډلې کوو یې، فرقې ترې راباسو، ځان ښه او بل بد ګڼو، دا بیا هغه موضوعات دي چې

زمونږ په ناپوهی دلالت کوي. اړینه ده چې د یوه اسلام تر چتر لاندې خپل ژوند عیار کړو او داسې ژوند اختیار کړو چې د نورو لپاره درسونه و اوسي.

ایرانیان تل په دې هڅو کې وي چې خپل ایډیالوژیک نفوذ پراخ کړي، خو ستونزه یې داده چې دوی په لومړي قدم کې شیعه غواړي او په اسلام کې یې ټول تمرکز په شیعه توب پورې محدود دی، پداسې حال کې چې سني وګړي هم ځانونه مسلمانان بولي او وایي چې په نړۍ کې د مسلمانانو نفوذ په ډېر شمېر دی چې دا د ځان لپاره ویاړ بولي. زمونږ د مطالعیو له نظره مسلمانان د یو فکر خاوندان دي، دا چې دوی چا ویشلي، چا پکې کار کړی دا بیا یوه بله موضوع ده، خو ضروري خبره دا ده چې مسلمانان په کوم ښه ډول د خپلو فکري او ایډیالوژیکو شتو څخه ښه او سمه ګټه اخیستلی شي. څنګه یو د بل مرستو ته وردانګلی شي او څنګه په یو ښه ډول یو د بل لاسنیوی کولای شي.[۱۳]

د څېړنې په دې موضوع کې چې د ایران او افغانستان اړیکې یې عنوان دی ښایي ایډیالوژیک فرصتونه په ننکونو واوړي چې د امکان وړ دی؛ خو زمونږ هڅه دا ده چې دا موضوع د دې دوه هېوادونو ترمنځ په یو فرصت بدله کړو، د افغانستان په اسلامي امارت سربېره ایران ته هم روښانه کړو چې دې فرصتونو ته جدي پام وکړي او دواړه خواوې یې باید عملي کړي، که له تېرو لږ راتېر شو او خپل لید لږ پراخ کړو، ایران او افغانستان دوه اسلامي هېوادونه دي چې ګډ دیني، مذهبي او کلتوري مشترکات لري او د دې دوه هېوادونو د اړیکو اساس هم باید په دین ولاړ وي.[۱۴]

د دې پر ځای چې ایران او افغانستان، د ایران او سعودي په ډول غیر سالمې سیالۍ وکړي ښه به وي چې له ګډو فرصتونو ګټه واخلي او د یو بل د تکیه کېدو او را پورته کولو لپاره یو بل ته لاس ورکړي، په داسې حال کې چې په نړۍ کې تبعیض ډېر شوی او ورځ تر بلې ستونزې په ډېرېدو دي. که لومړۍ د ایران او اسرایلو ستونزو ته سر ورښکاره کړو دا امکان ښیي چې د دوی اړیکې به لا خرابې شي، ایران ته پکار دي چې د خپل ځان او خپلو وګړو د خوندي کولو لپاره هم باید له افغانستان سره ښې اړیکې ولري او دا ډول فکر افغانان هم باید ولري که په راتلونکې کې افغانستان ته کومې ستونزې رامنځته کېدې او یا یې امکان و، د افغانانو لپاره نږدې ځای ایران دی چې یا پکې ځانونه خوندي کړي او یا هم نوره ګټې ترې پورته کړي.

ایران ته پکار دي چې په نړۍ کې د واحد اسلامي نظام لپاره کار وکړي او خپل وګړي د شیعه توب څخه را وباسي، همدا ډول سعودي عربستان هم باید د اسلام په اړه خپل لید

پراخ کړي او ځان یوازې وهابیت ته وقف نکړي، که اسلامي نړۍ له دې خودخواهی او فرقه ییز هویت څخه راووته مونږ ډاډه یو چې اسلامي هېوادونه به یو ځل بیا خپل شان ترلاسه او د ژوند یوه سالمه دوره به رامنځته شي. اوس وخت کې دواړو لورو ته پکار دي چې د یوې ځانګړې ژمنې له مخې د یو بل په کورنیو چارو کې لاسوهنه و نکړي، قومي، ژبني او نورې ستونزې په فرصتونو بدلې کړي چې دا د هریو په ګټه کار دی.

## ۵- د نشه یي توکو او قاچاق مخنیوی، د یوه فرصت په توګه

افغانستان او ایران هغه دوه هېوادونه دي چې په نړدې موقیعیت کې یو او بل ته پراته دي، دا هېوادونه کولای شي چې یو او بل د خپلو خوړو له خوند څخه برخمن کړي، هغه مهال چې ښې اړیکې ولري او پخپلو اړیکو کې پرمختګونه ولري. که سیاسي تاریخ ته نظر واچوو د دې دوه هېوادونو اړیکې پیړیو ته رسیږي، خو وروسته یې سړې او تودې لیدلې چې دا اړیکې یې یا سړې او یا یې کمرنګې کړې دي. اړتیا ده چې دا هېوادونه د ځان او ملي ګټو د خوندي کولو لپاره باید ښې اړیکې رامنځته او په ښه توګه یې وپالي، هغه ستونزې چې د دې هېوادونو په سرحدونو کې رامنځته کېږي او یا په یو او بل پورې تړلې وي امکان لري چې د ډیپلوماټیکو چینلونو له لارې شریکې او حل ته ورسیږي.

نشه یي توکي چې یو له بدو پدیدو څخه دي باید پر وړاندې یې جدي اقدامات ترسره شي، دا توکي نه یواځې په یوه کور او یا یوه هېواد کې مضر دي، بلکې دا یوه مضره بلا شمېرل کېږي چې په هېوادونو، کورونو، مدرسو او ښوونځیو کې انسانانو ته زیان رسوي، دا کار اوس د یوه فرصت په توګه د ایران او د افغانستان اسلامي امارت په اړیکو کې منعکس کېدای شي. ځکه ایران له کلونو راهیسې د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه کوي او هر وخت یې د ملامتی ګوته افغانستان ته نیولې وي، همدارنګه اسلامي امارت هم په دې دوره کې په دې برخه کې خورا جدي ښکاري، نو ځکه دا موضوع د یوه فرصت په توګه د دواړو خواوو په اړیکو کې د پیاوړتیا سبب ګرځیدلی شي.

له کله چې اسلامي امارت د دوهم ځل لپاره واک ته رسیدلی، د افغانستان په ټولو سیمو، ولسوالیو او کلیو کې یې د کوکنارو او چرسو پر ضد اقدام کړی ده چې په ډېر شمېر ځمکې یې له دې کرکیلې څخه پاکې اړولې او د مسولینو سره قانوني چلند کړی اوسمهال په افغانستان کې د نشه یي توکو خرڅلاو په مکمله توګه بند شوی او د اسلامي امارت له پلوه هیچا ته اجازه نشته چې دا توکي یا څوک و پلوري او یا یې څوک را ونیسي او همدا ډول یې کر کیله وکړي. دا چې په دې وروستیو کې په افغانستان کې هم د دې توکو

مصرف ډېر شوی و او د روږدو په شمېر کې زیاتوالی راغلی و، افغان کورنیو ته هم د خپلو ځوانانو په اړه اندېښنه پیدا شوه او له دولت یې غوښتنې کولې چې د دې پدیدو په اړه دې اقدامات وکړي.

له کله چې اسلامي امارت په اقداماتو لاس پورې کړ، دا کار افغانانو په کور د ننه او بهر وستایه او خپل ملاتړ یې و ښوده، که ایران په دې اړه د ملامتۍ ګوتې مونږ ته نیسي، خو مونږ بیا د دوی څخه دې مرض نیولي یو، که څه هم د نشه یي توکو په برخه کې ایران د مصرفونکو هېوادونو په کتار کې ډېر لوړ دی چې تر دوه میلیونو زیات کسان د هیروینو او تریاکو په څېر په نشه یي توکو روږدي دي. (۱٦) دوی دا ستونزه په مستقیم ډول له افغانستان سره تړلې، ځکه چې دا یې د تریاکو لوی تولیدونکی هېواد باله. د دې پدیدې د له منځه وړو د پاره ایران د "مثلثي نوښت د ګډ پلان جوړونې حجره" هم جوړه کړې چې له مخې یې ایران، پاکستان او افغانستان د مسلې د کمولو لپاره په ګډه کار کوي[۱۷]، د ملګرو ملتونو د راپور له مخې چې په ۲۰۲۲ز. کې خپور شوی دی پکې ویل شوي چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د اپینو تولید تر پخوا کم شوی[۱۸]، د ایران له نظره د کوکنارو د کښت پراختیا او د مخدره موادو تولید او د هغوی قاچاق د نا امنۍ او په ایران کې د اعتیاد زیاتیدو سبب ګڼي او وایي چې د نړۍ تر ٪۷۰ زیات تریاک په افغانستان کې تولیدېږي، په داسې حال کې چې د اسلامي امارت له راتګ سره د کوکنارو او نورو نشه یې توکو کرکېله صفر شوې ده.

له افغانستانه ایران ته او له ایرانه افغانستان ته د ځینو مخدره توکو صادرول د دواړو هېوادونو ترمنځ د کړکېچ یو لامل دی چې دواړه لوري له دې ستونزې سر ټکوي، لازمه معلومېږي چې د دې شومې پدیدې د مخنیوي په اړه باید لازم اقدامات ترسره شي او دواړه لوري په پوره اخلاص په دې برخه کې کار وکړي او هغه حجره چې د همدې کار د تعقیب لپاره جوړه شوې؛ باید پیاوړې شي او معلومه شي چې کوم اړخ ډېر اغېزمن شوی؛ خو ایرانیان وایي چې طالبانو د خپل واک د ټینګولو لپاره له نشه یي توکو څخه کار اخیستی او افغانان د کوکنارو کښت یو اقتصادي فعالیت او د عاید سرچینه ګڼي، په ایران کې په نشه یي توکو د روږدو کسانو شمېر له دوه میلیونو زیات شوی، د ایرانیانو په خبره چې ملت ته یې نه جبرانېدونکي زیانونه اړولي دي چې د ډېرو اقتصادي امکاناتو، امنیت او د قانون د تنفیذ وړتیا یې له منځه وړې[۱۹] او ایران ته د نشه یي توکو د ننوتلو یوه پایله په دغه هېواد کې د دغو نشه یي توکو د لېږد او وېش له امله د نشه یي توکو د روږدو کسانو او جرمونو

زیاتوالی دی. د ایران د پولیسو د اعلامیې له مخې په ۱۳۸۹ز. کې د نشه یي توکو اړوند ۵۸۹ تنه نیول شوي[۲۰] چې د ۲۰ او ۲۵ کلونو تر منځ د مخدره توکو د روږدو کسانو په کچه کې ۱۵٪ زیاتوالی راغلی چې د انساني قاچاق د زیاتوالي لامل یې هم بولي.[۲۱]

لکه څنګه چې ایران په دې برخه کې د اغېزو دعوه کوي، افغانستان هم د دې ناروغۍ ښکار شوی، هغه مهاجرین چې ایران ته د ژوند او یا کار لپاره تللي او بېرته راستانه شوي په مکمله توګه معتادین راغلي، د خپلو کورنیو هیلې یې نا هیلې کړي، که مونږ د افغانستان چاپېریال ته نظر واچوو په هغه کچه مخدره توکي نه تولید شوي او نه کرل شوي چې ایران یې د عوه کوي، د دې پر ځای چې ایران یوه جګړه ځپلي افغانستان ته مخ اړوي پکار دی چې په دې برخه کې نورې څېړنې هم ترسره کړي او معلومه کړي چې په سیمه کې نور څوک هم شته او کنه، خو د اسلامي امارت په راتګ سره په دې برخه کې ګړندي ګامونه اخیستل شوي، که په کمه کچه قاچاق او یا تولید په افغانستان کې شوی وي هغه هم اوس له منځه تللی او په دې برخه کې اسلامي امارت خورا جدي ښکاري. په دې اړه ملګرو ملتونو هم په خپلو راپورونو کې ویلي چې د اسلامي امارت په راتګ سره په مخدره توکو کې کموالی راغلی دی، دا هغه څه و چې اسلامي امارت ته یو ټاسک هم و چې د خپلې واکمنۍ په لړ کې به دا کړنې ترسره کوي او که غواړي چې حکومت یې په رسمیت وپېژندل شي.

ایران او د افغانستان اسلامي امارت کولای شي چې د نشه یي توکو څخه د مخنیوي په لار کې ښه ګټه واخلي او دا کار په یو فرصت بدل کړي، ځکه که له یوې خوا ایران نه غواړي چې هلته دې د نشه یي توکو قاچاق او کارول وشي، بل خوا اسلامي امارت هم په دې برخه کې جدي ښکاري، افغانستان ته د اسلامي امارت په راتګ سره د نشه یي توکو کرکیله صفر شوې او د دې پدیدې د کاروونکو سره قانوني چلند کوي چې د بیا ځل لپاره دې کار ته زړه نه ښه کوي. ایران ته په کار دي چې د دې دوه هېوادونو د اړیکو د ټینګولو لپاره په نړیوالو ستېجونو کې غږ پورته کړي چې په افغانستان کې د نشه یي توکو کرکیله صفر شوې باید چې نړیوال بدیل معیشت ورکړي، په دې سره امکان لري چې په افغانستان کې بې روزګاره وګړو ته د کار زمینه برابره شي او د بیا لپاره د نشه یي توکو کر او قاچاق ته مخه نه کړي. د ایران او افغانستان اسلامي امارت دواړو لپاره دا یو فرصت دی چې په دې برخه کې ګډ کار ترسره کړي او دواړو خواوو ته د زیان په ځای ګټې ورسول شي. بیا هم دواړو لوریو ته په کار دي چې په دې برخه کې سرحدي پولیس وروزي او د دې قاچاق مخه دواړو خواوو ته و نیسي او د قاچاقبرو سره قانوني چلند وکړي.

**٦- د افغانستان او ایران په اړیکو کې د هلمند سیند اوبه د یوه فرصت په توګه**

اوبه د الله تعالی هغه ستر نعمت دی چې له امله یې انسانان، حیوانات، نباتات ژوندي دي، که اوبه نه وای د انسانانو ژوند به نه وای، ځکه په انسانانو سربېره نباتات هم اوبو ته اړتیا لري چې وروسته د انسانانو غدایي اړتیاوې پوره کوي. د نړۍ ډېر هېوادونه په نورو برخو کې په ځان بسیا ولې د اوبو په برخو کې له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي. افغانستان او ایران هم هغه دوه هېوادونه دي چې د اوبو په برخو کې له ستونزو کړېږي، ایران خو لا ښه دی چې سمندر لري او له سمندر سره ډېرې لارې لري، ستونزه کې را ګیر افغانستان دی چې له یوې خوا په وچه کې را ایسار دی له بلې خوا د څښلو لپاره پوره اوبه نه لري. دا چې هېوادونه یو له بل سره په اهمو او اړو موضوعاتو کې مرستې کوي؛ نو د افغانستان د هلمند سیند اوبه هم د دواړو هېوادونو لپاره یو فرصت دی چې اړیکې یې ورسره پیاوړې کېدای شي. هلمند او هریرود افغانستان ته هایدرو هیمونیک موقعیت ورکړی چې دا له ایران سره په ترلیو موضوعاتو کې د دې هېواد د بهرني سیاست یو جیو پولیټیکل کوډ هم دی.

ایران ته پکار دي چې د اوبو په برخو کې د خپلو ستونزو د حل لپاره له افغانستان سره ښې اړیکې ولري او دا اړیکې په دوامداره توګه و پالي. په دې برخه کې د دې دوه هېوادونو اړیکې دواړو خواوو ته ګټورې تامیدلی شي، ایران ته به اوبه پیدا شي او افغانستان ته به هم د عاید او کار یوه لار و موندل شي. د هلمند سیند له اوبو څخه ایران کولای چې د سیستان او بلوچستان ولایتونه اباد کړي او د هغوی زراعت ته وده ورکړي چې په دې سره کیدای شي په دوه اړخیزو اړیکو کې لا ډېر پرمختګ رامنځته شي.

ایرانیان په دې نظر دي چې افغانستان دا کوډ په ایران د یوه فشار په توګه کاروي. ایران ته په سیستان او بلوچستان ولایتونو کې د اوبو جدي اړتیا ده چې دا اړتیا په افغانستان پورې ترلې بولي. له ایران سره د اوبو موضوع افغانستان نهایي ګڼي، خو ایرانیان هر وخت شکایتونه کوي چې افغانستان حقابه نه ورکوي، پداسې حال کې چې د څو لسیزو راپدېخوا ایران دا اوبه وړیا او له خپلې اندازې زیاتې کاروي، خو ایران ځان د افغانستان د جیوپولیټیک بشپړونکی او افغانستان د ایران د هایدروپولیټیک بشپړونکی ګڼي. له ایران سره په ۱۹۷۳ز.کال کې شوي تړون کې دغه هېواد ته د هلمند سیند له اوبو څخه په نورمالو کلونو کې په هره ثانیه کې ۲٦ متر مکعب اوبه (۲۲ متر مکعب د ایران سهم او ۴ متر مکعب د ښه ګاونډیتوب) منل شوې دي،

پر دغو اوبو د وچکالی د اغېزو په اړه هم دقیق معلومات نشته او په دې تړاو یې خبرې اترې له ماتې سره مخ کړي او دواړه لوري یې د تورونو لګولو په لوبه کې ښکېل کړي دي. دغه وضعیت پر دوه‌اړخیزو اړیکو خورا منفي اغېزې هم کړې دي. دا اندېښنې داسې مهال دي چې په افغانستان کې د اوبو د کمښت ګواښ، د اوبو ناسم مدیریت او په تېرو څلورو لسیزو کې د اوبو لپاره د بنسټیز کار نه شتون د دې لامل شوي دي[22]، د اوبو مسله د ایران او افغانستان تر منځ د جنجال یو هډوکی دی چې له نولسمې پېړۍ راهیسې تاریخ لري.[23]

په دواړو هېوادونو کې د اوبو کمښت شتون لري، په ځانګړې توګه د ایران په هغو برخو کې چې له افغانستان سره پوله لري. د هلمند سیند، چې د ایران سیستان او بلوچستان ولایتونو ته اوبه ورکوي، د افغانستان لپاره هم د ډېرو سیمو د اوبو لویه سرچینه ده. اصلي اندېښنه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو د شریکولو میکانیزم په اړه ده. د دواړو هېوادونو تر منځ په ۱۹۷۳ ز. کې د سیند د اوبو د کارولو په اړه یو تړون لاسلیک شو چې دواړه خواوې یې په اجرا مکلفې وې، خو افغان لوري ته معلومه شوه چې ایران د دې تړون څخه سرغړونه کوي او له خپلې حق ابې څخه زیاتې اوبه ترلاسه کوي.[24]

د ایران لپاره لویه اندېښنه د هغه ځای نفوذ و چې د ایران له حکومت یې د اوبو په برخه کې د کار غوښتنه کوله، کومو چې د سیند سره نږدې ژوند کاوه او په اوبو باندې یې ډېره تکیه درلوده. هغوی په داسې مهال له ایراني دولت غوښتنه کوله چې خپلې اوبه یې نه درلودې او وړاندیزونه به یې کول چې د دې ستونزې د حل په اړه دې له افغانستان سره خبرې اترې وکړي چې تر څو د ایران ستونزې ورسره حل شي. په دې اړه د ایران دولت مجبور شو چې له افغانستان سره خبرې وکړي چې باالاخېره یې لومړنۍ تړون ترمنځ وشو چې پخوانی قرارداد دی او اوس هم د یوه فرصت او اړیکو لپاره کار ترې اخیستل کېږي. دا قرارداد دواړو لوریو ته د دې فرصت په لاس ورکوي چې ښې اړیکې سره ولري او د ښو اړیکو په شتون کې به ستونزې له منځه ولاړې شي.

ایران په سیستان او بلوچستان کې اوبو ته ډېره اړتیا لري او دا اړتیا کاملا له افغانستان سره تړلې ده، چې د افغانستان له مرستې پرته هلته اوسیدل او زراعتي وده نا ممکن کار دی. ایراني چارواکو بیا بیا غوښتنه وکړه چې افغانستان دې په دې برخه کې ورسره مرسته وکړي چې باالاخېره د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سرپرست د ایران د حق آبې په اړه د افغان حکومت دریځ واضح کړ او ویې ویل چې اسلامي امارت د افغانستان او ایران تر منځ د ۱۳۵۱ هـ ش کال د اوبو معاهدې ته ژمن دی، خو دا چې د بارانونو د کمښت او وچکالي

له امله اوبه کمې شوې دي دا یو واقعي عذر دی. متقي هیله وښوده، چې د بارانونو په وربېدو سره به دا ستونزه حل شي.

ایران د افغانستان په نیمروز ولایت کې د کمال خان بند د جوړولو په اړه جدي اندېښنه درلوده؛ ځکه چې د اوبو جریان ګډ وډ کول او په راتلونکو کلونو کې د ایران په ولایتونو کې د اوبو جدي ستونزې رامنځ ته کول ستونزه وه[25]، همدا ډول د فراه ولایت د بخش اباد بند هم د اوبو ستونزه لا پسې زیاته کړه؛ ځکه چې د خلکو لوی شمېر د دغو سرچینو په اوبو پورې اړه لرله[26]، د طالبانو له خوا د کمال خان بند له پرانېستلو وروسته د اوبو مسئله تازه شوه.[27]

## ب: ننګونې

د افغانستان اسلامي امارت او ایران ترمنځ په اړیکو کې ځینې ننګونې هم شتون لري، لکه د هلمند د اوبو موضوع، په ایران کې د افغان مهاجرینو موضوع، ایډیالوژیکي ننګونې، د نشه يي توکو قاچاق او داسې نور چې په لاندې توګه وړاندې کېږي.

### ۱- افغان کډوال او مهاجرین

په افغانستان کې د جګړو پر مهال د افغان کډوالو او بې ځایه شویو ډېر شمېر ګاونډي هېواد ایران ته اوښتي وو او د افغانستان د نا امنیو له امله د ایران هېواد ډېر شمېر هغه افغان کډوال منلي وو چې نه شي کولای بېرته خپل هېواد ته ستانه شي، په ایران کې د دې وګړو پاتې کېدل ایران د ځان لپاره اغېزې بولي.[28]

ایران ته د افغان مهاجرینو ورتګ د بې ثباتۍ او په افغانستان د تپل شوو جګړو له پایلو څخه دي[29]، له همدې امله په ایران کې د افغان کډوالو او بې ځایه شوو کسانو موضوع د ایران لپاره یو له اغېزناکو عواملو څخه ګڼل کېږي.[30]

په دې اړه تېر جمهوري حکومت او اوس اسلامي امارت دا موضوع له پامه نه دې غورځولې، ځکه که دا موضوع له یوې خوا د ایران لپاره اغېزې لري له بلې خوا د افغانستان لپاره هم بې اغېزو نه دی.

له کله چې اسلامي امارت د دویم ځل لپاره په افغانستان واکمن شو، د نورو موضوعاتو تر څنګ یې د مهاجرینو موضوع هم وخت په وخت تعقیب کړې چې په ډېر شمېر سره مهاجرین له ایران څخه افغانستان ته ستانه شول؛ خو کله چې په ایران کې افغان مهاجرو غږ پورته کړ چې ظلم ورسره کېږي د اسلامي امارت چارواکو وویل چې د ایران په مشهد، تهران او ذاهدان ښارونو کې اتشې لري چې د کډوالو ستونزو ته په وخت رسیدنه کوي.[31]

په دې سربېره په ایران کې په زرګونو افغان بندیان په بېلا بېلو جرمنو بندیان شوي چې ځینې یې اعدام شوي او ځینې کلونه کلونه بند تیروي، د دې موضوعاتو د اواري لپاره د اسلامي امارت لوی څارنوال شمس الدین شریعتي ایران ته سفر وکړ او هلته یې د مسولینو سره د افغان بندیانو د وضعیت د ارزوني او افغانستان ته یې د انتقال په اړه له چارواکو سره خبرې اترې وکړې.[۳۲]

همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال شېر محمدعباس په دې وروستیو کې وویل چې ګاونډي هېوادونه باید له افغان کډوالو سره ناوړه چلند ونه کړي او د کډوالۍ د نړیوالو قوانینو له مخې ورسره ښه چلند وکړي. هغه ویلي و هڅه کېږي چې له ډیپلوماتیکو لارو په ګاونډیو هېوادونو کې له مېشتو افغان کډوالو سره د ناوړه چلند مخنیوی وشي.[۳۳]

له ایران سره د دوه اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا لپاره د افغانستان اسلامي امارت دوه بندیان چې یوه ښځه او یو نارینه و ایران ته سپارلي[۳۴]، که ایران د افغان مهاجرینو د زیات شمېر له امله اندېښمن دی پکار دي چې د یوې لازمې پالیسۍ له مخې دا ستونزه د افغان حکومت سره په ګډه مدیریت کړي او په تدریجي توګه افغان مهاجرینو ته لاره جوړه کړي چې ترڅو خپل هېواد ته په ارامه فضا کې ستانه شي، دواړو لورو ته پکار دي چې دا ستونزې د خبرو له لارې حل کړي او دا موضوع دې ته پرېنښودل شي چې نورې ستونزې وزېږوي.

## ۲- امنیتي اندېښنې

په منځنۍ ختیځ کې د داعش ډلې ظهور تر ټولو زیات د ایران پر ضد و، په دې اړه ایران ته ډېرې اندېښنې پیدا شوې، هغه مهال لا اندېښمن شو چې کله یې پرله پسې توګه شیعه ګان په نښه کړل. دا او دې ته ورته نورې امنیتي اندېښنې دي چې د ایران او اسلامي امارت لپاره ګډ کار ایجابوي. داعش نه یوازې شیعه ګان په نښه کوي؛ بلکې نور خلک هم ترې خوندي نه دي.

په همدې اساس دا ډله د ایران او اسلامي امارت ګډ دښمن بلل کېدای شي، دواړه خواوې ترې ویره لري او په ځپلو یې لګیا دي. دغه ډله چې د ۲۰۱۵ز. په جنوري کې راڅرګنده شوه په سیمه کې یې د خراسان څانګه اعلان کړه چې دواړو لوریو ته په یو ګواښ بدله شوه. دغې ډلې د افغانستان په ختیځو ولایتونو کې د خلکو په وژلو لاس پورې کړ چې له ۲۰۲۱ز. وړاندې هم د هغې د ځپل کېدو لپاره په کمه کچه کار وشو، خو د اسلامي امارت په بیا ځل واکمنۍ کې دا ډله تر ډېره و ځپل شوه چې د افغانستان په بېلا بېلو

سیمو کې د اسلامي امارت ځواکونو ورسره جګړې وکړې، تر دې پورې چې دغه ډله تر پخوا ډېره و ځپل شوه او اوس هم د هغې د ځپلو لپاره اسلامي امارت هڅې کوي.

د یادونې وړ ده چې دې ډلې په افغانستان کې د شیعه وګړو مذهبي ځایونه او نور مراسم تر بریدونو لاندې نیول چې پړه یې هم د رسنیو پر وړاندې په غاړه اخیسته. بل پلو دا ډله د ایران لپاره هم په یو سرخوګي بدله شوې چې وخت نا وخت په ایران او ایران پلوه هېوادونو کې بریدونه کوي او په ډېر شمېر تلفات اړوي. دا ایران او اسلامي امارت دواړو ته یو فرصت هم په لاس ورکوي چې د دې ډلې د ځپلو لپاره سره یو لاس شي، کېدای شي چې د دې ډلې د له منځه وړو لپاره ګډ تمرینونه پلان شي او امنیتي هوکړې لاسلیک شي چې دا به د دواړو هېوادونو په ګټه تمام شي.

په امنیتي، سیاسي، فرهنګي او نورو برخو کې فرصتونه دواړو لوریو ته دا زمینه برابروي چې اړیکې یې پیاوړې او خپلې شته ستونزې د دې لارو څخه حل ته ورسوي او په دې سره د خپلو هېوادونو امنیت هم تضمین کړي.

ایران ته تر بل هر څه د خوندي امنیت موضوع مهمه ده، ایران لږ تر لږه له ۲۰۰۷ز. را په دې خوا له امریکا سره د مقابلې او داعش د خراسان ډلې سره د مبارزې په لار کې کار کوي. ایران هڅه کوي چې د اسلامي امارت طالبان د داعش په وړاندې وکاروي؛ ځکه دا د ځان او طالبانو دواړو دښمن ګڼي چې دې کار د ایران او طالبانو ترمنځ همکاري هم ډېره کړې ده.

## د افغانستان اسلامي امارت او ایران اسلامي جمهوریت د اړیکو د ښه والي په اړه لاندې حللارې وړاندیزولای شو:

۱- له نړیوال ملاتړ څخه په استفادې له ایران څخه د افغان اتباعو د ویستلو لپاره د مربوطو اقداماتو ترسره کول او خپل هېواد ته د هغوی د تګ لپاره هڅول.

۲- د سرحدي ناخوالو او د قاچاق د ستونزې په وړاندې د مبارزې په برخه کې د دوه اړخیزې تګلارې غوره کول.

۳- د پولې دواړو غاړو ته د کاري فرصتونو د برابرولو او نشه یي توکو ته د ځوانانو د را ګرځېدو د مخنیوي په موخه د سرحدي بازارونو د فعالولو له لارې د دوه اړخیزو سرحدي تبادلو بیا پیلول.

۴- د موجوده نړیوالو تړونونو او معاهدو له مخې په سرحدي سیندونو کې د سرحدي پټو دقیق تعین.

۵- له افغانستان سره په سرحدي ولایتونو کې په بېلابېلو ابعادو کې د اړیکو ټینګول.

٦- د اقتصادي سکټور په ګډون په مختلفو ابعادو کې د ایران او افغان ګوندونو د ونډې لپاره د اساساتو جوړول او چمتو کول.
٧- د دواړو هېوادونو په سرحدي ګمرکونو کې د خلکو د ننوتلو او وتلو او د مالونو د لېږد قانوني کول.
٨- په افغانستان کې د کلتوري کارونو ترسره کول ترڅو د ژوند کولو ټولنیز کلتور وده وکړي او د نورو حقونو ته درناوی وکړي.
٩- د دواړو هېوادونو د سرحدي قبایلو سره د سالمې، څارنې او همغږو اړیکو رامنځته کول، ترڅو خپل ځواک او پوهه د خپل امنیت د تامین لپاره وکاروي.
١٠- د سرحدي خبرو اترو او د کوچنیو شخړو حل د تګلارې په غوره کولو او د تاوتریخوالي د کمولو او د سولې د رامنځته کولو د پالیسۍ په غوره کولو سره د بدو خلکو، صحرایانو او غلو تبادله کول.

## پایله

ایران او افغانستان دوه ګاونډي هېوادونه دي چې ګډ تاریخ، کلتور، ژبه، نژاد او مذهب لري او د دغو دواړو هېوادونو ډیپلوماټیکې اړیکې له ډېرې مودې راهیسې له پیښو او ناخوالو سره مخ دي. د ایران او افغانستان اړیکې د تاریخ په اوږدو کې ژورې ریښې لري چې ژبنیو، مذهبي او کلتوري مشترکاتو او ټولنیزو دودونو د دواړو هېوادونو اړیکې په داسې ډول پیاوړې کړې دي چې د یو بل د انسجام او انحراف په برخه کې اغېزمن ثابت شوي دي. افغانستان په تېرو دوو پېړیو کې په سیمه کې د نړۍ د سترو قدرتونو تر منځ د رقابتي لانجو مرکز و او د دغو دواړو هېوادونو اړیکې تر ډېره د دغو هېوادونو په داخلي ثبات او همدا راز د دواړو هېوادونو په نقش او لاسوهنو پورې تړلې وې.

ایران اراده لري چې په افغانستان کې خپلې ملي ګټې د یوې حقیقي تګلارې له مخې وګوري او په دې هېواد کې د طالبانو اسلامي امارت په وخت کې د رامنځته شویو پرمختګونو په اړه په سیاسي استدلال او دموکراتیکو خبرو ټینګار وکړي، ایران د هلمند اوبه، نشه يي توکي، ناامني او په دې هېواد کې د لویو قدرتونو د حضور او نفوذ مسؤلیت، د دواړو هېوادونو فرهنګي او تمدني مشترکات او په ایران کې د څه باندې درې میلیونو افغان کډوالو لپاره مهم عوامل بولي، ایران هڅه کوي چې په جیوپولیټیک او اقتصادي برخو کې

د طالبانو له واکمنۍ څخه ګټه پورته کړي چې نوی جیوپولیټیکل لید له چین او روسیې سره د ایران د اړیکو د پیاوړتیا لامل شي.

په ۲۰۲۱ ز. په افغانستان کې د اسلامي امارت د واکمنۍ دویمه دوره پیل شوه، له همدې امله په افغانستان کې د طالبانو د واک بیا ترلاسه کېدل په سیاسي او امنیتي برخو کې د بېلا بېلو نظرونو د وړاندې کولو لامل شوی، ځینې مفکرین د طالبانو بیا راڅرګندېدل د یو ګواښ په توګه ګوري، په داسې حال کې چې نور بیا دا د ایران د اسلامي جمهوریت لپاره یو فرصت ګڼي، د افغانستان د بنسټیزو پرمختګونو څېړنه او د طالبانو د ایډیالوژیکو ځانګړتیاو درک کول د ایران د اسلامي جمهوریت لپاره یو فرصت دی چې په خپل ګاونډ کې د یوه اسلامي ایډیالوژیک غورځنګ له رامنځ ته کېدو څخه ډېره ګټه پورته کړي.

دا چې د طالبانو حکومت له کومو سترو ننګونو سره مخ دی او دا ننګونې به د افغانستان او ایران د اسلامي امارت پر اړیکو څه اغېزې وکړي؟ د څېړنې موندنې ښیي چې ایران غواړي په افغانستان کې خپلې ملي ګټې تعقیب کړي او په دې هېواد کې د طالبانو د اسلامي امارت پر مهال د رامنځ ته شوو پرمختګونو په اړه سیاسي استدلال او ډموکراټیک بحث مطرح کړي چې په دې بحث کې به ایران له افغانستانه خپلو بې اوبو ولایتونو ته اوبه وغواړي او په ایران کې د افغان مهاجرینو موضوع ته به هم د حل په لارو فکر وکړي، په دې سربېره څېړنه د دې خواو تر منځ فرصتونه او ننګونې وړاندې کوي او د حل لازمې لارې هم په ګوته کوي چې دواړه خواوې یې په اجرا مکلفې ګڼي.

افغانستان او ایران دواړه په ځینو برخو کې ګډې موخې لري چې په دې سره کېدای شي د دواړو خواو اړیکې پیاوړې شي چې په دې کې د داعش، مخدره توکو، د قومي او مذهبي توپیرونو پر وړاندې مبارزه یو فرصت په لاس ورکوي، همدارنګه د ایران له بندرونو د افغانستان ګټه اخیستنه او ایران ته یې په بدل کې د هلمند له سیند اوبه ورکول د ګډې سوداګرۍ لپاره بل فرصت رامنځ ته کوي، په داسې حال کې چې دا مهال امریکایي ځواکونه له افغانستانه وتلي او د ایران پر وړاندې محدودیتونه هم کم شوي دي.

## وړاندیزونه

۱- اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي چې د اقتصاد محوره پالیسۍ د پیاوړتیا او د یو ګاونډي سره د دوستي د ټینګولو لپاره له ایران سره اړیکې لا ټینګې او وساتي.

۲- اسلامي امارت او ایران دواړو ته پکار دي چې د بندیانو د تبادلې په برخه کې په پخواني تړون کې ژمنتیا څرګنده کړي چې دا د دواړو هېوادونو په ګټه دی او په دې سره د مخدره توکو د قاچاق مخه هم نېول کېدای شي.

۳- افغانستان د ایران د اموالو لپاره یو ښه بازار دی، ایران ته پکار دي چې پخپلو صادراتو تعرفې کمې کړي چې ترڅو یې د توکو بازار ګرندی شي او د افغانستان د صادراتو لپاره هم یو ښه بازار رامنځته کړي.

۴- افغان مهاجرین چې په ایران کې میشت دي، اسلامي امارت باید د ایران سره په ګډه د یوې ځانګړې پالیسۍ له مخې دا مدیریت ترسره کړي چې بېرته خپل هېواد ته راستانه شي.

۵- ایران او افغانستان باید د ګډ دښمن د ځپلو او د نشه یي توکو د قاچاق لپاره مشترک تمرینونه ترسره کړي او خپلو سرحدي سیمو کې روزل شوي پولیس ځای پر ځای کړي.

٦- ایران باید افغانستان ته په چابهار بندر کې ډېر سهولتونه رامنځ ته کړي چې د افغانستان د سوداګرۍ بازار ګرم شي چې دا کړنه په ایران، هند، په مرکزي او منځنۍ آسیا هم ښه اغېز لرلای شي.

۷- دا چې له یوې خوا له افغانستانه امریکایي ځواکونه وتلي او له بلې خوا په دواړو هېوادونو اقتصادي بندیزونه دي؛ نو د ایران لپاره ښه فرصت دی چې په افغانستان کې د کانونو، برېښنا، زراعت او فابریکو جوړولو په برخو کې پانګونه وکړي.

۸- ایران ته پکار دي چې په افغانستان کې نړیوالو او سترو قدرتونو ته زمینه برابره نه کړي چې یو ځل بیا افغانستان کې ستونزې جوړې کړي، په داسې حال کې چې ایران له امریکایانو سره مرستې کړې وې چې له امله یې په افغانستان یرغل کړی و.

## مأخذونه

1- David Treyster, "The Taliban May No Longer Control Afghanistan, but Their Persecution of Religious MinoritiesWill Forever Remain a Stain on Global History," *NYLS Journal of Human Rights* 18, no. 03 (2002): 527-533.
2- Douglas Jehl, "Iran Holds Taliban Responsible for 9 Diplomats' Deaths," *The New York Times*, 11 September 1998, https://www.nytimes.com/1998/09/11/world/iran-holds-taliban-responsible-for-9-diplomats-deaths.html
3- Mohsen M. Milani, "Iran's Policy towards Afghanistan," *Middle East Journal* 60, no. 2 (Spring 2006): 235-256.
۴: ابوبکر صدیقي، د افغانستان توکمیز ویش، CIDOB، د پالیسۍ څېړنې پروژه، ۲۰۱۲/ جنوري، د لاسرسي لینک: ۱۴۰۳/سنبله/ ۲۸ :
https://www.cidob.org/en/content/download/56592/1454765/version/4/file/OK_ABUBAKAR%20SIDDIQUE.pdf.
5- Nawaf, Obaid, "The Power of Saudi Arabia's Islamic Leaders," *Middle East Quarterly* 6, no. 3 (September 1999): 51-58.
6- Kaura Vinay (2020), Iran's influence in Afghanistan, https://www.mei.edu/publications/iransinfluence-afghanistan
7- Cherian John(2021), Afghanistan's neighbours react cautiously to Taliban takeover, https://frontline.thehindu.com/cover-story/afghanistans-neighbours-react-cautiously-to-taliban-takeover/article36036101.ece
۸: نجاد او عزیز، ایران او طالبان، د منځني ختیځ انسټیټیوټ، ۲۰۲۱/ سپټمبر/۲۲، د لاسرسي لینک:
:۲۸ /سنبله/ ۱۴۰۳https://www.mei.edu/publications/iran-and-taliban-after-us-fiasco-afghanistan.
9- Sajjan M. Gohel, "Iran's Ambiguous Role in Afghanistan," *Combating Terrorism Centre* 3, no. 3 (March 2010): 13-16.
10- ECP, 4 February 2022, https://epc.ae/en/details/iranian-perspectives/the-impact-of-taliban-control-on-afghanistan-iran-trade-exchange.
11- Avi Jorisch, "Port of Damaged Goods; India's Dangerous Investment in Iran's Chabahar," *Forbes,* 16 September 2013,

https://www.forbes.com/sites/realspin/2013/09/16/port-of-damaged-goods-indias-dangerous-investment-in-irans-chahabar/?sh=b0fd5d76f410

12- "Promoting Cooperation with China at Top Foreign Policy Priority for New Iranian Gov't," *Government of Islamic Republic of Iran*, August 2021, https://irangov.ir/detail/368641.

۱۳: پرویز، کړوخیل، طالبانو په ایران کې د افغان کډوالو د "ستونزو" په اړه اندېښنه څرګنده کړه، عرب نیوز، ۲۰۲۳جنوري ۲۹ ، د لاسرسي لینک: ۱۴۰۳/ میزان ۲۹ : https://www.arabnews.com/node/2241046/world

۱۴: رحیمی، سردار محمد، ژئوپلیتیک افغانستان در قرن بیستم، کابل: انتشارات سعی، ۱۳۹۱، ص ۲۹:

15- Lindsey Kennedy and Nathan Paul Southern, "How the Taliban's 'War on Drugs' Could Backfire," *Foreign Policy*, 1 February 2023, https:// foreignpolicy .com/2023/02/01/Taliban-Afghanistan-drugs-war-ban-heroin-ephedra-economy

16- Mehdi Moradinazar "Prevalence of drug use, alcohol consumption, cigarette smoking and measure of socioeconomic-related inequalities of drug use among Iranian people: findings from a national survey," *Substance Abuse Treatment, Prevention, and Policy* 15, no. 39 (2020): 1-11.

17- Andrew Houk, "Iran's Response to Drugs from Afghanistan," *Stimson Center*, 28 January 2011 ,https: //www .stimson .org/2011/irans-response-to-drugs-from-Afghanistan/

۱۸: غنچی، علی، ژئوپلتیک مواد مخدر جنوب غربی آسیا، تهران، معاونت آموزش ناجا، ۱۳۸٦، ص۴٦

۱۹: کریمی، مرتضی، نقش بازیگران منطقه ای و فرا منطقه ای در فرایند دولت سازی افغانستان، تهران، نشر علوم وفنون رازی، ۱۳۹۷ ، ص ٦٧

۲۰: عظیمی، محمدظاهر، افغانستان هجوم شوروی و سیاستهای غرب .تهران، محقق، ۱۳۸۲، ص۷۷

۲۱: پورحسن، ناصر، تاثیرتحولات سیاسی پاکستان برامنیت ملی جهوری اسلامی ایران . فصلنامه مطالعات سیاسی معاونت عفیدتی سیاسی سال دوم، شماره سوم، ۱۳۸۷ ، ص ۱۷ .

۲۲: حکمت الله ځلاند، د افغانستان- ایران اړیکې او د اوبو سیاست، سپوږمي راډیو، ډسمبر ٦,
۲۰۲۰، د لاسرسي لینک: ۱۴۰۳/ میزان ۱۵:

https://www.spogmairadio.com/16228/

۲۳: فاطمه ارمان، د ایران او افغانستان تر منځ د اوبو پر سر شخړه لا پسې زور اخلي،
واشنګټن ډي سي، ۲۰۰٦/ اګست، ص ٦، د لاسرسي لینک: ۱۴۰۳/سنبله/ ۲۸ :

https://www.atlanticcouncil.org/wp-content/uploads/2016/09/Water_Dispute_Escalating_between_Iran_and_Afghanistan_web_0830.pdf

24 - “Taliban Accused of Withholding Water Owed to Iran from Helmand River,” *Iran Wire*, 9 August 2022, https:// iranwire .com/en/provinces/106464-taliban-accused-of-withholding-water-owed-to-iran-from-helmand-river/

۲۵: نجیب الله، لعل زوی، طالبانو د کمال خان بند د اوبو ایران ته تلل رد کړل، خامه
پریس،۲۰۲۲ / جنوري/ ۲۰، د لاسرسي لینک: ۱۴۰۳/سنبله/ ۱۸:

https://www.khaama.com/taliban-deny-kamal-khan-dams-water-flowing-to-iran-987987/

۲٦: عبرالرحمن ژوندی، د فراه اوسېدونکي د بخش اباد بند په جوړولو کې ونډه اخلي،
۲۰۲۲/ جولای/ ۲٦، د لاسرسي لینک: ۱۴۰۳/ میزان، ۳۰:

https://pajhwok.com/2022/07/26/farah-residents-to-contribute-to-bakhshabad-dams-construction/

۲۷: اکرام الدین، کامل، د افغانستان د کمال خان بند او د هلمند سیند تړون، ډیپلوماټ
۲۰۲۳/ جنوري/ ۲۷، د لاسرسي لینک: ۱۴۰۳/ میزان ۲۹:

https://thediplomat.com/2023/01/afghanistans-kamal-khan-dam-and-the-helmand-river-treaty/#:~:text=The%20opening%20of%20the%20Kamal,one%20of%20Afghanistan's%20natural%20lifelines.

۲۸: شفیعی، نوذر، تحلیل چالشهای امنیتی ایران و افغانستان و چگونگی مدیریت آن،
تهران، دانشگاه تهران، ۱۳۸۹، ص ۱۲

۲۹: خاتمی خسروشاهی، ابراهیم، کتاب آسیا ویژۀ افغانستان پس از طالبان، تهران، ابرار
معاصر، ۱۳۸۸ ، ص ۱۲۳

۳۰: (...) د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت وایي، د اسلامي امارت د کډوالو اتشې د ایران او پاکستان په بېلابېلو ښارونو کې د کډوالو چارو د تنظیم لپاره فعالیت کوي، اسلامي امارت: په ایران او پاکستان کې د کډوالو چارو اتشې فعالې دي، ۲۸ تله، ۱۴۰۲ د لاسرسي لینک: ۱۴۰۳/ میزان، ۲، https://tolonews.com/pa/afghanistan-185668

۳۱: (...) ایران ٥٦٠ تنه افغان بندیان طالبانو ته وسپارل، ۱۵/۱۲/۱۴۰۱د لاسرسي لینک: ۱۴۰۳/سنبله/ ۱۵

https://www.dw.com/ps/transfer-of-afghan-prisoners-afghan-prisoners-held-in-iran/a-64901148

۳۲: شیما صدیقی، له ایرانه ایستل شوي افغانان: اسلامي امارت دې ایران کې د افغان کډوالو د ځورول کېدو مخه ونیسي، ۲۰۲۳/اکتوبر/ ١٦، د لاسرسي لینک: ۱۴۰۳/سنبله/ ۲۲ https://pajhwok.com/ps/2023/10/16/afghans-evicted-from-iran-the-islamic-emirate-should-prevent-the-persecution-of-afghan-refugees-in-iran

۳۳: (...) اسلامي امارت دوه ایراني بندیان ایران ته وسپارل، د لاسرسي لینک: ۱۴۰۳/سنبله/ ۲۵

https://www.khaama.com/pashto/archives/56908

۳۴: رحیمی، حسین، افغانستان و سازما نهای همکاری منطق های، سیاست خارجی افغانستان در سپهر، ۱۳۹۳ ،ص ۵۹.

څېړندوی معصوم جان معصومي

# د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې همېشنۍ بې ثباتي

## او د افغان سوداګرۍ بدیلونه


## لنډیز

افغانستان له کلونو راهیسې له نورو هېوادونو سره د پاکستان ټرانزیټي لارې په وسیله سوداګري کوي او هم د افغانستان صادرات په ځانګړې توګه د مېوې او سبزیجاتو حاصلات پاکستان ته صادروي. د افغانستان او پاکستان دوه اړخیزې سیاسي اړیکې اکثره وخت بې ثباته وي او پاکستان په داسې حالت کې د افغان سوداګرۍ پر وړاندې په پر له پسې ډول ستونزې او خنډونه رامنځ ته کوي چې د افغانستان د سوداګرو لپاره د زیات مالي زیان لامل کېږي. سربېره پر دې افغانستان کې د مېوې او حاصلاتو د زیات وخت ساتنې لپاره د سړو خونو نه شتون له اساسي ننګونو څخه دی چې د بزګرانو او سوداګرو او هم د افغانستان د کورني بازار د تقویې لپاره له حده زیاتې مهمې دي.

دا مقاله په افغانستان کې د سړو خونو او نورو اړینو امکاناتو باندې پانګونه لازمي ګڼي، همدارنګه په دې مقاله کې څرګندېږي چې د افغانستان لپاره د پاکستان پالیسي نه بدلیدونکې ده او هم په سوداګرۍ کې د توازن رامنځ ته کولو او د تولیداتو د ارزښت لوړولو لپاره اړینه ده چې افغانستان له چین، هند، روسیې، مرکزي آسیا هېوادونو او د هوایي دهلېزونو له لارې له نورو هېوادونو سره د افغانستان د دوه اړخیزه او څو اړخیزه سوداګرۍ په زیاتولو سره کولی شي پر پاکستان تکیه راکمه کړي. د همدې مسایلو څېړنه په دې مقاله کې په تحلیلي میتود ترسره شوې چې د دویم لاس سرچینو لکه له مقالو، راپورونو او تحلیل شوې موندنو څخه پکې ګټه اخیستل شوې ده.



## کلیدي کلمې

افغان سوداګري، پاکستان دودیزه پالیسي، خنډونه، سړې خونې، د سوداګرۍ بدیلونه.

## سریزه

د افغانستان او پاکستان په سیاسي او دوه اړخیزه اړیکو کې بې ثباتي له کلونو راهیسې یو حاکم فکټور دی چې زیات زیان یې افغانستان ته رسېدلی او پاکستان هم له دې حالته په کور دننه په سیاسي، اقتصادي او امنیتي توګه زیانمن شوی دی، چې نه یواځې د اړیکو ترینګلتیا تازه ده؛ بلکې له تېر جمهوري نظام سره د پاکستان سیاسي اړیکې هر وخت بې ثباته او خرابې وې. د دې اړیکو لاملونه د ډیورنډ تاریخي کرښې ناحل شوې موضوع، د پاکستاني پوځ له خوا د ډیورنډ پر کرښه د اغزن سیم تېرول، په پاکستان کې د افغان کډوالو موضوع، د پاکستان په باور د افغانستان له خاورې پاکستان ته تهدید او برعکس افغانستان ته دی، له افغانستان سره د هند نږدې اړیکې، دوه اړخیزه بې باوري ده.[1]

په ۲۰۲۱ز کې د اسلامي امارت واک ته په راستنېدو داسې توقع کېدله چې افغانستان او پاکستان ترمنځ به سیاسي اړیکې عادي حالت ته راوګرځي او دوه اړخیزه سوداګري او ټرانزيټ کې به پرمختګ وشي؛ خو د افغانستان او پاکستان اړیکې د پخوا په څېر کړکېچنې پاتې شوې. ظاهراً د موجوده سیاسي اړیکو یواځېنی لامل په پاکستان کې د دغه هېواد امنیتي ځواکونو او امنیتي ادارو پر وړاندې د تحریک طالبان پاکستان (ټي ټي پي) له خوا د نظامي بریدونو زیاتوالی دی، پاکستان افغانستان تورنوي چې په خپله خاوره کې د ټي ټي پي مشرانو او غړو ته یې پناه ورکړې او د پاکستان غوښتنه دا ده چې افغانستان کې د اسلامي امارت اوسنی نظام به د ټي ټي پي مشرانو پر وړاندې یو اقدام وکړي.[2] او پاکستان د افغانستان اسلامي امارت څخه غواړي چې په افغانستان کې د ټي ټي پي غړو ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د پاکستان پر خلاف د بریدونو لپاره وکاروي.[3] افغانستان کې د ټي ټي پي  د موجودیت په اړه افغانستان د پاکستان هر ډول ادعاوې رد کړې دي او ټي ټي پي یې د پاکستان کورنۍ موضوع ګڼلې ده چې باید پاکستان یې خپله حل کړي.[4]

په دې ترتیب د افغانستان او پاکستان ترمنځ په سیاسي اړیکو کې بې باورۍ او بدګومانۍ د ډیورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې د دواړو خواوو امنیتي ځواکونو ترمنځ همغږي او تفاهم له منځه وړی. اکثره وخت د دواړو هېوادونو د امنیتي ځواکونو ترمنځ د کرښې په صفري نقطو کې نه تفاهم او د پاکستاني امنیتي ځواکونو له خوا د کرښې په صفري نقطو کې ناقانوني او خپلسرې کړنې او سرغړونې په نظامي تاوتریخوالي هم اوښتي چې د مرګ ژوبلې ترڅنګ له کرښې د تېرېدونکو نقطو د بندېدو سبب شوې، دې چارې

افغان مسافرو او سوداګرو ته په افغانستان او پاکستان کې اقتصادي ستونزې او ننګونې پیدا کړې. که څه هم افغانستان څو ځلې له پاکستان غوښتي چې د افغانستان او پاکستان سیاسي اړیکې باید د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګرۍ ته زیان ونه رسوي؛ خو بیا هم پاکستان دغې ژمنتیا ته په پوره ارزښت نه دی قایل شوی او هر ځل یې افغانستان له خوړ ګوتې نیولی دی. افغانستان کې د اسلامي امارت په راتګ د افغانستان لپاره د پاکستان بهرنۍ پالیسۍ کې بدلون نه ښکاري او د پاکستان چلند د افغانستان په اړه د متقابل درناوي په اساس ولاړ نه دی چې د تل په څېر د ډیورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې د پاکستان د امنیتي ځواکونو له خوا ناقانونه سرغړونې، د فرضي کرښې په اوږدو کې د افغان مسافرو پر وړاندې د تېرېدونکو دروازو بندول، پاکستان کې د افغان مسافرو او مېشتو کډوالو نیول او د افغانستان سوداګریزو مالونو ته اجازه نه ورکول؛ هغه څه دي چې د افغانستان په اړه د پاکستان سخت چلند دوام ښیي.

د پاکستان دغه چلند د افغان سوداګرۍ د ترانسپورت، ترانزیټ او بازار موندنې پر وړاندې یوه دایمي ننګونه ده چې هر کال د افغانستان اقتصاد ته سخت ضربه رسوي. له دې حالت څخه د راوتلو لپاره په لازمه ښکاري چې د افغانستان دولت د مرکزي آسیا په ګډون د چین، روسیې او هند سره د سوداګرۍ کچې د زیاتولو او پراخه کولو لپاره سیاسي او اقتصادي اړیکې زیاتې کړي. د افغانستان تولیداتو ته د بازار موندنې لپاره لنډ مهاله او اوږد مهاله سوداګریز تړونونه ولري او د هوایي دهلیزونو په برخه کې د پام وړ شرایط برابر کړي تر څو د افغانستان تولیدات په ځانګړې ډول سبزیجات او مېوې له هرې ممکنې لارې نړیوال بازار ته په خپل وخت انتقال شي.

## د موضوع اهمیت او مبرمیت

د افغانستان او پاکستان ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري، د افغانستان لپاره د پاکستان ټرانزیټ کارول او پاکستان ته د افغانستان صادراتو پر وړاندې خنډونه، د اړوند ستونزو پر وړاندې د افغانستان د صادراتو او وارداتو لپاره بدیلونه د څېړنې مهمه موضوع ده. د افغاني تولیداتو په ځانګړې توګه د موسمي مېوې او سبزیجاتو لپاره په کور دننه سهولتونو برابرول او په ورته وخت کې د پاکستان پرځای له نورو نږدې او لرې هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو زیاتولو باندې تمرکز کوي. همدارنګه دا څېړنه نه یواځې په لنډ مهالې پالیسۍ تمرکز کوي؛ بلکې د افغانستان دولت او اړوندو داخلي او خارجي سکټوري ادارو او خصوصي شرکتونو ته د اغېزمنې پالیسۍ او عمل لیدلورۍ ټاکي چې د افغانستان سوداګریزو مسایلو

ته د حل لارو موندلو په صورت کې د افغانستان ځو اړخیزه سوداګرۍ له نورو هېوادونو سره زیاته او پراخه شي.

## د څېړنې موخه

دا څېړنه ثابتوي چې د افغانستان او پاکستان سیاسي اړیکې د کلونو معما ده او یوازینی لامل یې د افغانستان لپاره د پاکستان نه بدلېدونکې پالیسي ده چې د افغانستان د سوداګرۍ لپاره ننګونې او خنډونه جوړوي. دغه څېړنه په انتقادي توګه دا استدلال هم کوي چې په دوه اړخیزه سوداګرۍ کې پر پاکستان زیاته تکیه د افغانستان په اقتصادي وده منفي اغېز لري او په کار ده چې افغانستان د خپلو تولیداتو لپاره د لېږد او اړتیاوو د پوره کولو لپاره له نړدې ګاونډیو او لرې هېوادونو سره په دوه اړخیزه سوداګرۍ کې د تفاهمونو له لارې نویو تړونونو ته لاره هواره کړي. دغه راز د واخان دهلیز او چابهار بندر له لارې افغانستان له چین او هند سره ونښلول شي او په اساسي توګه د افغانستان د صادراتو او وارداتو لپاره د قانوني خنډونو، ګمرکي خنډونو او تخنیکي ستونزو په حل کې پیاوړې ډیپلوماسي وکاروي چې افغانستان له ټولو ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره باثباته سوداګري ولري.

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود تحلیلي دی او په بشپړولو کې یې له دویم لاس سرچینو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## د افغانستان لپاره د پاکستان دودیزه پالیسي او پایښت

د افغانستان او پاکستان اړیکې له کلونو راهیسې یو پېچلی او اوږد مهاله مسیر تجربه کوي چې په دواړو هېوادونو کې د بې ثباتۍ په رامنځ ته کولو کې یې نقش لوبولی او په افغانستان کې د دایمي سولې د لاسته راوړلو هڅې یې پېچلې کړې دي.[5] سره له دې چې پاکستان د اسلامي ایډیالوژۍ، فرهنګي مشترکاتو او ګاونډېتوب له مخې ځان تل د افغانستان نږدې دوست ګڼي؛ خو په افغانستان کې عام ذهنیت ښودلې چې پاکستان د افغانانو پر وړاندې تل په افغانستان کې د خپلو ستراتیژیکو ګټو د تر لاسه کولو لپاره دودیزه دوه ګونې پالیسي کارولې او دوام ورکوي چې د دې پالیسۍ په چوکاټ کې وخت ناوخت په پاکستان کې د افغان کډوالو، مسافرو نیول او ځورول، د افغان مسافرو او سوداګریزو مالونو پر وړاندې له کربښې د تېرېدونکو نقطو لکه د تورخم، ډنډ پټان، غلام خان، انګور اډه

او د سپين بولدک دروازو تړل، د پاکستان کراچۍ بندر او د پاکستان په خاوره کې دننه د افغان سوداګرو د مالونو په ناقانوني ډول توقف، ځنډ، په ناقانوني توګه ماليه اخيستل، پاکستان ته پر افغاني صادراتو ماليه لوړول او داسې نور موارد دي چې پاکستان يې په افغانستان کې د هر حاکم نظام په مقابل کې د سياسي فشار او پر افغانستان د خپلو غوښتنو د منلو په توګه کاروي.[6]

افغانستان کې د پخواني جمهوري نظام له سقوط وروسته او د اسلامي امارت له بيا ځلي واک ته رسېدو سره هم مهاله پاکستان کې بريدونه زيات شول چې د اکثريت بريدونو مسؤوليت د پاکستاني طالبانو (تحريک طالبان پاکستان) ډلې پر غاړه اخيستی دی، د پاکستاني طالبانو بريدونه د دې لامل شوي چې د افغانستان او پاکستان اړيکو ته زيان ورسېږي؛ ځکه پاکستان دا تورونه لګوي چې ټي ټي پي په افغانستان کې پټنځايونه لري او د افغانستان خاوره د پاکستان پر خلاف کاروي.[7] افغانستان کې د اسلامي امارت واک ته په رسېدو سره پاکستان افغانستان کې د طالبانو نوي حکومت ته د ستراتيژيک دوست په توګه کتل په دې تمه چې افغانستان کې واکمن اسلامي امارت پاکستان سره د ترهګرۍ جګړه کې مرسته وکړي يا لږ تر لږه د ټي ټي پي په ډلو فشار راوړي چې پاکستان کې بريدونه ونه کړي؛ بلکې د اسلامي امارت په منځګړيتوب له ټي ټي پي سره د پاکستان مذاکراتو ناکامېدل او د ټي ټي پي له خوا پاکستان کې د نظامي بريدونو حالات خراب کړل.[8] چې دغه حالت د دواړو هېوادونو سياسي او دوه اړخيزه اړيکو باندې منفي اغېز وکړ او پاکستان د افغانستان د اسلامي امارت په منځګړيتوب له ټي ټي پي سره د مذاکراتو او د ټي ټي پي پر وړاندې د نظامي مقابلې له ناکاميدو وروسته په پاکستان کې د افغان مسافرو او کډوالو د نيولو، د زور او جبر له لارې له پاکستانه د افغان کډوالو ايستل، د کرښې په اوږدو کې د پاکستان د امنيتي ځواکونو له خوا ناقانوني سرغړونې او له افغانستانه پاکستان او له پاکستانه افغانستان ته د افغان سوداګريزو مالونو ته د داخلېدو لپاره د اجازې نه ورکول د سياسي او اقتصادي فشار انتخابونو په توګه کاروي.[9] په حقيقت کې د پاکستان دا ډول چلند د پخوانۍ او دوديزې پاليسۍ برخه ده چې د افغانستان او پاکستان دوه اړخيزې اړيکې وړاندې خرابولی شي؛ خو هغه څه چې پاکستان غواړي افغانستان کې يې تر لاسه کړي؛ د ښه ګاونډيتوب اصل له خرابولو پرته بل څه نه دي.

د پاکستان همدې موخو د تعقيب لپاره د حامد کرزي په دوره کې په سوداګريزه راکړه ورکړه کې د افغانستان ډېره تکيه پر پاکستان وه چې د اړيکو د خرابېدو پر وخت افغانستان کې د خوراکي توکو د بيو پر لوړېدو يې مستقيم اغېز لره؛ خو د محمد اشرف غني د دورې

پر مهال په سوداګریزه راکړه ورکړه کې افغانستان پر پاکستان د نه اتکا ستراتیژي غوره کړه او د پاکستان پر ځای یې د مرکزي اسیا له هېوادونو سره سوداګریزو اړیکو ته لومړیتوب ورکړ، همداشان په ایران کې د چابهار بندر د پراختیا لپاره د ۲۰۱۶م کال د می په میاشت کې د هند، ایران او افغانستان ترمنځ درې اړخیزه تړون لاسلیک شو چې له هندوستان سره یې د افغانستان د دوه اړخیزه سوداګرۍ د زیاتولو لپاره امکانات رامنځ ته کړل چې د افغانستان او پاکستان په کلني ډول دوه اړخیزه سوداګري یې له میلیارد ډالرو څخه میلیون ډالرو ته راښکته کړه.[۱۰]

همدارنګه د افغانستان دولت د سیمې او له سیمې لرې هېوادونو ته د افغاني توکو د صادراتو لپاره د هوایي دهلیزونو نوښت په ۲۰۱۷م کال د جولای په میاشت کې له هند سره د یوه تړون له لارې رامنځ ته شو چې په وسیله یې د هوایي دهلیز له لارې افغاني او هندي سوداګریز توکي دواړو هېوادونو ته صادریدل.[۱۱] وروسته د افغان دولت له لوري د افغاني تولیداتو ته د نړیوال بازار موندنې لپاره د هوایي دهلیز نوښت سعودي عربستان، چین، ترکیې او نورو هېوادونو ته هم وغځول شو چې د افغان سوداګرو، صنعت کارانو او بزګرو لپاره د نړیوال بازار موندنې تر څنګ پر پاکستان تکیه را کمه کړه.[۱۲] د سوداګریزو اړیکو د پراختیا په برخه کې د دغې پالیسۍ په تطبیق سره د افغانستان او پاکستان ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري د لومړي ځل لپاره $1.2 میلیارد ډالرو ته را ټیټ شو[۱۳] چې زیات اغېز یې پر پاکستان وکړ، افغانستان د پاکستان د سیاسي فشارونو له یو حالت څخه ځان وېستلو او له سیمې او نړۍ سره یې په سوداګریزه برخه کې نوی باب پرانېست چې ورسره د افغاني صادراتو ارزښت لوړ او نړیوال شهرت یې وموند.

د دې لپاره چې د افغانستان لپاره د پاکستان دودیزه پالیسي وځارل شي او افغان بزګران او سوداګر په مالي لحاظ زیانمن نه شي او پر پاکستان او د پاکستان له لارې په ترانزیټ سوداګري تکیه را کمه شي؛ په کار ده د افغانستان اوسنی دولت په کور دننه په اغېزمنو تخنیکي میکانیزمونو کار وکړي او له نورو نړۍ سره د سوداګرۍ د پراختیا لپاره بدیلونه انتخاب کړي.

**د افغاني حاصلاتو د ارزښت لوړولو لپاره د سړو خونو او اسانتیاوو رامنځ ته کول**

مېوې او سبزیجات د نورو زراعتي کښتونو په پرتله د حاصلاتو له تر لاسه کولو وروسته حساس او ژر خرابېږي چې لامل یې د حاصلاتو کمزورې مدیریت، د زیرمه کولو او پروسس کولو د زېربینا نه شتون، د زراعتي ټیکنالوژۍ ستونزې، د مدیریت مهارتونه او کم بشري

ظرفیتونه دي چې په نړیواله کچه د پرمختګ په حال هېوادونو کې ٪۶۰ غذایي زیانونه په کرنیزو ځمکو کې رامنځ ته کېږي.[۱۴] خرابېدونکي تولیدات لکه مېوې او سبزیجات په یوه ځارل شوي چاپېریال کې مناسبې تودوخې او نمجنې درجې ته په کتو په سړو خونو کې ساتل د کمیت او کیفیت لاملېږي چې د غذایي او تغذیي امنیت خوندیتوب، کورنی عوایدو زیاتوالي او چاپېریال په ساتنه کې نقش لري.[۱۵]

افغانستان د کال هر موسم کې زیاته اندازه د مېوو او سبزیجاتو حاصلات لري چې په کور دننه لګښت سربېره ګاونډیو او نورو هېوادونو ته په زیاته اندازه صادرېږي، په ګرمه او سړه هوا کې د ساتنې او د کورني او بهرني بازار موندنې په برخه کې زیاتې ستونزې او ننګونې اوس هم شته، په ځانګړې توګه له ۲۰۰۱ز وروسته د افغانستان د بیا نوي کولو زراعتي اجنډا کې د حاصلاتو وروسته د مدیریت او پروسس کولو بهیر ته کمه توجه شوې ده.[۱۶]

په دې توګه افغانستان کې د مېوې او سبزیجاتو د مدیریت، بازار موندنې او زیان مخنیوي په اړه د لنډو او اوږد مهاله پالیسیو په چوکاټ کې مؤثر، تخنیکي او مسلکي اقدام نه کېږي چې له حاصلاتو وروسته په دایمي توګه د افغانستان مېوو او سبزیو ته په کور دننه او بهر بازار پیدا کړي او له دغې ستونزې څخه هر کال د افغانستان بزګرو او سوداګرو ته مالي زیانونه اوړي کوم چې په کورنیو عوایدو، د بزګرانو او سوداګرو په ګټه او په ملي اقتصاد مستقیم اغېز لري، د مثال په توګه هر کال د افغانستان او پاکستان د خرابو اړیکو په وجه پاکستان ته د داخلېدو لپاره د افغانستان په مېوو او سبزیو بار لاریو ته پر وخت اجازه نه ورکول کېږي چې له امله د مېوو او سبزیجاتو په خوسا کېدو او خرابېدو سره افغان سوداګرو او بزګرانو ته زیان رسېږي، د دې یو ښکاره علت دا دی چې افغانستان کې د کورنیو حاصلاتو او تولیداتو لپاره د سم مدیریت پروسه او کافي سړې خونې نشته او بل له پاکستان پرته د افغانستان د تولیداتو لپاره د نورو بازارونو د پیدا کولو پر وخت هڅه نه ده شوې.


په تېر جمهوري نظام کې د افغانستان د مېوو او سبزیجاتو د ساتلو لپاره د ۳۵ میلیون ډالرو په ارزښت ۳۱۶۴ سړې خونې چې د یو لک و شل زره ټنو زیرمې ظرفیت لري؛ په مختلفو ولایتونو کې جوړې شوې چې اړوند خونې د ۲۰۱۷ز د موندنو په اساس خصوصي سکټور، هند او بهرنیو مؤسسو له خوا په ننګرهار، کندهار، لغمان، میدان وردک، پنجشیر، بلخ او هرات ولایتونو کې جوړې شوې دي.[۱۷] دغه راز په تېر او اوسني دولت کې هم په ډېرو ولایتونو کې د دولت، خصوصي سکټور او بهرنیو پراختیایي مؤسسو په همکاری سړې خونې جوړې شوې دي؛ خو په اساسي توګه د مېوو او سبزیجاتو د خوندي ساتلو ستونزه

اوس هم پر ځای ده، بله دا چې د اسلامي امارت د راتګ ځلور کاله پوره شوي چې لا هم افغانستان کې د کروندګرو او سوداګرو لپاره د سړو خونو جوړولو برخه کې ستونزې شته او دې برخه کې د دولت له خوا اوږدمهاله پانګونې ته اړتیا لیدل کېږي.[۱۸]

د افغانستان د مېوجاتو او سبزیجاتو (له کچالو او پیازو پرته) د ۲۰۱۵ او ۲۰۱٦ز کلونو د موندنو له مخې د افغانستان ټول حاصلات چې په لاندې شکل کې ښودل شوې؛ ۱۱٦۳۰۰۰ ټنه و چې د دې موندنو په اساس د مېوو او سبزیو سترو تولیدي ښارونو د تولید او د سړو خونو د ظرفیت مقایسه شوې او د یادو حاصلاتو د ساتلو لپاره د یو اعشاریه پنځه میلیارد ډالرو لګښت له مخې په ټول هېواد کې باید ۱۱٦۳۰ د سړو خونو سوداګریز یونیټونه جوړ شي چې هر یو یې په منځنۍ توګه د پنځه ویشت میټریک ټنو مېوو او سبزیو د ساتلو ظرفیت ولري او د دې څېړنې له مخې افغانستان د راتلونکو پنځو کلونو په جریان کې د ۲۹۰۰۰۰ ټنو په ظرفیت سړو خونو ته اړتیا لري.[۱۹]

د دې څېړنې موندنې او ارزونې ته په کتو څرګندېږي چې د سړو خونو جوړولو په برخه کې ډېر اوږد مزل پاتې دی چې د سړو خونو د جوړولو لپاره مالي امکاناتو او همېشنۍ تخنیکي پالیسۍ او ستراتیژۍ ته ضرورت لري.

لاندې تحلیل شوې موندنې ښیي چې د افغانستان په ځینو ولایتونو؛ لکه سرپل، کندهار، کابل، غزني، هرات او کندوز کې د حاصلاتو کچه نسبت موجوده عصري سړو خونو ته ډېره لوړه ده، د افغانستان دولت ته پکار ده چې د سړو خونو جوړولو ته د اوبو د مدیریت تر څنګ هم لومړیتوب ورکړي او د سړو خونو د جوړولو لپاره چې ډېر لګښت او بودېجه غواړي؛ یو اوږد مهاله تطبیقي پلان جوړ کړي، د دې پلان له مخې که افغانستان په فرضي توګه راتلونکو لسو کلونو کې د ۷۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت معاصرې سړې خونې چې له لمریزې برېښنا او بادي برېښنا ټیکنالوژۍ څخه په کې استفاده شوې وي؛ جوړې کړي؛ نو د افغانستان حاصلات په ځانګړې توګه مېوې او سبزیجات به په وخت مدیریت او مناسب وخت کې بازار ته وړاندې کېږي چې د بازار ارزښت د ساتلو تر څنګ به د بزګرانو، سوداګرو او کورنیو عوایدو کې ثبات برقرار کړی وي؛ نو د سړو خونو جوړولو کې باید له څېړنې، تخنیک او د نورو هېوادونو له نوښتونو څخه تقلید وشي.




سرچینه: مور moore

د دي لپاره چې د افغانستان مېوې او سبزيجات له زيانمنېدو وژغورل شي، يواځې په يو مارکيټ تکيه پکار نه ده، په کور دننه ورته د کال په څلور واړو موسمونو کې مساعد بازار پيدا شي، د سړو خونو جوړول تر ټولو مهم او اغېزمن گام گڼل کېږي چې په اصل کې سړې خونې د توليد او بازار موندنې د پروسې ترمنځ د ډېرو زياتو خرابېدونکو يا له منځه تلونکو موادو د اداره کولو لپاره په نړيواله کچه عملي شوې طريقه ده.[٢٠]

په اوسني عصر کې له افغانستان سره د پاکستان يا بل هر گاونډي له خرابو سياسي اړيکو پرته هم د خپلو توليداتو د ارزښت پيدا کولو، د غوره بازار موندنې او له خپلو حاصلاتو او توليداتو څخه د داخلي اړتياو د پوره کولو لپاره د سړو خونو جوړول لازمي اړتيا ده چې بايد د دولت او نورو نادولتي او مرستندويه سازمانونو له خوا ورته په تدريجي توگه لومړيتوب ورکړل شي؛ ځکه په نړيواله کچه دولتونو، خصوصي سکټور او نړيوالې مؤسسو د مېوو او سبزيجاتو د ساتنې، د توليد د زياتونې او اړتياو پوره کولو لپاره د سړو خونو جوړولو ته لومړيتوب ورکړی چې زياته پانگونه ور باندې کوي، په دې برخه کې يې په کافي اندازه له معاصرې ټيکنالوژۍ، لمريزې او بادي بريښنا او نوو تگلارو څخه په استفادې زيات سهولتونه پکې رامنځ ته کړي او د افغانستان دولت ته پکار ده چې د هېواد سترو ښارونو او په هر ولايت کې د حاصلاتو او توليداتو اندازې ته په کتو د مېوو او سبزيو لپاره لويې او کوچنۍ سړې خونې جوړې کړي چې د سبزيجاتو او مېوجاتو حاصلات د زيات وخت لپاره وساتي؛ ځکه افغانستان کې په کلني ډول د مېوجاتو او سبزيجاتو حاصلاتو ته په کتو موجوده سړې خونې د مديريت او پروسس پروسې

زېربنا، بشري ظرفيت په نشت حساب دي او دې تشې د ډکولو لپاره اوږدمهاله پالیسۍ او کاري ستراتیژیو ته اړتیا محسوسېږي.

د افغانستان دولت باید د دولتي سکټور تر څنګ خصوصي سکټور او نړېوالې مرستندویه مؤسسې وهڅوي، په سړو خونو د پانګوونې لپاره مناسب او د پام وړ شرایط برابر کړي چې هر کال په سړو خونو کې د ساتلو لپاره دولتي او خصوصي سکټور له بزګرو څخه مېوې او سبزيجات واخلي او هم بزګر او سوداګر د دې توانایي پیدا کړي چې خپل حاصلات په سړو خونو کې د زیاتې مودې لپاره وساتي او د کال په نورو موسمونو کې یې کورني بازار ته وړاندې کړي، د دې کار یو ګټه به دا وي چې د افغانستان مېوې او سبزیجات به په کور دننه او سیمه کې خپل ارزښت پیدا کړي او د مني او ژمي په موسمونو کې به افغانستان اړتیا و نه لري چې له ګاونډیو هېوادونو څخه مېوې او سبزیجات وارد کړي؛ بلکې افغانستان به خپلې اړتیاوې له خپل بازاره په ارزانه بیه پوره کولای شي.

همدارنګه د افغانستان حکومت باید د صنعتي او تولیدي پالیسۍ په چوکاټ کې دولتي او خصوصي سکټور په مرسته د افغانستان د بېلابېلو مېوو پروسس په پایله کې نورو تولیداتو ته زمینه برابره کړي چې له اړوندو مېوو څخه فرعي او نهایي تولید (by-product) رامنځ ته کړي او د چمتو کولو، بسته کولو، خوندي کولو، وچولو او داسې نورو ترتیباتو لپاره تخنیکي اسانتیاوې برابرې کړي چې دا کار په هېواد کې د عایدو د زیاتوالي، د دندو د پراختیا، ځان بسایني او نورو هېوادونو ته د صادراتو د لوړتیا لامل کېږي.

## د افغان سوداګرۍ لپاره د پاکستان پر ځای بدیلې لارې

که څه هم د افغانستان او پاکستان سیاسي او دوه اړخیزه اړیکو کې دوامداره بې ثباتي د کلونو بې خونده سناریو ده چې دغه حالت له پاکستان سره د افغانستان سوداګرۍ پر وړاندې یې د ټرانسپورټ، ټرانزیټ، بازار موندنې او د ګمرکي تعرفو لوړولو په کچه ننګونې رامنځ ته کړې دي. هر کال زیات اقتصادي زیان یې د افغان سوداګرو مالونو او پاکستان ته د افغانستان د مېوو او سبزیو صادراتو ته یې اړولی دی؛ څکه چې افغانستان په وچه کې د یو ایسار هېواد په توګه بحر ته لار نه لري او د پاکستان له لارې سوداګري د افغانستان لپاره اساسي ننګونه ده. سره له دې چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ په سوداګریزو همکاریو کې د پراختیا لپاره په ۱۹٦۵ز کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دواړو هېوادونو د سوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا او د پاکستان له لارې د ټرانزیټ سوداګرۍ لپاره افغانستان او پاکستان د ترانزیټ سوداګرۍ تړون (Afghanistan Pakistan Transit

(Trade Agreement-APTTA لاسلیک شو چې دا تړون د دویم ځل لپاره په ۲۰۱۰ز کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په نوي بڼه لاسلیک شو چې له مخې یې د افغانستان صادراتو ته له هند سره د سوداګرۍ لپاره د واګا بندر او د کراچۍ او ګوادر بندرونو پورې د انتقال اجازه ورکوله[۲۱]؛ نو د دې تړون په اساس له کلونو راهیسې د افغانستان زیاته سوداګري له پاکستان سره ده او له نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ لپاره د پاکستان د کراچۍ بندر له لارې ټرانزیټي سوداګري کوي. همدې حقیقت ته په کتو پاکستان په ځانګړې توګه په تېرو شلو کلونو کې پر افغانستان د سیاسي نفوذ د تر لاسه کولو لپاره د اپټا د تړون د ټولو اصولو او مادو خلاف پر له پسې د افغان سوداګرۍ پر وړاندې بېلا بېلې ستونزې جوړوي چې افغانستان کې پر افغان سوداګرو او اقتصادي بازار مستقیم تاثیر لري. د نورو کلونو په څېر بیا هم په ۱۴۰۳ل/ ۲۰۲۴ز کې چې افغانستان کې د سبزیجاتو او مېوو د حاصلاتو موسم و او افغانستان باید خپلې مېوې او سبزیجات پاکستان ته صادر کړي وای، پاکستان له وړاندې د افغانستان په مېوو او سبزیجاتو د تېرو کلونو په نسبت شپږ ځله زیات ګمرکي تعرفې مالیات لوړ کړي وو، پخوا به پاکستان ته پر یو ټن افغاني تولیداتو لکه مېوې او سبزیجاتو پاکستان ۱۵۰۰۰ کلدارې اخیستې چې په ۱۴۰۳ل کې یې پر یو ټن افغاني تولیداتو دا اندازه ٦۰۰۰۰ کلدارو ته ورسولې.[۲۲]

دا په دوه اړخیزه اړیکو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوږدمهاله نه بدلیدونکو سیاسي اړیکو داستان څرګندوي چې د افغانستان لپاره د پاکستان د پالیسۍ اساسي عنصر ګڼل کېږي او دا په ځلونو واضح شوې ده چې پاکستان قصداً نه غواړي د دواړو هېوادونو ترمنځ دې باثباته سیاسي او اقتصادي اړیکې وړاندې دوام ومومي؛ نو په داسې حالت کې د افغانستان دولت ته پکار ده چې پر پاکستان سربېره له نورو ګاونډیو، د سیمې او له سیمې وړاندې هېوادونو سره د ټرانزیټ او دوه اړخیزه سوداګرۍ لپاره د څو اړخیزه سوداګرۍ (Multilateral Trade) پالیسي معرفي کړي او د دې پالیسۍ په چوکاټ کې د افغان سوداګرۍ د زیاتولو او پراخه کولو لپاره د عملي همکارۍ لپاره مناسب تړونونه او سهولتونه رامنځ ته کړي چې د افغانستان صادرات پرته له کوم خنډ او ځنډ بهرنیو بازارونو ته په کم وخت کې ولېږدول شي.

د همدې موخې لپاره افغانستان څلور مناسب او غوره بدیلونه له چین سره د واخان د لارې جوړول او خلاصول، له هند سره د چابهار بندر فعالولو ته لومړیتوب ورکول، د هوایي دهلیزونو د بیا احیا لپاره د سیمې له هېوادونو سره د نوو تفاهمونو کول او له مرکزي آسیا سره د سوداګریزو

همکاریو زیاتول دي چې د روسیې په ګډون مرکزي آسیا، چین او هند د افغانستان د صادراتو لپاره ستر او نږدې بازارونه ګڼل کېږي، په همدې ترتیب د واخان دهلیز چې د وربښمو له تاریخي لارو څخه ګڼل کېږي؛ د افغانستان او چین لپاره ستراتیژیک حیاتي ارزښت لري چې افغانستان له چین سره د دوه اړخیزه سوداګرۍ لپاره د ځمکې له لارې په مستقیم ډول نښلوي، له دې لارې د افغانستان صادارت چین ته نېغ په نېغه رسېږي او افغانستان به نوره اړتیا و نه لري چې چینايي توکي د پاکستان له لارې وارد کړي.[۲۳]

دا چې د اسلامي امارت له خوا د دې لارې چارې په ابتدايي ډول سره پیل شوې دي او چارې یې له چین سر صفري نقطې ته رسېدلې دي[۲٤]، پکار ده چې د افغانستان دولت له چین سره د واخان د لارې په اساسي توګه جوړولو او خلاصولو کې چین پانګونې او همکارۍ ته لېواله کړي، له دې لارې چین او افغانستان دوه اړخیزه سوداګري لا زیاته او پراخه کړي، په همدې اساس پر پاکستان د تکیې د کمولو او په سوداګریزو فعالیتونو کې د پاکستان له خوا پر افغانستان له سیاسي فشارونو څخه د خلاصون لپاره د واخان دهلېز د افغانستان او چین د دوه اړخیزې سوداګرۍ لپاره ستراتیژیکه لاره ګڼل کېږي چې کولی شي افغانستان مستقیماً له چین سره وصل کړي، د چابهار بندر له هند سره د سوداګرۍ او له پاکستان سره د ترانزیټ سوداګرۍ د کمولو لپاره بهترینه لار ده چې نه یواځې د افغانستان لپاره؛ بلکې د دې بندر په فعالولو سره د هند او ایران ستراتیژیکې ګټې خوندي دي چې هند لومړی له افغانستان او بیا د مرکزي آسیا بازار او طبیعي سرچینو ته د لاسرسي وړ ګرځوي.[۲٥]

په دې وروستیو کې ښکاري چې اسلامي امارت او هند د چابهار بندر د فعالولو په اړه له یو او بل سره همغږي شوي دي، د ایران په ګډون دواړو لوریو د چابهار بندر په پرمختیا او له هغه څخه د ټرانسپورټ او ټرانزیټي مالونو لپاره د استفادې علاقې څرګندې کړې دي، په همدې اساس په دې وروستیو کې هند له ایران سره له چابهار بندره د استفادې او پرمختیا لپاره د ۱۲۰ میلیون ډالرو په ارزښت لس کلن تړون لاسلیک کړ او په دې توګه د اسلامي امارت په مشرۍ افغانستان په چابهار بندر کې د ۳۵ میلیون ډالرو په ارزښت د پانګونې پلان اعلان کړی دی.[۲٦]


دا یو ښه فرصت دی چې افغانستان له هند سره د سیمه ییز اتصال برخه کې د هند پانګونه جلب کړي او هم د افغانستان صادراتو او وارداتو لپاره له هند او ایران سره د چابهار بندر په پرمختیا کې مثبت نقش ولوبوي او د دولت د ډیپلوماسۍ دستګاه د سیمه ییز اتصال او څو اړخیزه سوداګرۍ او اقتصادي همکاریو برخه کې فعال وساتي؛ ځکه له پاکستان سره دوه

اړخیزه سوداګري او د افغانستان سوداګریزو مالونو لپاره د پاکستان ټرانزیټ لاره همېشه له سیاسي ننګونو او بانکي، قانوني اسنادو او ګمرکي، مالیاتي خنډونو سره مخامخ وي چې د افغانستان پر اقتصاد یې منفي اغېز کړی دی؛ همدارنګه مرکزي آسیا د افغانستان لپاره د دوه اړخیزه سوداګرۍ د اړتیاوو په پوره کولو کې نږدې او مناسب بازار دی چې د پاکستان پر ځای ښه بدیل دی، د همدې حقیقت په رڼا کې افغانستان کې د اسلامي امارت په واکمنېدو مرکزي آسیا له تاجکستان پرته له افغانستان سره په دوه اړخیزه سیاسي اړیکو، دوه اړخیزه سوداګرۍ، د انرژۍ انتقال، د افغان او ترکمن، د افغان او ازبک او د افغان او قزاق د ګډو سوداګریزو ننداړتونونو او سوداګریزو کمیټو په جوړولو سره، دغه راز د پانګونې او اقتصادي همکاریو د زیاتولو اړوند برخو کې ډېرې نږدې اړیکې رامنځ ته کړې دي چې افغانستان کې د اقتصادمحوره سیاست د پیاوړتیا لپاره مهم ګڼل کېږي،[27] په ځانګړې توګه له مرکزي آسیا سره د تېرو درېو کلونو په صادراتو او وارداتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی چې په ورته وخت کې د موجوده ارقامو له مخې له پاکستان سره کموالی ښیي[28]، په همدې اساس په ۲۰۲۱ز کې افغانستان د مرکزي آسیا هېوادونو ته د ۳۳ میلیون ډالرو په ارزښت صادرات او د دوه میلیارده ډالرو په ارزښت واردات لرل[29] او په ۲۰۲۳ز کې افغانستان د روسیې په ګډون مرکزي آسیا هېوادونو ته د موجوده ارقامو له مخې د ۸۲ ډالرو په ارزښت صادرات وو چې په دې کې د افغانستان له خوا تازه او وچې مېوې، جوس، پسته ډېره یا تلک، کچالو، پیاز، طبي بوټي دي او د یو عشاریه یو میلیارد ډالرو په ارزښت یې واردات لرل.[30]

له دې ارقامو څرګندېږي چې د افغانستان سوداګریزه پالیسي له مرکزي آسیا سره په پانګونه، ټرانزیټ او سوداګریزو همکاریو متمرکزه ده؛ خو په ورته وخت کې د افغانستان دولت ته پکار ده چې له مرکزي آسیا او روسیې سره د دوه اړخیزو سوداګریزو اړیکو په جوړولو کې د پالیسۍ، ګمرکي تعرفو، مالیاتو، ویزو، ټرانزیټ او د سوداګریزو ټرانسپورټي مالونو په برخه کې پرتو خنډونو ته د اوږدمهاله سوداګریز تعامل او اقتصادي همکارۍ په اساس حللارې پیدا کړي.

همدارنګه روسیه چې په شمال کې له هند او چین وروسته د افغانستان لپاره ستر بازار دی؛ دوه اړخیزه سوداګرۍ لپاره د سوداګرۍ د پراختیا او زیاتولو لپاره سوداګریزو هوکړو ته اړتیا ده چې د افغانستان دولت د افغان بزګرانو او سوداګرو وچه او لمده مېوه د ځمکنۍ او هوايي ترانسپورټ له لارو د روسیې بازارونو ته ولیږدوي. دغه راز په ۲۰۲۳م کال کې مرکزي آسیا او روسیې ته د افغانستان د دوه اړخیزه سوداګرۍ په لاندې چارټ کې د تحلیل شوې موندنو څخه معلومېږي چې افغانستان اسلامي امارت باید په سوداګریزه

پالیسۍ کې سوداګریز توازن (Trade Balance) ته زیات لومړیتوب ورکړي؛ ځکه افغانستان په ۲۰۲۳م کال کې د صادراتو پرځای له اړوندو هېوادونو څخه واردات ډېر لرل چې د پوهاوي لپاره په دې جدول کې د صادراتو او وارداتو ارقام په ډالرو دي.[۳۱]




سرچینه: د طلوع نیوز راپور څخه په استفادې د لیکوال ترتیب

په سوداګرۍ کې د توازن (Trade Balance) راوستلو لپاره لازمي ګڼل کېږي چې افغان دولت په صنعتي سکتور زیاته پانګونه وکړي، افغان او بهرنیو سوداګرو ته د صنعت او پانګونې لپاره د قانوني مسودې په چوکاټ کې اسانه او اساسي شرایط برابر کړي او د دې موخې لپاره د صنعتي او تولیدي پالیسۍ په اډانه کې افغانستان ښلا بېلې مېوې له حاصلاتو څخه فرعي او نهايي تولید (by-product) پروسس او د کیفي تولید امکانات رامنځ ته کړي او د چمتو کولو، بسته کولو، خوندي کولو، وچولو او داسې نورو ترتیباتو لپاره تخنیکي اسانتیاوې برابرې کړي چې په دې برخه کې د دولتي سکتور تر څنګ افغانستان کې د خصوصي سکتور ملاتړ او د نړیوالو بهرنیو کمپنیو او شرکتونو جذب مهم دی څو په افغانستان کې دننه د افغانستان له مېوې، سبزیجاتو او نورو ښلا بېلو بوټو او هم نورو صنعتي برخو کې پانګونه وکړي.

بله دا چې افغانستان اسلامي امارت باید د سیمې نورو هېوادونو کې د افغانستان تولیداتو لپاره بازار موندنه وکړي او پر وخت یې د سوداګریزو تفاهم ناموپه کولو سره نورو هېوادونو ته صادر کړي تر څو په دوه اړخیزه سوداګرۍ کې مناسب توازن رامنځ ته شي چې په دې سره د افغانستان د صادراتو کچه زیاتیدلی شي. همدارنګه هوايي دهلیز یو بل ګټور انتخاب دی چې د افغانستان صادرات په ځانګړې توګه جلغوزي، وچه مېوې او لمده مېوې د هوايي دهلیز له لارې نورو هېوادونو ته انتقال شي. هوايي دهلېز چې په ۲۰۱۷م کال کې افغانستان له هند او نورو هېوادونو سره پرانیستلو په ۲۰۱۷م کال کې ۱۷۲۰ (اووه

لس سوه او شل) ټنه او په ۲۰۲۰م کال کې د ۷۵۰۰ (اووه نيم زره) ټنو په اندازه بهرنيو بازارونو ته صادرات شوي و.[۳۲] که څه هم د اسلامي امارت واک ته په رسيدو د هوايي دهليز له لارې د افغانستان صادرات د سياسي تحول او نړيوالو بنديزونو له امله زيانمن شوي؛ خو د حکومت په تېره بيا د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې په هڅو سره افغانستان چين ته جلغوزي صادر کړي.[۳۳]

په اوس وخت کې لازمه ګڼل کېږي چې افغانستان موجوده هوايي دهليزونه چې تېر نظام له ځينو هېوادونو سره خلاص کړي و؛ بيا احياء کړي. چين، جاپان، ترکيه، قطر، متحده عربي امارات، سعودي عربستان، اندونيزيا، ماليزيا او اذربايجان يو له هغو هېوادونو څخه دي چې د افغانستان له اسلامي امارت سره صميمانه اړيکې پالي، له يادو هېوادونو سره افغانستان کولی شي د افغاني صادراتو لپاره هوايي دهليز ايجاد کړي څو د هوايي دهليز له لارې افغان سوداګر خپل مالونه لکه وچه او لمده مېوه او نور توليدي توکي ولېږدوي او د پاکستان پر ځای د نورو بديلونو د موندلو لپاره په کار ده چې د افغانستان دولت د هوايي دهليز له لارې د افغانستان صادرات هر کال صورت ونيسي چې افغانستان د نړۍ له نورو هېوادونو سره پراخه دوه اړخيزه او څو اړخيزه سوداګريزې اړيکې جوړې کړي او هم د افغانستان صادرات د نړيوال شهرت پيدا کولو لپاره ډېرو او تر لرې لرې هېوادونو ته ورسېږي او هم په کور دننه ورته تخنيکي، مسلکي او خوندي اسانتياوې برابرې شي.

په دې توګه هند، روسيه، منځنۍ ختيځ هېوادونه لکه سعودي عربستان، متحده عربي امارات، قطر، نور آسيايي هېوادونه او غربي هېوادونو کې ورته بازار ولټول شي؛ ځکه چې د افغانستان د توليداتو په ځانګړې ډول افغاني لاسي صنايعو، وچې او لمدې مېوې ارزښت په نړيوال بازار کې لوړ دی.

## پايله

افغانستان په وچه کې د يو ايسار هېواد په توګه له کلونو راهيسې له پاکستان سره دوه اړخيزه سوداګري لري او هم له نورو هېوادونو سره د پاکستان د کراچۍ بندر له لارې ټرانزيټي سوداګري کوي او له بل لوري د افغانستان او پاکستان دوه اړخيزه سياسي اړيکې په دايمي توګه خرابې دي چې د افغان سوداګرۍ لپاره يوه اساسي او تلپاتې ننګونه ده چې تلپاتې حل ته اړتيا لري. نو په داسې حالت کې د کورني او بهرني بازار د تقويې او پراخ کولو او د افغانستان د توليداتو د ارزښت د لوړولو لپاره افغانستان په سوداګريزه پاليسي کې ژور بدلون راوستلو ته اړتيا لري چې هغه په کور دننه د افغانستان حاصلاتو ته په ځانګړې توګه مېوو او سبزيجاتو ته د

سرو خونو جوړول دي او دا اقدام په ټوله معنا د افغانستان د اقتصادي ودې د پرمختګ او د کورني بازار د تقويې کولو لپاره زيات مهم او اړين دی.

همدارنګه افغانستان که بحر ته لار نه لري؛ خو جغرافيايي موقعيت يې جيوستراتيژيک دی چې په ګاونډ او سيمه کې يې د سوداګرۍ لپاره د چين، هند، ايران، روسيې او مرکزي آسيا په څېر غوره بازارونه شته چې کولی شي د اقتصادي ډيپلوماسۍ له لارې پر پاکستان د تکيې کمولو او د پاکستان له سياسي فشارونو څخه د ځان د خلاصولو لپاره د دوه اړخيزې سوداګرۍ دروازې پرانېزي او دغو بازارونو ته په قانوني او اصولي توګه د افغانستان صادرات ورسوي چې له دې سره په سيمه او نړۍ کې د افغانستان د توليداتو ارزښت لوړېږي او افغانستان په سيمه کې د څو اړخيزه سوداګرۍ په مرکز بدلېږي؛ نو پکار ده چې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پاليسۍ شاخصونه په څو اړخيزه پاليسۍ عيار کړي او په کور دننه اقتصادي اصلاحاتو او فرصتونو احياء کولو به له سيمې او نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ په برخه کې د توازن هڅه وکړي.

**وړانديزونه**

۱- په دې څېړنه کې وړانديز کېږي چې د افغانستان دولت په هېواد کې د معياري سړو خونو جوړولو لپاره هر مالي کال کې ځانګړې او د پام وړ بودېجه په نظر کې ونيسي. همدارنګه دولت د سړو خونو جوړولو لپاره د دولتي او خصوصي سکټور ترمنځ شراکت رامنځ ته کړي او هم د سړو خونو جوړولو لپاره له بهرنيو مرستندويه سازمانونو او هېوادونو د مالي ملاتړ په برخه کې له نږدې کار وکړي.

۲ – د افغانستان د سوداګرۍ د پراختيا او زياتوالي لپاره د افغانستان حکومت له ګاونډيو، سيمې او لرې هېوادونو سره د ځمکې، سمندر او هوايي دهليز له لارو د سوداګريزو همکاريو په برخه کې دايمي تعامل او هڅې ګړندۍ شي.

۳ – په کور دننه د توليد او صنعت د ودې لپاره د خصوصي سکټور د جلب او حمايې او د بهرنۍ پانګونې جذب ډېر اړين دی چې له دې سره به افغانستان کې توليد زيات له بهرنۍ نړۍ سره هر کال د زياتې سوداګرۍ فرصتونو رامنځ ته کېدو امکان لري.

## مأخذونه


1- Ahmed, H., S. (2023). Pak-Afghan Border: Assessing Pakistan's Foreign Policy Towards Afghanistan during Ashraf Ghani Era (2014-2020). *Pakistan Journal of International Affairs,* 6 (3), 116-130. https: //doi.org/10.52337/pjia.v6i3.883.

2- Mir, N, A. (2024, February 8). *Pakistan's TTP challenge and Afghanistan-Pakistan relations*. The Diplomat – Asia-Pacific Current Affairs Magazine . https: //thediplomat .com/ 2024 /02/pakistans-ttp-challenge-and-afghanistan-pakistan-relations/

3- Pakistan Peace Research Institute. (2024). *Pakistan Security Report 2023* (1). PPRI. https://www.pakpips.com/web/wp-content/uploads/2024/01/Pakistan_Securtity_Report_2023.pdf

4- Shinwari, N. (2024, May 27). *Islamic Emirate Denies Pakistani Claims of TTP Presence in Afghanistan*. Tolo News . https: //tolonews .com /afghanistan-188983

5- Akram, S., & Riaz, A. (2023). Pak-Afghan Relations: A Case of Taliban Regime Past and Present. *Journal of Policy Research*, 9 (2), 787-792. https:// doi .org/ 10.61506/02.00015.

6- Easterly, G. & Threlkeld, E. (2021). *Afghanistan-Pakistan Ties and Future Stability in Afghanistan* (175). United States Peace Institute . https:// www .usip.org/sites/default/files/2021-08/pw_175-afghanistan_pakistan_ties_and_future_stability_in_afghanistan.pdf#:~:text=

7- Ahmad, A., & Ahlawat, D. (2023). TehrIk-I-TalIban Pakistan: Emerging threats andPakistan's Counterstrategies. *Mankind Quarterly*, *64*(2), 221-230. Doi :10.46469/mq.2023.64.2.2

8- Ibid. 226.

9- Mir, Asfandyar. "In a Major Rift, Pakistan Ramps Up Pressure on the Taliban." United States Institute of Peace. Last modified November 16, 2023. https: //www .usip .org /publications /2023/11/major-rift-pakistan-ramps-pressure-taliban.

[10]- "The Tenuous Pak-Afghan Ties and Its Impacts on Transit and Trade – CSRS En." CSRS | :
مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی | د ستراتېژيکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز – مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی دستراتېژيکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز.
. Accessed July 10, 2024. https://csrskabul.com/en/?p=2901.
[11]- "India and Afghanistan Establish Direct Air Freight Corridor." Ministry of External Affairs, Government of India. Accessed July 10, 2024. https:// www .mea.gov.in/press-releases.htm?dtl/28546/India_and_Afghanistan_establish_Direct_Air_Freight_Corridor.
[12]- Jahanmal, Zabihullah. "Afghan Exports Through Air Corridors To Total $100M." Tolo News. Last modified December 1, 2018. https:// tolonews .com/business/afghan-exports-through-air-corridors-total-100m.
[13]- "The Tenuous Pak-Afghan Ties and Its Impacts on Transit and Trade – CSRS En." CSRS |
مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی | د ستراتېژيکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز : مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی دستراتېژيکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز:
. https://csrskabul.com/en/?p=2901, Accessed July 10, 2024.
[14]- E. Makule, Noel Dimoso and S. Tassou. "Precooling and Cold Storage Methods for Fruits and Vegetables in Sub-Saharan Africa—A Review
." Horticulturae (2022). https://doi.org/10.3390/horticulturae8090776.
[15]- Ibid. 1.
[16]- Ghafori, I., et al. (2023). *Findings From Field Studies of Postharvest Storage and Process in Afghanistan*. Retrieved from https://www.sparc-knowledge.org/sites/default/files/documents/resources/findings-from-field-studies-of-post-harvest-storage-and-processing-in-afghanistan-report.pdf
[17]- Economic Advisor. (2017). *Cold Storage Industry of Afghanistan*. Retrieved from https: //www .moore .af/ MediaLibsAndFiles/

media/afghanistan.moore-global .com/files/Research/16-Cold-Storage-Industry-of-Afghanistan.pdf

[18]- Spogmai Radio. (2024, June 24). افغاني تازه میوې؛ نړیوال بازار ته د لېږد اړتیا. Retrieved from https://www.spogmairadio.com/99419/

[19]- Economic Advisor. (2017). *Cold Storage Industry of Afghanistan*. Retrieved from https: //www .moore .af/ MediaLibsAndFiles /media/afghanistan.moore-global.com/files/Research/16-Cold-Storage-Industry-of-Afghanistan.pdf

[20]- Krishnakumar, T. (2002). Design of Cold Storage for Fruits and Vegetables. Thiruvananthapuram, India: the Crop Utilization, ICAR-Central Tuber Crops, Research Institute, Trivandrum, Kerala.

[21]- Husain, I., & Elahi, M. A. (2015). The future of Afghanistan-Pakistan trade relations. Retrieved from https: //www .usip .org /publications/2015/08/future-afghanistan-pakistan-trade-relations

[22]- Tolo News. (2024, July 17). *Increased Customs Tariffs Halt Afghanistan's Fruit Exports to Pakistan*. Retrieved from https://tolonews.com/business-189773#:~:text=Unfortunately%2C%20they%20have%20increased%20the,decreased%20compared%20to%20last%20year.%22

[۲۳]- یاسیني، ا. ا.(2009). د واخان لویه لاره به حلقوي سړک بشپړ او چین به د افغانستان سره ونښلوي:

. TolAfghan. Retrieved from https: //www .tolafghan .com /posts /14183

[24]- Rahmati, F. (2024). Wakhan Corridor officially connects Afghanistan to China: Taliban. Retrieved July 15, 2024, from https://www.khaama.com/badakhshan-province-officially-connects-afghanistan-to-china-via-wakhan-corridor-official/

[25]- Omidi, A., & Noolkar-Oak, G. (2022). Geopolitics of Chabahar Port for Iran, India and Afghanistan. *South Asia Research, 42(1),* 21-39. https://doi.org/10.1177/02627280211055981

[26]- D'Souza, S. M. (2024). India, Iran, and the Taliban's Gamble on Chabahar. *The Diplomat*. Retrieved from https: //thediplomat .com/2024/05/india-iran-and-the-talibans-gamble-on-chabahar/
[27]- Wani, A., & Parnerkar, A. (2024). *"Taliban's diplomatic advances in Central Asia"*. Retrieved from https: //www .orfonline .org /expert-speak/taliban-s-diplomatic-advances-in-central-asia
[28]- Pannier, B. (2024, March 12). *Central Asia in focus: Doing business with the Taliban*. Radio Liberty. Retrieved from https://about.rferl.org/article/central-asia-in-focus-doing-business-with-the-taliban/
[29]- Hakimi, B. A. (2022). *Afghan Trade Increases With Central Asia, Drops With Pakistan*. Tolo News. Retrieved from https: //tolonews .com/business-176340
[30]- Hakimi, B. A. (2024). *Ministry: Efforts Being Made to Equalize Imports, Exports to Central Asia*. Tolo News. Retrieved from https://tolonews.com/business-187256
[31]- Ibid.
[۳۲]- بي بي سي پښتو .(2022, December 12) .تېر یوه کال کې د هوایي کارګو له لارې د افغانستان صادرات او واردات ډېر شوي '. Retrieved from https://www.bbc.com/pashto/articles/cmjyrn645k0o
[۳۳]- د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونه .(n.d.) .چین ته د هوایي دهلیز له لارې د جلغوزیو صادرات بیا پیل شول.
Retrieved from https://acci.org.af/pa/1157-چین-ته-د-هوایي-دهلیز-له-لارې-د-جلغوزیو-صادرات-بیا-پیل-شول.html

څېړندوی محمداسماعیل امیري

# په سیمه‌ییز ثبات کې د اسلامي امارت ونډه

## لنډیز

په نړیوال نظام کې چټک بدلونونه، نړیوال کېدل او په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه د هېوادونو ترمنځ د متقابلو اړیکو زیاتېدل، د هېوادونو مسؤلین دې ته اړ باسي چې تل د خپلو ملي ګټو پر بنسټ په نړیوال نظام کې د ځان لپاره ځای پیدا او مناسبې حللارې ورته په کار واچوي، اوسمهال د افغانستان هر اړخیزې اړیکې له ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره ځانګړې اهمیت لري؛ ځکه چې افغانستان د ګاونډیو او د سیمې هېوادونو لپاره له ځانګړې جغرافیایي موقعیت څخه برخمن دی، له همدې امله د افغانستان ګاونډي او سیمه‌ییز هېوادونه د افغانستان دغه ستراتیژیک او جغرافیاوي موقعیت ته اړتیا لري چې له دې څلورلارې څخه په ګټه اخیستنې خپلو سیاسي او سوداګریزو موخو ته ورسېږي، له بله اړخه افغانستان هم ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو ته د اړیکو د جوړولو لپاره اړتیا لري.

اوسمهال چې اسلامي امارت په افغانستان کې واکمن دی؛ هڅه کوي چې له ګاونډیو، سیمه‌ییزو او د نړۍ له هېوادونو سره اقتصادي، سیاسي او سوداګریزې اړیکې پراخې کړي، دا اړیکې هغه مهال همېشنۍ او ګټورې تمامېدای شي چې د سیمې هېوادونه د یو ډول ثبات او باور فضا تجربه کړي.

## سریزه

هر هېواد په خپل ګاونډ، سیمه او نړیوال ډګر کې د خپل جغرافیایي موقعیت د لرلو پر بنسټ د ارزښت وړ وي، افغانستان هم یو له هغه هېوادونو څخه دی چې په ګاونډ، سیمه او نړیواله کچه د غوره جغرافیایي او ستراتیژیک موقعیت په لرلو د ډېر ارزښت خاوند دی او د دې غوره موقعیت په لرلو د جنوبي- مرکزي آسیا، چین او منځني ختیځ ترمنځ د یوه پله یا څلورلارې په توګه قرار لري، افغانستان په سیمه کې یو له هغو هېوادونو څخه دی، که چېرې امنیت او ثبات وي پکې وي؛ نو ګاونډ، سیمه او حتا نړۍ به ورسره په امن او ثبات کې وي؛ خو که له ستونزو، ناامنۍ او بې‌ثباتۍ سره مخ وي؛ نو ګاونډ، سیمه او حتا نړۍ ورسره بې ثباته کېدلای شي؛ همدارنګه افغانستان د جغرافیایي موقعیت پر بنسټ

کولای شي د سوداګرۍ او ټرانزیټ په برخو کې له لویو اقتصادي فرصتونو څخه ګټه پورته کړي او د هېواد د پرمختګ، رغونې او ودې لپاره یې وکاروي، که څه هم په تېرو څو کلونو کې له دې فرصتونو او حالاتو څخه د ګټې اخیستنې هڅې شوې دي؛ خو کله چې اسلامي امارت په ۲۰۲۱ ز کې په افغانستان کې د بیا واکمني ترلاسه کړه؛ نو د ګاونډ، سیمې او نړیوالو هېوادونو لپاره یې یو نوی حالت رامنځ ته کړ، اوسمهال اسلامي امارت په ځینو برخو کې له ننګونو سره مخ دی؛ خو په ورته مهال یې هڅه کړې چې د سیمه‌ییزې همغږۍ او ثبات په برخه کې وړ نقش ولوبوي.

- د دې څېړنې اهمیت دا دی چې اسلامي امارت تر یوه حده توانېدلی چې سیمه‌ییز ثبات ته زمینه برابره او له ګاونډیو سره اعتماد او متقابل تعامل رامنځ ته کړي.
- د څېړنې موخه د افغانستان په اوسني حالت کې د سیمه‌ییز ثبات اهمیت روښانول، د اسلامي امارت د سیاستونو او هڅو له مخې د سیمه‌ییزو اړیکو پیاوړتیا ارزول، په سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیز ثبات کې د اسلامي امارت د ونډې تحلیلول دي.
- یاده څېړنه به دغه پوښتنې ځواب کړي چې اسلامي امارت په سیمه‌ییز ثبات کې څومره ونډه اخیستې؟ او څومره توانېدلی چې له ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو سره سیاسي، اقتصادي او امنیتي تعاملات پراخ کړي؟
- په دې څېړنه کې له تحلیلي- توصیفي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې او د علمي- څېړنیزو لیکنو تر څنګ له انټرنېټي پاڼو او راپورونو څخه هم ګټه اخیستل شوې ده.

## د سیمه‌ییز ثبات مفهوم

سیمه‌ییز ثبات د یوې سیمې په کچه د امنیت، اقتصادي پرمختګ، ټولنیزې هوساینې او سیاسي همغږۍ په معنا دی. د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته، د سیمې په کچه د سولې او ثبات په راوستلو کې ډېره هڅه کړې او په دې اړه یې ځینې کړنې هم ترسره کړې دي، چې په دې مقاله کې به پرې بحث وشي.

## د سیمې په ثبات کې د اسلامي امارت اهمیت

د سیمې په ثبات کې اسلامي امارت د دې لپاره مهم دی چې د اسلامي امارت په واک کې د افغانستان ټول جغرافیایي او ستراتیژیک موقعیت قرار لري او همدارنګه د خپلې واکمنۍ پر بنسټ د یوې پراخې سیمې امنیت او ثبات ته ځانګړې پاملرنه کوي. د ثبات د تأمین په برخه کې د اسلامي اصولو پلې کول، د عدالت ټینګښت او د داخلي ستونزو د حل لپاره دیني او

دوديزې لارې د اسلامي امارت ځانګړتياوې دي. په ځانګړې توګه، د سيمې د سياسي، اقتصادي او ټولنيزو اړيکو د مديريت لپاره د اسلامي امارت رول نه يواځې په داخلي کچه، بلکې په سيمه‌ييزه او نړيواله کچه هم اغېزناک بلل کېږي. د دې مقالې هدف دا دی چې په سيمه‌ييز ثبات کې د اسلامي امارت نقش وڅېړي او دا څرګنده کړي چې دغه نظام د امنيت، اقتصادي پرمختګ او ټولنيز ثبات په راوستلو کې څومره برياليی شوی دی.

## د اسلامي امارت رامنځ ته کېدل او پرمختګ

اسلامي امارت له ۱۹۹۴ ز. وروسته د داخلي جګړو په جريان کې د افغانستان سياسي او نظامي صحنې ته را ودانګل چې له ۱۹۹۶ز. نه تر ۲۰۰۱ ز. پورې يې د افغانستان تقريباً ۹۰ سلنه خاوره تر واک لاندې وه[۱]، اسلامي امارت د افغانستان د بې‌ثباتۍ د حل لپاره د اسلامي شريعت پر بنسټ يوه اداره رامنځ ته کړه چې د جګړې، فساد او انارشۍ د مخنيوي لپاره يې کوټلې ګامونه پورته کړل او په افغانستان کې يې د نظم او امنيت راوستلو لپاره د "تحکيم" په توګه عمل ترسره کړ؛ خو دا وده وروسته د نړيوالو له مداخلې په ځانګړې توګه د امريکا متحده ايالاتو د ۲۰۰۱ز. له بريد سره متوقفه شوه[2].

د اسلامي امارت له سقوط وروسته په بېلابېلو سيمو کې د سيمه‌ييزو او نړيوالو ځواکونو پر وړاندې مبارزه پيل کړه، له ۲۰۰۱ز. وروسته اسلامي امارت د افغانستان په ځينو سيمو کې بيا خپل نفوذ پياوړی کړ[۳] او په ۲۰۲۱ز. کې بيا قدرت ته رسېدلو سره د اسلامي امارت دويمه دوره پيل شوه، د ۲۰۲۱ ز. د اګسټ پر ۱۵مه د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو سره تقريباً د پنځو لسيزو جګړې او د متحده ايالاتو او غرب اشغال پای ته ورسېد چې دا وضعيت د افغانستان لپاره پر يو استثنايي فرصت بدل شو چې افغانستان وکولای شي له څو لسيزو وروسته خپل برخليک د ملي وړتياو پر مټ جوړ کړي، په دې نوې دوره کې اسلامي امارت د خپلو لومړنيو هدفونو لکه د اسلامي شريعت پلي کول، د اقتصادي پرمختګ هڅونې او د سيمې د ثبات پرمخ تللو لپاره کار پيل کړ.

## د اسلامي امارت له خوا د ثبات راوستلو لومړني ګامونه

اسلامي امارت د افغانستان او سيمې د ثبات راوستلو لپاره لاندې لومړني ګامونه پورته کړې دي:

### ۱. د امنيت ټينګښت

په معاصر عصر کې د امنيت ټينګښت د بشري ژوند له اساسي اړتياو څخه ګڼل کېږي، امنيت نه يواځې د افرادو د فزيکي خونديتوب لپاره اړين دی؛ بلکې د ټولنيز ثبات، اقتصادي

پراختیا، سیاسي خوندیتوب او فرهنګي هویت د بقا لپاره هم حیاتي ارزښت لري، په مختلفو ټولنو او کلتوري مسایلو کې امنیت ته بېلابېل تعریفونه وړاندې شوي چې دا خپله د امنیت د مفهوم پراخوالی او ژورتیا څرګندوي، په همدې بنسټ امنیت یوه څو بُعدي پدیده ده چې د انسان ټولنیز، رواني، اقتصادي او فکري ژوند له ټولو اړخونو سره تړاو لري.

## د امنیت تعریف

په عمومي توګه امنیت د خوندي اوسېدلو، له خطره خوندي ساتلو او د ګواښ یا خطر له نه احساسولو څخه عبارت دی[٤] او یا هم امنیت له بهرنیو او کورنیو ګواښونو څخه د دولت د سلامت ډاډ ترلاسه کول دي چې کېدای شي د فشارونو، ناکامیو او داخلي ګډوډیو له امله له منځه لاړ او د دولت د سقوط او تباهی لامل شي او یا په بل عبارت: امنیت د هغو تدبیرونو او اجرأتو ټولګه ده چې د حکومت یا نورو سازمانونو له خوا د خلکو له احتمالي ګواښونو څخه د ساتنې لپاره اخیستل کېږي، مهمه نه ده چې دا خطرونه یا ګواښونه داخلي دي که بهرني چې ملت د هغه تر سیوري لاندې ارام، باعزته او ډاډمن ژوند ولري؛ نو امنیت دی[٥].

د امنیت له تعریفونو نه په څرګند ډول معلومېږي چې امنیت د یوه هېواد د پرمختګ لپاره تر ټولو اړینه او بنسټیزه مسئله ده چې په لرلو یې هر هېواد کولای شي ټولې چارې په اسانی پر مخ بوځي، خپلو اتباعو ته د امن او ډاډ فضا رامنځ ته کړي او په ورته مهال د هېواد همدا امنیت د ګاونډ او سیمې د هېوادونو لپاره هم تر ټولو اړینه موضوع ګڼل کېږي، که یو هېواد په خپلو داخلي چارو کې امنیت ولري؛ نو د ګاونډ او سیمې هېوادونه هم له دې هېواده ډاډمنېږي، له همدې امله کله چې اسلامي امارت بیا په افغانستان کې واکمن شو، تر ټولو لومړنی ګام یې په هېواد کې د امنیت راوستل وو، په ډېرو کمو امکاناتو او په ډېر لږ وخت کې له توقع ډېرې لاسته راوړنې لري چې په ځانګړي ډول امنیتي وضعیت د تاریخ له ټولو غوره حالت کې قرار لري[٦].

اسلامي امارت د امنیت په اړه په ډېرو اړینو برخو کې خپل فعالیت ښودلی لکه له ترهګریزو ډلو سره مبارزه، له هر ډول فساده مخنیوی، د مخدره توکو د کر او کښت مخنیوی او داسې نورې کړنې چې د افغانستان په ګډون ګاونډي او د سیمې هېوادونه هم له دې کړنو څخه ګټه اخیستې ده، د افغانستان امنیت له پخوا نه د ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو لپاره تر ټولو لویه اندېښنه پاتې شوې؛ خو اسلامي امارت ژمنه کړې چې د افغانستان خاوره به د نورو هېوادونو پر ضد د ترهګرو ډلو له لوري نه کارېږي چې دا ژمنه د

ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو د باور د ترلاسه کولو لپاره یو بنسټیز لامل ګڼل کېږي، اسلامي امارت له روسیې، د مرکزي آسیا له هېوادونو او چین سره د امنیتي خبرو اترو لړۍ پیل کړې چې تمرکز یې د ترهګرۍ ضد مبارزه او د مخدره توکو د قاچاق مخنیوی دی[۷].

همدارنګه اسلامي امارت له ایران سره هم د امنیتي همکاریو په اړه خبرې اترې کړې دي، لکه په دې وروستیو کې د ۱۴۰۳ ل، د دلوې پر ۳ مه کله چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر عباس عراقچي کابل ته په رسمي سفر راغلی و؛ په خبرو کې یې وویل چې: په ایران کې امنیت او ثبات د افغانستان په امنیت او ثبات پورې تړاو لري[۸].

د ایران د بهرنیو چارو وزیر له دې خبرو په ډاګه ښکاري چې افغانستان د ګاونډیو او سیمې هېوادونو لپاره ډېر د اهمیت وړ دی، دا هم ترې روښانېږي چې اسلامي امارت له واک ته رسېدو راهیسې له مهمو سیمه‌ییزو هېوادونو سره د اړیکو په جوړولو او پیاوړتیا کې د پام وړ بریا ترلاسه کړې ده، اسلامي امارت د امنیتي همکاریو، اقتصادي ډیپلوماسۍ او له سیمه‌ییزو قدرتونو سره د ستراتیژیک تعامل له لارې یو ډول مشروعیت او ثبات ترلاسه کړی، که څه هم لا لویې ننګونې شتون لري، په ځانګړې توګه د رسمیت پېژندنې په برخه کې؛ خو د اسلامي امارت سیمه‌ییزې ډیپلوماسۍ د افغانستان د روښانه راتلونکي لپاره قوي بنسټ ایښی، د اسلامي امارت بریا به نه یواځې د افغانستان راتلونکې ښه وټاکي؛ بلکې د ټولې سیمې پر ثبات او امنیت به هم ژور اغېز ولري[۹].

نو ویلای شو چې د امنیت ټینګښت د اسلامي امارت له بنسټیزو لومړیتوبونو څخه دی چې په افغانستان کې جګړې پای ته ورسوي او د افغانستان په مختلفو سیمو کې د امنیت فضا رامنځ ته کړي چې دا فضا به نه یوازې د افغانستان بلکې د ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو لپاره هم ګټوره ثابته شي.

## ۲. سیاسي اړیکې

د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ د ناټو ځواکونو ماتې او د اسلامي امارت بېرته راتګ، د سیمې ځینو هېوادونو ته مهم فرصتونه برابر کړي دي چې له افغانستان سره خپلې اړیکې پیاوړې کړي، دا پرمختګ د سیمې لپاره یو طلایي فرصت بلل کېږي چې خپلې سیاسي او اقتصادي موخې په اغېزناک ډول په افغانستان کې تعقیب کړي، د اسلامي امارت له لومړیو لومړیتوبونو څخه یو دا و چې له خپلو نږدې ګاونډیو او سیمه ییزو هېوادونو سره سیاسي اړیکې پیاوړې کړي؛ ځکه چې له ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو سره باثباته سیاسي اړیکې د اقتصادي ثبات لپاره ډېرې اړینې ګڼل کېږي.

کله چې اسلامي امارت بیا واکمن شو؛ نو له ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو سره یې خپلې سیاسي اړیکې د پیاوړتیا په لور بوتلي، د اسلامي امارت او سیمه‌ییزو هېوادونو، په ځانګړي ډول روسیې او چین ترمنځ اوسني تعاملات ورځ تر بلې ښه کېږي. د د بېلګې په توګه، چین غواړي چې افغانستان بېرته د نړیوالې ټولنې یوه برخه شي. د چین ځانګړي استازي، یوی شیاویونګ، تېره میاشت دا هیله څرګنده کړه چې افغانستان دې ژر تر ژره نړیوالې ټولنې ته ور ګډ شي. د چین ولسمشر شي جین‌پینګ هم پخپله یوه وینا کې وویل: چین به د سوله‌ییز پرمختګ له لارې خپله لار تعقیب کړي[١٠]".

چین د افغانستان د سیمه‌ییزو اړیکو یو مهم لوبغاړی ګرځېدلی. اسلامي امارت هڅه کوي له بیجینګ سره قوي اړیکې جوړې کړي؛ ځکه چین یو اقتصادي ځواک بلل کېږي او د خپل "یو کمربند ـ یوه لار"(BRI) نوښت د بریا لپاره ثبات ته اړتیا لري. له اسلامي امارت سره د چین پراخېدونکې همکاري، په ځانګړي ډول د پانګونې، زیربنایي پروژو او ترهګرۍ ضد هڅو په برخو کې، دا ښیي چې اسلامي امارت توانېدلی په سیمه کې یو ځواکمن متحد خپل کړي[١١].

روسیې هم له اسلامي امارت سره خپلې سیاسي اړیکې پراخې کړې دي. روسیې له هغه وخت راهیسې چې اسلامي امارت بېرته واک ته راغی، خپل سفارت په کابل کې فعال وساته او تدریج سره یې خپل تعامل له اسلامي امارت سره ډېر کړی دی. د ۲۰۲۲ ز. په لومړیو میاشتو کې، روسیې د اسلامي امارت یو ډیپلوماټ د افغان سفارت د کاردار (Chargé d'affaires) په توګه ومانه. له دې وروسته، د ۲۰۲۳ز. په پیل کې روسیې په مزارشریف کې خپله قونسلګرۍ بیا پرانیسته. همدارنګه د ۲۰۲۴ز. په پیل کې د روسیې دولتي خبري آژانس TASS راپور ورکړ: "دا موضوع چې اسلامي امارت له بندیزلګول شویو سازمانونو له لېست څخه وایستل شي، تر غور لاندې ده". د دې دریځ د ملاتړ په توګه، د روسیې د بهرنیو چارو وزیر وویل: "اسلامي امارت هغه ځواک دی چې په افغانستان کې واقعي واک لري او لکه څرنګه چې د چین هېواد په افغانستان کې خپل سفارت نه دی تړلی، موږ هم هلته خپل سفارت پرانېستی پیرېښود. قزاقستان تازه پرېکړه کړې چې اسلامي امارت له بندیزلګول شویو ډلو له لیست څخه وباسي، موږ هم همداسې پلان لرو. موږ هم افغانستان ته هغومره ارزښت ورکوو، لکه څنګه چې یې زموږ د مرکزي آسیا متحدین ورکوي". تر ټولو مهمه دا چې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین، چې کله ازبکستان ته سفر کړی و، په یوه خبري ناسته کې وویل: "له اسلامي امارت او افغانستان سره اړیکې په دوامداره توګه تر ارزونې لاندې دي. دا هغه څوک دي چې اوس مهال پر افغانستان واک لري او د

افغانستان د خاورې کنټرولوونکي دي. موږ له خپلو متحدینو سره په اړیکه کې یو او د هغوی نظرونو ته ارزښت ورکوو او خپلې پرېکړې له هغوی سره په همغږۍ ترسره کوو[12]".

د روسیې او چین د پراخېدونکو اړیکو څخه داسې ښکاري چې دا دواړه هېوادونه او نور ګاونډي او سیمه‌ییز هېوادونه، ښايي ډېر ژر اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. افغانستان هم غواړي له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې ولري او په ځانګړي ډول له سیمه‌ییزو هېوادونو غواړي چې اسلامي امارت د افغانستان د قانوني دولت په توګه په رسمیت وپېژني.

همدارنګه اسلامي امارت له هند سره د ښو سیاسي او اقتصادي اړیکو په رغولو کار پیل کړی دی، چې ښه بېلګه یې د هندوستان د ځانګړي استازي جې پي سنګ کابل ته راتګ یادولای شو. جې پي سنګ کابل ته د سفر پر مهال د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره لیدلي او د دواړو لوریو د اقتصادي او سیاسي اړیکو پر پیاوړتیا یې خبرې کړي دي. همدارنګه د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ویلي، د خپل متوازن بهرني سیاست له مخې غواړي د سیمې د یوه مهم هیواد په توګه له هندوستان سره سیاسي او اقتصادي اړیکې پیاوړې کړي[۱۳].

همدارنګه د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي، عربي متحده اماراتو ته په خپل سفر کې د هند د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال ښاغلي ویکرم میسري سره هم لیدلي، په دې ناسته کې دواړو اړخونو د بشري مرستو، دوه اړخیزو اړیکو او د سیمې د امنیت په اړه نظرونه تبادله کړي دي. د هند د بهرنیو چارو وزارت مرستیال د افغانستان خلکو ته د بشري مرستو د دوام ژمنه کړې. سربېره پر دې له هندي لوري سره د چابهار بندر له لارې د سوداګرۍ پراختیا باندې هم ټینګار وشو. مولوي امیرخان متقي هند ته ډاډ ورکړ چې افغانستان هېڅ هېواد ته ګواښ نه دی او د ډیپلوماتیکو اړیکو د ښو کېدو، د سوداګرو، ناروغانو او محصلینو لپاره د ویزو د اسانتیا غوښتنه یې هم وکړه[۱٤]. دا سفرونه د افغانستان د بهرنیو اړیکو د بیا رغونې او د نړیوالې انزوا د کمولو لپاره یوه مهمه هڅه ده. له هند سره د اقتصادي، سیاسي او بشري همکاریو پراختیا نه یواځې د افغانستان د اوسني وضعیت په ښه کېدو کې مرسته کولی شي، بلکې د دې هېواد لپاره د اوږدمهاله اقتصادي او ډیپلوماتیکو ګټو دروازې هم پرانیزي. په ځانګړي ډول، چابهار بندر د سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره یوه ستراتیژیکه او د افغانستان د صادراتو او اقتصادي ودې لپاره اړینه وسیله ده. سربېره پر دې، د اسلامي هېوادونو ملاتړ او په نړیواله کچه د سیاسي ملاتړ جلبول، د

افغانستان لپاره یو ډېر مهم گام دی چې په نړیوال ډگر کې د خپل مشروعیت د ټینگښت لپاره یې ترسره کوي.

همدارنگه پاکستان د افغانستان په داخلي چارو کې تاریخي رول درلودلی. د اسلامي امارت او پاکستان ترمنځ اړیکې پېچلې دي، چې له تاریخي اړیکو سربېره، د دوه اړخیزو شکونو نښې هم پکې لیدل کېږي. سره له دې چې اسلامي امارت توانېدلی چې له پاکستان سره کاري اړیکې وساتي، چې تمرکز یې پر ترهگرۍ ضد همکارۍ او د پولو په اوږدو کې سوداگري ده. د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکې خبرې اترې د پولې اړوند ستونزو، د خلکو او توکو د تگ راتگ په حل کې ډېر مهم رول لري او دا دواړو هېوادونو ته حیاتي اهمیت لري[15]. له دې څخه څرگندېږي چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې د جیوپولیټیک، تاریخي، دیني، قومي او اقتصادي لاملونو پر بنسټ ولاړې دي. که څه هم دواړه هېوادونه اوږده پوله لري او ژورې تاریخي او کلتوري اړیکې ورسره تړلي دي؛ خو د اعتماد د کمښت، پولې اړوند شخړو او د ترهگرۍ ضد مبارزې د دریځونو له امله یې اړیکې تل له پیچلتیا سره مل وي. دغه اړیکې د اسلامي امارت د حاکمیت پر مهال یوه نوې بڼه غوره کړې، چې د همکارۍ او اختلاف ترمنځ توازن ته اړتیا لري. د اسلامي امارت او پاکستان ترمنځ اړیکې که څه هم له تاریخي اندېښنو او شکونو ډکې دي، خو د جیوپولیټیک واقعیتونو له امله دواړه اړ دي چې یو له بله سره تعامل ته دوام ورکړي. د متقابل اعتماد د فضا رامنځته کول، گډ اقتصادي گټو ته لومړیتوب ورکول او د پولې اړوند ستونزو حل ته ژمنتیا د دې اړیکو د ثبات کلي ده.

ایران هم د اسلامي امارت لپاره یو بل مهم گاونډی دی. که څه هم د افغانستان د شیعه اقلیت له امله تاریخي کړکېچونه موجود وو؛ خو بیا هم اسلامي امارت هڅه کړې چې له تهران سره خپلې اړیکې پیاوړې کړي. ایران د یوه باثباته افغانستان سره، چې د لویدیځ له نفوذ څخه خالي وي، لېوالتیا لري او دا لېوالتیا د سوداگرۍ، د اوبو د سرچینو مدیریت او د نشه‌یي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخو کې د همکارۍ لامل شوي. له ایران سره وروستي تعاملات د اسلامي امارت عملي چلند څرگندوي، چیرې چې دواړه خواوې د شخړې پر ځای، همکاري غوره بولي[16].

د مرکزي آسیا هېوادونو هم له اسلامي امارت سره خپل تعامل زیات کړی دی. دغه هېوادونه تر ټولو زیات د امنیت له اړخه اندېښمن دي. اسلامي امارت دغو هېوادونو ته دا

ډاډ ورکړی چې د افغانستان خاوره به د هېڅ هېواد پر ضد هم ونه کارول شي، چې دا په گاونډ او سیمه کې د باور جوړولو لپاره یو مهم گام بلل کېږي[۱۷].

اسلامي امارت تل ټینگار کړی چې له ټولو نړیوالو او سیمه‌ییزو هېوادونو سره ښې او مثبتې سیاسي، اقتصادي او سوداگریزې اړیکې ولري. د اقتصاد-محوره پالیسو له امله، اسلامي امارت توانېدلی چې په تېرو څو کلونو کې له گڼ شمېر نړیوالو او سیمه‌ییزو هېوادونو سره پیاوړې اړیکې وساتي[۱۸]. چې له دې جملې څخه د سعودي عربستان سفارت هم په کابل کې خپل فعالیتونه د بیا ځل لپاره پیل کړل، چې دا د افغانستان او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا ښیي. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د سعودي عربستان د سفارت له لوري د فعالیتونو بیا پیل ته هرکلی ویلی او ویلي یې دي چې دا به د کابل او ریاض ترمنځ اړیکې لا پسې پیاوړې کړي[۱۹]. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان او د سیمې د نږدې ټولو هېوادونو ترمنځ اړیکې ورځ تر بلې ښه کېږي. اسلامي امارت ټینگار کوي چې له سیمه‌ییزو هېوادونو، په ځانگړي ډول له گاونډیو هېوادونو سره باید اړیکې نورې هم پیاوړې شي. همدارنگه په دې وروستیو کې د عمان سلطنت پلازمېنه مسقط کې د افغانستان سفارت د اسلامي امارت استازو ته وسپارل شو او په عادي ډول خپل خدمات وړاندې کوي[۲۰].

که څه هم اسلامي امارت تر اوسه د نړۍ له خوا په رسمیت نه دی پېژندل شوی، خو بیا هم په دې توانېدلی چې له ډېرو هېوادونو په ځانگړي ډول له گاونډیانو او سیمه‌ییزو هېوادونو سره یې ښې اړیکې جوړې کړي. دا اړیکې سیاسي، اقتصادي او فرهنگي بڼې لري. ډېری هېوادونه، لکه چین، روسیه، ایران، پاکستان، ترکیه او نور، سره له دې چې اسلامي امارت یې په رسمیت نه دی پېژندلی؛ خو د افغانستان استازولۍ یې امارت ته سپارلي او د کابل سفارتونه یې فعاله ساتلي دي[۲۱]. له دې څخه له ورایه ښکاري چې دا تعاملات د امارت د متوازن بهرني سیاست پایله ده او دا ښیي چې نړۍ د افغانستان د واقعیتونو منلو ته نږدې شوې ده. همداراز، دوی باور لري چې د ترهگرۍ، نشه‌یي توکو او ناامنۍ د مخنیوي لپاره، له اسلامي امارت سره تعامل او د رسمیت پېژندنه اړینه ده، څو سیمه‌ییز امنیت او اقتصادي ثبات تأمین شي.

## ۳. اقتصادي اړیکې

دا ښکاره خبره ده چې اقتصاد د یوه هېواد لپاره تر ټولو یو بنسټیزه پایه بلل کېږي، که د یوه هېواد اقتصادي حالت ښه وي، په همغه اندازه یې سیاسي، امنیتي او ټولنیز

حالت هم ښه وي؛ خو که اقتصادي حالت يې ترينګلی او خراب وي؛ نو په همغه اندازه يې سياسي، امنيتي او ټولنيز حالت ناوړه او خرابيږي. په هرحال، کله چې اسلامي امارت د ۲۰۲۱ ز. د اګسټ پر ۱۵مه په افغانستان کې واړې تر لاسه کړې؛ نو له ګڼ شمېر اقتصادي ستونزو، لکه د امريکا متحده ايالاتو له خوا د افغانستان د دارايیو انجماد، بانکي تحريمونه او د نړيوالو مرستو له تړل کېدو سره مخامخ شو.[۲۲]

پر دې سربېره افغانستان له څو کلونو راهيسې له بانکي محدوديتونو او د يو شمېر هغو پراختيايي پروژو د کار له ځنډ سره مخ دی چې پخوا د بهرنيو بنسټونو له خوا تمويلېدې. د هېواد د شتمنيو کنګل کېدل چې د نړۍ له هېوادونو سره د سوداګريزې باور پاڼې حيثيت لري، په مستقيم ډول د سوداګريزو فعاليتونو او بهرنۍ پانګونې د کمېدو لامل شوي دي. د دغه وضعيت دوام د هېواد د وګړو پر اقتصاد او د ژوند پر وضعيت مستقيم اغېز کړی دی[۲۳]؛ خو بيا هم پر دې مهال، اسلامي امارت هم په داخلي او هم په سيمه‌ييزه کچه وکولای شول چې د اقتصادي ثبات او ودې لپاره ځينې اقدامات ترسره کړي. اسلامي امارت کوښښ وکړ؛ ترڅو د تعرفو او مالياتو د زيادښت له لارې د دولت عايد زيات کړي[۲۴]، د دې ترڅنګ د افغانۍ ارزښت ساتل، د تورم يا انفلاسيون کنټرول او همدارنګه د صادراتو زيادښت[۲۵] هغه مسايل دي چې د افغانستان اقتصاد يې کنټرول کړی دی.

همدارنګه په سيمه‌ييزه کچه اسلامي امارت د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو په برخه کې هم د پام وړ پرمختګ کړی چې ښې بېلګې يې ګاونډي او د مرکزي اسيا هېوادونه دي[۲۶]. د اسلامي امارت لخوا د اقتصاد محوره بهرنۍ پاليسۍ غوره کول د دې لامل شوي چې پر بنسټ يې کولای شي، له ګاونډيو او سيمه ييزو هېوادونو سره خپلې اقتصادي اړيکې ټينګې کړي. څرنګه چې احصايې ښيي په تېرو څو کلونو کې له ټولو ګاونډيانو سره د افغانستان اقتصادي اړيکې پراخې شوي او نه يوازې دا چې افغانستان ته د نورو هېوادونو صادرات زيات شوي، بلکې نورو هېوادونو په ځانګړې توګه ګاونډيو هېوادونو ته د افغانستان صادرات بې ساري شمېر ته رسېدلي دي[۲۷] چې له همدې امله افغانستان ته د چين صادرات په ۲۰۲۲ز. کې ۵۵۰.۱۳ ميليونه ډالرو ته ورسېدل او په مقابل کې افغانستان چين ته هم ۴۰.۰۲ ميليونه ډالره صادرات کړي دي. دغه شمېرې ښيي چې د اسلامي امارت په راتګ سره نه يوازې دا چې د دواړو هېوادونو تر منځ د دوه اړخيزې سوداګرۍ په حجم کې کموالی نه دی راغلی، بلکې د پام وړ زياتوالی يې کړی دی. همدارنګه د افغانستان او چين ترمنځ د سوداګرۍ د شته ارقامو له مخې د ۲۰۲۳ز. نومبر

د ۲۰۲۲ز. د نوامبر په پرتله، افغانستان ته د چین صادرات ۹۵ سلنه، یعنې له ۶۰.۳ میلیون ډالرو څخه ۱۱۸ میلیون ډالرو ته چې ۱۵.۱ سلنه کیږی وده کړې ده او چین ته د افغانستان صادرات له ۱۵.۱ څخه تر ۱۶.۱ میلیون ډالرو پورې ښیي[۲۸].

همدارنګه د چین هېواد د ۲۰۲۴ز. د ډیسامبر له لومړۍ نېټې څخه افغانستان ته د ټولو صادراتي توکو لپاره ۱۰۰٪ تعرفه معاف کړې ده[۲۹]، د اقتصادي چارو کارپوهان په دې اند دي چې پر صادراتو د تعرفې له منځه وړل، د واخان له لارې د چین او افغانستان وصلېدل او دغه راز د تاجکستان له لارې د نوي اقتصادي دهلېز په پرانیستلو سره به له افغانستان څخه چین ته د صادراتو حجم څو برابره لوړ شي. د دواړو هېوادونو ترمنځ د اورګاډي له لارې په مستقیم ډول د ټرانزیټي کربښې فعالېدل، که څه هم په ۲۰۱۵ز. کې په سمبولیک ډول د افغانستان او چین ترمنځ د سوداګریزو مالونو د لېږد رالېږد لپاره د اورګاډي پټلۍ پرانیستل شوه چې له دوو هېوادونو قزاقستان او ازبکستان څخه تېرېږي او له چین څخه افغانستان ته په ازمایښتي بڼه یې توکي ولېږدول؛ خو دا ځل له قرغزستان او ازبکستان څخه د افغانستان او چین ترمنځ د مالونو د لېږد لپاره د اورګاډي پټلۍ په جدي توګه په لاره واچول شوه[۳۰]؛ نو د دواړو هیوادونو ترمنځ د مستقیمې ټرانزیټي لارې فعالیدل یقیناً د دې وړتیا لري چې د توکو لېږد پروسه ګړندۍ کړي او فاصله کمه کړي. همدارنګه چینایي چارواکو ویلي چې د یوه کمربند او یوې لارې پروژې په چوکاټ کې د افغانستان په بنسټیزو پروژو کې به مرسته وکړي. چین له دې وړاندې په مرکزي اسیا کې د یوه کمربند او یوې لارې پروژې په چوکاټ کې د پام وړ پانګونه کړې ده[۳۱].

همدارنګه په ۲۰۲۱ز. کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د پاکستان او افغانستان ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري زیاته شوې چې تقریباً تر دوه میلیارده ډالرو پورې رسېدلې ده. چې ستر لامل یې د اسلامي امارت له لوري د کانونو او په ځانګړي ډول د ډبرو سکرو استخراج او پاکستان ته یې صادرول دي[۳۲].

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ټرانزیټ په برخه کې د همکارۍ د پراختیا لپاره د یو تړون د لاسلیک په موخه په ۲۰۰۸ز. مذاکرات پیل شول چې بیا په ۲۰۱۰ز. کې د اپټا په نوم یو تړون د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ وزیرانو لاسلیک کړ. دغه تړون چې ۵۸ مادې لري د اسلامي امارت د اوسنۍ واکمنۍ پرمهال هم نافذ دی، سره له دې چې د دې تړون د ځینو موادو د تطبیق په برخه کې خنډونه شته؛ خو په ټوله کې دغه تړون نافذ او دواړو لوري پر استناد کولای شي. د دغه تړون پر بنسټ دواړه هېوادونه کولای شي چې د یو او

بل خاورې ته لاسرسی ولري او له هغې د ټرانزیټي سوداګرۍ په موخه ګټه واخلي. د دغه تړون پر بنسټ افغانستان د پاکستان له دریو لویو بندرونو (کراچۍ، ګوادر او قاسم بندرونو) او دوو هېوادونو، یعنې چین ته د سوسټ/تاشقرغان له لارې او هند ته د واګه پولې له لارې ټرانزیټي لاسرسی پیداکوي. پاکستان هم کولای شي چې له ایران سره د افغانستان د اسلام قلعه او زرنج له لارې، له ازبکستان سره د حیرتان بندر له لارې، له تاجکستان سره د شېرخان بندر له لارې او له ترکمنستان سره د اقینه او تورغونډۍ له لارې وصل شي او ټرانزیټ ترسره کړي[۳۳].

د پاکستان او اسلامي امارت په اقتصادي اړیکو کې بله مهمه موضوع د پاکستان او چین اقتصادي دهلیز یا (CPEC (China-Pakistan Economic Corridor دی. چین غواړي چې افغانستان هم د دې دهلیز برخه کړي او د همدې موضوع لپاره یې څو ځلې له پاکستاني لوریو سره خبرې اترې هم کړي دي. چین غواړي چې په افغانستان کې د پاکستان د اقتصادي او ډیپلوماتیکي نفوذ څخه ملاتړ وکړي او له دې لارې چین غواړي چې د پاکستان سره دوه اړخیز اقتصادي دهلیز (CPEC) په څو اړخیز اقتصادي دهلیز CAICAP (China, Afghanistan, Iran, Central Asia and Pakistan) باندې بدل کړي[۳٤]. د چین له دې پلان څخه په ښکاره څرګندېږي چې دوی غواړي افغانستان د یو کمربند یوې لارې پروژې برخه کړي او سیپیک د دې پروژې برخه ده؛ نو که افغانستان د سیپیک برخه کېږي دا په دې معنی چې د افغانستان او پاکستان اقتصادي اړیکې به هم له دې لارې قوي شي او د دوی ترمنځ به سوداګري لا پیاوړې شي.

د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت مسؤلین وایي، چې د چین او پاکستان له اقتصادي دهلیز سره په یو ځای کېدو سره به افغانستان پر دې وتوانېږي چې د سیمې او اروپا له هېوادونو سره وصل او له دې لارې هېواد ته پانګونې جذب کړي. د بهرنیو چارو وزارت د ویاند وایي: «اسلامي امارت به د (CPEC) له لارې وکړای شي چې له (BRI) سره وصل شي او افغانستان به له دغې لارې له سیمې او نړۍ سره ونښلول شي. همدارنګه اسلامي امارت به وکړای شي چې د دغې پروژې له لارې افغانستان ته پانګونه جذب کړي. همدارنګه دلته به د رېل پټلۍ، د انرژۍ تولید او نورو صنعتونو لپاره مهم پرمختګونه او ګټې تر لاسه شي». چین په (CPEC) یا د چین- پاکستان د اقتصادي دهلیز په پروژې څه باندې ۴۰ مېلیارډ ډالره پانګونه کړې ده او بېجینګ غواړي چې له دغه دهلیزه د سیمې له هېوادونو سره خپله راکړه ورکړه زیاته کړي[۳۵]. په سیمه ییزې سوداګرۍ کې افغانستان او

پاکستان د مرکزي اسیا سره ځینې داسې پروژې لاسلیک کړې دي، چې دواړه هېوادونه ورڅخه ګټه اخیستلای شي، د بېلګې په توګه: د ټاپي پروژه، د کاسا – ۱۰۰۰ پروژه او د ټاپي - ۵۰۰ پروژه.

همدارنګه له ایران سره هم د اسلامي امارت اقتصادي اړیکې ښې شوې دي. په پخوانې رژیم کې افغانستان ته د ایران صادرات په کال کې درې میلیارده ډالرو ته رسېدل؛ خو په افغانستان کې د سیاسي بدلون په رامنځته کیدو سره دغه اندازه نږدې نیمایي ته راټیټه شوه. سره له دې چې لومړني اټکلونه د صادراتو د رکود دوام ته خوشبین نه وو؛ خو برعکس په تېرو څو کلونو کې ولیدل شول چې افغانستان ته د ایران صادرات یو ځل بیا را ژوندي شوي، نه یواځې دا چې له رکود څخه راوتلي، بلکې په ښه سرعت سره یې د ودې او زیاتوالي بهیر پیل کړی دی. همدارنګه ایران ته د افغانستان صادرات، هم مخ په زیاتېدو دي[۳۶].

همدارنګه د هند او افغانستان ترمنځ اقتصادي او سوداګریزې اړیکې مخ پر زیاتیدو دي. د هند سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، هند ته د افغاني توکو د صادراتو کچه چې له دې وړاندې ۵۰۹.۴۹ میلیونه ډالره وه، له ۲۰۲۳ز. تر ۲۰۲۴ز. پورې د ریکارډ کچې ۶۴۲.۲۹ میلیونو ډالرو ته لوړه شوې چې دا د افغانستان او هند ترمنځ د سوداګریزو اړیکو کې لوی بدلون ښیي[۳۷]. د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت هم د تېر زېږدیز کال په وروستیو ۱۰ میاشتو کې له هند سره د سوداګریزې راکړه ورکړې کچه ۷۶۳ میلیونه ډالر ښیي چې په خبره یې ۵۴۱ میلیونه یې صادرات او پاتې ۲۲۲ میلیونه هغه یې واردات دي.

هند ته د افغانستان په صادراتي توکو کې انځر، اینجه، زعفران، ممیز، زنګی یا زیره او بادام او بر عکس له هند افغانستان ته وارداتي توکو کې درمل، بېلابېل واکسینونه، خوراکي توکي، د صنعتي کارخونو لپاره خام مواد، البسه او پلاستیکي توکي شامل دي او د سوداګرۍ او پانګونې خونه هند د افغانستان د تازه  او وچو میوو د پلور لپاره ښه بازار ګڼي او د هند او افغانستان تر منځ د سوداګریزو همکاریو پر زیاتېدو ټینګار کوي[۳۸].

له روسیې سره هم د اسلامي امارت اقتصادي اړیکې مخ پر زیاتیدو دي، د افغانستان اسلامي امارت له روسیې سره په ځینو برخو کې تړونونه لاسلیک کړي دي، چې یو تړون یې هم د تېلو، ګازو او غنمو واردیدل دي. د اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت تاییدوي چې د دغه تړون د لاسلیک موخه افغانستان ته د توکو واردات او د روسیې له لوري په تېلو، ګازو او غنمو کې د ځانګړي تخفیف ورکول په ګوته کړي دي او زیاته وي چې

د دغه ټرون پر بنسټ به افغانستان هر کال له روسیې څخه یو میلیون ټنه پټرول، یو میلیون ټن ډیزل، ۵۰۰ زره ټنه ګاز او دوه میلیون ټنه غنم راواردوي[۳۹].

د افغانستان اسلامي امارت په مرکزي آسیا کې له ځینو هېوادونو سره اقتصادي اړیکې ټینګې کړې دي. د افغانستان او تاجکستان ترمنځ د سوداګری لاره د دوستی پل ده چې د امو سند په اوږدو کې د شېرخان بندر سره موقعیت لري، د اسلامي امارت او تاجکستان هېواد ترمنځ سوداګری د تېرو کلونو په پرتله زیاتښت موندلی دی، لکه په ۲۰۲۰ز. کې د دواړو خواوو ترمنځ سوداګري څه د پاسه ۳۷.۲ میلیونه ډالر وه او په ۲۰۲۲ز. کې ۵۲.۷ میلیونه ډالرو ته لوړه شوه چې دا زیاتوالی د تېر کال د ورته وخت په پرتله ۳۸ سلنه زیاتوالی ښیي چې په دې کې برېښنا (برېښنا افغانستان ته د تاجکستان د صادراتو لویه برخه ده) او نور سوداګریز توکي شامل دي[۴۰]. راپورونه ښیي افغانستان د تاجکستان په اووه اصلي تجاري غړو کې ځای نیولی چې دا د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګری د ودې او پراخېدو ښکارندویي کوي. برېښنا یو له مهمو تولیداتو څخه دی، چې له تاجکستان څخه افغانستان ته صادرېږي، په ۲۰۲۳ز.کال کې د تاجکستان او افغانستان ترمنځ د برېښنا د صادراتو یو ټرون د ترکیې په هېواد کې د دواړو هېوادونو د چارواکو لخوا لاسلیک شو[۴۱].

همدارنګه اسلامي امارت له ترکمنستان سره هم خپلې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې ټینګې کړې دي، د کابل ـ عشق اباد د لوړو پوړو ډیپلوماتیکو چارواکو ناسته چې په ترڅ کې یې د دواړو لورو ترمنځ د یو شمیر بنسټیزو مسائلو ترڅنګ په افغانستان کې د ټاپي پروژې د عملي چارو پر پیلېدو خبرې وشوې. همدارنګه ترکمنستان د روان کال د مارچ پر ۳ ـ ۵ مه د ترکمن ـ افغان د یوه لوی سوداګریز فورم او د افغان تولیداتو د نندارتون کوربه و[۴۲]. د دې تر څنګ له ترکمنستان څخه پاکستان ته د برېښنا د لېږد پروژه چې هغه هم له افغانستان څخه تېرېږي، یوه له هغو مسئلو څخه ده چې اسلامي امارت له ترکمنستان سره نږدې کوي، له دې لینه په ګټې اخیستنې ترکمنستان شاوخوا ۱۰۰۰ میګاواټه برېښنا پاکستان ته صادروي، د دې پروژې په پلي کېدو سره به افغانستان د ټرانزیټ د حق تر څنګ د هغې له برېښنا څخه هم برخمن شي.

په افغانستان کې د اسلامي امارت له بریا وروسته ترکمنستان له افغانستان سره د ۱،۲ میلیونه ډالرو په ارزښت بشري مرستې کړې چې د دغه هېواد او اسلامي امارت ترمنځ د اړیکو د ښه کېدو نښه بلل کېدای شي[۴۳]. له بله اړخه افغانستان کولای شي، د

ترکمنستان له لارې د کسپین سمندرګي له هېوادونو سره د اړیکو او سمندري سوداګرۍ له لارې خلاص سمندر ته د لاسرسي د نشتوالي ستونزه یوه اندازه حل کړي او له اذربایجان سره سوداګري کولای شي افغانستان له اروپایي هېوادونو سره ونښلوي. په ورته وخت کې ترکمنستان د افغانستان لپاره یوه مناسبه ټرانزیټي لار ګڼل کېږي چې افغانستان له قزاقستان او روسیې سره نښلوي.

ترکمنستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې افغانستان ته د ټېلو او برېښنا په برخه کې تر ټولو ډېر صادرات لري. افغانستان له ترکمنستان سره د سوداګرۍ، انرژۍ او د اورګاډي د شبکې په برخو کې تفاهم لیکونه لاسلیک کړي دي. که چېرې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې پراختیا ومومي، افغانستان له ترکمنستان څخه جنوبي اسیا ته د برېښنا د صادرولو لپاره چې ورته سخته اړتیا لري، یوه ښه لاره بلل کېدای شي، افغانستان او ترکمنستان په ۱۹۹۲ز کې له ایکو سره چې یو اقتصادي سازمان دی؛ یوځای شول، د دغه سازمان د موجودیت فلسفه سیمه-ییزه همکاري ده، ترکمنستان د دغه سازمان له ادرسه له افغانستان سره د بیارغونې په برخه کې ډېرې مرستې کړې دي[٤٤].

همدارنګه له ازبکستان سره هم اسلامي امارت په اقتصادي اړیکو کې مطلوب حالت غوره کړی دی، په دې څو کلونو کې د دواړو هېوادونو تر منځ اقتصادي راکړه ورکړه د دې ښکارندویي کوي چې دواړه لوري د اقتصادي اړیکو پراختیا ته زیاته پاملرنه لري، تر ټولو نوی مورد چې د دواړو هېوادونو د اقتصادي اړیکو ښکارندویي کوي، د دواړو لوریو ترمنځ د ګډ سوداګریز بازار د رامنځته کولو مسایل دي. دواړه هېوادونه په اقتصادي او ټرانزیټي برخه کې یو بل ته اړتیاوې لري، په اقتصادي برخه کې ازبکستان د افغانستان لپاره د یو اقتصادي او تولیدي ظرفیت لرونکي ګاونډي په توګه زیات ارزښت لري چې کولای شي د افغانستان د اقتصاد په وده کې مرسته وکړي.

د ازبکستان زیاتې معدني زېرمې او منابع په ځانګړې توګه نفت او ګاز او په اوسني وخت کې د برق د تولید په برخه کې د افغانستان د اړتیاو په پوره کولو کې مهم نقش لري، دغه هېواد د صنعت او زراعت په برخه کې چې د مختلفو ماشینونو په تولید کې لوی لاس لري؛ کولای شي چې د زراعتي تولیداتو په برخه کې د افغانستان لپاره یو مهم او مناسب ملګری او همکار وګرځي، لکه څرنګه چې د ریل لومړۍ پټلۍ (له حیرتانه تر مزارشریف پورې) د ازبکستان هېواد په مرسته جوړه شوې ده، د دې په مقابل کې افغانستان د ازبکستان د صادراتو او په صنعتي او زراعتي برخه کې د پانګونې لپاره

مناست هېواد دی، ازبکستان کولای شي چې د زېرمو په استخراج او پروسس کې د لارو او ریل پټلۍ په برخه کې پانګونه وکړي، د ټرانزیټي اړتیاو په برخه کې چې دواړه هېوادونه یې یو بل ته لري؛ ویلای شو چې ازبکستان د یوه تولیدي هېواد په توګه کولای شي د افغانستان له لارې د جنوبي آسیا له ګڼ مېشتو سیمو سره وتړل شي، همدارنګه دغه هېواد د افغانستان له لارې له پاکستان، ایران او حتی د فارس خلیج له بندرونو او د عمان له سیند سره وصل شي، افغانستان هم کولای شي د ازبکستان له لارې له قزاقستان، قرغزستان، چین او روسیې سره ځان وتړي، لکه څرنګه چې د ریل پټلۍ چې افغانستان له چین سره وصلوي، د ازبکستان له لارې تېرېږي، له دې امله دواړه هېوادونه باید زیاته هڅه وکړي چې هر څومره زر کېدای شي د ټرانس– افغان ریل پټلۍ او د خواف – هرات او مزارشریف په ریل پټلۍ چې د ازبکستان د ترمذ بندر په مستقیمه توګه له ایران سره تړي؛ خپل کوښښونه متمرکز کړي او د ټرانزیټ او سودا ګرۍ په برخه کې یو لوی انقلاب رامنځ ته کړي[٤٥].

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر د کانونو او پټرولیم، ټرانسپورت او هوایي چلند، صنعت او سوداګرۍ، کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ او د مالیې وزارتونو او د افغانستان بانک د پلاوي په مشرۍ ازبکستان ته سفر کړی و چې د دې سفر موخه د افغان او ازبکستاني لورو تر منځ د اقتصادي، سیاسي او سوداګریزو اړیکو پراخوالی او د پانګوالو د جذب لپاره زمینه برابرول وو، د دواړو هېوادونو چارواکي به په بېلابېلو سکټورونو کې د همکارۍ پر لارو چارو خبرې وکړي، له همدې امله ملا عبدالغني برادر د خپل سفر په لومړۍ ورځ د ازبکستان د لومړي وزیر له مرستیال سره په کتنه کې د بېلابېلو اقتصادي، سوداګریزو او ټرانزیټي مسایلو او دغه راز د دواړو هېوادونو تر منځ د ګډ سوداګریز زون د جوړېدو په تړاو خبرې وکړې، په دغه کتنه کې د ازبکستان د لومړي وزیر مرستیال جمشید خواجه یوف وویل: «د ازبکستان پانګوال چمتو دي چې له اسلامي امارت سره د نفت او ګازو د اکتشاف او استخراج په برخو کې همکاري وکړي او هلته د صنعت او د سمنګان ولایت د سمنټو د تولید د کارخونې د جوړولو په برخه کې پانګونه وکړي».

دا په داسې حال کې ده چې څه موده وړاندې په کابل کې د ازبکستان سفیر ویلي وو چې د افغانستان او ازبکستان د مشرانو او د سوداګرو د هڅو په پایله کې تېر کال د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ مالي راکړه ورکړه څه باندې یو میلیارد ډالرو ته رسېدلې ده[٤٦].

له پورتنیو اقتصادي حالاتو څخه له ورایه ښکاري چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته افغانستان له سختو اقتصادي ستونزو لکه د شتمنیو کنګل کېدل، بانکي محدودیتونو او د نړیوالو مرستو بندېدو سره مخ شو؛ خو د تعرفو او مالیاتو زیاتولو، د افغانۍ ارزښت ساتلو، تورم څارل او صادراتو د زیاتوالي له لارې یې اقتصادي ثبات ته هڅې وکړې، اسلامي امارت په سیمه‌ییزه کچه د چین، پاکستان، ایران، هند، روسیې، تاجکستان او ترکمنستان سره اقتصادي او سوداګریزې اړیکې پراخې کړې. له چین سره د صادراتو او وارداتو کچه لوړه شوې، د پاکستان سره د کانونو او ټرانزیټي همکاریو پراختیا شوې، د هند سره د تازه او وچو میوو سوداګري زیاته شوې، له روسیې تېل، غنم او ګاز واردېږي او د تاجکستان او ترکمنستان سره د برېښنا او نورو سوداګریزو همکاریو پرمختګ شوی.

سربېره پر دې د سیمه‌ییزو پروژو لکه تاپي، کاسا-۱۰۰۰ او ټاپ-۵۰۰ د پرمختګ هڅې هم دوام لري، اسلامي امارت غواړي د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) برخه شي ترڅو پانګونه، ټرانزیټ او اتصال لا ډېر شي، د اسلامي امارت دا ټولې هڅې او د سیمې له هېوادونو سره یې د پیاوړو اقتصادي اړیکو رامنځ ته کول، له یوې خوا په افغانستان کې اقتصادي ثبات رامنځ ته کوي او له بلې خوا د سیمې په اقتصادي ادغام، اتصال او ثبات کې هم د اسلامي امارت ونډه څرګندوي.

## د سیمه‌ییزو غونډو له لارې د سیمه‌ییز ثبات راوستل

د افغانستان اسلامي امارت له ۲۰۲۱ز.کال راهیسې هڅه کړې چې له ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو سره اړیکې ټینګې کړي او په سیمه‌ییزو غونډو کې ګډون وکړي؛ خو د نړیوال مشروعیت د نشتوالي له امله، په ځینو مهمو سیمه‌ییزو غونډو کې نه دي بلل شوي یا یې پخپله ګډون نه دی کړی.

- **د مسکو فارمټ غونډه (۲۰۰۳ز. کال):** د افغانستان په اړه د مسکو فارمټ پنځمه ناسته د چین، هند، ایران، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، روسیې، ترکمنستان او ازبکستان د ځانګړو استازو او لوړپوړو چارواکو په ګډون په کازان کې ترسره شوه، چې پکې د افغانستان د اسلامي امارت لوړپوړو چارواکو هم ګډون درلود، د سعودي عربستان، قطر، متحده عربي اماراتو او ترکیې استازو د افتخاري مېلمنو په توګه برخه اخیستې وه[٤٧].

په دې غونډه کې د افغانستان او سیمې د امنیت، د نشه‌یي توکو پر ضد د مبارزې، نړیوال تعامل، سیمه‌ییزې همکارۍ، د افغانستان د شتمنیو د آزادیدو او بشري مرستو په اړه خبرې اترې وشوې. په دې غونډه کې د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر

مولوي امیر خان متقي بهرنیانو ته بلنه ورکړه چې افغانستان ته راشي او له نږدې څخه د افغانستان وضعیت وګوري، همدارنګه د افغانستان د اقتصادي پروژو ملاتړ وشو او د سیمه-ییزو او دوه اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا غوښتنه وشوه. د غونډې ګډونوالو په دې ټینګار وکړ چې افغانستان باید یو خپلواک، متحد او باثباته هېواد وي، د ترهګرۍ، نشه‌یي توکو، انساني ناورینونو او د بهرني نظامي حضور له ګواښونو څخه خوندي وساتل شي[48].

د غونډې په پای کې د کازان غونډې اعلامیه تصویب شوه چې پکې د افغانستان د شتمنیو د آزادېدو، د ټولشموله حکومت جوړونې، د ترهګرۍ ضد مبارزې او د بشري مرستو دوام ته ژمنتیا څرګنده شوه او همدارنګه له امریکا متحده ایالاتو څخه غوښتنه وشوه چې د افغانستان د بحران مسؤلیت ومني او د افغانستان کنګل شوې شتمنۍ بېرته آزادې کړي.

له دې څخه څرګندېږي چې د مسکو فارمټ د کازان غونډه د افغانستان او سیمې لپاره یو مهم ډیپلوماتیک فرصت و، چې پکې د اسلامي امارت نقش څو اړخیز او د پام وړ و، د اسلامي امارت دریځ او ګډون په دې غونډه کې نه یواځې د افغانستان د رسمي استازیتوب تمثیل کاوه؛ بلکې له بهرنیو هېوادونو سره د تعامل، خپل دریځ څرګندونې او د مشروعیت موندلو هڅه هم وه، په دې غونډه کې د افغانستان د اقتصادي پروژو ملاتړ هم وشو چې دا د اسلامي امارت لپاره ستر ډیپلوماټیک بریالیتوب و، دا ښیي چې اسلامي امارت د اقتصادي پراختیا له لارې غواړي د مشروعیت، ثبات او سیمه‌ییز تعامل فضا پراخه کړي.

دا همکاري د مرکزي آسیا له هېوادونو سره د ټرانزیټ، انرژۍ او سوداګرۍ پروژو لپاره زمینه برابرولی شي، همدارنګه اسلامي امارت د غونډې له فرصته په استفادې د افغانستان د کنګل شوو شتمنیو بېرته ترلاسه کولو موضوع مطرح کړه، دا موضوع د غونډې په اعلامیه کې هم منعکسه شوه چې پکې له امریکا متحده ایالاتو غوښتنه وشوه چې د افغانستان شتمنۍ آزادې کړي چې دا د اسلامي امارت لپاره یوه مهمه سیاسي لاسته‌راوړنه ګڼل کېږي؛ ځکه دا مطلب نړیوالو ته ورسول شو چې د شتمنیو کنګلول د ولس پر وړاندې اقتصادي ظلم دی، په غونډه کې د ترهګرۍ ضد مبارزه هم یاده شوه، اسلامي امارت هڅه وکړه نړیوالو ته وښیي چې افغانستان به د ترهګرو ډلو لپاره خوندي ځای نه وي، دا ژمنه د امارت د سیاست مهم اړخ دی چې غواړي نړیوالو ته وښیي چې د دوی له‌خوا د امنیت ټینګښت جدي نیول شوی او افغانستان د ترهګرۍ د سرچینې په توګه نه کارېږي؛ نو له همدې امله ویلای شو چې دا غونډه اسلامي امارت لپاره یو مهم ګام و چې اسلامي امارت ته یې د یو مسؤل، ګډونپال او له سیمه‌ییزو هېوادونو سره د همکار دولت حیثیت ورکړ.

- **د افغانستان، پاکستان او چین ترمنځ پنځمه درېاړخیزه غونډه – اسلاماباد، می ۲۰۲۳:** د افغانستان، پاکستان او چین په پنځمه درېاړخیزه غونډه کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي، د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر بلاول بوټو زرداري او د چین د بهرنیو چارو وزیر چین ګانګ ګډون درلود، د دې غونډې اصلي موضوعات د ترهګرۍ پر ضد مبارزه کې د امنیتي همکاریو زیادښت، د اقتصادي همکاریو پراخېدل او په افغانستان کې د CPEC پروژې غځول، د سیمه‌ییزو پروژو لکه TAPI ، CASA-1000 او د ترانس‌افغان ریل‌پټلۍ ملاتړ او د بشري مرستو او اقتصادي ثبات لپاره د نړیوالې ټولنې ملاتړ ته اړتیا څرګندول وو چې په پایله کې درېواړو هېوادونو ژمنه وکړه چې له خپلو خاورو څخه به د ترهګرو ډلو د فعالیتونو مخه نیسي، د افغانستان اقتصاد ته د پانګونې او دندې رامنځ ته کولو لپاره د عملي لارو لټون او د CPEC پروژې د افغانستان له لارې غځولو لپاره به ګډ کار کوي[٤٩].
- **د شانګهای د همکاریو سازمان (SCO) ۲۳مه غونډه (اکتوبر ۲۰۲۴):** په اسلاماباد کې د شانګهای د همکاریو سازمان ۲۳مه غونډه د اسلامي امارت له استازو پرته ترسره شوه. په غونډه کې افغانستان د بحث مهمه سیمه‌ییزه موضوع وه، د دې سازمان غړو د افغانستان د وضعیت په اړه خبرې اترې وکړې او څرګنده یې کړه چې افغانستان د سیمې د ثبات لپاره یو حیاتي هېواد دی، د پاکستان هېواد چارواکو د افغانستان ثبات د ټولې سیمې د امنیت او اقتصادي پرمختګ لپاره مهم وباله. همدارنګه په دې غونډه کې وړاندیز وشو چې د افغانستان د شانګهای د همکاریو سازمان د تماس ډله باید د بیا ځلې لپاره فعاله شي؛ ترڅو د افغان چارواکو سره په اقتصادي، بشري او امنیتي برخو کې همکاري رامنځته شي او همدارنګه په دې غونډه کې د ترهګرۍ او نشه‌یي توکو پرضد د ګډو اقداماتو اړتیا ته اشاره وشوه[٥٠]؛ ترڅو په ګډه سره وکړای شي د نشه‌یي توکو څخه مخنیوی وشي. دا څرګندونې ښیي چې دا سازمان غواړي له افغانستان سره خپلو اړیکو ته نظم ورکړي، له بلې خوا د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر وویل چې د افغانستان د ناظر غړیتوب له ۲۰۲۱ کال راهیسې ځنډول شوی او له هماغه وخت راهیسې یې غونډو ته بلنه نه‌ده ورکړل شوې.

د شانګهای د همکاریو سازمان (SCO) ۲۳مه غونډه که څه هم د اسلامي امارت له رسمي ګډون پرته ترسره شوه؛ خو افغانستان پکې د بحث یوه اړینه موضوع وه او دا خپله

د اسلامي امارت لپاره یو نامستقیم ډیپلوماټیک اهمیت لري، د اسلامي امارت نقش دلته نامستقیم؛ خو د پام وړ و او افغانستان ته څو ګټې متوجې شوې.

**لومړی**: دا چې د افغانستان وضعیت د سیمې لپاره ډېر اهمیت لري، دا د امارت لپاره یو ډول پېغام دی چې که څه هم لا د رسمي تعامل شرایط نه‌دي برابر شوي؛ خو نړیوال او سیمه‌ییز هېوادونه د افغانستان له بې‌ثباتۍ او منځوي پاتې کېدو اندېښمن دي.

**دویم**: د SCO د تماس ډلې د بیا فعالېدو وړاندیز هم یو مهم پرمختګ دی، دا ډله کولای شي د اسلامي امارت او شانګهای سازمان ترمنځ د همکارۍ یوه باثباته لار جوړه کړي، پرته له دې چې سمدستي رسمیت ته اړتیا ولري، د تماس ډلې د بیا فعالېدو له لارې امارت کولای شي:

- ❖ د اقتصادي همکارۍ لاره خلاصه کړي.
- ❖ د بشري مرستو زمینه پراخه کړي.
- ❖ د امنیتي مشورو او اقداماتو برخه کې تخنیکي تعامل ولري، دا به د امارت لپاره د نړیوال انزوا له وضعیته د وتلو په لور یو نرم، خو مهم ګام وي.

**درېیم**: د ترهګرۍ او نشه‌یي توکو پر ضد د ګډو اقداماتو اړتیا ته اشاره یوه بله مهمه نقطه ده، دا ښیي چې SCO هېوادونه غواړي له اسلامي امارت سره ګډ کار وکړي، خو شرطونه یې دا و:

- ❖ امارت باید د ترهګرو ډلو، لکه داعش او نورو ډلو پر وړاندې عملي ګامونه واخلي.
- ❖ د مخدره توکو د تولید او قاچاق د څارنې لپاره اغېزمنه پالیسي تطبیق کړي، که اسلامي امارت وکولای شي په دې برخو کې پرمختګ وکړي، دا به د اعتماد جوړونې، سیمه‌ییزې همکارۍ او د نړیوالو فشارونو د راکمولو لپاره ګټور تمام شي.

**څلورم**: دا چې د افغانستان ناظر غړیتوب له ۲۰۲۱ راهیسې ځنډول شوی، دا ښیي چې اسلامي امارت لا هم د شانګهای سازمان د غړو له‌خوا د رسمیت موندلو پړاو ته نه‌دی رسېدلی؛ خو له بلې خوا، دا چې د یاد غړیتوب بیاکتنه او د تماس ډلې فعالول مطرح کېږي، ښیي چې یاد سازمان د فشار، تعامل او متوازنې تګلارې ترمنځ یو منځنی حل لاره لټوي.

- **د اقتصادي همکاریو سازمان (ECO) د بهرنیو چارو وزیرانو غونډه (دسمبر ۲۰۲۴)**: د ۲۰۲۴ کال د جون په ۸مه، د افغانستان لپاره د سیمه‌ییز تماس ډلې دویمه غونډه په تهران کې ترسره شوه. په دې غونډه کې د ایران، روسیې، چین او پاکستان ځانګړو استازو ګډون درلود، د غونډې موخه د افغانستان لپاره د سولې، ثبات او پرمختګ هڅو همغږي کول و. په دې غونډه کې د اسلامي امارت استازو ګډون ونه

کړ، د غونډې ګډونوالو د افغانستان د اوسني وضعیت ارزونه وکړه او د سولې، ثبات او پرمختګ لپاره د ګډو هڅو پر اړتیا ټینګار وکړ. همداراز، د دوحې د راتلونکې غونډې لپاره د تیاریو په اړه هم بحث وشو. د اسلامي امارت د استازو د نه ګډون له امله، د غونډې ګډونوالو د اسلامي امارت د استازو د نه ګډون په اړه اندېښنه څرګنده کړه او د افغانستان د اوسني وضعیت د ښه والي لپاره یې د اسلامي امارت د استازو د ګډون اړتیا اړینه وبلله[51].

ښکاره ده چې که څه هم دا غونډه د اسلامي امارت له حضور پرته ترسره شوه، خو د اسلامي امارت لپاره د غیرمستقیمو سیاسي او دیپلوماتیکو فرصتونو ښه ګټل کېږي. دا ډول غونډې که څه هم د رسمي مشروعیت ضمانت نه لري، خو د افغانستان او اسلامي امارت لپاره یو شمېر مهم پیغامونه، اندېښنې او احتمالي ګټې له ځان سره لري.

**لومړی**: اسلامي امارت په دې غونډه کې فزیکي ګډون نه‌درلود، خو د بحث اصلي تمرکز د افغانستان پر وضعیت وو. دا ښیي چې اسلامي امارت، که څه هم تر فشار لاندې دی، لا هم د سیمې د هیوادونو لپاره یو ناګزیر واقعیت دی.

**دویم**: غونډه د سولې، ثبات او پرمختګ همغږۍ ته وقف شوې وه. که اسلامي امارت غواړي له اقتصادي ستونزو، بشري ناورین او نړیوال انزوا ووځي؛ نو دا ډول غونډې ورته فرصتونه برابرولای شي.

**درېیم**: دې غونډې اسلامي امارت ته یو دیپلوماتیک پیغام درلود: هغه دا چې اسلامي امارت باید منزوي پاتې نه‌شي؛ ځکه سیمې ته د افغانستان بې‌ثباتي زیان رسوي او له اسلامي امارت سره همکاري یوازینۍ لاره ده، چې سیمه له بې ثباتۍ څخه ایستلی شي. د دغسې غونډو له سیاسي تودوخې او اجماع څخه اسلامي امارت کولی شي په هوښیارانه ډول استفاده وکړي؛ ترڅو د تماس، مرستې او مشروعیت پر لور ګامونه واخلي.

- همدارنګه د اسلامي امارت لوړو پوړو چارواکو د سیمې د هېوادونو له استازو سره وخت په وخت په کابل کې ناستې کړې او د سیمې د ثبات او امنیت لپاره یې هلې ځلې کړې دي، چې ښې بېلګې یې د روسیې د امنیت شورا له منشي، سرګي شویګو سره د اسلامي امارت د کورنیو چارو وزیر خلیفه سراج الدین حقاني لیدنه وه[52]، په دې لیدنه کې د ممنوعه ډلو له لیست څخه د اسلامي امارت د لرې کولو پروسه، د امنیتي همکاریو، اقتصادي اړیکو پر پراخولو بحث ترسره شو.

د سیمه‌ییزو غونډو د پرېکړو له تحلیل څخه دا څرګندېږي چې د افغانستان اسلامي امارت د ثبات، امنیت او همکاریو په برخه کې د سیمه‌ییز تعامل لپاره لیوالتیا لري. دغه دریځ ښیي چې اسلامي امارت هڅه کوي خپلې بهرنۍ اړیکې د اسلامي شریعت د اصولو او افغاني فرهنګي ارزښتونو په رڼا کې تنظیم کړي. همداراز، د ګاونډیو او نورو سیمه‌ییزو هېوادونو سره د سیاسي، اقتصادي او امنیتي همکاریو پراخول د امارت د بهرنۍ پالیسۍ له مهمو اهدافو څخه ګڼل کېږي؛ ترڅو نه یوازې د هېواد داخلي ثبات ته زمینه برابره شي، بلکې افغانستان د سیمې په یوه اغېزمن، همکار او خپلواک هېواد بدل شي.

## پایله

د دې څېړنې موندنې ښیي چې اسلامي امارت له ۲۰۲۱ز.کال راهیسې هڅه کړې، څو د یو فعال، مسئول او بااعتباره دولت په توګه د سیمې په سیاسي، اقتصادي او امنیتي جوړښت او ثبات کې ځان تثبیت کړي. د دې موخې لپاره یې د سیمه‌ییزو اړیکو پراخولو، اقتصادي بنسټونو پیاوړتیا او امنیتي ډیپلوماسۍ ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. په داخلي سیاست کې، د بنسټیزو اقتصادي پروژو پلي کول، لکه د قوشتېپې کانال، د سړکونو، پُلونو او ټرانسپورټي شبکو پراخول او همدارنګه له نړیوالو پروژو سره ژمنتیا، لکه TAPI اوCASA-1000 ، د دې څرګندونه کوي چې اسلامي امارت غواړي افغانستان د سیمې له سیاسي، اقتصادي او امنیتي نظم سره ځان ونښلوي. دا تګلاره نه یوازې د خودکفایي پر لور یو مهم ګام دی، بلکې د اعتماد جوړونې وسیله هم بلل کېږي او د سیمه‌ییزو همکاریو دروازې پرانیزي چې دا د اسلامي امارت لپاره د سیمه‌ییز ثبات په راوستو کې ډېره مرسته کوي.

په نړیوالو اړیکو کې له چین، روسیې، ایران، پاکستان او سعودي عربستان سره د اړیکو زیاتوالی د اسلامي امارت لپاره د یو نوي سیاسي دریځ د تثبیت هڅه ګڼل کېږي. دا تعاملات که څه هم د نړیوال رسمیت د نشتوالي تر سیوري لاندې ترسره کېږي؛ خو د عمل له مخې ښیي چې سیمه‌ییز هېوادونه د افغانستان له اوسني حکومت سره د عملي همکاریو زمینه برابروي، امنیتي ډیپلوماسي د اسلامي امارت د سیمه‌ییز سیاست او ثبات یوه بله مهمه ستنه ده. اسلامي امارت تل دا ژمنه کړې چې د افغانستان خاوره به د نورو هېوادونو پر ضد نه کارول کېږي، چې دا سیاست یې ګاونډ، سیمې او نړیوالو هېوادونو د باور جلبولو لپاره یوه اړینه هڅه ده. د امنیتي ناستو او سیمه‌ییزو کنفرانسونو لکه د مسکو فارمټ غونډه، د شانګهای همکاریِ سازمان (SCO)، د تهران غونډه او د دوحې کنفرانس له لارې، اسلامي امارت هڅه کوي خپل دریځ د یوه مسؤل حکومت په توګه معرفي کړي.

په ټوله کې اسلامي امارت د سيمه‌ييز ثبات او مشروعيت د ترلاسه کولو لپاره د تدريجي مرحله‌وارو اقداماتو يوه تګلاره غوره کړې ده چې له سياسي تعامل، اقتصادي مشارکت او امنيتي تضمينونو څخه عبارت ده. سره له دې چې لا هم سيمه‌ييزو هېوادونو اسلامي امارت په رسميت نه دی پېژندلی؛ خو د سيمه‌ييزو همکاريو پراختيا، اقتصادي همغږي او د باور جوړونې امنيتي ګامونه د دې ښکارندونه کوي چې افغانستان د يو نوي ژيوپوليټيکي واقعيت برخه ګرځي. دا حالت دا هم څرګندوي چې د نړۍ ځينې هېوادونه، د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې څخه مخکې، له اسلامي امارت سره د عملي تعامل لپاره چمتو دي، چې دا پخپله د اسلامي امارت لپاره د سيمه‌ييز ثبات په لور يو مهم پرمختګ بلل کېږي.

## وړانديزونه

١. اسلامي امارت دې د عملي همکاريو له لارې، د سيمه‌ييزې اجماع د رامنځته کولو لپاره نوښت وکړي؛ د بېلګې په توګه، د "سيمه‌ييز ثبات" په نوم يوه دوره‌يي غونډه راوبلي، چې د امنيت، اقتصاد او کډوالو په موضوعاتو تمرکز ولري.

٢. اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې له ګاونډيو هېوادونو سره د سرحدي مديريت لپاره مشخص ميکانيزمونه (لکه د تماس مرکزونه، ګډ ګزمې او تبادله شوي استخباراتي معلومات) رامنځته کړي.

٣. اسلامي امارت د TAPI، CASA-1000 او رېل‌پټلۍ پروژو د عملي کولو لپاره دې حقوقي، امنيتي او مالي تضمينونه برابر کړي او د پانګوالو لپاره دې شفاف چاپېريال رامنځته کړي.

٤. اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د ECO، OIC او SAARC په څېر سازمانونو کې د دايمي او د SCO په سازمان کې د ناظر په توګه فعاله ونډه واخلي.

٥. اسلامي امارت دې د تعليمي بورسونو، فرهنګي تبادلو او سوداګريزو نندارتونونو له لارې د خلکو ترمنځ اړيکې پراخې کړي.

٦. ګاونډي او سيمه‌ييزو هېوادونه بايد اسلامي امارت په رسميت وپېژني؛ ترڅو په عملي کچه د ثبات ساتلو لپاره د ګډو غونډو، تحليلونو او ارزيابيو ملاتړ وکړي.

۷. گاونډي او سیمه‌ییزو هېوادونه باید زده کړه‌ییزو اړیکو ته زمینه برابر کړي، ویزې اسانه کړي او د افغان محصلینو، سوداګرو او فرهنګیانو لپاره ځانګړي پروګرامونه تنظیم کړي.

## مأخذونه

[۱] احمدشاه. داود، مهد ظهور طالبان، د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز فصلنامه، شماره ۲، کابل، کال ۱۳۸۵، مخ ۱۲۱.

[2] Dr. Yaqub Ibrahimi. The Taliban’s Islamic Emirate of Afghanistan (1996 -2001): ‘War-Making and state-Making’ as an Insurgency Strategy, https://aissonline.org/en/aiss-news/aiss-resea.../ 456?utm, 1404/2/21.

[3] The Islamic Emirate of Afghanistan 1.0: A Study on Islamic Government Practices under the Taliban 1996 – 2001 / AJIS: Academic Journal of Islamic Studies, https://journal.iaincurup.ac .id/index.php/AJIS/article/view, 1404/2/21.

[٤] درب اتوماتیک همتا، امنیت چیست، -https://www.hamtadoor.com/what-is security/ امنیت چیست | تعریف امنیت و انواع آن، د مراجعې نېټه: 1403/11/07.

[٥] لیکوال: "ابوعائشه" په اسلام کې د امنیت ارزښت (دوهمه برخه) – کلمات پښتو https://kalemaatpa.net/archives/22299، د مراجعې نېټه: ۰۶/۱۱/۱۴۰۳

[٦] هېواد ورځپاڼه، اسلامي امارت او امنیتي غوره وضعیت / https://hewaddaily.com/editorials، د مراجعې نېټه: ۷/۱۱/۱۴۰۳.

[7] Islamic Emirate of Afghanistan, The Afghanistan official Voice, https://www.alemarahenglish .af/strategic-diplomacy-the-islamic-emirates-success-in-building-regional-relations/1404/01 /19.

[٨] عباس عراقچی: امنیت ایران به امنیت و ثبات افغانستان وابسته است | طلوع‌نیوز https://tolonews.com /fa/afghanistan-192790. مراجعه: ۰۹/۱۱/۱۴۰۳

[9] Islamic Emirate of Afghanistan, The Afghanistan official Voice, https://www.alemarah englishaf/strategic-diplomacy-the-islamic-emirates-success-in-building-regional-relations/ 1404/01/19.

[10] Mukhtar Safi, The Kabul Times, Regional countries’ engagement with Islamic Emirate expanding - The Kabul times, Afghanistan Trustable News Agency, https://thekabultimes.com /regional-countries-engagement-with-islamic-emirate-expanding/ 1404/01/18.

[11] Islamic Emirate of Afghanistan, the Afghanistan official Voice, https://www.alemarahenglish .af/strategic-diplomacy-the-islamic-emirates-success-in-building-regional-relations/1404/01/19.

[12] Mukhtar Safi, The Kabul Times, Regional countries' engagement with Islamic Emirate expanding - The Kabul times, Afghanistan Trustable News Agency, https://thekabultimes.com/ regional-countries-engagement-with-islamic-emirate-expanding/ 1404/01/18.

[۱۳] عبدالله، افغانستان او هند د اقتصادي او سیاسي اړیکو پر پیاوړتیا خبرې کړې، نن تکی آسیا، /https:// www.nunn.asia/211267 ۱۸/۱۲/۱۴۰۲، د اخذ نیټه ۱۳/۱۲/۱۴۰۳ /۱۳.

[۱۴] رحمت الله فیضان، له هند او ماراتو سره د افغانستان اقتصادي او سیاسي اړیکې د غوړیدو په حال کې دي، هېواد ورځپاڼه، /https://hewaddaily.com، د مراجعې نیټه: ۱۳/۱۲/۱۴۰۳.

[15] Islamic Emirate of Afghanistan, the Afghanistan official Voice, https://www.alemarah english.af/strategic-diplomacy-the-islamic-emirates-success-in-building-regional-relations/ 1404/01/19.

[16] Ibid.

[17] Ibid.

[18] Jawed Hussain, Kabul Times, Strengthening relations between Afghanistan and regional countries - The Kabul times, Afghanistan Trustable News Agency, https://thekabultimes.com/ strengthening-relations-between-afghanistan-and-regional-countries/ 1404/01/18.

[19] Ibid.

[۲۰] مصطفی مصطفی. /اسلامي-امارت-او-له-نړۍ-سره-د-سیاسي-اړیکو پراختیا/https://dailies.gov.af، د نشر نېټه: سپټمبر /۱۹/ ۲۰۲۴ د مراجعې نېټه: ۱۴۰۳/۱۱/۰۹.

[21] Afghan Voice Agency (AVA),https: //www .avapress .com/ en/ news/282298/exp_anding-the-relations-of-islamic-emirate-with-_countries-world 1404/01/19.

[۲۲] ابوذر صارم سرپلی. https://www.tawana.news/2024/07/01/پیشرفتهای-اقتصادی-در-حکومت-امارت-اسلامی، د مراجعې نېټه: ۰۹/۱۱/۱۴۰۳.

[23]https://pajhwok.com/ps/2023/08/15/the-completion-of-two-years-of-the-islamic-emirate-what-were-the-economic-challenges-and-

اقتصادي ننګونې او پرمختګونه /د اسلامي امارت دوه کاله پوره کېدل؛ developments
څه وو؟ – Pajhwok Afghan News ۰۹/۱۱/۱۴۰۳.

[۲۴] ابوذر صارم سرپلی. https://www.tawana.news/2024/07/01/پیشرفتهای-اقتصادی-در-حکومت-امارت-اسلامی، د مراجعې نېټه: ۰۹/۱۱/۱۴۰۳.

[۲۵] سهراب سروري. پژواک خبرې اژانس، دو ساله‌گی امارت اسلامی؛ چالش‌ها و پیشرفت‌های اقتصادی چه بوده است: Pajhwok Afghan News –

https://pajhwok.com/fa/2023/08/15/two-years-of-the-islamic-emirate-what-have-been-the-economic-challenges-and-developments /15Aug2023-11:11. د مراجعې نېټه: ۹/۱۱/۱۴۰۳

[۲۶] https://shariatdaily.com/ اسلامي-امارت،-اقتصادي-اړیکې-او-رسمیت-پ/1403/12/05.

[۲۷] د ستراتېژيکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز (CSRS)، د افغانستان د اسلامي امارت او چین اقتصادي اړیکو ته کتنه، https://csrsaf .org/د-افغانستان-د-اسلامي-امارت-او-چین-اقتصا/ د مراجعې نېټه: 1403/12/6.

[۲۸] پورتنی اثر.

[29] Riyaz ul Khaliq. China grants 100% duty-free access to imports from Afghanistan, 2024/10/ 25, available at: https: //www .aa.com .tr/ en/asia-pacific/china-grants-100-duty-free-access-to-imports-from-Afghanistan/3374596, 1404/3/13.

[۳۰] د ستراتېژيکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز (CSRS)، د افغانستان د اسلامي امارت او چین اقتصادي اړیکو ته کتنه، https://csrsaf .org/د-افغانستان-د-اسلامي-امارت-او-چین-اقتصا/ د مراجعې نېټه: 1403/12/6.

[۳۱] https://shariatdaily.com/ اسلامي-امارت،-اقتصادي-اړیکې-او-رسمیت-پ/ 1403/ 12/05.

[۳۲] د ستراتيژيکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د اسلامي امارت په دوره کې د افغانستان او پاکستان اقتصادي اړیکو ته کتنه،د-اسلامي-امارت-په-دوره-کې-د-افغانستان-او https://csrsaf.org د مراجعې نېټه: 1403/12/13.

[۳۳] پورتنی اثر.

[۳۴] پورتنی اثر.

[۳۵] طلوع نیوز. د چین او پاکستان اقتصادي دهلیز؛ د اسلامي امارت نوې هیلې، afghanistan-183395 https://tolonews.com/ index.php/pa/، د مراجعې نېټه: ۱۴۰۳/۱۲/۱۳.

[۳۶] د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز (CSRS)، له ایران سره د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي اړیکو ته یوه کتنه https://csrsaf.org/ له-ایران-سره-د-افغانستان-اسلامي-امارت-ا/، د مراجعې نېټه:1403/12/11.

[۳۷] شمشاد نیوز، د هند سوداګرۍ وزارت: تیر کال له افغانستانه د څه باندې ۶۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت واردات شوي، https://shamshadnews.com/2025/02/18/ د مراجعې نېټه: ۲۲/۱۲/۱۴۰۳.

[۳۸] پورتنۍ اثر.

[39] https://swn.af/ps/afghanistan-has-signed-an-agreement-with-russia-to-import-oil-gas-and-wheat/،1403/12/14.

[40] Ariana News. “Tajikistan increases export volume to Afghanistan by 38%”, Ariana News Website July 27, 2022 available at: https://www.ariananews.af/tajikistan-increases-export-volume-to-afghanistan-by-38/ 1403/12/14.

[۴۱] گزارش. «توافق روی صادرات برق تاجکستان به افغانستان با وجود تنش میان طالبان و دوشنبه»، سایت بی‌بی فارسی، نشر: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱، https://www.bbc.com/persian/live/afghanistan-64230264. د مراجعې نېټه: ۱۴/۱۲/۱۴۰۳.

[۴۲] https://shariatdaily.com/اسلامي-امارت،-اقتصادي-اړیکې-او-رسمیت-/1403/12/05.

[۴۳] سجادی، عبدالقیوم، سیاست خارجی افغانستان، کابل: انتشارات دانشگاه خاتم النبیین، کال ۱۳۹۷،

[۴۴] د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز (CSRS)، د افغانستان او ترکمنستان د اړیکو مخینې او د ښه والي فرصتونو ته کتنه، https://csrsaf.org/د-افغانستان-او-د-ترکمنستان-د-اړیکو-مخین//، د مراجعې نېټه: ۱۴۰۳/۱۲/۱۴.

[۴۵] د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز (CSRS)، د اسلامي امارت او ازبکستان د اړیکو په اړه تحلیل، https://csrsaf.org/د-اسلامي-امارت-او-ازبکستان-د-اړیکو-په-اړ/، د مراجعې نېټه،1403/12/14 .

[٤٦] افغانستان او ازبکستان په مهمو پروژو کې د همکارۍ د پراختیا په لټه دي https://tolonews.com/ index.php/pa/business-193168، د مراجعې نېټه،1403/12/14.

[47] Kazan Declaration of the Moscow Format Consultations on Afghanistan, Kazan, September 29, 2023 - The Ministry of Foreign Affairs of the Russian Federation, Available at: https://www. mid.ru/en/ foreign policy/news/1906997/, 1404/2/9.

[48] Kazan Declaration of the Moscow Format Consultations on Afghanistan, Kazan, September 29, 2023 - The Ministry of Foreign Affairs of the Russian Federation, Available at: https://www. mid.ru/en/ foreign policy/news/1906997/, 1404/2/9.

[49] China, Pakistan and Afghanistan FMs hold talks in Islamabad, Available at: https://www. aljazeera.com/ news/2023/5/7/china-pakistan-and-afghanistan-fms-hold-talks-in-islamabad, 1404,03/14.

[50] Statement by H.E. Mr Jalil Abbas Jilani Foreign Minister of Pakistan at the Meeting of SCO Council of Heads of Government (CHG) 26 October 2023, Bishkek, https://mofa.gov.pk/ 1404/2/13.

[51] Islamic Emirate Not Invited to ECO Foreign Ministers Meeting | TOLOnews, https://tolonews .com/ business- 191864?utm, 1404/2/13.

[52] نسیم، له ممنوعه ډلو د اسلامي امارت د لرې کولو پروسه وروستي پړاو ته رسېدلې، حریت، https://hurriyat. net /hurriyat/public /news/8052/details، د مراجعې نېټه: ۱۳/۲/۱۴۰۴.

څېړندوی احسان الله احسان

# د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې د هند

## بهرنۍ پالیسي: اندېښنې او د تعامل هڅې


## لنډیز

افغانستان له هند سره ډېرې پخوانۍ او تاریخي اړیکې لري، دا اړیکي یوازې د دواړو هېوادونو د حکومتونو تر منځ اړیکې نه دي؛ بلکې ریښې یې د دواړو ملتونو د خلکو تر منځ په تاریخي او سوداګریزو اړیکو کې نغښتې دي، هند په تېرو دوو لسیزو په افغانستان کې د بیارغونې او پراختیا په برخه کې څه باندې ۳ میلیارده ډالره پانګونه کړې او د افغانستان سیمه ییز متحد پاتې شوی، د اسلامي امارت په بیاځلي واک ته رسېدو هند د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې تر ډېره وخته د څار او انتظار پالیسي تعقیب کړه؛ خو له بلې خوا یې د بشري مرستو له لارې افغانستان سره خپل ارتباط ساتلی دی.

د دې څېړنې موخه دې پوښتنې ته چې هند له ۲۰۲۱ ز. وروسته د افغانستان پر وړاندې څرنګه بهرنۍ پالیسی تعقیبوي؟ ځواب ویل دي.

په دې څېړنه کې له تشریحي- تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې او ډول یې کتابتوني دی.

موندنې ښیي چې هند په دې وروستیو کې له اسلامي امارت سره تعامل ته مخه کړې او نه تعامل نور د کار وړ پالیسي نه ګڼي؛ همدارنګه له نورو سیمه ییزو لوبغاړو سره په ګډه د ګډ دریځ له لارې هڅه کوي چې په افغانستان کې خپل نفوذ او ملي ګټې خوندي کړي.


## سریزه

افغانستان او هند ډېرې پخوانۍ او تاریخي اړیکې لري، دغه تاریخي او کلتوري اړیکې د اندوس تمدن ته رسېږي چې له مخې یې د دواړو ملتونو وګړو له یو بل سره کولتوري، سوداګریز او مذهبي مشترکات پالل، کله چې په ۱۹۴۷ ز. کې د هند نیمه وچه پر هند او پاکستان ووېشل شوه؛ پاکستان د افغانستان او هند له خاورې جوړ شو او اوسنی هند

خپلواکي واخيسته؛ نو افغانستان له لومړنيو هېوادونو څخه و چې له هند سره يې اړيکې ټينګې کړې، له تاريخي پلوه د دواړو هېوادونو اړيکې تر ډېره دوستانه او ښې بلل شوې دي، کله چې په افغانستان کې اسلامي امارت بياځلي واک ته ورسېد او د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره يې د اړيکو جوړولو هڅې پيل کړې؛ نو د اسلامي امارت چارواکو اعلان وکړ چې بېطرفه، اقتصادمحوره او متوازنه بهرنۍ پاليسي تعقيبوي او هېچاته اجازه نه ورکوي چې په افغانستان کې منفي سيالۍ وکړي؛ همدارنګه د هند په ګډون د سيمې او نړۍ ټولو هېوادونو ته يې ډاډ ورکړ چې هېڅ هېواد سره د دښمنۍ نيت نه لري او هېچاته به اجازه ور نه کړي چې د افغانستان خاوره د نورو هېوادونو پر خلاف وکاروي.

که څه هم امريکا متحده ايالات او لوېديځه نړۍ اسلامي امارت ته له نړۍ سره د اړيکو د پراختيا په برخه کې ستونزې ايجادوي؛ خو اسلامي امارت د بريالي بهرني سياست پر مټ نړۍ سره د اړيکو د پراختيا په حال کې دی او دا موضوع د نړۍ ډېرو هېوادونو هم درک کړې چې له افغانستان سره اړيکو ته د خپلو ګټو له زاويې وګوري او اسلامي امارت سره سياسي او اقتصادي اړيکې پراخې کړي.

نړۍ سره د اړيکو د پراختيا په دوام ځينو هېوادونو لکه چين، پاکستان، ايران، ازبکستان، ترکمنستان، روسيه، ترکيه، قطر، متحده عربي امارات، قزاقستان او قرغزستان په کابل کې خپل سفارتونه پرانېستي دي او ځينو يې په خپلو هېوادونو کې د اسلامي امارت سفيران هم منلي دي، د اسلامي امارت د لومړۍ واکمنۍ پر مهال هند له ايران، روسيې او تاجکستان سره يوځای له شمالي ټلوالې څخه ملاتړ کړی و؛ خو دا ځل روسيه او ايران له اسلامي امارت سره ښې اړيکې پالي او هند ځان ته پاتې دی، که څه هم د سيمې د نورو هېوادونو لکه روسيې، پاکستان، چين، ترکمنستان، قزاقستان، ازبکستان، ايران او نورو هېوادونو په پرتله له اسلامي امارت سره د هند اړيکې سړې دي؛ خو اوس هند د اسلامي امارت په اړه ځينو حقيقتونو ته رسېدلی او له ډېرې مودې ځار او انتظار وروسته د اسلامي امارت په اړه هغې پاليسي کې چې نه يې غوښتل په مستقيم ډول اسلامي امارت سره په اړيکه کې شي؛ بدلون راوستی او په تدريجي ډول له اسلامي امارت سره د تعامل هڅې کوي.

د افغانستان اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته هڅه کړې چې له هند سره خپلې سياسي او اقتصادي اړيکې پياوړې کړي؛ ځکه هند په جنوبي اسيا کې لوی ځواک ګڼل کېږي او په تېره جمهوري دوره کې يې د افغانستان په بېلابېلو برخو کې ډېره مرسته

کړې؛ نو له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې د هند د بهرنۍ پالیسۍ د څېړنې اړتیا لیدل کېږي او په اړه یې څېړنه له شک پرته ځانګړی اهمیت لري.

## ۱- د افغانستان، هند اړیکو مخینه

کله چې په ۱۹۴۷ ز. کې د هند نیمه لویه وچه په دوو برخو د هند او پاکستان ووېشل شوه او د هند جمهوریت رامنځ ته شو؛ نو افغانستان په نړۍ کې له لومړنیو هېوادونو څخه و چې د هند دولت یې په رسمیت وپېژنده او په ملګرو ملتونو کې یې د غړیتوب لپاره مثبته رایه ورکړه، د یادو هېوادونو تر منځ د سیاسي اړیکو رسمي بنسټ د ۱۹۵۰ ز. د جنورۍ په څلورمه د دوستۍ د تړون په پایله کې کېښودل شو.[۱] دواړو هېوادونو له ۱۹۵۰-۱۹۷۳ ز. پورې چې په افغانستان کې د شاهي دورې حاکمیت و؛ په خپلو کې په سیمه ییزه او بین المللي کچه د لوړې کچې اړیکې درلودې، یاد هېوادونه د ناپېیلي غورځنګ (Non-Aligned Movement) د غړو په توګه د خپلو نړیوالو اړیکو په سر کې د استعمار، د نژادي تبعیض او توکمپالنې ضد، د ملي ازادۍ د غورځنګونو د دفاع او د فلسطین د خلکو د حقونو بېرته ورکولو په اړه ګډ دریځونه درلودل، کله چې په ۱۹۷۳ ز. کې محمدداود خان کودتا وکړه او د افغانستان لومړنۍ جمهوریت یې رامنځ ته کړ؛ هند له شوروي اتحاد وروسته دویم هېواد شو چې د افغانستان نوی نظام یې په رسمیت وپېژنده.

د افغانستان د لومړي جمهوریت د دورې پر مهال (۱۹۷۳-۱۹۷۸ ز) د دواړو هېوادونو اړیکې ډېرې نږدې شوې چې په دې برخه کې د محمدداود خان د ډیورنډ کرښې هاخوا د پښتنو او بلوڅو د حقونو په اړه د پاکستان ضد دریځ او شوروي اتحاد ته نږدې کېدل یې لوی لاملونه بلل شوي دي، ولسمشر محمدداوود خان واک ته له رسېدو وروسته چې خپل لومړی رسمي سفر یې مسکو ته کړی و، دویم رسمي سفر یې هند ته وکړ او په دې سره د دواړو هېوادونو تر منځ د لوړپوړو چارواکو سفرونه یوه عادي خبره وګرځېده.[2]

کله چې په افغانستان کې د خلق ډیموکراټیک ګوند واک ته ورسېد؛ نو هند یو ځل بیا د نړۍ له لومړنیو هېوادونو څخه شو چې د دغه هېواد نوی حاکمیت یې په رسمیت وپېژنده او د خپلو سیاسي اړیکو پر دوام یې ټینګار وکړ، پر افغانستان د شوروي اتحاد له یرغل سره هند له فرصته ګټه پورته کړه او د افغانستان له حکومت سره یې خپلې اړیکې لا پیاوړې کړې؛ یعنې په دغه ټوله دوره کې (۱۹۷۸-۱۹۹۱ ز) د دواړو هېوادونو اړیکو د پخوا په څېر دوستانه دوام وموند، په افغانستان کې د شوروي اتحاد د ځواکونو له ماتې وروسته د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ پر مهال هند په سیمه ییزه او نړیواله کچه د دغه حکومت یو له کلکو

ملاتړو څخه و او د کابل او نوي ډیلي تر منځ اړیکې په سیاسي، نظامي او امنیتي برخه کې ډېرې پراخې شوې.[۳]

کله چې په ۱۹۹۱ ز. کې ډاکټر نجیب الله حکومت ړنګ شو او اسلامي دولت رامنځ ته شو، د نوي ډیلي چارواکي که څه هم ناخوښ شول؛ خو کله چې د جهادي تنظیمونو تر منځ جګړې پیل شوې؛ نو هند د برهان الدین رباني له حکومت سره نږدې شو او په ټوله دوره کې یې په هند کې د افغانستان سفارت پرانېستی پریښی و، کله چې په ۱۹۹٦ ز. کې اسلامي امارت د لومړي ځل لپاره واک ته ورسېد، هند له افغانستان سره خپلې رسمي اړیکې پرې کړې، هند دا فکر درلود چې طالبان د پاکستان تر نفوذ لاندې دي او پاکستان به له دې فرصته په ګټې اخیستنې په کشمیر کې د هند خلاف جګړې ته افغان جنګیالي ولېږي، له همدې امله یې د طالبانو حکومت په رسمیت و نه پېژنده او پر وړاندې یې له ایران، روسیې او تاجکستان سره په ګډه له شمال ټلوالې څخه ملاتړ وکړ چې د طالبانو پر وړاندې وجنګېږي.[٤]

د ۱۹۹۹ ز. د ډسمبر په ۲۴ مه د هندي شرکت الوتکه Indian Airlines flight IC-814 چې د نیپال له کتمندو څخه د هند ډیلي په لور روانه وه؛ د پنځو کسانو له خوا د افغانستان کندهار ته وتښتول شوه، په الوتکه کې د تښتوونکو په ګډون ۱۸۹ مساپر سپاره وو چې وروسته د هند او پاکستان تر منځ خبرې اترې پیل شوې او په بدل کې یې مولانا مسعود اظهر چې له خلاصېدو وروسته یې د جیش محمد ډله رامنځ ته کړه، عمر سعید شیخ او مشتاق زرګر د هند له زندانه خوشې شول.[٥] دا پېښه د دې لامل شوه چې له طالبانو سره د هند اړیکې لا ترینګلې شي.

د طالبانو د لومړي حکومت له نسکورېدو وروسته د ۲۰۰۱ ز. په ډسمبر کې د افغانستان په اړه د بن کنفرانس جوړ شو چې هند په کې یو له فعالو ګډون کوونکو هېوادونو څخه و. د افغانستان د موقتې ادارې په رامنځ ته کېدو هند په ډېرې چټکۍ له افغانستان سره د اړیکو نوی باب پرانیست. لومړی یې په کابل کې خپل سفارت پرانیست او ورپسې یې په مزارشریف، جلال اباد، هرات او کندهار کې کونسلګرۍ پرانېستې او له افغانستان سره یې ډیپلوماتیکې اړیکې یو ځل بیا ټینګې کړې. د ۲۰۱۱ ز. د اکتوبر پر څلورمه د افغانستان او هند تر منځ د سټراټیژیک شراکت هوکړه لیک ( Strategic partnership agreement) لاسلیک شو چې پر بنسټ یې د نورو دوه اړخیزو تړونونو د تصویب تر څنګ د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکو نوی پړاو مشخص کړ.[٦] دغه هوکړه لیک

چې د سیاسي او امنیتي، اقتصادي او سوداګرۍ، ښوونې او روزنې، ظرفیت لوړونې او د ټولنیزو، کلتوري، مدني ټولنې او خلکو تر منځ د اړیکو په برخو کې همکارۍ په کې شاملې وې، د هیوادونو ترمنځ د باور کچه لا ډېره کړه. هند د افغانستان پر وړاندې د قوي نرم ځواک چلند له مخې د اقتصادي پراختیا او بشري مرستو باندې تمرکز کاوه. هند د سلما بند، د زرنج - دلارام لویې لارې، د افغانستان د پارلمان ودانۍ په ګډون په بیلابیلو زیربنایي پروژو کې له ۳ میلیارد ډالرو څخه ډېره پانګونه وکړه او د افغانستان په بیارغونه کې پنځم لوی مرسته کوونکی هېواد و.[۷] په ټوله کې داسې ویلای شو چې په افغانستان کې د اوو لسیزو په اوږدو کې د ډېرو پرمختګونو سره سره د دواړو هیوادونو اړیکې معمولاً دوستانه او ستراتیژیکې بلل کیدای شي.

## ۲- د افغانستان اسلامي امارت بیاځلې واک ته رسېدو په اړه د هند اندېښنې

د اسلامي امارت بیاځلې واک ته له رسېدو یوه میاشت وړاندې د هند د بهرنیو چارو وزیر ایس جي شنکر د تاجکستان په پلازمېنه کې د شانګهای د همکارۍ سازمان د تماس ډلې په غونډه کې د افغانستان په اړه د هند نظر چې د تاوتریخوالي او زور له لارې د قدرت ترلاسه کولو ته به مشروعیت ورنکړي، وړاندې کړی و.[۸] په افغانستان کې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو په موخه یې سیاسي جوړجاړی او خبرې اترې د کړکېچ یوازینی حل ګاڼه، خو دغه حل یې په افغانستان کې د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنو په پام کې نیولو او د افغانانو په ملکیت او مشرۍ د دوحې غونډو، د مسکو فارمټ، او د استانبول پروسې له لارې تعقیبوه. پداسې حال کې چې اسلامي امارت د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنې په پام کې نه نیولې او په مستقیم ډول یې له امریکایانو سره خبرو اترو ته دوام ورکاوه. یعنې د اسلامي امارت بیاځلې واک ته رسېدو څخه وړاندې د نوي ډېلي پالیسي د اسلامي امارت له پالیسي سره په تقابل کې وه.[۹]

کله چې اسلامي امارت د ۲۰۲۱ ز. اګسټ پر ۱۵مه له اوږدې مبارزې وروسته بیاځلې واک ته ورسېد؛ نو هند چې له پیله د داسې حالت د رامنځ ته کېدو مخالف و، ناخوښي څرګنده کړه او په افغانستان کې د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنو، په افغانانو کې د هند په اړه مثبت نظر، په افغانستان کې د هند نفوذ، له افغانستان څخه د ترهګرۍ د خپرېدو او خپلو اوږدمهاله ګټو په اړه اندېښمن شو. له بلې خوا هند چې په تېره دوره کې اسلامي امارت سره د اړیکو ښه مخینه نه درلوده او د اسلامي امارت پر وړاندې یې د جګړه کوونکې شمال ټلوالې ملاتړ کړی و، بیاځلې واک ته د رسېدو په اړه یې اندېښمن شو او داسې یې

انګېرله چې په افغانستان او سیمه کې به اسلامي امارت د هند ګټو ته زیان واړوي. د اګسټ پر ۲٦مه د کابل پر نړیوال هوايي ډګر د داعش ډلې برید چې شاوخوا ۳۰۰ ملکي وګړي او ۲۸ پوځي کسان پکې ووژل شول، له امنیتي پلوه د هند وېره لا ډېره کړه. د ۲۰۲۱ ز. د اګسټ پر ۳۱ مه په قطر کې د هند سفیر ډیپک میتال له شېرمحمد عباس ستانکزي سره ناسته وکړه او ورسره یې د هند هغه اندېښنې چې د افغانستان خاوره د ترهګرۍ په پټنځایونو بدله نه شي او د هند پر خلاف و نه کارول شي؛ شریکې کړې.[۱۰]

بل خوا پاکستان چې له اوږدې مودې راهیسې له هند سره په سیمه کې سیالي پالي، په دې اړه خوښي څرګندوله او لومړي وزیر عمران خان د افغانستان په اړه ویلي و چې (د طالبانو بریا وښوده چې افغانانو د غلامۍ زنځیرونه مات کړي).[۱۱] د سرپرست حکومت له جوړېدو وړاندې د پاکستان د استخباراتي اداري (آی ایس آی) مشر جنرال فیض حمید کابل ته راتګ سره هند وانګېرله چې نور یې په افغانستان کې د پاکستان پر وړاندې لوبه بایللې. له همدې امله یې د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د پراختیا، بیارغونې او ظرفیت لوړولو په برخه کې له ۵۰۰ څخه ډېرې پروژې ودرولې او د افغانستان په وړاندې یې خپله تګلاره بدله کړه. د دغې نوې تګلارې له مخې په ځانګړې پوځي الوتکه کې د خپل سفارت ټول کارمندان واېستل او په افغانستان کې یې د خپلو سیاسي او کونسلي نمایندګیو په ګډون ټول سیاسي فعالیتونه ودرول؛ ځکه له اسلامي امارت سره د هند اړیکې د بېلابېلو دلایلو له کبله ښې نه وې. د اسلامي امارت د لومړۍ واکمنۍ پر مهال هند اسلامي امارت نه یوازې دا چې په رسمیت نه و پېژندلی؛ بلکې د اسلامي امارت پر وړاندې یې د جګړې مارې ډلې یعنې شمال ټلوالې ملاتړ کړی و. د اسلامي امارت په بیاځلې واک ته رسېدو سره یې افغان سیک او افغان هندو اقلیتونو ته انلاین وېزې اعلان کړې او په یوه ځانګړې الوتنه کې یې یو شمېر هند ته ولېږدول.[۱۲]

که له تاریخي پلوه په سیمه کې د هند او پاکستان اوږدمهالې دښمنۍ او سیالۍ ته وکتل شي؛ نو له افغانستان سره د یادو هېوادونو اړیکې یو د بل پر وړاندې ارزول شوې دي، یعنې کله هم چې د افغانستان- هند اړیکې ښې شوې؛ نو د افغانستان او پاکستان اړیکې کمزورې شوې او که کله هم د افغانستان- پاکستان اړیکې ښې شوي؛ نو د افغانستان او هند اړیکې کمزورې شوې دي.

### ۳- په بین المللي سازمانونو او بنسټونو کې د افغانستان په اړه د هند پالیسي

د اسلامي امارت او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د ۲۰۲۰ ز. کال د فبرورۍ پر ۲۹مه د دوحې تړون لاسلیک شو چې له مخې یې د امریکا تر ټولو اوږدې جګړې پای ته رسېدلو او له بلې خوا د اسلامي امارت د بیاځلې واک ته رسېدو په برخه کې یو مهم پړاو ګڼل کېده. د تړون په سم عملي کېدو سره تمه کېده چې اسلامي امارت به د افغانستان په راتلونکي سیاست کې پراخ او مهم رول ولوبوي چې دا کار د هند لپاره په سختۍ سره د منلو وړ و.[۱۳]

د دوحې تړون له لاسلیک وروسته هند په افغانستان کې د روانو پراختیایي پروژو او خپلو اندېښنو د شریکولو په موخه د بهرنیو چارو د وزیر په ګډون څو ځلې په قطر کې د اسلامي امارت له سیاسي استازو سره د افغانستان د سولې په تړاو خبرې اترې وکړې. دا لومړی ځل و چې هند په خپل دریځ کې د اسلامي امارت پر وړاندې مثبت بدلون راوست او نېغ په نېغه یې له اسلامي امارت سره په قطر کې ناستې وکړې.[۱۴] کله چې د ۲۰۲۱ ز. په اګسټ کې جګړې زور واخیست او ورځ تر بلې داسې ښکارېده چې اسلامي امارت نور ښارونه نیسي؛ نو په ملګرو ملتونو کې د هند دایمي استازي د همدې کال د اګست پر ٦ مه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا (UNSC) د مشر په توګه یوه غونډه راوبلله چې په افغانستان کې یې د دوه ګونې سولې (double peace) د پلي کولو غوښتنه کوله. د هند له نظره د دوه ګونې سولې مفهوم دا و چې یو د افغانستان په دننه کې سوله ده او بله د افغانستان په خواوشا هېوادونو کې سوله ده چې دا سوله پخپله د افغانستان له دننه سولې سره مستقیم تړاو لري.[۱۵]

د اسلامي امارت بیاځلې واک ته له رسېدو وروسته هند د سیمې او نړۍ په ځانګړي ډول د افغانستان په تړاو مسایلو کې تل برخه اخیستې. د افغانستان د سولې په اړه یې د شانګهای د همکاریو سازمان او د مسکو فارمټ غونډو کې ګډون کړی او د افغانستان په اړه یې خپله تګلاره روښانه کړې، تر څو په افغانستان کې د یو مهم سیمه ییز لوبغاړي په توګه رول ولوبوي. د ۲۰۲۱ ز. کال د سپتمبر پر ۱۷ مه د هند لومړي وزیر د شانګهای د همکاریو سازمان په سرمشریزه غونډه کې چې په تاجکستان کې جوړه شوې وه، د ترهګرۍ پر وړاندې د صفر زغم (Zero tolerance) پالیسي اعلان کړه.[۱٦] یعنې هند هڅه کوله چې له افغانستان څخه د امنیتي ستونزو د خپریدا د مخنیوي په برخه کې د سیمې نورو هېوادونو سره همغږي رامنځ ته کړي او د افغانستان پر وړاندې سیمه ییزه ډیپلوماسي پر مخ یوسي. هند د اسلامي امارت پر وړاندې د خپلې سیمه ییزې ډیپلوماسۍ په لړ کې د

۲۰۲۱ ز. په نومبر کې د افغانستان په اړه د دربیم سیمه ییز امنیتي ډیالوګ کوربه توب وکړ چې په کې روسیې، ایران او د مرکزي اسیا د جمهوریتونو د ملي امنیت سلاکارانو ګډون کړی و. ګډون کونکو هېوادونو په افغانستان کې د امنیتي وضعیت د ښه کېدو پر لارو چارو خبرې وکړې او د ډیلي اعلامیه یې خپره کړه چې په سیمه کې یې د افراطیت، بېلتونپالنې او د مخدره موادو د قاچاق پر وړاندې د ګډې همکارۍ غوښتنه کوله او په افغانستان کې یې د یوه ټولشموله حکومت د جوړولو پر اړتیا ټینګار کاوه.[۱۷]

د ۲۰۲۱ ز. د اکتوبر په ۲۰ مه د افغانستان په اړه د مسکو فارمټ د مذاکراتو دربیمه غونډه جوړه شوه چې په کې غړو هېوادونو اسلامي امارت پر وړاندې خپل دریځ او غوښتنې روښانه کړې. په دغه غونډه کې چې روسیې، قزاقستان، تاجکستان، ایران، پاکستان، چین، ترکمنستان، هند، قرغزستان او ازبکستان ګډون کړی و، ژمنه وشوه چې د افغانستان حاکمیت، خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ته به درناوی کوي. په دغه غونډه کې نوې خبره دا وه چې ګډونوالو ومنله چې طالبانو ته به په افغانستان کې د نویو چارواکو په سترګه ګوري او له هغوی سره به په درنښت خبرې کوي.[۱۸] د مسکو فارمټ همدې غونډې په ترڅ کې د هند په دریځ کې هم نرمښت څرګند شو او هند دې پایلې ته ورسېد چې اسلامي امارت یو حقیقت دی او له اسلامي امارت سره نه تعامل نور د کار وړ انتخاب نه دی.

هند د ۲۰۲۲ ز. په نومبر کې د مسکو فارمټ جوړې شوې مشورتي غونډه کې چې د ښکېلو هېوادونو د ځانګړو استازو ترمنځ جوړه شوې وه، ګډون وکړ.[۱۹] په دغه غونډه کې هند او روسیې د افغانستان په اړه د منظمو مشورو لپاره یو دایمي چینل اعلان کړ. دا له روسیې سره د افغانستان په اړه د هند د ګډ کار په لور یو مهم ګام و. د ۲۰۲۲ ز. د جنوري پر ۱۹مه، هند د مرکزي اسیا د جمهوریتونو د ولسمشرانو په ګډون د لومړۍ غونډې کوربه و. د غونډې په ترڅ کې ټولو لوریو د یوه سوله ییز او باثباته افغانستان لپاره خپل کلک ملاتړ څرګند کړ. همدارنګه پرېکړه یې وکړه چې د افغانستان په اړه به په رسمي کچه یوه ګډه کاري ډله جوړوي او د افغانستان په اړه به ګډ دریځ نیسي.[۲۰]

سږ کال د اکتوبر پر ۲۲ مه د بریکس غونډه کې چې هند په کې یو له مهمو غړو څخه دی او په یاده غونډه کې یې ګډون کړی و، په ګډه اعلامیه کې افغانستان ته هم ځینې وړاندیزونه وشول چې د نجونو د زده کړې پر وړاندې د بندیزونو لېرې کول او افغانستان سره د بشري مرستو باندې ټینګار و.[۲۱]

په ټوله کې د افغانستان په تړاو د هند دریځ ته که وکتل شي په ډاګه څرګندیږي چې په لومړیو کې یې د اسلامي امارت پر وړاندې له ډېر احتیاط څخه کار اخیستی او مستقیم تعامل ته یې زړه نه دی ښه کړی، خو ورو ورو په بین المللي سازمانونو او بنسټونو کې یې د اسلامي امارت په وړاندې له نورو هېوادونو سره ګډ دریځ نیولی چې دغه ډول دریځ ته جمعي دریځ (Collective approach) هم ویل کېږي.

## ۴- له اسلامي امارت سره د هند د تعامل هڅې

د ۲۰۲۱ ز. په اګسټ کې د اسلامي امارت په واک ته رسېدو سره بهرنیو ځواکونو له افغانستان څخه په بېړه وتل پیل کړل، لوېدیځو هېوادونو سفارتونه وتړل او افغانستان د لوېدیځ مالي ملاتړ له لاسه ورکړ چې له امله یې افغانستان د خوراکي توکو له کمښت او اقتصادي ستونزو سره مخ شو. هند د خپلې اوږدې ملکي-متمرکزې ستراتیژۍ ته په پام، له افغانستان سره د خوراکي توکو مرستو ته مخه کړه چې د اسلامي امارت پر وړاندې د بشري مرستو ډیپلوماسۍ په نامه یادیږي. د اسلامي امارت بیاځلې واک ته رسېدو وروسته د افغانستان په اړه د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویاند ویلي و چې هند اوس مهال د افغانستان پر وړاندې د څار او انتظار پالیسي لري، د رامنځ ته شوي وضعیت ارزونه کوي او ګوري چې نور هېوادونه کړکېچ ته څه ډول ځواب ورکوي.[۲۲]

د ۲۰۲۱ ز. په ډسمبر کې هند افغانستان ته د درملو لومړۍ جوپه مرسته راورسېده او څه موده وروسته یې ۵۰۰ زره ډوزه واکسین هم راواستوه. د هند د دغې مرستې په ځواب کې د افغانستان اسلامي امارت د ویاند مرستیال په ایکس کې د هند له مرستو مننه وکړه او د افغانستان او هند اړیکې یې خورا حیاتي وبللې.[۲۳]

د ۲۰۲۱ ز.کال په اکتوبر کې هند اعلان وکړ چې افغانستان سره پنځوس زره مټریک ټنه غنمو مرسته کوي او د دغو غنمو د وېش د تنظیم لپاره یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) سره یو هوکړه لیک لاسلیک کړ. د هند له خوا افغانستان سره د غنمو دغه مرسته د ملګرو ملتونو د خوړو نړیوال پروګرام له خوا وستایل شوه او دا یې له افغانستان سره د هند د سخاوتمندانه مرستو یوه تاریخي نښه وبلله. هند د دغو بشردوستانه مرستو له لارې هڅه کوله چې له اسلامي امارت سره د مستقیم تعامل د پیلولو لپاره لاره پرانیزي.[۲۴] همدارنګه د ۲۰۲۲ ز. د جون په دوهمه هند د افغانستان زلزله ځپلو خلکو ته د نړیوالو سازمانونو لکه د ملګرو ملتونو د خوړو نړیوال پروګرام او د افغاني

سرې میاشتې ټولنې له لارې نړدې ۲۸ ټنه ببړنۍ مرستې چې کمپلې او نور لومړني توکي په کې وو، راولېږل.[۲۵]

په افغانستان کې اسلامي امارت د هند د دغو مرستو د پام وړ قدرداني وکړ او د متقابل اقدام په توګه یې ژمنه وکړه چې په کابل کې به د هند سفارت لپاره خوندي چاپېریال برابر کړي او له هند څخه یې وغوښتل چې کابل کې خپل سفارت بېرته پرانیزي. په کابل کې د هند سفارت په بشپړه توګه پرانیستل به تر ډېره اسلامي امارت سره د مشروعیت ترلاسه کولو په برخه کې مرسته وکړي. یعنې هرڅومره هېوادونه چې له اسلامي امارت سره ښکېلیږي، هغومره یې مشروعیت ترلاسه کېږي او دا په خپله د رسمیت پېژندنې لپاره مهم ګامونه بلل کېږي. که څه هم هند لا تر اوسه په افغانستان کې خپل سفارت او قونسلګرۍ په بشپړه توګه نه دي پرانیستي، خو له افغانستان سره یې د بشردوستانه مرستو لاره غوره کړې او اسلامي امارت سره د دروازې تر شا تعامل کې ښکېل شوی دی.[۲۶]

هند د ۲۰۲۲ ز. فبرورۍ پر لومړۍ په کلنۍ ۲۰۲۲-۲۰۲۳ ز. مالي بودیجه کې له افغانستان سره د مرستې لپاره ۲۰۰۰ میلیون هندي روپۍ د مرستې په توګه ځانګړې کړې چې دا په جګړه ځپلي هېواد کې د نوي ډیلي د همېشنۍ ژمنې نخښه بلل کېږي، هند ویلي وو چې دا پیسې به په افغانستان کې د هند د موجوده پروژو، د افغان محصلینو لپاره د بورسونو او له افغانانو سره په بېلابېلو برخو کې د مرستې په موخه ولګول شي.[۲۷]

د ۲۰۲۲ ز. د جون په لومړۍ اونۍ کې د هند د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان، افغانستان او ایران د څانګې د ګډ سکرتر جې پي سینګ په مشرۍ د هند یوه پلاوي د اسلامي امارت له لوړ پوړو مشرانو سره کابل کې وکتل، د دې سفر ښکاره موخه د هند د بشري مرستو څارنه او د هېواد د امنیتي وضعیت ارزونه وه، دغه ټیم د اسلامي امارت له لوړپوړو مشرانو امیرخان متقي، شېرمحمد عباس ستانکزي او سراج الدین حقاني سره له لیدنې سربېره د نړیوالو بشري سازمانونو مسؤلینو سره هم وکتل او د هند د هغو پروژو په اړه یې معلومات ترلاسه کړل چې ځنډېدلې دي، د هند له خوا دغه لومړنی رسمي هیأت و چې کابل ته واستول شو او د اسلامي امارت چارواکو د یاد پلاوي د هرکلي تر څنګ له پلاوي څخه یو ځل بیا وغوښتل چې په افغانستان کې ډیپلوماټیکې او کونسلي چارې پیل کړي.[۲۸]

دغه سفر اسلامي امارت سره د هند په اړیکو کې یوه نوې هېله پیدا کړه او هندي پلاوي هم له افغانستان سره د خپلو اړیکو په پراختیا ټینګار وکړ. د دغه سفر په اړه په هند کې دننه د اسلامي امارت پر وړاندې د هند د پالیسي د بدلون په اړه بېلابېل بحثونه روان

وو چې هند په کابل کې د سفارت په دننه کې د خپل «تخنیکي ماموریت» د پرانېستلو اعلان وکړ. له یادو پرمختګونو وروسته د هند بهرنیو چارو وزارت وویل چې هند کابل کې خپل سفارت ته له سفیر پرته ډیپلوماتان لیږي. په دې اړه د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت ویاند عبدالقهار بلخي په کابل کې د هند د ډیپلوماتیکې نمایندګۍ د لوړولو د پرېکړې هرکلی وکړ او ژمنه یې وکړه چې د ډیپلوماټانو امنیت به تامین کړي.[29] د دغو پرله پسې اقداماتو او د اسلامي امارت پر وړاندې د هند په دریځ کې تدریجي بدلون له امله له اسلامي امارت سره د هند د اړیکو پراختیا ته هیلې ډېرې شوې دي.

له اسلامي امارت سره د هند د بشردوستانه مرستو پالیسي دوام او په سیاسي او ډیپلوما ټیک تعامل کې یې دغه تدریجي پرمختګ د یو شمېر کورنیو او بهرنیو لاملونو له مخې دی، په کور دننه تر ټولو لومړی لامل د اسلامي امارت له خوا د هند په ګډون د سیمې او نړۍ د هېوادونو پر وړاندې د بېطرفه، متوازن او اقتصادمحوره بهرنۍ پالیسۍ تعقیبول دي چې څو ځله یې د سیمې او نړۍ هېوادونو ته ډاډ ورکړی چې د افغانستان خاوره به د نورو هېوادونو پر خلاف و نه کارول شي او هېڅ هېواد به پرېنږدي چې په افغانستان کې منفي سیالۍ وکړي.

همدارنګه هند هڅه کوي چې په افغانستان کې د ځان لپاره ستراتیژیک ځای جوړ کړي او د هند دغه بشري مرستې به د تېرو دوو لسیزو په شان په افغانانو کې د هند په اړه د ښه نیت په ساتلو کې مرسته وکړي، د بهرنیو فکټورونو په برخه کې کولای شو د چین او پاکستان پر وړاندې د هند ستراتېژیکه اړتیا په ګوته کړو؛ ځکه یاد دواړه هېوادونه په ګډه هڅه کوي چې په افغانستان او سیمه کې د هند نفوذ کمزوری کړي؛ همدارنګه له پاکستان سره د اسلامي امارت خرابېدونکې اړیکې هم ښایي د یوه قوي فکټور په توګه وګڼل شي؛ ځکه له څه مودې راهیسې د پاکستان او اسلامي امارت اړیکې ترینګلې شوي او په افغانستان کې د ترهګرو ډلو د شتون تور لګوي او اسلامي امارت یې په ملاتړ تورنوي، د ۲۰۲۲ ز. د اپریل پر ۱٦مه، پاکستان د افغانستان په خوست او کونړ ولایتونو کې هوایي بریدونه وکړل چې په پایله کې یې د ښځو او ماشومانو په ګډون لږ تر لږه ۴۷ کسان شهیدان شول، د اسلامي امارت ویاند یاد بریدونه په کلکو ټکو وغندل او ویې ویل چې: «دا ډول بریدونه د افغانستان او پاکستان تر منځ دښمنۍ ته لاره هواروي، زموږ ملي حاکمیت ته دې درناوی وشي، که نه موږ د دا ډول بریدونو د تکرار د مخنیوي لپاره له ټولو انتخابونو کار اخلو».

پاکستان له خپله اړخه د دغو بریدونو په اړه وویل چې په دغو بریدونو کې د تحریک طالبان پاکستان (ټي ټي پي) وسله وال په نخښه شوي دي[30]؛ همدارنګه د ۲۰۲۴ ز. د

ډسمبر پر ۲۵ مه پاکستان د پکتیکا پر برمل ولسوالۍ هوايي بمبار وکړ چې په کې تر ۵۰ ډېر کسان شهیدان شول، اسلامي امارت یو ځل بیا دا بریدونه په کلکو ټکو وغندل او په کابل کې یې د پاکستان شارژدافیر احضار کړ، څو ورځې وروسته د اسلامي امارت ځواکونو د غچ اخیستلو په موخه پاکستاني سرحدي ځواکونو سره نښته وکړه او پاکستاني پوځیانو ته یې مرګ ژوبله واړوله.[۳۱]

له اسلامي امارت څخه د ټي ټي پي په اړه د اسلام آباد ناسمې غوښتنې یو له هغو لاملونو څخه دي چې د دواړو هېوادونو پر اړیکو یې منفي اغېزې کړې دي، پاکستان اسلامي امارت څو ځله د ټي ټي پي او نورو وسله والو ډلو په ملاتړ تورن کړی چې له امله یې د دواړو لوریو اړیکې ترینګلې شوې دي، له بلې خوا دا چې افغانستان لا هم د خوراکي توکو، درملو او روغتیايي اسانتیاو د کمښت له بحران سره مخامخ دی، هند کولای شي له اسلامي امارت سره په لا زیاتې همغږۍ ګام پورته کړي او د اسلامي امارت تر څارنې لاندې په افغانستان کې نوی ستراتیژیک ځای ترلاسه کړي، له افغانستان څخه لرې پاتې کېدل هېڅکله د هند لپاره د پام وړ ګټې نه شي ترلاسه کولی؛ بلکې یواځې له اسلامي امارت سره د فعاله اړیکو د جوړولو له لارې هند کولای شي خپلې ګټې ترلاسه کړي.

هند که څه هم په لومړیو کې د اسلامي امارت پر وړاندې له احتیاطه کار واخیست او نېغ په نېغه یې له اسلامي امارت سره تعامل ته زړه نه ښه کاوه؛ خو وروسته د دواړو لوریو ترمنځ تعامل په ډېرېدو شو، کله چې تېر کال د ۲۰۲۳ ز. د نومبر پر ۲۴مه په هند کې افغان سفارت خپلې چارې وځنډولې؛ نو د دواړو لوریو ترمنځ د نویو اړیکو د پرانېستل کېدو او د سفارت تسلیمېدو په اړه هیلې ډېرې شوې، د ۲۰۲۴ ز. د جنورۍ پر ۲۹ مه کابل د «افغانستان د سیمه ییزو همکاریو نوښت» تر عنوان لاندې د ګاونډیو او سیمه ییزو هېوادونو د یوې غونډې کوربه و، دا په افغانستان کې د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته لومړۍ نړیواله غونډه وه، په دې غونډه کې د قزاقستان، ترکیې، روسیې، چین، ایران، پاکستان، ازبکستان، ترکمنستان، اندونیزیا او قرغزستان هېوادونو تر څنګ د هند استازو هم ګډون کړی و چې د سیمې د هېوادونو او اسلامي امارت تر منځ د مثبتو اړیکو ټینګول، د سیمه ییزو همکاریو په برخه کې د همغږۍ لوړول، د سیمه ییزو متحدو دریځونو رامنځ ته کول او په سیمه کې له اقتصادي فرصتونو څخه په ګټه اخیستنه کې همکاري یې مهم موضوعات وو.[۳۲]

د هند او افغانستان اړیکې وروسته له هغې ډېرې د پام وړ وګرځېدې چې د هند استازي د افغانستان د سیمه‌ییزې همکارۍ ابتکار یاده غونډه کې ګډون وکړ او همدارنګه

په عربي متحده اماراتو کې د هند استازي د اسلامي امارت سفیر بدرالدین حقاني د هند ملي جشن ته دعوت کړ، د نوي ډیلي او کابل تر منځ د اړیکو او تعامل دا څرگندی داسې وخت پیلېږي چې د هند له دوو گاونډیو رقیبو هېوادونو (پاکستان او چین) سره د اسلامي امارت اړیکې نوی رنگ اخلي، کله چې هند په کابل کې د خپل سفارت «تخنیکي ماموریت» د پرانېستلو اعلان وکړ؛ نو د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت ویاند عبدالقهار بلخي په کابل کې د هند د ډیپلوماتیکې نمایندگۍ د لوړولو د پرېکړې هرکلی وکړ او ژمنه یې وکړه چې د ډیپلوماټانو امنیت به تأمین کړي.[۳۳]

د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې د هند بشردوستانه مرستو پالیسي او ورو ورو د اسلامي امارت پر وړاندې د هند په دریځ کې تدریجي بدلون له امله له اسلامي امارت سره د هند د اړیکو پراختیا ته هیلې ډېرې شوې، هغه څه چې د پاکستان د هیلو خلاف گڼل کېږي.

د ۲۰۲۴ په نومبر کې د اسلامي امارت له خوا د هند په ممبه یي کې نوی کونسل معرفي کېدل، افغانستان ته د هند د بهرنیو چارو وزارت استازي سفر، د ۲۰۲۵ ز.کال په جنورۍ کې په متحده عربي اماراتو کې د هند د بهرنیو چارو مرستیال وزیر وکرم مسري سره د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي لیدنه[۳۴]، د کشمیر پهلگام له برید وروسته د افغانستان اسلامي امارت بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي او د هند د بهرنیو چارو وزیر ډاکټر ایس جی شنکر تلفوني خبرې او د افغانانو لپاره د هند د ویزو بیا اعلانول ټول هغه څه دي چې د دواړو هېوادونو په اړیکو کې مثبت گامونه گڼل کېږي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو پراختیا ته لاره هواروي.

## پایله

هند په تېرو دوو لسیزو کې د خپل سیاسي نفوذ د زیاتولو او له افغان ولس سره د خپلو اړیکو د پیاوړتیا لپاره نرم ځواک کارولو ته لومړیتوب ورکړی و. په افغانستان کې یې د زرنج – دلارام لویې لارې، د پارلمان ودانۍ او د سلما بند په گډون په سترو زیربنایي پروژو او بیارغونه کې له ۳ میلیارد ډالرو څخه ډېره پانگونه وکړه او د افغانستان په بیارغونه کې پنځم لوی مرسته کوونکی هېواد و. د اسلامي امارت بیاځلې واک ته رسېدو سره ناخوښ شو او په افغانستان کې د خپلې پانگونې، نفوذ او په افغانانو کې د هند په اړه د مثبت نظر په اړه یې اندېښنې ډېرې شوې.

له اسلامي امارت سره د هند د اړیکو مخینې ته په کتو یې په ځانگړې پوځي الوتکه کې د خپل سفارت ټول کارمندان وایستل او په افغانستان کې یې د خپلو سیاسي او

کونسلي نمایندګیو په ګډون ټول سیاسي فعالیتونه ودرول، خو څه موده وروسته یې افغانستان سره مرستو ته مخه کړه چې تر دې مهاله یې د ۵۰۰ زره ډوزه واکسین، پنځوس زره متریک ټنه غنم، د اندراګاندي روغتون ته درمل، زلزله ځپلو ته لومړنۍ مرستې او داسې نورې بشردوستانه مرستې کړې. هند له یوې خوا په پرله پسې ډول د افغانستان په اړه غونډو کې برخه اخیستې او د سیمه ییزې ډیپلوماسۍ په برخه کې یې هڅه کړې چې د سیمې هېوادونو سره په ګډه د اسلامي امارت پر وړاندې دریځ ونیسي. له بلې خوا هند د بشردوستانه مرستو له لارې له اسلامي امارت سره د دروازې تر شا تعامل ته دوام ورکړی.

له اسلامي امارت سره د تعامل په پراختیا کې هند هڅه کوي تر څو له یوې خوا په افغانستان کې د تېرو دوو لسیزو لاس ته راوړنې چې په افغانانو کې د هند په اړه مثبت نظر، د هند نفوذ، له نړیوالو همکارانو سره په افغانستان کې ګډ کار او داسې نورې ګټې خوندي کړي او له بلې خوا د چین او پاکستان پر وړاندې له سیاسي او اقتصادي کلابندۍ څخه ځان وساتي. ځکه یاد دواړه هېوادونه په ګډه هڅه کوي چې په افغانستان او سیمه کې د هند نفوذ کمزوری او پر وړاندې یې خپل نفوذ ته پراختیا ورکړي.

## وړاندیزونه

۱- د هند اقتصادي ظرفیت او په تېرو دوو لسیزو کې یې افغانستان سره مرستو ته په کتو اسلامي امارت ته پکار ده چې له هند سره خپلې اړیکې پیاوړې کړي.

۲- دا چې هند وېره لري چې د افغانستان خاوره د هند پر خلاف و نه کارول شي؛ نو اسلامي امارت ته پکار ده چې هند ته لا ډېر ډاډ او قناعت ورکړي چې د دوی بهرنۍ پالیسۍ خپلواکه ده او هېچاته به اجازه ورنکړي چې د افغانستان خاوره د نورو هېوادونو په خلاف وکاروي.

۳- دا چې هند او پاکستان په خپلو کې له ډېرې مودې راهیسې ښې اړیکې نلري او په سیمه کې یو د بل پر وړاندې د نفوذ هڅې کوي، نو اسلامي امارت ته په کار ده چې د هند او پاکستان په اړیکو کې توازن وساتي.

## مأخذونه

[1] Government of India & Royal Government of Afghanistan. (1950). *Treaty of friendship between the Government of India and the Royal Government of Afghanistan*. Indian Treaty Series. http://www.commonlii.org/in/other/treaties/INTSer/1950/3.html Accessed 2 Oct 2024.
[2] India-Pakistan Rivalry in Afghanistan, Journal of international affairs, Columbia. Available at: https://jia.sipa.columbia.edu/news/india-pakistan-rivalry-afghanistan. Accessed 14 Oct 2024.
[3] Choudhury, Avinandan. India in Afghanistan after the Soviet Withdrawal, the Diplomat, May 14, 2019. Available at: https://thediplomat.com/2019/05/india-in-afghanistan-after-the-soviet-withdrawal/. Accessed 2 Sep 2024.
[4] Sudarshan, V. How India secretly armed Afghanistan's Northern Alliance, September 01, 2019. Available at: https://www.thehindu.com/news/national/how-india-secretly-armed-ahmad-shah-massouds-northern-alliance/article29310513.ece . Accessed 2 Sep 2024.
[5] Farooquee, Neyaz. Netflix show on India plane hijacking sparks row, BBC News, 3 September 2024. Available at: https: //www .bbc.com/news/articles/clywp741rxwo. Accessed 6 Sep 2024.
[6] Text of Agreement on Strategic Partnership between the Republic of India and the Islamic Republic of Afghanistan, Ministry of External Affairs of India, October 04, 2011. Available at: https://www.mea.gov.in/bilateral-documents.htm?dtl/5383/. Accessed 26 Sep 2024.
[7] Muraleedharan, V. India invested more than $3 billion in Afghanistan for the welfare of its people, Bussiness Standard, Feb 05 2022. Available at: https: //www.business-standard .com/ article/current-affairs/india-invested-more-than-3-billion-in-afghanistan-mos-muraleedharan-122020500307_1.html. Accessed 23 Sep 2024.

[8] Laskar, Rezaul H. India suggests 3-point Afghanistan road map at SCO Group meeting, Hindustan Times, July 15, 2021. Available at: https://www.hindustantimes.com/india-news/india-presents-3-point-roadmap-for-afghanistan-opposes-seizure-of-power-by-force-101626263219515.html. Accessed 2 Sep 2024.

[9] Constantino, Zachary. The India-Pakistan Rivalry in Afghanistan, united states institute of peace, special report, no. 462 | January 2020. Available at: https://www.usip.org/sites/default/files/2020-01/sr_462-the_india_pakistan_rivalry_in_afghanistan.pdf

[10] Mathur, Pawan. and Chaudhari, Sonam. "Changing Dynamics in India's Policy", World Affairs: The Journal of International Issues, autumn 2021, vol. 25, no. 3, pp. 126-135, Available at: https://www.jstor.org/stable/10.2307/48646638. Accessed 2 Oct 2024.

[11] Afghans have broken 'shackles of slavery': Pakistan PM Imran Khan, The Hindu, 2021. Available at: https:// www .thehindu .com /news/international/afghans-have-broken-shackles-of-slavery-pak-pm-imran-khan/article35939794.ece. Accessed 20 Oct 2024

[12] Afghan Sikhs arrive in Delhi with ashes of man killed in Kabul gurdwara attack, Hindustantimes, Jul 01, 2022. Available at: https://www.hindustantimes.com/cities/chandigarh-news/afghan-sikhs-arrive-in-delhi-with-ashes-of-man-killed-in-kabul-gurdwara-attack-101656616649277.html

[13] Chaudhuri, Rudra and Shende, Shreyas. Dealing with the Taliban: India's Strategy in Afghanistan after U.S. Withdrawal, Carnegie Endowment for International peace, June 2, 2020. Available at: https://carnegieendowment.org/research/2020/06/dealing-with-the-taliban-indias-strategy-in-afghanistan-after-us-withdrawal?lang=en. Accessed 16 Sep 2024.

[14] Haidar, Suhasini. Indian delegation met Taliban in Doha, says Qatari official, first official confirmation that New Delhi has

engaged the group directly after years of refusal, June 21, 2021. Avialable at:
https://www.thehindu.com/news/national/indian-delegation-met-taliban-in-doha-says-qatari-official/article34895560.ece. Accessed 2 Sep 2024.

[15] Tirumurti, T.S. UNSC Briefing on Afghanistan, Permanent Missoin of India to the United Nations, 06 August 2021. Available at:
https://www.pminewyork.gov.in/IndiaatUNSC?id=NDMxOQ. Accessed 7 Sep 2024.

[16] Dushanbe Declaration on the Twentieth Anniversary of the Shanghai Cooperation Organisation, Ministry of External Affairs of India, September 17, 2021. Available at:
https://www.mea.gov.in/bilateral-documents.htm?dtl/34275/Dushanbe_Declaration_on_the_Twentieth_Anniversary_of_the_Shanghai_Cooperation_Organisation. Accessed 2 Oct 2024.

[۱۷] معصوم جان معصومي، «د اسلامي امارت بیا ځلي واک ته رسېدو سره د افغانستان پر وړاندې د هند ډیپلوماتیک تعامل»، سیمه ییز مطالعات ځانګړې مجله ۱۴۰۲ کال، ۱۵۰ مخ.

[18] Shekhawat, Shivam. India's Stakes in Taliban-Ruled Afghanistan, Observer research foundation, Aug 01, 2023. Available at: https://www.orfonline.org/research/india-s-stakes-in-taliban-ruled-afghanistan. Accessed 2 Oct 2024.

[19] India participates in the fourth Meeting of the Moscow Format Consultations, Ministry of External Affairs, November 16, 2022. Available at:
https://www.mea.gov.in/press-releases.htm?dtl/35900/India_participates_in_the_fourth_Meeting_of_the_Moscow_Format_Consultations#:~:text=India%20participated%20in%20the%20fourth,2. Accessed 2 Oct 2024.

[20] The First Meeting of the India-Central Asia Summit, Press Information Bureau, Government of India, 19 jan 2022. Available at:
https://pib.gov.in/Pressreleaseshare.aspx?PRID=1791257. Accessed 12 Oct 2024.

[21] xvi brics summit, kazan declaration, strengthening multilateralism for just global development and security, kazan, russian federation, 23 october 2024. Available at: http://static.kremlin.ru/media/events/files/en/RosOySvLzGaJtmx2wYFv0lN4NSPZploG.pdf.

[22] Jaishankar, S. J. India adopting 'wait and watch' policy on Afghanistan, The Hindu, August 26, 2021. Available at: https://www.thehindu.com/news/national/jaishankar-briefs-political-leaders-on-afghanistan-situation/article36112751.ece. Accessed 9 Oct 2024.

[23] Shekhawat, Shivam. India's Stakes in Taliban-Ruled Afghanistan, Observer research foundation, Aug 01, 2023. Available at: https://www.orfonline.org/research/india-s-stakes-in-taliban-ruled-afghanistan. Accessed 22 Oct 2024.

[24] Haider S. India signs MoU to hand over wheat to WFP in Kandaha, The Hindu, 2022. Available at: https:// www .thehindu .com/news/national/india-signs-mou-to-hand-over-wheat-to-wfp-in-kandahar/article38420123.ece. Accessed 22 Oct 2024.

[25] NDTV. (2022, July 1). *India sends 6 tons of medical assistance to Afghanistan after earthquake*. NDTV. https:// www .ndtv .com/ india-news/india-sends-6-tons-of-medical-assistance-to-afghanistan-after-earthquake-3116973

[26] Biswas, S. (2025, January 15). *Why India is reaching out to the Taliban now*. BBC News. https:// www .bbc.com/ news/ articles/ cp8ke9e27dxo

[27] In India's Budget, a message to Afghan people that New Delhi isn't switching off, Hindustan Times 2022. Available at: https://www.hindustantimes.com/business/in-india-s-budget-a-message-to-afghan-people-that-new-delhi-isn-t-switching-off-101643728484121.html. Accessed 3 Oct 2024.

[28] Hussain, S. Don't want any nation to play 'spoiler' in Afghanistan; says Pak after India sends delegation to meet Taliban leaders, 2022. Avialble at: https://theprint.in/world/dont-want-any-nation-to-play-spoiler-in-afghanistan-says-pak-after-india-

sends-delegation-to-meet-taliban-leaders/982895/. Accessed 10 Oct 2024.

[29] Abdul Qahar Balkhi (@QaharBalkhi). "The Islamic Emirate of Afghanistan welcomes India's step to upgrade its diplomatic representation in Kabul. Besides ensuring security, we will pay close attention to the immunity of the diplomats and cooperate well in endeavors.", Twitter post, August 13, 2022. Available at: https://x.com/QaharBalkhi/status/1558451242795470848. Accessed 2 Oct 2024.

[30] Siddique, A. Pakistan's deadly air strikes inside Afghanistan increase tensions with Taliban, 2022. Available at: https://www.rferl.org/a/pakistan-air-strikes-afghanistan-taliban-relations/31814993.html. Accessed 5 Oct 2024.

[۳۱] بي بي سي، پکتیکا کې هوايي بريدونو 'له ۵۰ ډېر کسان وژلي'؛ طالبانو د پاکستان شارژدافير احضار کړی، ۲۵ ډيسمبر ۲۰۲۴. د لا ډېرو معلوماتو لپاره مراجعه وکړئ.
https://www.bbc.com/pashto/articles/cvg9pz79430o

[32] Ghosh, Anwesha. Taliban hosts 'Afghanistan Regional Cooperation Initiative' Meeting in Kabul, 31 January 2024. Available at: https://www.icwa.in/show_content.php?lang=1&level=3&ls_id=10459&lid=6670. Accessed 10 Oct 2024.

[33] Balkhi, A. Q. [@QaharBalkhi]. (2022, August 13). The Islamic Emirate of Afghanistan welcomes India's step to upgrade its diplomatic representation in Kabul. Besides ensuring security, we will pay close attention to the immunity of the diplomats and cooperate well in endeavors [Tweet]. X. https:// x.com/ QaharBalkhi/status/1558451242795470848Accessed 2 Oct 2024.

[34] RTA (Radio Television of Afghanistan). (2025, January 18). *India wants to have more interaction with the Islamic Emirate*. https://rta.af/en/india-wants-to-have-more-interaction-with-the-islamic-emirate/ Accessed 2 Oct 2024.

***Published:*** Afghanistan Science Academy (ASA)
***Chief Editor:*** Asst. Prof. Basharmal Zarghoon

***Editorial Board:***
Prof. Dr. Rafiullah Niazi
Assoc. Prof. Abdul Shakoor Salangi
Assoc. Prof. Abdul Saboor Mubariz
Asst. Prof. Imran Zakeria
Asst. Prof. Ihsanullah ihsan

***Composed Designed By:*** B. Zarghoon

***Annual Subscription:***
Kabul: 320 AFS
Province: 480 AFS
Foreign countries: 20 USD
Price of each issue in Kabul: 80 AFS

- For the University Professors, Teachers and members of Academy of Sciences: 70 AFS
- For the university and school students: 40 AFS
- Other offices: 80 AFS

***Contact Numbers:*** 0202201279 - (+93) 766110008
***Email:*** rsc@asa.gov.afg
***Email:*** Info@asa.gov.af